اِصلاحي مدلل تقريرونه

دریم جلد

دَ قرآن کریم. نبوی احادیثو او دامت داسلافو دقیمتی اقوالو اصلاحی نصیحتونو، عِلمی لطائِفو او دعبرت ن
ډک زړه راښکونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کی۔ دمعاشری داِصلاح. خوف خدا، دحقوق اللّٰه او حقوق العباد
اهمیت او د دارینو دسعادت او نیک بختئ په باره کی. دعلماو. طلباو. مقررینو او عامو مسلمانانو دپاره
یوه مفصله معتمده علمی او تحقیقی ذَخیره:

تالیف أبو الشمس مولانا نور الهدیٰ عفی عنه

مدرس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی کاټلنګ روډ مردان

زیر اهتمام
کفایت الله ارمانی
0344-9995990

مکتبة اعزازیة محله جنګی پشاور
076485777...

واٹس ایپ گروپ
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
ٹیلی گرام واٹس نمبر
+923247442395
+923052488551
کفایت pdf واٹس ایپ ٹیلی
گرام چینل دینی کتب خانہ

📚 کفایت دینی کتب خانه 📚
په دی چینل کی دټلیگرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجوں کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کڑی
https://t.me/kafayat2395

کفایت الله واٹس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د الله تعالیٰ د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله

دَ قرآن کریم، نبوي احادیثو او د امت د اَسلافو د قیمتي اقوالو، اِصلاحي نصیحتونو، عِلمي لطائِفو او د عِبرت نه ډَك زړه راښکونکو مُعتمدو واقعاتو په رڼا کې. د معاشرې د اِصلاح، خَوفِ خُدا، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهمیت اود دارینو د سَعادت او نیک بختۍ په باره کې. د علماو، طلباو، مُقرّرینو او عامو مسلمانانو د پاره یوه مفصّله مُعتَمَده عِلمي او تحقیقي ذَخیره:

اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِیْرُوْنه

جلد ۳

تالیف

آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د كتاب نوم: اِصۡلَاحِيۡ مُدَلَّلۡ تَقۡرِيۡرُوۡنه جلد ۳

مؤلف: اَبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰى عُفِيَ عَنۡهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مردان
فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

كمپوزر: مؤلِف پخپله

د چاپ كال: ۱٤۳٦هـ ق ، ۱۳۹۳هـ ش، مطابق ۲۰۱۵ ء

د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

مكتبه اعزازيه
محله جنګي پشاور

زير اهتمام

كفايت الله ارماني

۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اجمالي فهرست

نمبرشمار	موضوع	صفحه
.۱	سريزه (د دريم جلد)	
.۲	**۱ . د زکوة اهميت ، فضيلت او احکام**	۱
.۳	د زکوة اَهميت	۲
.۳	د زکوة فوايد	۹
.۴	د زکوة او صدقې آداب	۲۹
.۵	د زکوة په باره کې ضروري فقهي مسائل	۳۸
.۵	**۲ . د زکوة نه ورکوونکي عذابونه**	٦۰
.٦	د زکوة نه ورکوونکي د پاره د دُنيا او آخرت سزاګانې او عذابونه	٦۱
.۷	د زکوة نه ورکولو نقصانات	٦٦
	۳ . د صدقې ورکولو فضيلت او فوايد	۹۲
۱۰	د صدقې اَهميت	۹۳
.۱۱	د صدقې ترغيب	۹۷
.۱۲	د صدقې ورکولو فوايد	۱۰۳
.۱۳	د صحابه کرامو صدقه	۱۳۵
.۱۴	فقير او محتاج ته د خوراک او جامو ورکولو فضيلت	۱۴۸
.۱۵	د صدقې متعلق فقهي مسايل	۱۷۵
.۱٦	د صدقې په باره کې نور بهترين واقعات	۱۸۰

نمبر شمار	موضوع	صفحه
٤	**د خرچ کولو اهمیت او د سخاوت فضیلت**	۱۹۴
۱۷.	د خیر په کارونو کې د خرچ کولو اهمیت	۱۹۵
۱۸.	د سخاوت فضیلت ، او د سخي مقام	۲۰۳
۱۹.	د بُخل مذمت او د دې نه د بچ کیدو تاکید	۲۰۹
۲۰.	د خیل ځان په نسبت نورو ته ترجیح ورکول	۲۱۳
۱۵.	په سخاوت او صدقې ورکولو سره د پیغمبرانو او نیکانو خلقو تابعداري راځي	۲۲۲
۱۵.	د رسول الله صلی الله علیه وسلم سخاوت	۲۲۲
۱۵.	د صحابه کرامو سخاوت	۲۲۷
۱۵.	د سخاوت په باره کې نور بهترین واقعات	۲۴۴
۵	**په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې**	۲۵۰
۲۱.	په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۲۵۲
۲۲.	د الله ﷻ په وجود او د هغه په قدرت باندې یو څو دلایل	۲۶۳
۲۳.	په حیواناتو کې د الله ﷻ د قدرت ننداري	۲۸۸
۲۴.	د رزق طلب کولو دپاره د حیواناتو حیلې	۲۹۱
۲۵.	د حیواناتو د خپل ځان د حفاظت تدبیرونه	۲۹۹
۲۴.	د حیواناتو د خپلو بچو د حفاظت د پاره تدبیرونه	۳۰۵
۲۴.	په نورو حیواناتو او مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۳۰۸
۲۴.	د انسان په وجود کې د الله ﷻ قدرتونه او عجائب	۳۲۱
۲۴.	د انساني جسم متعلق نور حیرانوونکي معلومات	۳۳۸
۲۴.	خوشخبري	۳۴۳

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تفصيلي فهرست

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۱.	سریزه (د دریم جلد)	
	۱. د زکوة اهمیت ، فضیلت او احکام	۱
۲.	د زکوة اَهمیت	۲
۳.	د زکوة لغوي معنی	۳
۴.	د زکوة شرعي (اِصطلاحي) معنی	۳
۵.	د زکوة حکم	۴
٦.	زکوة د اسلام بُنیادي رُکن دی	۵
۷.	زکوة په مخکیني امتونو هم فرض وُ	۷
۸.	په دې اُمت باندې د زکوة د فرضیت وخت	۸
۹.	**د زکوة فوائد :**	۹
۱۰.	۱. د زکوة اداء کولو په وجه د جنت مستحق کیدل	۹
۱۱.	۲. د زکوة په وجه د انسان نفس او مال پاکیږي	۱۴
۱۲.	۳. د زکوة په وجه د مال حفاظت او د مرضونو نه شِفاء حاصلیږي	۱٦
۱۳.	د یو نصراني د اسلام راوړ واقعه	۱٦
۱۴.	د زکوة ورکولو په وجه د مال د حفاظت واقعه	۱۸
۱۵.	۴. د زکوة په وجه د انسان په مال کې برکت او زیادت راځي	۱۹
۱٦.	۵. په زکوة ورکولو سره انسان د الله ﷻ د رحمت مستحق گرځي	۲۱
۱۷.	٦. د زکوة ورکولو په وجه د بُخل د صفت نه محفوظ کیدل	۲۱
۱۸.	۷. زکوة ورکول د کامِل مومنانو صفت دی	۲۲
۱۹.	۸. زکوة ورکوونکي په هدایت او کامیاب دي	۲۳

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۱.	د زکوة ورکوونکي مرتبه	۲۳
۲۲.	د زکوة لږولو بهترین ځای	۲۴
۲۳.	اهلِ عِلمو ته زکوة ورکول	۲۴
۲۴.	اهلِ علمو سره د احسان په وجه د يهودي غونډه کورنۍ مسلمانيدل	۲٦
۲۵.	د محمد بن جرير طبري رحمه الله واقعه	۲۷
۲٦.	د اهلِ علمو سره د احسان په وجه خپل ځوي يا نمسي عالِم کيدل	۲۸
۲۷.	د دين طالبانو سره د امداد کولو اجر	۲۹
۲۸.	**د زکوة او صدقې آداب**	۲۹
۲۹,	۱. اول ادب	۳۰
۳۰,	۲. دويم ادب	۳۰
۳۱.	۳. دريم ادب	۳۱
۳۲.	۴. څلورم ادب	۳۱
۳۳.	۵. پنځم ادب	۳۲
۳۴.	٦. شپږم ادب	۳۲
۳۵.	۷. اووم ادب	۳۲
۳٦.	۸. اتم ادب	۳۴
۳۷.	عُجب او تکبر الله ﷻ نه خوښوي	۳۴
۳۸.	نيکي وړه ګڼل :	۳۵
۳۹.	۹. نهم ادب	۳۵
۴۰.	د زکوة اِجمالي فوايد	۳٦
۴۱.	د زکوة نه اداء کولو اَسباب	۳٦
۴۲.	خلاصه	۳۷
۴۳.	دُعا	۳۷

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۴۴.	**د زکوة په باره کې ضروري فقهي مسائل**	۳۸
۴۵.	زکوة په چا فرض دی؟	۳۸
۴۶.	د نابالغه او مجنون په مال کې زکوة نشته	۳۹
۴۷.	د لړو سرو زرو او لړو سپينو زرو نه د زکوة ورکولو مسئله	۳۹
۴۸.	د نصاب نه کم سره زَر او څه نغدو روپو په موجوديدو سره د زکوة حکم	۴۰
۴۹.	د عُشر ثبوت د قرآن کريم نه	۴۰
۵۰.	د زمکې په فصلونو کې عُشر يا نصفِ عُشر واجب دی	۴۱
۵۱.	کومه ګياه چې پخپله را اختلي وي په هغې کې عُشر نشته	۴۱
۵۲.	د زمکې د پيداوار نه به خرچه نشي کټ کولی	۴۱
۵۳.	د عُشر يا نصفِ عُشر د پاره غِناء او نصاب شرط نه دی	۴۲
۵۴.	په عُشر او زکوة کې فرق	۴۲
۵۵.	په قرض داره باندې د زکوة مسئله	۴۳
۵۶.	د دُکان نه د زکوة ويستلو طريقه	۴۳
۵۷.	د زکوة په روپو باندې د مشترکه مفادو د پاره اَسباب نشي اخيستی	۴۴
۵۷.	نَشه کوونکو ته د زکوة ورکولو مسئله	۴۴
۵۸.	په زکوة کې تاخير کول مکروه دي	۴۵
۵۹.	د زکوة په اداء کولو کې د موجوده ښار قيمت معتبر دی	۴۵
۶۰.	د بلې علاقې فقيرانو ته زکوة ليږل	۴۵
۶۱.	صاحب د نصاب ته که د کال په مينځ کې نورې روپۍ ملاؤ شوی	۴۶
۶۲.	د استعمال په کپړو کې زکوة نشته اګر که پنځوس جوړې وي	۴۷
۶۳.	د سرو زرو او سپينو زرو نه علاوه د کور د استعمال په شيانو کې زکوة نشته	۴۷
۶۴.	د پراپرټۍ واله په پلاټونو او سرمايه کې د زکوة حکم	۴۸
۶۵.	ذاتي د استعمال په کتابونو کې زکوة نشته	۴۸
۶۶.	د سورلۍ چلولو ګاډي په قيمت کې زکاة نشته بلکه د دې په آمدنۍ کې دی	۴۹

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۶۷.	د کرايه په کورونو او دُکانونو کې زکوة نه وي، بلکه د دې په کرايه کې وي	۴۹
۶۸.	مالدار سړې د کال پوره کيدو نه مخکې هم زکوة ورکولې شي	۵۰
۶۹.	د زکوة ورکولو په وخت د زکوة تذکره او په خُله وينا ضروري نه ده	۵۰
۷۰.	د عام کس د پاره ټي وي او ريډيو حاجتِ اصليه نه دي	۵۱
۷۱.	قرض دار ته په قرض کې د زکوة پرېښودلو طريقه	۵۲
۷۲.	د ښاروو د زکوة مسئله	۵۲
۷۳.	**چاته چې زکوة ورکول جائز دې د هغو خلقو بيان**	۵۴
۷۴.	غريب ورور او خور ته زکوة ورکولې شي	۵۴
۷۵.	خپلې ننګور (د ځوي ښځې) ته زکوة ورکول جائز دي	۵۵
۷۵.	ځوم ته زکوة ورکول جائز دي	۵۵
۷۶.	اهلِ علم د زکوة زيات مستحق دي	۵۵
۷۷.	مالدار طالب العلم ته د زکوة ورکولو مسئله	۵۶
۷۸.	د مالداره کس غريب پلار ته زکوة ورکول جائز دي	۵۶
۷۹.	د مالدار سړي بالغ فقير ځوي ته زکوة ورکول جائز دي	۵۶
۸۰.	**چاته چې زکوة نشي ورکولې د هغوی بيان**	۵۷
۸۱.	اصولو او فروعو ته زکوة نشي ورکولی	۵۷
۸۲.	خاوند ښځې ته، او ښځه خاوند ته زکوة نشي ورکولی	۵۸
۸۳.	سيّد ته زکوة نشی ورکولی	۵۸
۸۴.	نابالغ ته د زکوة ورکولو مسئله	۵۸
۸۵.	د زکوة نه ورکوونکي حکم	۵۹
	۲. د زکوة نه ورکوونکي د پاره عذابونه	۶۰
۸۶.	د زکوة فرضيت قطعي دی	۶۱
۸۷.	د زکوة نه منکرينو خلقو سره جهاد	۶۲

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۸۸.	د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول	٦٣
۸۹.	د اسلام ټول احکامات عملي کول لازمي دي	٦۴
۹۰.	د زکوة نه ورکولو په وجه د لمونځ ثواب هم پوره نه ملاوېږي	٦۴
۹۱.	د زکوة نه ورکوونکي حُکم	٦۵
۹۲.	د علامه انورشاه کشميري رحمه الله وينا	٦۵
۹۳.	**د زکوة نه ورکولو نقصانات او سزاګانې**	٦٦
۹۴.	۱. د جهنم سزا	٦٦
۹۵.	د آيت تفسير	٦۷
۹۶.	۲. همدا مال و دولت به ورته د غاړې طَوق کړې شي	٦۸
۹۷.	۳. د زکوة نه ورکولو په وجه ټول مال هلاک او بې برکته کېږي	۷۰
۹۸.	د باغ د مالِکانو واقعه	۷۱
۹۹.	۴. د زکوة نه ادا کولو په وجه په قحط سالۍ کې مبتلاء کېدل	۷۴
۱۰۰	۵. زکوة نه ورکول د جهنم د تللو سبب دی	۷٦
۱۰۱	لطيفه:	۷۷
۱۰۲	٦. زکوة نه ورکول د عذابِ قبر سبب دی	۷۷
۱۰۳	۷. زکوة نه ورکوونکې به د قيامت په ورځ د الله جل جلاله د رحمت نه لرې وي	۷۷
۱۰۴	په سرو زَرو او سپينو زرو کې د زکوة نه ورکولو سزا	۷۸
۱۰۵	د څاروُو نه د زکوة نه ويستونکي کس سزا	۷۹
۱۰٦	بخيل سړې د شيطاني وسوسو په وجه زکوة نه ورکوي	۸۰
۱۰۷	واقعه:	۸۱
۱۰۸	د زکوة نه د انکار کوونکي کس سزا	۸۱
۱۰۹	د قارون واقعه	۸۲
۱۱۰	منافق ته د خپل مال نه زکوة ويستل ډير ګران معلومېږي	۸۵
۱۱۱	د ثعلبه بن حاطب واقعه، او د ثعلبه بن حاطب په باره کې علمي تحقيق	۸٦

۲. د صدقې ورکولو فضیلت او فواید ۹۲

۱۱۲ د فرائضو سره سره د نفلي عباداتو ذخیره ساتل ۹۳
۱۱۳ مثال : ۹۴
۱۱۴ د فرضي زکوة نه علاوه نور مالي حقوق ۹۴
۱۱۵ مسئله : ۹۶
۱۱۶ د شریعت، اَخلاقو او انساني همدردۍ خبره ۹۷
۱۱۷ د صدقې ترغیب او برکات ۹۷
۱۱۸ د حضرت ابوالدحداح رضي الله عنه واقعه ۹۹
۱۱۹ باید هر مسلمان صدقه ورکړي ۱۰۲

۱۲۰ د صدقې ورکولو فواید ۱۰۳

۱۲۱ د صدقې په وجه په مال کې برکت او پاکوالې راځي ۱۰۳
۱۲۲ واقعه : ۱۰۵
۱۲۳ د صدقې ورکولو په وجه مال نه کمیږي ۱۰۷
۱۲۴ په پټه صدقې ورکولو سره د الله جل جلاله د غضب نه محفوظ کیدل ۱۰۸
۱۲۵ په پټه سره د صدقې ورکولو فضیلت ۱۱۰
۱۲۶ د صدقې په وجه مصیبتونه او مرضونه دفع کیږي ۱۱۳
۱۲۷ واقعه : د صدقې په برکت د بچې حفاظت ۱۱۴
۱۲۸ واقعه : ۱۱۵
۱۲۹ واقعه : د صدقې په وجه د خپې زخم ښه کیدل ۱۱۶
۱۳۰ واقعه : د صدقې په برکت د مخ دانې ښه کیدل ۱۱۶
۱۳۱ د صدقې په وجه ګناهونه معاف کیږي ۱۱۷
۱۳۲ واقعه : ۱۱۸

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۱۳۳	د صدقې په وجه د جهنم د اُور او د قيامت د ورځې د سختۍ نه بچ کيدل	۱۲۰
۱۳۴	انسان به د قيامت په ورځ د صدقې د سُوري لاندې وي	۱۲۱
۱۳۵	د صدقې په وجه جنت ته داخليدل	۱۲۲
۱۳۶	صدقه الله جَلَّ جَلَالُهُ زياتوي	۱۲۵
۱۳۷	د صدقې په برکت د ګناهونو نه توبه ګار کيدل	۱۲۶
۱۳۸	صدقه افضل عمل دی	۱۲۸
۱۳۹	د صدقې ثواب څو څو چنده دی	۱۲۹
۱۴۰	په اوو (۷) خصلتونو سره د صدقې آجر زياتيږي	۱۳۰
۱۴۱	غريبو خپلوانو ته د صدقې ورکولو آجر	۱۳۱
۱۴۲	د صدقې ثواب هميشه باقي پاتې وي	۱۳۳
۱۴۳	په صدقه کې بهترين او غوره مال ورکول	۱۳۴
۱۴۴	د حضرت ابو طلحة رضي الله عنه د سخاوت جذبه	۱۳۵
۱۴۵	د حضرت طلحه رضي الله عنه د سخاوت نور واقعات	۱۳۷
۱۴۶	د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه صدقه	۱۳۹
۱۴۷	د حضرت عثمان رضي الله عنه صدقه	۱۴۰
۱۴۸	۱. د "بيرِ رومه" اخيستل او صدقه کول:	۱۴۱
۱۴۹	۲. د غزوه تبوک په موقع سخاوت:	۱۴۲
۱۵۰	۳. د قحط سالۍ په وخت د حضرت عثمان رضي الله عنه سخاوت	۱۴۲
۱۵۱	د حضرت عائشې رضي الله عنها صدقه	۱۴۵
۱۵۲	۲. د خپل ځان په نسبت فقير ته ترجيح ورکول	۱۴۶
۱۵۳	۳. د صدقې سره سره فقير ته دُعا هم کول	۱۴۶
۱۵۴	د يو نابينا صحابي په خپل لاس صدقه ورکول	۱۴۷

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۱۵۵	**فقیر او محتاج ته د خوراک او جامو ورکولو فضیلت**	۱۴۸
۱۵۶	د جنت مستحق کیدل	۱۵۱
۱۵۷	په انسانانو او نورو حیواناتو باندې د اوبو څکلو اجر	۱۵۳
۱۵۸	په تږي سپي باندې د اوبو څکلو په وجه مغفرت	۱۵۴
۱۵۹	۱. د یو سړي مغفرت	۱۵۴
۱۶۰	۲. د بدکارې ښځې مغفرت	۱۵۵
۱۶۱	د قیامت په ورځ سفارش کول	۱۵۶
۱۶۲	فصل یا میوه داره اونه په ښه نیت کرل هم صدقه ده	۱۵۹
۱۶۳	یو اعتراض او دهغې جواب	۱۵۹
۱۶۴	صدقه د مرګ نه مخکې په کار ده	۱۶۰
۱۶۵	أفضله صدقه	۱۶۰
۱۶۶	د مرګ نه روستو هم په کار راتلونکي أعمال	۱۶۲
۱۶۷	د حدیث تشریح	۱۶۳
۱۶۸	د مرګ نه پس هم انسان ته دصدقې ثواب رسي	۱۶۵
۱۶۹	مال هم یو امتحان دی	۱۶۷
۱۷۰	واقعه : دولت مند فقیر، او فقیر دولت مند جوړول	۱۶۷
۱۷۱	د جُذامي (برګي مرض واله)، ګنجي او ړوند واقعه	۱۶۹
۱۷۲	د انسان نه دا هر څه پاتې دي	۱۷۱
۱۷۳	واقعه	۱۷۱
۱۷۴	دُعا	۱۷۴
۱۷۵	**د صدقې متعلق فقهي مسایل**	۱۷۵
۱۷۶	د نفلي صدقې حکم	۱۷۵
۱۷۷	غني ته د نفلي صدقې ورکولو حکم	۱۷۶
۱۷۸	په صدقه کې فقیرانو ته نغدې روپۍ ورکول بهتر دي	۱۷۷

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۱۷۹	د حرام کاروبار واله کس د هَدیې حکم	۱۷۷
۱۸۰	د حرام مال نه د صدقې ورکولو حکم	۱۷۷
۱۸۱	زکوٰة نه اداء کول او صدقه ورکول	۱۷۸
۱۸۲	اول قرض اداء کول او بیا صدقه ورکول	۱۷۸
۱۸۳	پیشه وَر یا نَشه یي خلقو ته صدقه ورکول	۱۷۸
۱۸۴	په صدقه کې فقیر ته زړې جامې ورکول	۱۷۹
۱۸۵	**د صدقې په باره کې نور بهترین واقعات**	۱۸۰
۱۸۶	د صدقې په وجه د نیکۍ تله درنیدل	۱۸۰
۱۸۷	د صدقې مثال	۱۸۱
۱۸۸	د صدقې په وجه مغفرت	۱۸۱
۱۸۹	د صدقې په وجه عذاب دفع کیدل	۱۸۳
۱۹۰	د صدقې په وجه د جهنم نه خلاصې	۱۸۵
۱۹۲	د صدقې نه ورکولو سزا	۱۸۶
۱۹۳	د یو سخي سړي بل کس ته په خپل ځان باندې ترجیح ورکول	۱۸۷
۱۹۴	په صدقه کې بهترین مال ورکول د ثواب ذریعه ده	۱۸۹
۱۹۵	حلال مال په بهترین ځای کې خرچ کیږي	۱۸۹
۱۹۶	د صدقې په وجه مصیبت دفع کیدل	۱۹۱
۱۹۷	د صدقې په وجه ایمان نصیب کیدل	۱۹۳
	٤. د خرچ کولو اهمیت او دسخاوت فضیلت	۱۹۴
۱۹۸	د خَیر په کارونو کې د خرچ کولو اَهمیت	۱۹۵
۱۹۹	خرچ کوونکي متقیان او کامیاب دي	۱۹۶
۲۰۰	خرچ کوونکي کامِل مومنان دي	۱۹۷
۲۰۱	د خرچ کوونکو د پاره اَجر	۱۹۷

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۰۲	د خرچ کوونکو دپاره جنت	۱۹۸
۲۰۳	د خرچ کولو ترغیب	۱۹۸
۲۰۴	خرچ کوونکو ته د فرښتو دُعا، او بخیل ته خِیرې	۲۰۲
۲۰۵	**د سخاوت فضیلت**	۲۰۳
۲۰۶	سخي سره الله ﷻ محبت کوي	۲۰۴
۲۰۷	په عابِد بخیل باندې د جاهِل سخي فضیلت	۲۰۴
۲۰۸	د سخاوت اَهمیت	۲۰۵
۲۰۹	د سخي په وفات کیدو د زمکې او حفظه فرښتو دُعا	۲۰۶
۲۱۰	د سخاوت په وجه جنت ته داخلیدل	۲۰۷
۲۱۱	د سخاوت اِجمالي فوايد	۲۰۸
۲۱۲	**د بُخل مذمت او ددینه دبچ کیدو تاکید**	۲۰۹
۲۱۳	بُخل بَد ترین صفت دی	۲۱۰
۲۱۴	بخیل به جنت ته نه داخلیږي	۲۱۱
۲۱۵	په بُخل کولو کې د انسان خپل نقصان دی	۲۱۱
۲۱۶	د بُخل کوونکي مثال	۲۱۲
۲۱۷	**د خپل ځان په نسبت نورو ته ترجیح ورکول**	۲۱۳
۲۱۸	شانِ نزول: د یو انصاري صحابي د اِیثار واقعه	۲۱۳
۲۱۹	۱. د شهادت په وخت د صحابه کرامو د اِیثار یو نایاب مثال	۲۱۵
۲۲۰	۲. د چیلۍ سَر په اُووه (۷) کورونو گرځیدل	۲۱۶
۲۲۱	۳. د حضرت عائشې رضي الله عنها اِیثار	۲۱۶
۲۲۲	۴. د امام واقدي رحمه الله اِیثار	۲۱۷
۲۲۳	۵. د یو غلام اِیثار	۲۱۹
۲۲۳	۶. د فقیرانو د یو جَماعت اِیثار	۲۲۰

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۲۴	۷ . د بشر بن الحارث په مُستعار لباس کې وفات کيدل	۲۲۱
۲۲۵	**په سخاوت او صدقې ورکولو سره د انبیاء کرامو او نیکانو خلقو تابعداري راځي :**	۲۲۲
۲۲۶	**د رسول الله ﷺ سخاوت او صدقه**	۲۲۲
۲۲۷	یو صحابي ته څادر ورکول	۲۲۴
۲۲۸	د سوال کوونکي د پاره قرض اخيستل	۲۲۵
۲۲۹	د ايثار په وجه د نبي عليه السلام فضيلت	۲۲۵
۲۳۰	**د صحابه کرامو سخاوت :**	۲۲۷
۲۳۱	۱. د وفات په وخت په حضرت علي رضي الله عنه باندې د سخاوت په وجه قرضه	۲۲۷
۲۳۲	۲ . د حضرت عُبيده بن جراح رضي الله عنه او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه سخاوت	۲۲۸
۲۳۳	۳ . د حضرت جابر رضي الله عنه سخاوت	۲۲۹
۲۳۴	۴ . د حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه سخاوت	۲۳۰
۲۳۵	۵ . د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما سخاوت	۲۳۰
۲۳۶	۶ . د حضرت حسن ، حضرت حُسين او حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنهم سخاوت	۲۳۲
۲۳۷	۷ . د حضرت سعيد بن العاص رضي الله عنه سخاوت	۲۳۴
۲۳۸	۸ . د حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه سخاوت	۲۳۵
۲۳۹	۹ . د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه سخاوت	۲۳۵
۲۴۰	۱۰ . د حضرت حَسن رضي الله عنه سخاوت	۲۳۸
۲۴۱	۱۱ . د حضرت حُسين رضي الله عنه سخاوت	۲۳۹

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۴۲	۱۲. د درې (۳) صحابه کرامو رضي الله عنهم سخاوت	۲۴۰
۲۴۳	خلاصه	۲۴۳
۲۴۴	دُعا	۲۴۳
۲۴۵	**د سخاوت په باره کې نور بهترين واقعات**	۲۴۴
۲۴۶	۱. د حضرت زين العابدين علي بن حُسين رحمه الله سخاوت	۲۴۴
۲۴۷	۲. د بنو هاشمو سخاوت	۲۴۴
۲۴۸	۳. د شعبه رحمه الله سخاوت	۲۴۶
۲۴۹	۴. د حضرت عبد الله بن مبارک رحمه الله سخاوت	۲۴۶
۲۵۰	۵. د عبد الله بن عامر رحمه الله سخاوت	۲۴۷
۲۵۱	۶. د وفات نه روستو سخاوت کول	۲۴۸
	۵. په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۲۵۰
۲۵۲	﴿ نوټ ﴾	۲۵۱
۲۵۳	په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۲۵۲
۲۵۴	اول آيت	۲۵۳
۲۵۵	د آيت شانِ نزول	۲۵۳
۲۵۶	په کائناتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۲۵۵
۲۵۷	دويم آيت	۲۵۶
۲۵۸	دريم آيت	۲۵۷
۲۵۹	په مخلوقاتو کې غور او فکر کول	۲۵۹
۲۶۰	د فکر تعريف	۲۵۹
۲۶۱	د الله ﷻ په ذات کې تفکر نه دې په کار	۲۵۹
۲۶۲	په مخلوقاتو کې تفکر کول عبادت دی	۲۶۰

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۶۳	په مخلوقاتو کې د تفکر کولو نور فوايد	۲۶۱
۲۶۴	د عالَم ذره ذره د الله ﷻ په وجود او قدرتونو دلالت کوي	۲۶۲
۲۶۵	د الله ﷻ په وجود او د هغه په قدرت باندې يو څو دلايل	۲۶۳
۲۶۶	د امام ابوحنيفه رحمه الله او يو دَهري مناظره	۲۶۳
۲۶۷	د امام شافعي رحمه الله د يو زنديق سره خبرې	۲۶۴
۲۶۸	د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه	۲۶۵
۲۶۹	د امام مالک رحمه الله نه پوښتنه	۲۶۶
۲۷۰	د هر شي په پيدا کولو کې خامخا څه حِکمت شته	۲۶۶
۲۷۱	د ګونګټې په پيدا کولو کې حکمت	۲۶۷
۲۷۲	دا ټول کائنات د انسان د فائدې د پاره پيدا دي	۲۶۸
۲۷۳	د انسان مقصدِ حيات	۲۶۹
۲۷۴	د انسان په بدن کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۲۶۹
۲۷۵	په اِنساني ژوند باندې نظر اچول	۲۷۱
۲۷۶	د مور په خيټه کې د ماشوم مختلفې مرحلې	۲۷۲
۲۷۷	د آيت تحقيق	۲۷۳
۲۷۸	په ميږي کې د الله ﷻ د قدرت ننداره	۲۷۵
۲۷۹	واقعه	۲۷۷
۲۸۰	ميږيان دروغ او دُهوکه نه خوښوي	۲۷۸
۲۸۱	واقعه	۲۷۸
۲۸۲	د بيزوګانو حَد جاري کول	۲۷۹
۲۸۳	شوده (پې) ورکوونکو څاروو کې د قدرت نخې	۲۸۰
۲۸۴	د شهدو په مچۍ کې د الله ﷻ د قدرت نخې	۲۸۲
۲۸۵	د " اُوراُورکي " په وجود کې د الله ﷻ قدرتونه	۲۸۵

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۲۸۶	د خپلو ليدلو سترګو حال	۲۸۶
۲۸۷	ضائع شوې اندا م دوباره پيدا کيدل	۲۸۷
۲۸۸	د بعضې حيواناتو حواس د انسان نه تيز وي	۲۸۷
۲۸۹	**په حيواناتو کې د الله ﷻ د قدرت ننداري**	۲۸۸
۲۹۰	هُد هُد په زمکه کې پټ شى ګوري	۲۸۹
۲۹۱	د کونترې د هګو حفاظت	۲۸۹
۲۹۲	چرګه	۲۹۰
۲۹۳	چرګ نورو ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکوي	۲۹۰
۲۹۴	د مرغانو همت	۲۹۰
۲۹۵	د ګونګټې همت نه بائيلل	۲۹۱
۲۹۶	**د رزق طلب کولو دپاره د حيواناتو حيلې**	۲۹۱
۲۹۷	د غنې حيله	۲۹۱
۲۹۸	د مچ پړانګ حيله	۲۹۱
۲۹۹	د لومبړې حيله	۲۹۲
۳۰۰	د ښکاري سپي حيله	۲۹۳
۳۰۱	د مار حيله	۲۹۴
۳۰۲	د مږې حيله	۲۹۴
۳۰۳	د مرغانو حيلې	۲۹۵
۳۰۴	د رنګ بدلونکي حيوان "حرباء" (کربوړي) حيله	۲۹۵
۳۰۵	د ماشي او هاتي مقايسه	۲۹۷
۳۰۶	د پيشو حيله	۲۹۸
۳۰۷	د ميږي حيله	۲۹۸
۳۰۸	د زمري د ښکار طريقه	۲۹۸

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۳۰۹	**د حيواناتو د خپل ځان د حفاظت تدبيرونه**	۲۹۹
۳۱۰	ليوه په يوه سترګه خوب کوي	۲۹۹
۳۱۱	د لومبړې حيلې	۳۰۰
۳۱۲	ميږې	۳۰۱
۳۱۳	غرڅنۍ هوسۍ	۳۰۱
۳۱۴	ځنګلي منګک (يربوع)	۳۰۲
۳۱۵	باره سِنګا (غرڅه)	۳۰۲
۳۱۶	اپاسم	۳۰۳
۳۱۷	زمرې	۳۰۳
۳۱۸	مرغۍ	۳۰۴
۳۱۹	مګرمچه	۳۰۴
۳۲۰	**د حيواناتو د خپلو بچو د حفاظت د پاره تدبيرونه**	۳۰۵
۳۲۱	د مؤنث هاتي په اُوبو کې لنګيدل	۳۰۵
	د مرغو د بچو حفاظت	۳۰۶
۳۲۳	د بچي د پيدا کيدو نه پس د حيواناتو وهل کول	۳۰۶
۳۲۴	د غَرڅنۍ چيلۍ د خپلو بچو سره مينه	۳۰۷
۳۲۵	بناپيرک	۳۰۷
۳۲۶	**په نورو حيواناتو او مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې**	۳۰۸
۳۲۶	د کارغه بچي ته خوراک رسول	۳۰۸
۳۲۷	د حيواناتو بچو ته فطري تعليم	۳۰۸
۳۲۸	د حضرت عقبه بن نافع ﷺ د ځنګل حيواناتو ته خطاب کول	۳۰۹
۳۲۹	قصة الاسد مع ''سفينة'' مولى رسول الله ﷺ	۳۰۹
۳۳۰	يوه عجيبه اُونه	۳۱۰

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۳۳۱	د انسانانو د ويښتانو په شان پاڼې	۳۱۰
۳۳۲	ګوشت خُور اُونه	۳۱۰
۳۳۳	زهريله اُونه	۳۱۱
۳۳۴	د پَتري (بليډ) په شان تيره ګياه	۳۱۱
۳۳۵	عجيبه کاڼې	۳۱۱
۳۳۶	عجيبه ماهي	۳۱۱
۳۳۷	عجيبه ليوه	۳۱۲
۳۳۸	عجيبه مار	۳۱۲
۳۳۹	عجيبه مرغۍ	۳۱۳
۳۴۰	اُوږده ورځ، او اُوږده شپه	۳۱۴
۳۴۱	د مرګ په وخت د څناورو يو طرف ته کيدل	۳۱۴
۳۴۲	خلاصه	۳۱۴
۳۴۳	د غونډ تقرير خلاصه	۳۱۵
۳۴۴	دُعا	۳۱۶
۳۴۵	**د شهدو په مچۍ کې د الله د قدرت څه نور عجائب**	۳۱۷
۳۴۶	د بهترين شي دشمنان زيات وي	۳۱۹
۳۴۷	د شاتو مچې نه حکومتي نظم برابرول	۳۱۹
۳۴۸	حيرانوونکي او د عبرت خبره	۳۲۰
۳۴۹	**د انسان په وجود کې د الله ﷻ قدرتونه او عجائب**	۳۲۱
۳۵۰	خليات (ژوندي اَجسام يا حُجره)	۳۲۱
۳۵۱	سترګې	۳۲۲
۳۵۲	په سترګو کې کيمرې	۳۲۳
۳۵۳	د انسان هر اندام ډير قيمتي دی	۳۲۴
۳۵۴	زړه :	۳۲۴

نمبرشمار	موضوع	صفحه
۳۵۵	غوږونه	۳۲۵
۳۵۶	دِماغ	۳۲۷
۳۵۷	ګُردي	۳۲۸
۳۵۸	وینه	۳۲۹
۳۵۹	هډوکي	۳۳۰
۳۶۰	پوستکي (څَرمن)	۳۳۲
۳۶۱	ژبه	۳۳۳
۳۶۲	پوزه	۳۳۴
۳۶۳	جِګر (اِینه)	۳۳۵
۳۶۴	تریخي	۳۳۵
۳۶۵	معده او د هاضمې نظام	۳۳۶
۳۶۶	حيرانوونکې خبره	۳۳۶
۳۶۷	خلاصه	۳۳۷
۳۶۸	**د انساني جسم متعلق نور حيرانوونکي معلومات**	۳۳۸
۳۶۹	دعا	۳۴۲
۳۷۰	خوشخبري	۳۴۳

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سريزه (د دريم جلد)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيۡنَ اصۡطَفٰى . اَمَّابَعۡد !

ددې كتاب (اِصۡلَاحِيۡ مُدَلَّلۡ تَقۡرِيۡرُوۡنَه) متعلق تفصيلي خبر. د اول جلد په سريزه كې بيان شوى ، دلته صرف د '' تَحۡدِيۡث بِالنِّعۡمَة '' په طور دا خبره كوم چې كله ما ددې كتاب دويم جلد. وليكل نو د هغې په سريزه كې مې دا وعده كړې وه چې '' انشاء الله په همدې انداز به دريم (۳) جلد هم ليكم '' بيا كله چې هغه دويم (۲) جلد چاپ شو نو الله رب العزت د اول جلد په شان هغې ته هم په عِلمي ميدان كې داسې مقبوليت وربه برخه كړو چې د علماؤ ،طلباؤ ، خطيبانو او عامو مسلمانانو د پاره د اِستفادې وَړ اُوګرځيده ، او د هر ممبرو محراب د زِينت سبب جوړ شو .

د كله نه چې دويم جلد چاپ شوى نو د هماغې ورځې نه راپه ديخوا داسې ورځ نده تيره شوى چې په هغې كې د پاكستان او افغانستان دمختلفو علاقو نه اهلِ عِلمو د ټيلفون په ذريعه د دريم جلد د چاپ كيدو پوښتنه نه وي كړي ، بلكه په هره ورځ د كتاب د اِفاديت او د دريم جلد د چاپ كيدو په باره كې بې شماره ټيلفونې كيږي چې په دې سره به زما حوصله اَفزايي هم كيده .

اګر چې ماته د دَرسي مصروفياتو په وجه فارغه وخت ډير نه ملاويږي، خو بيا هم كله چې ما ددې اهلِ عِلمو دا نه ختميدونكې شوق ، اِصرار او مَحبت ددې كتاب سره اوكته نو زه په دې مجبوره شوم چې د دوى عِلمي تَنده ماته كړم ، او دريم (۳) جلد هم وليكم.

لهذا د مدرسې په سالانه رُخصتى كې مې يو ځل بيا خپل عِلمي صلاحيت په كار واچول او د دريم جلد په ليكلو مې شروع وكړه .

د الله ﷻ د خصوصي فضل و اِحسان ، د والدينو او استاذانو د دُعاؤ په بركت، او د څو مياشتو مسلسل شب و رُوز د محنت په نتيجه كې مې داسې قيمتي ملغلرې

د تالیف په تار کې اُوپائللی چې په لوستو او اَورېدو سره یې عِلمي تَنده ماتیږي ، د معاشرې د اِصلاح ، او د دارینو د سعادت او نیک بَختیا ذریعه ګرځي .

دا یقیني خبره ده چې لکه څرنګ چې مې د مخکیني جلدونو په لیکلو کې ډېره خواري او محنت کړې وُ نو دغه شان ددې دریم جلد په لیکلو کې مې هم پوره خواري او محنت کړی .

بلکه چې کله ما د علماوُ ، طلباوُ ، خطیبانو او عامو دینداره مسلمانانو بې اَندازې مینه ددې کتاب سره ولیده نو زما په شوق کې نوره اِضافه هم اوشوه ، او نور هم دې مسئولیت طرف ته متوجه شوم .

لهذا په ډېر اِحتیاط مې د قرآن کریم ، احادیثو ، د اسلافو د قیمتي اَقوالو ، اِصلاحي نصیحتونو ، عِلمي لطائفو ، فِقهي مسائلو او د عبرت نه ډک زړه راښکونکو معتمدو واقعاتو نه مې داسې بهترینه عِلمي ذخیره تیاره کړه چې په اَورېدو او کتو یې د انسان سترګې یَخیږي ، عِلمي تَنده پرې ماتیږي ، د انسان په زړه کې د الله ﷻ نه ویره پیدا کیږي ، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهمیت ورسره پیدا کیږي ، او د دواړو جهانو کامیابي ورته نصیبه کیږي .

الله رب العزت دې ددې عاجز بنده دا خدمت په خپل دربار کې قبول کړي ، او د خپلې رَضا ذریعه دې وګرځوي ، زما او زما د والدینو ، اُستاذانو او ټول امتِ مُسلمه د پاره دې د مغفرت او نجات ذریعه وګرځوي . او الله ﷻ دې یقیني دا کتاب د معاشرې د اِصلاح ، او د مسلمانانو د دواړو جهانو د فلاح او کامیابۍ ذریعه وګرځوي . آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

خوشخبري : ډېرو ملګرو او علماوُ راته دا مشوره راکړې که په همدې اَنداز باندې د تقریرونو دا سلسله جاري اوساتلې شي ، او په اَهمو موضوع ګانو باندې دغه شان لیکل اوشي نو فایده به یې ډېره زیاته وي .

لهذا زه يو ځل بيا اَهلِ عِلمو ، خطيبانو او ددې کتاب مينه والو ته دا خوشخبري اَوروم چې اِن شاء الله په همدغه انداز باندې به بل جلد هم ليکم چې هغه به هم په نزدې وخت کې چاپ شي .

خو هغه به په دې نوم باندې نه وي ، بلکه آينده راتلونکي جلد ونه به په بل نوم وي، شائقين حضرات بيا د ټيليفون په ذريعه معلومات تر لاسه کولې شي .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ،

إِنْ أُرِيْدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن

ابوالشمس نورالهدٰی عفی عنه

نوټ : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرَّاكِعِيْنَ ﴾ البقرة آیت ۴۳ .

دزکوة اَهمیت ،فضیلت او اَحکام

تاَلِیف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د زکوة اهميت ، فضيلت او احکام :

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهٗ وَنَسۡتَعِيۡنُهٗ وَنَسۡتَغۡفِرُهٗ وَنُؤۡمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيۡهِ. وَنَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَيِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَنۡ يَّهۡدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡهُ فَلَا هَادِيَ لَه. وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِيۡكَ لَهٗ وَنَشۡهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُه .

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الۡقُرۡاٰنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ :

﴿ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارۡكَعُوۡا مَعَ الرَّاكِعِيۡنَ ﴾ . (۱)

و قَالَ فِيۡ مَوۡضِعٍ اٰخَر : ﴿ وَرَحۡمَتِيۡ وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٍ فَسَاَكۡتُبُهَا لِلَّذِيۡنَ يَتَّقُوۡنَ وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيۡنَ هُمۡ بِاٰيَاتِنَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴾. (۲)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : بُنِيَ الۡاِسۡلَامُ عَلٰى خَمۡسٍ شَهَادَةِ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ. وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيۡتَاءِ الزَّكٰوةِ وَحَجِّ الۡبَيۡتِ وَصَوۡمِ رَمَضَانَ . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الۡعَظِيۡم .

د زکوة اهميت

زما خوږو قدرمنو او عزت منډو مسلمانانو ورونو ! د اسلام په بنيادي او اهمو ارکانو کې دريم رُکن د زکوة دی ، دغه وجه ده چې په قرآن کريم کې دوه ديرش (۳۲) ځايه د لمانځه سره يو ځای د زکوة حکم راغلی (۴)

---

(۱) البقرة آيت ۴۳ .

(۲) الاعراف آيت ۱۵۶ .

(۳) اخرجه البخاري فی الزکاة/۲۴ (۱۳۱۵) ومسلم فی الايمان/ ۴ ، الترغيب والترهيب ۱۸/ ۵۱۶ .

(۴) په بعضې کتابونو کې د دوه ديرش (۳۲) په ځای دوه اتيا (۸۲) عدد ذکر دی خو دا صحيح نه معلوميږي ځکه د علماو تحقيق دادی چې په قرآن کريم کې د لمونځ سره د زکوة ذکر دوه ديرش ځايه راغلی .

او ددئ نه علاوه ځان له هم په ډيرو ځايونو کې د زکوة ذکر راغلی ، چې ددئ نه د زکوة اَهميت ، عظمت او تاکيد معلوميږي ، دغه شان په ګڼو احاديثو کې د زکوة اهميت او فوايد بيان شوي . وجه داده چې لکه څرنګ چې لمونځ په عباداتِ بدَنيو کې لوي عبادت دی نو دغه شان زکوة هم په عباداتِ ماليهٔ کې لوي مالي عبادت دی .

د زکوة لغوي معنیٰ

اول درته د زکوة لغوي او شرعي معنیٰ بيانوم چې زکوة چاته وايي ؟ نو زکوة په لغت کې طِهارت ، برکت او زياتيدو ته وايي . (١)

د زکوة شرعي (اِصطلاحي) معنیٰ

زکوة په اصطلاح کې عبارت دی د '' إِيْجَابُ طَائِفَةٍ مِّنَ الْمَالِ فِيْ مَالٍ مَخْصُوْصٍ لِمَالِكٍ مَخْصُوْصٍ . (٢)

ديو مخصوص مالک (صاحبِ نصاب) په مخصوص مال (مالِ نامي) کې مخصوصه حصه واجبيدل کومه چې شريعت مقرر کړې .

---

(١) هي لغة الطّهارةُ والنَّماءُ اى الزِّيادةُ . ولها معانٍ أُخر : اَلْبركة ... والمدح ... والثناء الجميل .. وكلّها توجد فى المعنى الشرعي . فتح الملهم لمولانا شبير احمد عثماني رحمه الله ج٥ ص ٥ كتاب الزكوة ./ په نضرة النعيم کې ليکي : أصلُ المادَّةِ يَدُلّ على الزِّيادةِ وَالنَّماءِ . يقولُ ابنُ فارسٍ : اَلزَّايُ وَالْكَافُ وَالحرفُ المُعْتَلُّ أَصْلٌ يدلُّ على نَمَاءٍ و زِيادةٍ . نضرة النعيم فى مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ٦ ص ٢١٩٧ الزكاة ./ بعضې علماء وايي : اَلزكوةُ لغةً النُّمُوُّ والزِّيادةُ . وشَرْعًا : تَمْلِيكُ جُزْء مالٍ مَخصوصٍ مِن مالٍ مخصوصٍ لِشخصٍ مخصوصٍ عَيّنهُ الشَّارِعُ لِوَجه الله تعالى . فقه اسلامي ج٢ ص ٧٢٩ .

(٢) التعريفات (١١٤) ، نضرة النعيم ج ٦ ص ٢١٩٧ الزكاة . بعضې علماء د زکوة داسې تعريف کوي : اَلزَّكَاةُ : إِسْمٌ لِأَخذِ شَيْءٍ مَخصوصٍ مِن مالٍ مَخصوصٍ عَلَى أَوصافٍ مَخصوصةٍ لِطائفةٍ مخصوصةٍ . المجموع شرح المهذب ٥/ ٣٢٥ ، نضرة النعيم ج ٦ ص ٢١٩٧ الزكاة . / او چا د زکوة داسې تعريف کړی : اَلزَّكَاةُ شَرعًا على رَأْيِ الحَنفيّةِ : تَمْلِيكُ جُزْء مالٍ عَيَّنهُ الشَّارِعُ مِن مسلمٍ فقيرٍ غيرِ هاشميٍ ولا مَوْلَاهُ مَعَ قَطعِ المَنْفَعَةِ عَنِ المُمَلِّكِ من كلّ وجهٍ لِلّهِ تَعالى . كما فى الدر المختار ، فتح الملهم ج٥ ص ٥ .

دزکوة حکم

په قرآن کريم او احاديثو کې ځای په ځای د زکوة اداکولو حکم بيان شوی او ددې اجر بيان شوی.

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾. (۱)

ترجمه: بيشکه کومو خلقو چې ايمان راوړو، نيک عملونه يې وکړه، لمونځ يې قائم کړو او زکوة يې ورکړو نو ه‌دوی د پاره اجر دی (ددې کارونو په عوض کې) د خپل رب سره او (په آخرت کې به) په دوی هيڅ ويره نه وي، او نه به (د څه شي په پاتې کيدو) غمجن وي.

۲. بل ځای الله رب العزت فرمايي:

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾. (۲)

ترجمه: او تاسو لمونځ کوئ، زکوة ورکوئ او رکوع کوئ د رکوع کوونکو سره (يعنی د جَمعې سره لمونځ کوئ).

۳. د سورة حج په آخر کې الله تعالی په مومنانو باندې د اِحسان د تذکرې نه روستو فرمايي

﴿فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيرُ﴾. (۳)

ترجمه: پس تاسو لمونځ قائموئ، زکوة ورکوئ، او (د) الله تعالی (حکمونه) مضبوط اونيسئ، هم هغه ستاسو کارساز دی، پس څومره ښه آقا او څومره ښه مددګار دی

۴. بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾. (۴)

---

(۱) البقرة آيت ۲۷۷.

(۲) البقرة آيت ۴۳.

(۳) الحج آيت ۷۸.

(۴) النور آيت ۵۶.

ترجمه : (اې مسلمانانو !) تاسو لمونځ قايموئ، زكوة وركوئ، او د رسول حكم منئ ددې د پاره چې په تاسو رحم وكړې شي .

زكوة د اسلام بُنيادي رُكن دی

١ . زكوة چونكه د اسلام په بُنيادي اَركانو كې دی، ځكه د اِسلام بُنياد په پنځو (٥) غټو اَركانو دی كوم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې حديثِ مباركه كې ذكر كړي . نبي عليه السلام فرمايي :

بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، وَإِقَامِ الصَّلٰوةِ، وَ إِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ . (١)

د اسلام بُنياد په پنځو شيانو باندې دی (اول) ددې خبرې ګواهي وركول چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ نه بغير بل معبود برحق نشته او محمد صلى الله عليه وسلم د الله جَلَّ جَلَالُهُ بنده او رسول دی، (دويم) لمونځ قائمول، (دريم) زكوة وركول، (څلورم) د بيت الله شريف حج كول، (پنځم) د رمضان روژې نيول .

٢ . په بل حديث كې ذكر دي چې زكوة د اسلام پُل دی . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلزَّكٰوةُ قَنْطَرَةُ الْإِسْلَامِ . (٢)

زكوة د اسلام مضبوط پُل دی .

يعنى لكه څرنګه چې پُل بل طرفته د رسيدو ذريعه وي نو دغه شان زكوة وركول هم الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د رسيدو ذريعه ده .

٣ . په بخاري او مسلم شريف كې ذكر دي چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ رضي الله عنه يمن ته د والي او عامِل په حيث ليږلو نو د رخصتيدو په وخت يې ورته دا هم وفرمايل :

---

(١) اخرجه البخاري في الزكاة/ ٣٢ (١٣١٥) ومسلم في الايمان/ ٣ ، الترغيب والترهيب ١٨/ ٥١٦ .

(٢) رواه الطبراني في الاوسط والكبير، الترغيب والترهيب كتاب الصدقات ٦/ ٥١٢ .

إِنَّکَ تَأْتِيْ قَوْمًا أَهْلَ کِتَابٍ فَادْعُهُمْ إِلٰی شَهَادَةِ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوْا لِذٰلِکَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلواتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوْا لِذٰلِکَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلٰی فُقَرَائِهِمْ ...(۱)

ته به داسې يو قوم ته ورځې چې اهلِ کتاب دي نو (د ټولو نه مخکې) ته هغوی دې خبرې ته را اُوبله چې دوی ددې خبرې ګواهي ورکړي چې " نشته دې لايق د عبادت مګر يو الله دی ، او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی "، که چيرته هغوی دا خبره اومنله نو بيا ورته دا اُوښايه چې الله تعالی په دوی باندې په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه فرض کړي دي ، که چيرته هغوی دا هم اومنله نو بيا ورته دا اوښايه چې الله تعالی په دوی باندې صدقه يعنی زکوة فرض کړی چې د دوی د مالدارو نه به اخيستلې شي ، او هم د دوی فقيرانو ته به ورکولې شي .....

۴. حضرت علقمه رضي الله عنه وايي چې زمونږ د صحابه کرامو څه کسان د نبي عليه السلام په خدمت کې حاضر شو ، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل :

إِنَّ تَمَامَ إِسْلَامِکُمْ أَنْ تُؤَدُّوْا زَکٰوةَ أَمْوَالِکُمْ .(۲)

بيشکه ستاسو د اسلام تکميل (او پوره والې) په دې کې دی چې تاسو د خپلو مالونو زکوة اداء کړئ .

فائده : د اسلام تکميل په زکوة کې څکه دی چې زکوة د اسلام په بُنيادي اَرکانو کې داخل دی ، نو چې کله دا رُکن په کې نه وي نو بيا خو د اسلام تکميل نه کيږي .

معلومه شوه چې زکوة د اسلام اهم رُکن او عبادت دی او ددې ډير تاکيد راغلی .

---

(۱) رواه البخاري کتاب الزکاة باب وجوب الزکاة حديث ۱۳۱۲ ، ورواه مسلم .

(۲) رواه الهيثمي في المجمع ۳/ ۶۲ ، المنذري في الترغيب ۱/ ۵۲۰ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۲۸ ابواب الصدقات ثواب اداء الزکاة ./ وفي رواية : مِنْ تَمَامِ إِسْلَامِکُمْ أَنْ تُؤَدُّوْا زَکٰوةَ أَمْوَالِکُمْ . المعجم الکبير للطبراني ج۱۸ ص۸ حديث ۶

زکوة په مخکيني امتونو هم فرض ؤ

زکوة لکه څرنګ چې په دې امتِ محمّدي فرض دی نو همدغه شان په مخکيني امتونو باندې هم د لمانځه سره سره زکوة هم فرض ؤ.(۱)

يو څو نمونې درته د قرآن کريم نه بيانوم:

۱. په سورة انبياء کې د حضرت ابراهيم ﷺ، او د هغه د ځوي حضرت اسحاق ﷺ، او د هغه د نمسي حضرت يعقوب ﷺ د ذکر نه روستو الله تعالى فرمايي:

﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِمْ فِعْلَ ٱلْخَيْرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ وَكَانُوا۟ لَنَا عَٰبِدِينَ ﴾.(۲)

ترجمه: او مونږ وحي وکړه دوی ته د نيکيو د کولو، او (خاصکر) د لمونځ قائمولو، او زکوة ورکولو، او دوی زمونږ عبادت ګزار بندګان وو.

۲. په سورة مريم کې د حضرت اسماعيل عليه السلام په باره کې ذکر دي:

﴿وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ...﴾.(۳)

ترجمه: او حضرت اسماعيل ﷺ به د خپل کور خلقو ته د لمانځه او زکوة حکم کولو.

۳. دغه رنګې حضرت عيسى عليه السلام خپل قوم ته وفرمايل:

﴿ وَأَوْصَٰنِى بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴾.(۴)

ترجمه: او تر څو پورې چې زه ژوندې يم الله تعالى ماته د لمانځه او زکوة وصيت (حکم) کړی.

۴. همدغه رنګې کله چې الله ﷻ د بني اسرائيلو نه د ايمان او نورو احکاماتو عملي کولو کلکه وعده واخيسته نو په هغې احکاماتو کې يې ورته دا هم فرمايلي وو:

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة.

(۲) سورة الأنبياء آيت ۷۳.

(۳) سورة مريم آيت ۵۵.

(۴) سورة مريم آيت ۳۱.

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ .(۱)

ترجمه : تاسو لمونځ اداکوئ ، او زکوة ورکوئ .

۵ . په سورة مائده کې ذکر دي چې الله ﷻ بني اسرائيلو ته فرمايلي وو :

﴿ إِنِّيْ مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ ﴾ .(۲)

ترجمه : بيشکه زه (په اعتبار د مدد سره) د تاسو سره يم که چيرته تاسو لمونځونه قائم کړه ، او زکوة مو اداء کړو .

فائده : ددې آيتونو نه معلومه شوه چې زکوة دومره اَهمه فريضه ده چې لکه څرنګ چې دا په دې امت باندې فرض دی نو همدغه شان په مخکيني امتونو باندې هم فرض ؤ . (۳)

په دې اُمت باندې دزکوة د فرضيت وخت

په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی چې په دې امت باندې د زکوة فرضيت اول په کوم ځای کې شوی ؟ نو بعضې علماء ددې قايل دي چې د زکوة فرضيت اولاً په مکه معظمه کې شوی، او بعضې وايي چې په مدينه منوره کې په دويمه هجري کې په اول د رمضان المبارک اولاً ددې د فرضيت حکم راغلی .

خو صحيح او د اکثرو علماؤ قول دادی کوم چې امام نووي رحمه الله هم ذکر کړی چې :

د زکوة د فرضيت حکم خو د هجرت نه مخکې په مکه معظمه کې نازل شوی خو تفصيلي احکام يې نه وو نازل شوي (لکه د سورة مومنون ، سورة نمل او سورة لقمان په ابتدايي آيتونو کې د مومنانو په صفاتو کې د لمانځه او زکوة ذکر راغلی ، حالانکه دا سورتونه په مکه معظمه کې نازل شوي) .

بيا د هجرت په دويم (۲) کال په مدينه منوره کې په اول د رمضان المبارک د زکوة تفصيلي احکامات نازل شو . (۴)

(۱) البقرة آيت ۸۳ .

(۲) المائدة آيت ۱۲ .

(۳) معارف الحديث ج۴ ص ۳۰۲ .

(۴) مظاهر حق شرح مشکوة ج ۲ ص ۳۰۲ .

يعنی د نصاب مقررول ، د واجب مقدار تفصيل ، د اسلامي حکومت د طرفه د زکوة وصولول ، او په مصرَف باندې د لړولو تفصيلي احکامات په مدينه منوره کې نازل شو . (۱)

د زکوة فوائد :

قدرمنو ! زکوة يو فرضي عبادت او د الله تعالی حکم دی ، انسان ته که د الله ﷻ په احکاماتو کې څه فوائد په نظر راځي او که نه راځي خو دې به د الله ﷻ حکم په هر حالت مني. خو داد الله ﷻ عظيم فضل و کرم دی چې څوک زکوة ورکوي هغه ته ددې په عوض کې بې شماره اجرونه او فوائد هم ورکوي.

دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې د زکوة ورکولو ډير فضايل او فوايد بيان شوي ، خو زه به درته صرف يو څو مشهور فوايد بيان کړم.

۱ . د زکوة اداء کولو په وجه د جنت مستحق کيدل

څوک چې زکوة ورکوي نو دا خلق په دُنيا او آخرت دواړو کې کاميابه دي ، او د داسې خلقو سره الله ﷻ د جنت وعده کړی.

۱. الله رب العزت فرمايي :

﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ . الَّذِيۡنَ هُمۡ فِيۡ صَلَاتِهِمۡ خَاشِعُوۡنَ . وَالَّذِيۡنَ هُمۡ عَنِ اللَّغۡوِ مُعۡرِضُوۡنَ . وَالَّذِيۡنَ هُمۡ لِلزَّكٰوةِ فَاعِلُوۡنَ ﴾ . (۲)

---

(۱) معارف القرآن سورة لقمان آيت ۴ . علامه شبير احمد عثماني رحمه الله په فتح الملهم کې ليکلي : قال الحافظ : اختلف في أوّلِ وقت فرض الزكوة . فَذَهَبَ الأكثر إلى أنّه وقع بعد الهجرة . فقيل كان في السنَة الثانيةِ قبلَ فرضِ رمضان . أشار إليه النوويُّ رحمه الله في باب السير من " الروضة " ... وَقال ابنُ كثيرٍ في تفسير الْمُزَّمِّلِ تحت قوله تعالى : ﴿ وَأَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ وهذا يَدُلُّ لِمَنۡ قال بِأَنَّ فرض الزكوة نزل بمكّةَ . لكن مقادير النصب والمخرج لم تبيّن إلّا بالمدينة . والله اعلم . فتح الملهم ج ۵ ص ۶،۵ مع اختصار .

(۲) المؤمنون آيت ۱ تا ۴ .

ترجمه: بيشکه کاميابه شو هغه مؤمنان کوم چې په خپل لمانځه کې عاجزي کوونکي دي، او کوم چې د فضول خبرو نه ځان ساتي، او کوم چې زکوة ورکوونکي دي.

فايده: د سورة مومنون په دې اولو آيتونو کې الله ﷻ دا بيانوي چې په کومو مومنانو کې دا آينده اووه (۷) صفات موجود وي هغوی په دُنيا او آخرت کې کاميابه دي. په هغې کې يو صفت د زکوة اداء کولو هم دی. بيا د دې صفتونو په آخر کې الله ﷻ وفرمايل:

﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ . الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾. (۱)

ترجمه: همدا خلق حقيقي وارثان دي کوم چې به جنت الفردوس په ميراث کې اخلي. او دوی به په دې جنت الفردوس کې هميشه وي.

۲. همدارنګې الله ﷻ د بني اسرائيلو نه هم پخه وعده اخيستې وه، که چيرته تاسو د لمونځونو پابندي وکړه، او زکوة مو ورکړو ... نو زما امداد به د تاسو سره وي، ستاسو ګناهونه به ختم کړم او جنت ته به مو داخل کړم. الله ﷻ د دې خبرې تذکره په قرآن کريم کې داسې کړې:

﴿ وَقَالَ اللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ... ﴾. (۲)

ترجمه: او الله تعالی بني اسرائيلو ته فرمايلي وو: زه د تاسو سره يم که چيرته تاسو لمونځ قائم کړو، زکوة مو اداء کړو، زما په پيغمبرانو مو ايمان راوړو، او (د دشمنانو په مقابله کې) تاسو د هغه مدد وکړو، او الله تعالی ته مو قرضِ حسَنه ورکړو، نو زه به ضرور له تاسو نه ستاسو ګناهونه لرې کړم، او خامخا به تاسو داسې جنتونو ته داخل کړم چې د هغې (د محلونو) لاندې به نهرونه بهيږي.

---

(۱) المؤمنون آيت ۱۰، ۱۱.

(۲) المائدة آيت ۱۲.

۳. د بخاري شريف حديث دی چې رسول الله ﷺ ته يو کس راغی، او ورته وې ويل:
أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ؟ ماته داسې يو عمل اُوښايه چې ما جنت ته داخل کړي.
نبي عليه السلام ورته وفرمايل:
تَعْبُدُ اللهَ لَاتُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلٰوةَ، وَتُؤْتِي الزَّكٰوةَ وَتَصِلُ الرَّحِمَ. (۱)

صرف د يو الله ﷻ عبادت کوه، څوک ورسره په عبادت کې مه شريکوه، لمونځ اداء کوه، زکوة ورکوه او صله رحمي کوه (نو په دې کارونو کولو سره به جنت ته داخل شي).

۴. حضرت ابوهريرة ﷺ وايي چې يو اعرابي (د بانډې اوسيدونکې) نبي عليه السلام ته راغی، او ورته وې ويل:
دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ؟

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! ماته داسې يو عمل اوښايه چې د هغې په کولو سره زه جنت ته داخل شم.

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

تَعْبُدُ اللهَ لَاتُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلٰوةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ.
د الله داسې عبادت کوه چې د هغه سره په عبادت کې څوک مه شريکوه، فرض لمونځ کوه، فرضي زکوة ورکوه، او د رمضان روژې نيسه.

دې اعرابي چې دا خبره واوريده نو وې ويل: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هٰذَا
زما دې قسم وي په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده چې په دې کې به زيادت نه کومه (او نه به ددينه کمې کوم).

کله چې دا اعرابي د دې مجلس نه لاړو نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

(۱) وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ ﷺ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ؟ قَالَ: تَعْبُدُ اللهَ لَاتُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلٰوةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصِلُ الرَّحِمَ. رواه البخاري في الزكاة /۱، ومسلم في الايمان /۴

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا . (۱)

د چا چې دا خوښه وي چې يو جنتي سړي ته او ګوري نو هغه دې دې اعرابي ته او ګوري .

۵ . حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې مونږ ته رسول الله ﷺ خطبه وويله ، او وې فرمايل وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ . قسَم دې په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده .

نبي عليه السلام درې (۳) کرته قسَم وکړو ، بيا يې سَر مبارک ښکته کړو ، په مونږ کې هم هر يو کس سَر ښکته کړو او ژړل يې ، خو هيڅوک په دې نه پوهيده چې رسول الله ﷺ ولې درې کرته قسَم وکړو، بيا رسول الله ﷺ سَر مبارک راپورته کړو چې په مخ مبارک يې خوشحالي وه . (صحابه کرام فرمايي چې :) د رسول الله ﷺ خوشحالي مونږ ته د سرو اُوښانو نه ډيره خوښه وه . نو نبي عليه السلام وفرمايل :

مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ ، وَيُخْرِجُ الزَّكَاةَ وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ، وَقِيْلَ لَهُ ادْخُلْ بِسَلَامٍ . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! دُلَّنِيْ عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ : تَعْبُدُ اللهَ لَاتُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا ، وَتُقِيْمُ الصَّلٰوةَ الْمَكْتُوْبَةَ ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوْضَةَ ، وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ . قَالَ : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا أَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا . فَلَمَّا وَلّٰى قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا . رواه البخاري في الزكاة /۳۴ (۱۳۱۵) ، ومسلم في الايمان / ۴ ، الترغيب والترهيب ۱۸ / ۵۱۶ .

(۲) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَأَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَا : خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، ثُمَّ أَكَبَّ ، فَأَكَبَّ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا يَبْكِيْ لَايَدْرِيْ عَلٰى مَاذَا حَلَفَ ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ، وَفِيْ وَجْهِهِ الْبُشْرٰى ، وَكَانَتْ أَحَبَّ إِلَيْنَا مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ ، قَالَ : مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ ، وَيُخْرِجُ الزَّكَاةَ وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ، وَقِيْلَ لَهُ ادْخُلْ بِسَلَامٍ . رواه النسائي في الزكاة ۲ واللفظ له ، وابن ماجه وابن خزيمة وابن حبان والحاكم وقال صحيح الاسناد ، الترغيب والترهيب ۱ / ۵۲۸ ، السنن الكبرى للنسائي ج۳ ص ٦ حديث ۲۲۳۰ . وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ : قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِيْ مِنَ النَّارِ ، قَالَ : لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِيْمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ عَلٰى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ (تَعَالٰى) عَلَيْهِ ، تَعْبُدُ اللهَ وَلَاتُشْرِكُ بِهٖ (شَيْئًا) وَتُقِيْمُ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ وَتَحُجُّ الْبَيْتَ . رواه احمد ۵/۲۳۱، ۲۳۷ ، والترمذي وصححه ، والنسائي وابن ماجه ، والمنذري في الترغيب ۱ /۵۱۷ ، ۳/ ۵۲۸ .

کوم بنده چې د پنځو لمونځونو اهتمام کوي، د رمضان روژې نيسي، زکوة اداء کوي، او د اووه (۷) لويو ګناهونو نه ځان ساتي، نو دده د پاره به د جنت دروازې پرانيستلې شي، او ده ته به وويلې شي چې " ته په سلامتيا سره جنت ته داخل شه ".

۶. حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله ﷺ سره کوم صحابه کرام ناست وو نو هغوی ته يې وفرمايل:

أُكْفُلُوا لِي بِسِتٍّ أَكْفُلْ لَكُمْ بِالْجَنَّةِ.

تاسو ماته د شپږو (۶) شيانو ضمانت راکړئ (چې د دې حفاظت به کوئ) نو زه به تاسو ته د جنت ضمانت درکړم.

حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې ما ورنه پوښتنه وکړه هغه شپږ شيان کوم دي؟ نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل:

اَلصَّلٰوةُ وَالزَّكَاةُ وَالْأَمَانَةُ وَالْفَرْجُ وَالْبَطْنُ وَاللِّسَانُ. (۱)

لمونځ اداکول، زکوة ورکول، د امانت حفاظت، د شرمګاه حفاظت، د خيټې حفاظت (د حرام خوراک نه)، او د ژبې حفاظت (د دروغو، غيبت، چُغل خورۍ او بُهتان وغيره نه).

۷. په يو بل حديث کې راځي، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ أَقَامَ الصَّلٰوةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَحَجَّ الْبَيْتَ وَصَامَ رَمَضَانَ وَقَرَى الضَّيْفَ دَخَلَ الْجَنَّةَ. (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ (مِنْ أُمَّتِهِ): أُكْفُلُوا لِي بِسِتٍّ أَكْفُلْ لَكُمْ بِالْجَنَّةِ. قُلْتُ مَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: اَلصَّلٰوةُ وَالزَّكَاةُ وَالْأَمَانَةُ وَالْفَرْجُ وَالْبَطْنُ وَاللِّسَانُ. رواه الهيثمي في المجمع ۱/ ۲۹۳، ۱۰/ ۳۰۱، والمنذري في الترغيب ۴/ ۳، وابن كثير في التفسير ۶/ ۴۲، والسيوطي في الدر المنثور ۱/ ۲۴۶، ۲۹۵، ۱/ ۴۱، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۲۷ ابواب الصدقات ثواب اداء الزكاة.

(۲) رواه المنذري في الترغيب ۱/ ۵۲۶، ۳/ ۳۷۲، والسيوطي في الدر المنثور ۱/ ۲۹۵، والهندي في الكنز ۱۴۴۹، ۴۳۴۷۵، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۲۸ ثواب اداء الزكاة. وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: خَمْسٌ مَنْ جَاءَ بِهِنَّ مَعَ إِيْمَانٍ دَخَلَ الْجَنَّةَ مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ عَلَى وُضُوْئِهِنَّ وَرُكُوْعِهِنَّ وَسُجُوْدِهِنَّ وَمَوَاقِيْتِهِنَّ، وَصَامَ رَمَضَانَ وَحَجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا وَأَعْطَى الزَّكَاةَ طَيِّبَةً بِهَا نَفْسُهُ... رواه ابوداؤد ۴۲۹، والهيثمي في المجمع ۱/ ۴۷، والسيوطي في الدر ۱/ ۲۹۶، والمنذري في الترغيب ۱/ ۲۴۱، ورواه الطبراني باسناد جيد.

څوک چې د لمونځ پابندي کوي ، زکوة ورکوي ، د بيت الله حج کوي ، د رمضان روژې نيسي ، او د ميلمه ميلمستيا کوي نو دا کس به جنت ته داخل شي .

۲ . د زکوة په وجه د انسان نفس او مال پاکيږي

زکوة ورکول لکه څرنګې چې يو فرضي عبادت دی همدغه شان په دې کې يوه فايده دا هم ده چې ددې په وجه د انسان نفس د ګناهونو او د مال د محبت نه پاکيږي ، او ورسره ورسره د مال پاکوالې پرې هم راځي .

۱ . الله ﷻ پيغمبر عليه الصلوة والسلام ته فرمايي :

﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا ... ﴾ : (۱)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته د دوی د مالونو نه صدقه (او زکوة) واخله چې ته د دې صدقې په ذريعه دوی (د ګناهونونه) پاک او صفا کړې .

فائده : ددې آيت نه يو څو خبرې معلومې شوی :

اوله خبره دا معلومه شوه کومه چې تفسير قرطبي ، مظهري او احکام القرآن واله نقل کړې او په دې دټول امت اتفاق هم دی چې په دې آيت کې د شانِ نزول په اعتبار سره اګر چې د يوې خاصې ډلې نه د زکوة وصولولو حکم شوی خو دا د مفهوم په اعتبار سره عام دی .

يعنې خطاب اګر چې خاص رسول الله ﷺ ته دی خو حکم يې د هغوی د زمانې پورې خاص نه دی ، بلکه هر هغه څوک چې د نبي عليه السلام قائم مقام وي هغه ددې حکم مخاطب او مأمور دی ، هغه به د مسلمانانو نه زکوة وصولوي او په خپل خپل ځای کې به يې لږوي .

دويمه خبره د آيت نه دا معلومه شوه چې د ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً ﴾ نه پس د ﴿ تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا ﴾ سره ديته اشاره ده چې زکوة او صدقات څه د حکومت ټيکس نه دی چې په

---

(۱) التوبة آيت ۱۰۳ .

دې سره ګڼي دوی صرف خپل حکومت چلوي ، بلکه زکوة يو مالي حق او عبادت دی چې په دې سره انسان د ګناهونو نه صفا کيږي ، او د زړه نه يې د مال محبت او لالچ اوځي . (۱)

۲. حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ ته دبني تميم قبيلې يو کس راغی ، او وې ويل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ ذُوْ مَالٍ كَثِيْرٍ وَذُوْ أَهْلٍ وَمَالٍ فَأَخْبِرْنِيْ كَيْفَ أَصْنَعُ ؟ (وَكَيْفَ) أُنْفِقُ ؟

اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ ! بيشکه زه د ډير مال او اهل وعيال خاوند يم نو تاسو ماته خبر راکړئ چې زه څه وکړم ؟ او څه طريقې سره خرچ وکړم ؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

تُخْرِجُ الزَّكٰوةَ مِنْ مَالِكَ فَإِنَّهَا طُهْرَةٌ تُطَهِّرُكَ وَتَصِلُ أَقْرِبَاءَكَ وَتَعْرِفُ حَقَّ الْمِسْكِيْنِ وَالْجَارِ وَالسَّائِلِ (۲)

ته د خپل مال نه زکوة اوباسه ، ځکه چې زکوة پاکوونکې شی دی ، تا به (د ګناهونو نه) پاک کړي ، د خپلو رشته دارو سره صله رحمي کوه ، د مسکين ، ګاونډي او د (ضرورتمند) سوالګري حق اوپيژنه .

۳. په يوه موقع رسول الله ﷺ حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل :

إِنَّ اللهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكٰوةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ مَا بَقِيَ مِنْ أَمْوَالِكُمْ . (۳)

---

(۱) معارف القرآن لمولانا مفتي شفيع رحمه الله مع اختصار ، التوبة آيت ۱۰۳ .

(۲) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : أَتَى رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ ذُوْ مَالٍ كَثِيْرٍ وَذُوْ أَهْلٍ وَمَالٍ فَأَخْبِرْنِيْ كَيْفَ أَصْنَعُ ؟ (وَكَيْفَ أُنْفِقُ ؟) فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : تُخْرِجُ الزَّكَاةَ مِنْ مَالِكَ فَإِنَّهَا طُهْرَةٌ تُطَهِّرُكَ وَتَصِلُ أَقْرِبَاءَكَ وَتَعْرِفُ حَقَّ الْمِسْكِيْنِ وَالْجَارِ وَالسَّائِلِ . رواه احمد ۳ / ۱۳٦ ، والمنذري في الترغيب ۱ /٥۱٦ ، والبيهقي في المجمع ۳ / ٦۳ .

(۳) رواه ابوداؤد (۱٦٦۴) واللفظ له ، وذكره ابن كثير في التفسير (۲ / ۳٥۲) وعزاه لابن ابي حاتم والحاكم وقال صحيح على شرطهما ، و وافقه الذهبي ، وحسّن اسناده محقق جامع الاصول (۲ /۱٦۳) . نضرة النعيم ج٦ الزكاة حديث ۲ ، معارف الحديث حصه چهارم كتاب الزكاة ص ۳۰۸ .

الله تعالى زكوة صرف ددې د پاره فرض كړى چې ددې په اداء كولو سره ستاسو باقي پاتې مال پاك كړي.

۳. دزكوة په وجه د مال حفاظت او د مرضونو نه شفاء حاصليږي

د زكوة يوه فايده دا هم ده چې ددې د اداء كولو په وجه د مَابَقِيَ مال د هر قسم آفت نه حفاظت كيږي، او د بيماريانو نه شِفاء حاصليږي.

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

حَصِّنُوْا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكٰوةِ، وَدَاوُوْا (أَمْرَاضَكُمْ) بِالصَّدَقَةِ، وَاسْتَقْبِلُوْا أَمْوَاجَ الْبَلَاءِ بِالدُّعَاءِ وَالتَّضَرُّعِ. (۱)

تاسو خپل مالونه د زكوة په ذريعه محفوظ كړئ، او د خپلو بيمارو علاج په صدقې سره وكړئ، او د مصيبتونو د چپو استقبال په دُعاگانو او د الله ﷻ د وړاندې په عاجزۍ كولو سره وكړئ (يعنى د غټو مصيبتونو ختمولو دپاره د دُعا او عاجزۍ په ذريعه مدد حاصل كړئ).

د يو نصراني د اسلام راوړ واقعه

سيد علي زاده په خپل كتاب ''شرح شِرعة الاسلام'' كې په ''فصل في سنن الزكاة والصدقة'' د لاندې د همدې حديث نه روستو يوه واقعه رانقل كړې چې نبي كريم ﷺ دا حديث صحابه كرامو ته بيانولو نو يو نصراني دلته تيريده، هغه چې دا خبره د پيغمبر عليه السلام نه واوريده (چې: حَصِّنُوْا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكَاةِ . په زكوة وركولو سره د خپلو مالونو حفاظت وكړئ). كله چې دې كور ته لاړ نو د خپل مال نه يې زكوة وويست، او د ځان سره يې وويل: كه چيرته دا كس (نبي عليه السلام) رښتينې وي نو زما مال به هم محفوظ وي، بيا به زه ايمان راوړم، او كه چيرته دې دروغجن وي نو په توره به يې سَر پريكوم.

(۱) رواه ابوداؤد في مراسيله، وقد روي عن جماعة من الصحابة متصلا، والمرسل اشبه، و رواه البيهقي ۳۸۲/۳، والهيثمي في المجمع ۶۳/۳، والطبراني في المعجم ۱۵۸/۱۰، والمنذري في الترغيب ۵۲۰/۱.

ددې نصراني د تجارت يو شريکوال وُ ، هغه په دې وخت کې مصر ته د يوې قافلې سره د تجارت په غرض تللې وُ ، د هغه قافلې نه يوه ورځ خط راغی چې په هغې کې ليکلي وو :

قَطَعَ اللُّصُوْصُ عَلَيْنَا الطَّرِيْقَ ، وَسَلَبُوا الْأَمْوَالَ وَالْإِبِلَ وَكُلَّ شَيْءٍ مَعَنَا .

غلو مونږ په لاره کې اوشوکولو ، مالونه ، اُوښان او څه چې د مونږ سره وو هغه ټول يې رانه واخيست .

دې نصراني چې دا خبره واوريده نو وې ويل : ددې کس (نبي عليه السلام) خبره خو دروغ شوه " چې په زکوة سره د مال حفاظت راځي " . نو ټوره يې راواخيسته ، او د نبي ﷺ د قتل پسې راووت ، په لاره کې ورته د خپل تجارت شريکوال د طرفه ورته خط راورسيده چې په هغې کې ليکلي وو :

ته غم مه کوه ، زه اول د قافلې مخې ته روان ووم ، خو زما د اُوښ خپه زخمي شوه نو زه د قافلې نه په فلانکي ځای کې پاتې شوم ، غلو دا قافله اُولوټله او زه سره د ټول مال نه په محفوظ ځای کې يم .

کله چې ده دا خط اُولوست نو وې ويل : دا سړی (نبي کريم ﷺ) په خپلو خبرو کې رېښتيني دی ، نو دا نصراني نبي عليه السلام ته راغی ، او ورته وې ويل :

يَا مُحَمَّدُ ! عَلَيْکَ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَعْرِضْ عَلَيَّ الْإِسْلَامَ .

اې محمده ! په تاسو دې درود و سلام وي ماته اسلام پيش کړئ (زه مسلمانيږم)

نبي ﷺ ورته اسلام پيش کړو ، ده اسلام راوړو ، او په دې خپل اسلام کې ډير مضبوط وُ (۱)

---

(۱) کذا في الروضة شرح شرعة الاسلام فصل في سنن الزکاة والصدقة ص ۱۷۴ . همدغه شان يو دبله واقعه هم علماؤ رانقل کړی : وحکي : أنّ بعضَ التجّار کان يخرج زکاةَ مالِه تامًّا وافِيًا ويضعها في موضعها . وکانَ قد بَعَثَ مع غلامٍ له بضاعة نفِيْسة إلى موضع فقطعت تلک القافلة التي کانت بضاعته فيها . فوقع الخبر بأنّ القافلةَ قد قطعتْ . فَاغْتَمَّ التّجّار کلّهم . وکان هو يقولَ : مَالِيْ سَالِمٌ بِحَمْدِ اللهِ تَعَالى . فقيل له : ما يدريک ؟ قال : أنا أتحققُ ذلک . فلمّا قدمتِ القافلةُ إذا غلامه قد أتى ببضاعته . فقال له : کيف سلمت بضاعتنا ؟ فقال له : إنّ البعير کان قد تفلت فذهبت خلفه فأخذت القافلة وسلمت بضاعتنا . فسئل التاجر عن ذلک قال : أنا صدقتُ رسول الله ﷺ واعتمدتُ على قوله : " حَصِّنُوْا أَمْوَالَکُمْ بِالزَّکَاةِ " وقد أديتُ زکاةَ هذا المالِ مُنْذ ملکتُه فعلمتُ أنّه لَايضيعُ . نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين کتاب الصدقة ص ۲۹۹ .

د زکوة ورکولو په وجه د مال د حفاظت واقعه

همدغه شان يوه بله واقعه هم علماؤ ذکر کړې چې په هندوستان کې يو نيک سړی ؤ ، دُکاندار ؤ ، هغه به د خپل مال نه زکوة په پابندۍ سره ويستو ، يوه ورځ دې جُمات ته د لمانځه د پاره تللې ؤ چې ناڅاپه نوکر ورپسې راغی ، او ورته وې ويل :

په بازار اُور لږېدلې دی ، د دُکان چابيانې راکړه چې سامان ورنه را اُوباسم .

دې نيک سړي ورته وويل : ما د خپل دُکان نه فرضي زکوة ويستې دی (دې ته هيڅ نقصان نه رسي) ، بيا دې سړي بنه په اطمينان سره لمونځ وکړو ، کله چې د لمانځه نه فارغه شو ، او بازار ته راغی نو وې کته چې د نورو خلقو دُکانونه سوزيدلي دي خو دده په دُکان کې سامان محفوظ ؤ ، نه ؤ سوزيدلی . وجه داوه چې دې سړي به په پابندۍ سره د خپل دُکان نه زکوة ورکولو . (۱)

۲. حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې يو کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ إِنْ أَدّٰى الرَّجُلُ زَكٰوةَ مَالِهٖ ؟

اې د الله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم ! که چېرته يو کس د خپل مال زکوة اداء کړي نو تاسو د هغه متعلق څه فرمايي ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

مَنْ أَدّٰى زَكَاةَ مَالِهٖ فَقَدْ ذَهَبَ عَنْهُ شَرُّهُ . (۲)

څوک چې د خپل مال زکوة اداء کړي نو ددې مال شر دده نه ځي .

۳. په يو بل روايت کې داسې الفاظ دي :

إِذَا أَدَّيْتَ زَكَاةَ مَالِكَ فَقَدْ أَذْهَبْتَ عَنْكَ شَرَّهُ . (۳)

کله چې تا د خپل مال زکوة اداء کړو نو تا ددې مال شر زائل کړو .

---

(۱) سفينة الواعظين .

(۲) رواه الطبراني وابن خزيمة ، و رواه المنذري في الترغيب ۱ / ۵۱۹ ، والهيثمي في المجمع ۳ /۶۳ ، والهندي في الکنز ۱۵۷۷۸ .

(۳) رواه الحاکم في المستدرک ۱ / ۳۹۰ وقال صحيح على شرط مسلم ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ثواب الزکاة ص ۱۲۷ .

يعنی د مال ډير شرونه وي خو چې کله څوک د دې زکوة ورکړي نو دا انسان به د دې مال د اُخروي او دُنيوي شرونو نه محفوظ وي، په آخرت کې به دا مال د ده د عذاب سبب نه وي، او په دُنيا کې به دا مال د ضائع کيدو او ډيرو خطرونه محفوظ وي.

۴. دزکوة په وجه د انسان په مال کې برکت او زيادت راځي

کله چې يو انسان د خپل مال نه زکوة اوباسي نو په دې سره دده په مال کې برکت او زيادت راځي.

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ﴾. (۱)

ترجمه: او تاسو چې کوم زکوة (يا صدقه وغيره) ورکوئ او په دې سره د الله تعالی رضا غواړئ، نو همدا خلق (خپل مالونه) د الله تعالی سره په څو څو چنده زياتوي.

۲. بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ...﴾. (۲)

ترجمه: الله ﷻ سُود بربادوي (ختموي)، او صدقې (او زکوة) زياتوي.

۳. لکه په حديث کې هم ذکر دي چې په زکوة او نورو د خير په کارونو کې خرچ کوونکي کس ته فرښتې دُعا کوي، د بخاري شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ أَحَدُهُمَا: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُوْلُ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. (۳)

---

(۱) الروم آيت ۳۹.

(۲) البقرة آيت ۲۷۶.

(۳) رواه البخاري ج ۲ ص ۱۱۵ حديث ۱۴۴۲ باب قول الله تعالى فاما من اعطى واتقى...، ومسلم ج ۲ ص ۷۰۰ حديث ۱۰۱۰ باب فى المنفق والممسک. وفي رواية: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: مَا طَلَعَتْ شَمْسٌ قَطُّ إِلَّا (بعث) بِجَنْبَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ: اَللّٰهُمَّ مَنْ أَنْفَقَ فَأَعْقِبْهُ خَلَفًا. وَمَنْ أَمْسَكَ فَأَعْقِبْهُ تَلَفًا. رواه احمد وابن حبان والحاكم، وقال صحيح الاسناد، قال في مجمع الزوائد (۱۰ / ۲۵۵)، رواه احمد والطبراني في الكبير والاوسط، ورواه المنذري في الترغيب ۴/ ۱۱۸.

په هره ورځ د سهر په وخت کې دوه (۲) فرښتې راکوزيږي ، او په هغې کې يوه فرښته (د سخي د پاره) دا دُعا کوي : يا الله ! څوک چې (د خير په کارونو کې) خرچ کوي هغه ته ددې بَدله ورکړه (يعنی په دُنيا کې يې مال زيات کړه ، او آخرت کې ورته ددې ثواب ورکړه (۱)) ، او بله فرښته دا وايي : ای الله ! څوک چې بُخل کوي د هغه مال هلاک کړه .

۴ . په يو روايت کې دا حديث داسې ذکر دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

إِنَّ مَلَكًا بِبَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَقُوْلُ : مَنْ يُّقْرِضُ الْيَوْمَ يُجْزَ غَدًا ، وَ مَلَكٌ بِبَابٍ آخَرَ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ، وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . (۲)

بيشکه د جنت په دروازو کې په يوه دروازه باندې يوه فرښته دا اعلان کوي : څوک چې نن قرض ورکړي (يعنی د الله ﷻ په لاره کې مال خرچ کړي) نو سبا (د قيامت په ورځ) به ددې بدله ورکړې شي ، او يوه فرښته په بله دروازه باندې دا دُعا کوي : يا الله ! خرچ کوونکي ته ددې ښه بدله ورکړې ، او منع کوونکي (بخيل) ته بربادي ورکړې (يعنی د هغه مال بې برکته او ضائع کړې) .

فايده : دا په معاشره کې ليدل شوي هم دي چې کوم کس زکوة صحيح او پوره ورکوي نو الله ﷻ دده مال زياتوي ، برکت په کې اچوي ، او د بلې لارې نه ورته واپس نور مال راشي . اګر چې په ظاهره په زکوة ورکولو سره دده مال کم شي ، خو ليکن په دې باقي مال کې الله ﷻ ده له داسې برکت واچوي چې بيا د لږ مال نه ډيره فايده حاصلوي .

---

(۱) خَلَفًا : ای عِوَضًا عَظِيْمًا ، وَهُوَ الْعِوَضُ الصَّالِحُ ، اَوْ عِوَضًا فِي الدُّنْيَا وَبَدَلًا فِي الْعُقْبٰى . لقوله تعالى : ﴿وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِيْنَ . سورة السبا آيت ۳۹﴾ . قال الحافظ : اَمَّا الْخَلَفُ فَإِبْهَامُهُ اَوْلىٰ ، لِيَتَنَاوَلَ الْمَالَ وَالثَّوَابَ وَغَيْرَهَا . فتح الملهم ج۵ ص ۷۵ .

(۲) رواه البخاري ومسلم وابن حبان ، الترغيب والترهيب ج۱ (۱/ ۶۳۵) . وفي رواية : إِنَّ مَلَكًا بِبَابٍ مِنْ أَبْوَابِ السَّمَاءِ يَقُوْلُ : مَنْ يُقْرِضُ الْيَوْمَ يُجْزَ غَدًا ، وَمَلَكٌ بِبَابٍ آخَرَ يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ، وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . رواه الطبراني وابن حبان ، ورواه احمد ۲ / ۳۰۵ ، والسيوطي في الدر ۱ /۳۱۳ ، والهندي في الكنز ۱۹۱۱۹ .

۵. په زکوة ورکولو سره انسان د الله ﷻ د رحمت مستحق کرځي

د الله ﷻ رحمت عام دی، هر شي ته شامل دی، خو بيا خاصکر چې څوک د الله ﷻ نه ويريږي، زکوة ورکوي، او د الله ﷻ په آيتونو ايمان لري نو بيا داسې خلق په کامل ډول د الله ﷻ د رحمت مستحق کرځي.

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: زما رحمت خور (شامل) دی په هر شي باندې، پس ډير زر به زه دا (رحمت په کامل ډول) د هغه خلقو د پاره وليکم څوک چې د الله ﷻ نه ويريږي، زکوة ورکوي، او څوک چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړي.

بل ځای الله ﷻ زکوة ورکونکو او نورو نيکو اعمالو کوونکو ته رښتوني نيکان او متّقيان ويلي. (۲)

۶. دزکوة ورکولو په وجه د بُخل د صفت نه محفوظ کيدل

د زکوة ورکولو يوه فايده دا هم ده چې ددې په وجه انسان د بُخل د صفت نه پاکيږي، او څوک چې ددې بخل نه بچ شو هغه کامياب دی.

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾. (۳)

ترجمه: او څوک چې د خپل نفس د حرص (او شومتيا) نه بچ وساتلې شو نو همدغه خلق کامياب دي.

---

(۱) الاعراف آيت ۱۵٦.

(۲) .... وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ .... اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ. البقرة آيت ۱۷۷.

(۳) الحشر آيت ۹.

۲. بل دا چې بُخل انسان لره هلاکوونکې صفت دی، رسول الله ﷺ فرمايي:
ثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ: شُحٌّ مُطَاعٌ، وَهَوًى مُتَّبَعٌ، وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ. (۱)

درې (۳) شيان انسان لره هلاکوونکي دي: اول هغه حرص او بُخل چې د هغې تابعداري کولې شي، دويم هغه نفسي خواهشات چې د هغې تابعداري کولې شي (۲)، او دريم هغه کس چې خپله رايه د ټولو نه بهتره ګڼي.

او د انسان نه دا د بُخل صفت هلته لرې کيږي چې کله دې د زکوة او صدقاتو په ورکولو باندې ځان عادت کړي، او د مال سره محبت کم کړي، نو په دې سره به انسان د بُخل د صفت نه پاک شي.

۷. زکوة ورکول د کامل مومنانو صفت دی

که په قرآن مجيد او احاديثو باندې نظر وکړې شي نو لمونځ او زکوة د کامِل مومنانو صفت خودلې شوی.

۱. الله جلّ شانُه فرمايي:

﴿ وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيعُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ أُولٰئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللهُ إِنَّ اللهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾. (۳)

ترجمه: او مومنان سړي او مومنان ښځې د يو بل ملګري دي، چې د نيک کار حکم کوي او د بدو کارونو نه (خلق) منع کوي، او د الله ﷻ او دده د رسول حکم مني، همدا خلق دي چې په دوی به الله ﷻ ډير زر رحم وکړي، بيشکه الله ﷻ غالِب او د حکمت خاوند دی.

---

(۱) احياء العلوم ج۱ ص ۲۹۹ کتاب الزکوة الفصل الثاني في الاداء وشروطه الباطنه والظاهرة.

(۲) فائده: نقصاني هغه بخل او خواهشاتِ نفساني دي چې دد ې په تقاضا عمل کولې شي، او که يو کس طبعًا بخيل وي، يا طبعًا خواهشات لري خو ددې په تقاضا عمل نه کوي، بلکه زکوة او صدقات ورکوي او د خواهشاتِ نفساني موافق عمل کولو نه ځان ساتي نو بيا دا خطرناک نه دی.

(۳) سورة التوبة آيت ۷۱.

۲. همدارنګې د سورة نمل په ابتدائي آيتونو کې الله ﷻ فرمايي:

﴿طٰسٓ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۔ هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۔ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ﴾. (۱)

ترجمه: طٰسٓ، دا آيتونه دي د قرآن کريم او واضحه کتاب، دا هدايت او زيرې دی د مومنانو د پاره، (مومنان هغه خلق دي) کوم چې د لمونځ پابندي کوي، او زکوة ورکوي، او دوی په آخرت باندې پوخ يقين لري.

۸. زکوة ورکوونکي په هدايت او کامياب دي

الله جلّ جلاله فرمايي:

﴿الٓمّٓ ۔ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ۔ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۔ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۔ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾. (۲)

ترجمه: الٓمّٓ. دا آيتونه دي د کتاب حکمت واله، چې د نيکانو د پاره هدايت او رحمت دی، نيکان هغه خلق دي څوک چې لمونځ قائموي، زکوة ورکوي او په آخرت باندې پوره يقين لري، همدا خلق په هدايت باندې دي د خپل رب د طرفه، او همدا خلق خلاصې (نجات) موندونکي دي.

د زکوة ورکوونکي مرتبه

حضرت عمرو بن مرّة الجهني رضي الله عنه وايي چې د قضاعة قبيلې يو کس رسول الله ﷺ ته راغی، او ورته وې ويل:

إِنِّيْ شَهِدْتُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ ، وَصَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ ، وَصُمْتُ رَمَضَانَ ، وَقُمْتُهُ ، وَآتَيْتُ الزَّكٰوةَ.

---

(۱) النمل آيت ۱ تا ۳.

(۲) لقمان آيت ۱ تا ۵.

زه دا ګواهي ورکوم چې د الله ﷻ نه بغير بل څوک د عبادت لائق نشته، او دا چې تاسو دالله ﷻ رسول يې، پنځه وخته لمونځ کوم، د رمضان روژې نيسم، ددې د شپې عبادت (تراويح) کوم، او زکوة ورکوم.

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

مَنْ مَاتَ عَلٰى هٰذَا كَانَ مِنَ الصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ. (١)

څوک چې په دې حالت کې وفات شي (چې دا مذکوره عبادات کوي) نو هغه به د صديقينو او شهيدانو نه وي.

د زکوة لرولو بهترين ځاى

د زکوة لرولو ځايونه خو په قرآن مجيد کې د سورة توبه په آيت ٦٠ کې په خپله ذکر دي، او مفتي شفيع رحمه الله هم د همدې آيت ﴿إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِيْنِ وَالْعَامِلِيْنَ عَلَيْهَا...﴾ د لاندې په تفصيل سره ذکر کړي.

خو چې د سړي په خپلوانو کې غريبانان وي نو دوی ته په زکوة ورکولو کې دوه (٢) اجرونه دي: يو د زکوة ورکولو اجر، او دويم د صله رحمي کولو اجر. دغه شان نورو فقيرانو او مسکينانو ته يې هم ورکولې شي.

اهلِ علمو ته زکوة ورکول

البته که په يو ځای کې ديني مدرسه وي، علماء او طلباء وي، د دين خدمت کوي او محتاج وي نو بيا دوی ته زکوة او صدقه ورکول هم ډير اجر لري.

ځکه دوی ته په زکوة ورکولو کې هم انسان ته يو خو د زکوة ورکولو اجر ملاوېږي، او دويم دده دا اِمداد د عِلم د خورَولو سبب او ذريعه هم وګرځيده، چې دا ثواب به جاري او هميشه وي.

(١) رواه البزار وابن خزيمة وابن حبان، و روالهيثمي في المجمع ١/ ٤٦، ٨/ ١٢٧، والهندي في الكنز ٣٤٢.

بل دا چې که عام فقير ته زکوة ورکړې شي ، او هغه په دې باندې د خوراک څه واخلي او وې خوري نو آثر يې زر ختميږي ، او چې په ديني کارونو کې يې اُولږي يعنی علماؤ او طلباؤ ته يې ورکړي ، نو چې تر قيامته پورې د عِلم دا سلسله جاري وي نو د دې کس به په کې حصه وي .

بيا خاصکر په دې دوَر کې چې خو غير مُسلمه دا کوشش کوي چې اِسلامي مدارس او علماء ختم کړي ، دا ديني سلسله بنده کړي ، او په معاشره کې بې ديني او کُفري نظام خور کړي ، نو د دې ټولو د مخ نيوي د پاره واحد جماعت همدا ديني علماء ، طلباء او مدارس دي چې دوی خلقو ته قرآني تعليمات ، د رسول الله ﷺ ښائسته تعليمات ، او دژوند تيرولو بهترين اصول ښايي ، او د کافرانو او غيرمُسلمو دَسيسې ورته په ګوته کوي .

لهذا اهلِ علمو ته په زکوة او صدقې ورکولو کې دوه اجرونه دي : يو د زکوة او صدقې اجر ، او دويم د دين په خوَرولو کې د مرستې کولو اجر .

په فتاوی هنديه کې ذکر دي :

اَلتَّصَدُّقُ عَلَى الْفَقِيْرِ الْعَالِمِ أَفْضَلُ مِنَ التَّصَدُّقِ عَلَى الْجَاهِلِ . (۱)

فقير عالِم ته صدقه ورکول د جاهل فقير ته د صدقې ورکولو نه ډير بهتر دي .

(يعنی که عالم فقير وي نو ده ته د صدقې ورکولو اجر ډير زيات دی په نسبت سره هغه فقير ته کوم چې جاهل وي) .

بل دا چې په مخ د زمکه د انبياء کرامو نه روستو بهترين مقام هغه د اهلِ علمو دی ، نو ځکه د دوی سره په احسان کولو کې اجر هم زيات دی .

(۱) الفتاوی الهندية ج۱ ص ۱۸۷ الباب السابع فی المصارف ، ومثله فی الطحطاوي حاشيه مراقی الفلاح ص ۳۹۴ باب المصرف ، ومثله فی البحر الرايق ج۲ ص ۲۵۰ قبيل باب صدقة الفطر ، الدر المختار على الشامي ج۳ ص ۳۰۴ باب المصرف ، مطلب في الحوايج الاصلية ، سكب الانهر على مجمع الانهر ج۱ ص ۳۲۳ قبيل باب صدقة الفطر ، فتاوی حقانيه ج ۴ ص ۵۴ .
قال ابن عابدين رحمه الله عن القهستاني : قوله افضل ای من الجاهل الفقير . الدرالمختار على هامش رد المحتار ج۲ ص ۶۹ كتاب الزكوة باب المصرف .

امام غزالي رحمه الله په احياءُ العلوم کې ليکلي چې عبدالله بن مبارک رحمه الله به کله څه احسان کولو نو خاص د اهلِ علمو سره به يې کولو، چا ورته وويل: که چيرته ته دا ورکړه عامه کړی او د اهلِ علمو نه علاوه يې نورو ته ورکړی نو هم ښه به وي. ده ورته وويل:

إِنِّي لَا أَعْرِفُ بَعْدَ مَقَامِ النُّبُوَّةِ أَفْضَلُ مِنْ مَقَامِ الْعُلَمَاءِ ... (۱)

زه د نبوت د درجې نه روستو د اهلِ علمو نه علاوه د بل چا دومره لوي مقام نه ګورم څومره چې د دوی دی.

ځکه که چيرته د علماؤ زړه د يو ضرورت په وجه په نورو کارونو کې مشغول وي، نو بيا دوی علم ته نه فارغيږي، لهذا د علماؤ ضرورت پوره کول، او دوی علم ته فارغه کول ډير افضل دي.

بل دا چې نبي عليه السلام فرمايي:

اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ ... (۲)

علماء د انبياؤ وارثان دي.

نو د انبياؤ د وارثانو سره امداد کول يقيني خبره ده چې ډير بهتر دي

اهلِ علمو سره د احسان په وجه د يهودي غونډه کورنۍ مسلمانيدل

څوک چې د اهلِ علمو سره احسان کوي، د قرآن کريم او دين خدمت کوي نو الله جَلَّ جَلَالُهُ دده په مال او اولاد کې برکت اچوي، تر دې چې غير مسلمو ته هم الله جَلَّ جَلَالُهُ د دين د خدمت او د اهلِ علمو سره د احسان په وجه دوی ته ايمان نصيب کړی.

---

(۱) وَكَانَ ابْنُ الْمُبَارَكِ يُخَصِّصُ بِمَعْرُوْفِهِ أَهلَ العلمِ. فقِيْلَ له: لَو عَممتَ. فَقَالَ: إِنِّي لَا أَعْرِفُ بَعْدَ مَقَامِ النُّبُوَّةِ أَفْضَلُ مِنْ مَقَامِ الْعُلَمَاءِ. فَإِذَا اشْتَغَلَ قَلْبُ أَحَدِهِمْ بِحَاجَتِهِ لَمْ يتفرَّغْ لِلعِلْمِ. ولم يقبلْ على التَّعلّم فَتَفرِيْغُهُمْ لِلعلم أفضلُ. احياء العلوم ج ۱ ص ۳۰۷ کتاب اسرار الزکاة.

(۲) اخرجه البخاري في العلم ۱۰، والترمذي في القرآن ۱۰ وفي العلم ۱۹، ۳۵، وابن ماجه في المقدمة ۱۷، واحمد ۲، ۲۵۲، ۳۲۵، ۴۰۷. ابوداود (۳۶۴۱)، (۳۶۴۲)، وابن ماجه (۲۲۳) و ابن حبان (۸۰) ورواه الترمذي (۲۶۸۳). مشکوة کتاب العلم.

د محمد بن جرير طبري رحمه الله واقعه

ددې په باره کې درته د يو مشهور و معروف عالم '' محمد بن جرير طبري رحمه الله '' واقعه بيانوم ، کومه چې په تفسير الطبري ، تاريخ الطبري او نورو ډيرو کتابونو کې ذکر ده ، دا واقعه به شيخ الحديث حضرت مولانا حسن جان المدني شهيد رحمه الله هم بيانوله :

محمد بن جرير طبري رحمه الله وايي : چې مونږ څه طالبانو په يو کلي کې سبق ويل ، خرچه مو خپله کوله ، څه وخت پس خرچه راسره خلاصه شوه ، نو خپل کلي ته روان شو ، په لاره کې يو يهودي دُکاندار راسره مخامخ شو ، هغه چې مونږ وليدو نو پوښتنه يې رانه وکړه: طالبانو چيرته ځئ ؟ مونږ ورته وويل : واپس خپل کلي ته ځو ، ځکه خرچه راسره خلاصه شوه .

هغه راته وويل : تاسو واپس شئ ، خپل سبقونه وايئ ، ستاسو ټوله خرچه په ما شوه .

مونږ ورته وويل : ته خو يهودي يې نو څنګه د تانه خرچه واخلو ، هغه راته وويل : که زه يهودي يم ، خو بيا هم اهلِ کتاب يم ، جنت ، دوزخ ، پيغمبران وغيره غټ اصول خو منم ، بل دا چې ستاسو زما د مذهب سره څه کار دی ، بلکه تاسو خپل سبقونه وايئ ، ټول ضروريات به مو زه پوره کوم .

محمد بن جرير وايي چې دې يهودي راته قسَم راکړو ، چې ستاسو دې په خپل کتاب قسَم وي ، چې واپس شئ ، نو ده جمات ته واپس راوستو .

مونږ په جُمات کې مشوره وکړه چې ددې يهودي نه به هر څه په قرض راوړو ، کله مو چې سبقونه خلاص شو حساب به ورسره وکړو چې څومره روپۍ يې جوړې شوی ورته رابه يې وړو .

کله چې زمونږ سبقونه خلاص شو نو دې يهودي ته راغلو ، مونږ ورته وويل : ستا څومره قرضه جمع شوی ؟ ده وويل : يوه روپۍ هم نشته ، بلکه تاسو ته چې ما څه درکول ، هغه ټوله صدقه وه .

ابن جرير طبري رحمه الله وايي چې مونږ خپلو کورونو ته واپس راغلو ، څه دولس (۱۲) کاله پس زه او زما د هغه طالبۍ ملګري حج له لاړو ، طواف مو کولو ، چې مخامخ مو دغه يهودي دُکاندار وليد ، ما ددې خپل ملګري نه پوښتنه وکړه : چې دا پورې هغه يهودي

دُکاندار نه دی ؟ هغه راته وویل : یقیني چې دی . ما وویل : د طواف نه روستو به ورسره ملاوْ شو .

کله مو چې طواف ختم کړو ، ده ته راغلو ، ورسره کیناستو ، پوښتنه مو ورنه وکړه : کاکاجي ! ته هغه فلانکې دُکاندار نه یې ؟ هغه راته وویل : هو ، یم . خوزه ستاسو د برکته مسلمان شوم .

ځکه چې کله تاسو ما رارخصت کړئ ، او یوه روپۍ مې درنه وانه خیسته ، نو په هماغه شپه مې خوب ولیده چې ټول کور روښانه دی ، هر طرف ته نورانیت دی ، او د مسلمانانو پیغمبر محمد رّسول الله ﷺ زما کورته راغی ، او راته وې ویل :

یا فلانکیه ! ستا د هدایت فیصله شوی ده .

دا یهودي وایي چې ما سهر دا خوب خپلې ښځې ته وویل ، هغې هم وویل : دا خوب خو بیگاه ما هم لیدلی .

پیغمبر په خوب کې لیدل ریښتیا وي ، ځکه شیطان د پیغمبر په شکل ځان نشي جوړولی . نو مونږ د کور ټول اوولس (۱۷) کسان مسلمانان شو ، او دا دې سږ کال حج ته راغلي یو .

بیا دې یهودي وویل : چې ما تاسو له کومه خرچه درکوله نو هغه مې په یوه عقیده درکوله ، او هغه دا چې د ټولو نه بهترینه صدقه هغه ده چې د دین په خدمت ولږي (د دین په طالبانو او علماوْ اُولږي) . خو د یهودیت څه طالبان نه وو ، نو ما د ځان سره سوچ وکړو چې قرآن کریم خو هم آسماني کتاب دی ، او تاسو ددې خدمت کوونکي وی ، نو ځکه مې تاسو له خرچه درکوله ، او د تاسو سره ددې امداد په وجه الله ﷻ زمونږ غونډ کور اوولس (۱۷) کسانو ته ایمان نصیبه کړو .

فایده : معلومه شوه چې د اهلِ علمو سره د اِحسان کولو اجر د نورو په نسبت ډیر زیات دی .

د اهلِ علمو سره د احسان په وجه خپل ځوي یا نمسې عالِم کیدل

بل دا چې په شریعت کې د اهلِ علمو سره د احسان کولو ډیر زیات فضایل او فوائد راغلي ، هم دُنیوي فایدې ، او هم اُخروي فایدې .

دُنيوي يوه فايده يې داده چې کوم کس د اهلِ علمو سره احسان کوي نو الله ﷻ به د دې کس ځوي يا نمسې عالِم کوي .

امام سديد الدين شيرازي رحمه الله فرمايي چې زمونږ مشائخو ويلي دي :

مَنْ اَرَادَ اَنْ يَكُوْنَ إِبْنُهُ عَالِمًا فَيَنْبَغِيْ اَنْ يُرَاعِيَ الْغُرَبَاءَ مِنَ الْفُقَهَاءِ وَيُكْرِمَهُمْ وَيُطْعِمَهُمْ وَيُعَظِّمَهُمْ وَيُعْطِيَهُمْ شَيْئًا . فَإِنْ لَمْ يَكُنْ إِبْنُهُ عَالِمًا كَانَ حَفِيْدُهُ عَالِمًا . (۱)

څوک چې دا اراده لري چې دده ځوي دې عالم شي نو ده له په کار دي چې د غريبانانو فقهاؤ او علماؤ خيال اوساتي ، د دوی عزت او تعظيم وکړي او دوی ته (د خوراک د پاره) څه ورکړي ، نو که په څه وجه دده ځوي عالِم نه شي نو دده نمسې به عالِم کيږي .

د دين طالبانو سره د امداد کولو اجر

علماء ليکي چې صدقه په څلور قسمه ده : يو قِسم هغه ده چې انسان ته يو په لس (۱۰) چنده اجر ورکولې شي ، دويم قِسم هغه ده چې انسان ته يو په اويا (۷۰) چنده اجر ورکولې شي ، دريم قِسم هغه ده چې انسان ته يو په اووه سوه (۷۰۰) چنده اجر ورکولې شي ، او څلورم قسم هغه ده چې انسان ته يو په اووه زره (۷۰۰۰) چنده اجر ورکولې شي .

يو په لس چنده اَجر په هغه صدقه کې دی چې يو عام فقير ته ورکړې شي ، يو په اويا چنده ثواب په هغه صدقه کې دی چې خپلوان (رِشته دار) فقير ته ورکړې شي ، يو په اووه سوه چنده اجر په هغه صدقه کې دی چې غريب ورور ته ورکړې شي ، او يو په اووه زره چنده اجر په هغه صدقه کې دی چې د دين طالب العلم ته ورکړې شي . (۲)

د زکوة او صدقې آداب

څوک چې د زکوة په ورکولو سره د الله تعالی رضا ، او د آخرت دثواب اِراده لري نو د هغه د پاره ضروري ده چې د څه شرائطو او آدابو لحاظ اوساتي ، نو په دې سره به دده زکوة او

---

(۱) تعليم المتعلم فصل في تعظيم العلم واهله ص ۳۲ .

(۲) درّة الناصحين ص ۱۲۰ في فضيلة السخاء .

صدقه دده دپاره د آخرت يوه ذخيره جوړه شي، او د الله تعالى د رضا او خوشحالى ذريعه به وګرځي.

۱. **اول ادب** دادى چې خپل زکوٰة او خيرات په احسان زباتلو او ضَرر ورکولو سره برباد نه کړي، يعنى چې اول ورته زکوة ورکړي او بيا ورباندې احسان زباتي، بار بار يې ورته رايادوي، او يا هغه ته تکليف رسوي. ځکه په دې سره دزکوة او صدقې اجر و ثواب ختميږي. الله تعالى فرمايي:

﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذٰى ...﴾ . (۱)

ترجمه: اې مومنانو! (تاسو ثواب د) خپلې صدقې په زباتلو (يادګيرنې) او تکليف رسولو باندې مه ضايع کوئ. (۲)

فايده: "منّ" دېته وايي چې د اِحسان کولو روستو ورباندې خپل اِحسان زباتي، بار بار يې وريادوي، يا د هغه نه خدمت اخلي، او يا ددې احسان په وجه په هغه تکبّر کوي.

او "اذى" دېته وايي چې د احسان نه روستو هغه ته تکليف رسوي: لکه سَتغې سپورې خبرې ورته کوي، پيغور ورکوي او رټي يې.

۲. **دويم ادب** دادى چې د کوم مال نه زکوة يا صدقه ورکوي نو دا به حلال او پاک وي،

---

(۱) البقرة آيت ۲٦۴.

(۲) اما المَنُّ ففيه قولان: أحدهما: أنّه المَنُّ على الفقير: و مثل أن يقول: قد أحسنتُ إليک ونَعشتُک، وهو قول الجمهور. والثاني: أنّه المَنّ على الله بالصدقة، روي عن ابن عباس. وفي الأذى قولان: أحدهما: أنه مواجهة الفقير بما يؤذيه، مثل أن يقول له: أنت أبدًا فقيرٌ، وقد بُليتُ بک، وأراحني اللهُ منک. والثاني: أنه يُخبر بإحسانه الى الفقير، مَن يكره الفقيرُ إطلاعَه على ذلک، وكلا القولين يؤذى الفقير، وليس من صفة المخلصين في الصدقة. تفسير زاد المسير ج۱ ص۲۳۸. / امام غزالي رحمه الله ليکي: واختلفوا في حقيقة المنّ والأذى. فقيل: المنّ أن يذكرها، والأذى أن يظهرها. وقال سفيان: مَنْ مَنَّ فَسَدَتْ صدقته، فقيل له: كيف المنّ؟ فقال: أن يذكره ويتحدث به. وقيل: المنّ أن يستخدمه بالعطاء، والأذى أن يعيره بالفقر. وقيل: المنّ أن يتكبر عليه لأجل عطائه، والأذى أن ينتهره أو يوبخه بالمسألة. احياء العلوم ج ۱ ص ۳۰۴ كتاب اسرار الزكاة.

الله تعالی فرمايي :

﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا أَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ إِلَّآ أَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ وَاعْلَمُوْٓا أَنَّ اللهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ﴾ . (۱)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو خرچ کړئ (د الله ﷻ په لاره کې) د هغه پاکیزه شیانو نه کوم چې تاسو ګټلي وي ، او کوم چې مونږ تاسو د پاره د زمکې نه راویستلي دي ، او تاسو رَدي (بیکاره) شي ته اراده مه کوئ چې د هغې نه یې خرچ کړی (یعنی بې کاره شی د الله ﷻ په لاره کې مه خرچ کوئ) حالانکه تاسو په خپله د هغې (رَدي شي) اخیستلو ته تیار نه یی (چې څوک یې د یو واجب حق په بدله کې یا تحفه کې درکوي) ، مګر که تاسو پرې سترګې پټې کړئ (او لحاظ یې وکړئ ، او وایې خلی نو دا بیله خبره ده) ، او پوهه شئ چې الله بې نیازه (دی ، هیڅ ته محتاج نه دی) او د تعریف لایق دی (نو د هغه په نامه داسې شی ورکوئ چې هغه هم ښه او د تعریف لائق وي) .

حدیث کې راځي ، رسول الله ﷺ فرمايي :

لَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ . (۲)

الله تعالی صرف حلال مال قبلوي .

۳ . **دریم ادب** دا دی چې نیت به په کې خالصه د الله تعالی د رضا وي ، ځکه په ریا او نمائش سره د مال لګولو اجر و ثواب نه وي .

۴ . **څلورم ادب** دا دی چې حقدار ته ورکړې شي ، ځکه که زکوة غیر حقدار ته ورکړې شي نو په دې سره زکوة نه اداء کیږي .

---

(۱) البقرة آیت ۲۶۷.

(۲) رواه البخاري ومسلم ، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حدیث ۱ .

۵. **پنځم ادب** دا دی چې که چیرته د زکوة په ښکاره ورکولو کې څه دیني مصلحت نه وي نو بیا په پټه زکوة ورکول بهتر دي، ځکه په ښکاره ورکولو کې بعضې وخت د خپل شهرت او حُبّ جاه خطره وي، چې دا ځان له مستقل نقصاني صفت دی.

البته که په ښکاره ورکولو کې څه مصلحت وُ لکه: نورو خلقو ته د زکوة ورکولو ترغیب مقصود وي، یا چې نور خلق دده اِتباع وکړي، یا بل څه دیني مصلحت په کې وُ نو بیا زکوة په ښکاره ورکول بهتر دي.

(نوټ: صدقه په پټه ورکول ډیر اجر لري. چې دده تفصیلي بحث را روان دی).

۶. **شپږم ادب** دا دی چې په زکاة کې بهترین مال ورکول د ثواب ذریعه ده، ځکه چې الله تعالی طیِّب او د هر قِسم عیب نه پاک دی، لهذا طیّب مال قبلوي.

بل دا چې که یو سړی سوچ وکړي نو دا کوم مال چې دده سره دی دا خو هم الله ﷻ ده ته ورکړی، او س چې دې د الله ﷻ د رضا د پاره بې کاره او کمزورې مال ورکوي نو دا خو ډیره بې اَدبي او د غیرت نه خلاف خبره ده.

لهذا په زکوة کې بهترین او پاکیزه مال د ثواب ذریعه ده.

بل دا چې دا زکوة او خیرات خو خلق د خپل ځان د پاره د آخرت ذخیره جمع کوي چې صبا یې د مرګ نه روستو په قبر او قیامت کې په کار راشي، او دا کوم مال چې دده نه دلته پاتې شي دا خو دده د وارِثانو وي، نو اوس دا د هوښیارتیا خبره نه ده چې سړې ځان د پاره بې کاره شی مخکې ولیږي، او وارِثانو ته بهترین شی پریږدي، بلکه د ځان د پاره بهترین او اعلی شی د الله ﷻ سره جمع کول په کار دي.

۷. **اووم ادب** دا دی چې سړې دا په داسې ځایونو کې خرچ کړي چیرته چې ده ته ډیر ثواب ملاویږي لکه:

۱. متّقي او پرهیزګار فقیر ته یې ورکړي، کوم چې د آخرت په کارونو کې مشغول وي، نبي علیه السلام فرمایي:

وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ . (۱)

ستا خوراک دې د متقيانو نه علاوه بل څوک او نه خوري .

ځکه چې د متّقي سره په امداد کولو د هغه سره په تقوی او عبادت کې امداد کيږي ، او د هغه په عبادت کې ستا هم حصه جوړيږي .

۲ . يا اهلِ علمو ته يې ورکړي ، ځکه عِلم خو په ټولو عباداتو کې اشرف او اعلی عبادت دی ، نو غريبو طالبانو او علماؤ ته زکوة ورکول د عِلم په خوَرولو کې د هغوی سره مدد کول دي .

۳ . يا يې داسې کس ته ورکړي چې غريب وي خو د حَياء او مُروّت د وجې خلقو ته د خپلې غريبۍ شکايت نه کوي ، او نه خلقو ته خپل حاجتونه ښکاره کوي ، دې اګر چې په ظاهره مالداره معلوميږي خو په حقيقت کې غريب وي . دداسې کس په تعريف کې الله ﷻ فرمايي:

﴿لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ أُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمَاهُمْ لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ إِلْحَافًا . وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللهَ بِهِ عَلِيْمٌ﴾ . (۲)

ترجمه : دا صدقات اصل حق د هغه فقيرانو دی کوم چې د الله ﷻ په لاره (يعنی ديني خدمت) کې بند شوي وي ، (د کاروبار کولو د پاره) چيرته په زمکه کې د سفر کولو طاقت نه لري ، د دوی د حال نه ناخبره کس د دوی د سوال نه کولو په وجه په دوی باندې د مالدارو ګمان کوي (حالانکه دوی مالدار نه وي خو د حياء د وجې د خلقو نه سوال نه کوي) ، البته ته به دا خلق (او د دوی اصلي حالت) د مخونو او نښو نه پيژني (چې په مخ او بدن به يې د کمزورتيا آثار ښکاره وي ، او) دوی د خلقو نه په نښتلو سره سوال نه کوي (يعنی د خلکو نه داسې سوال نه کوي چې د هغوی پورې اُونخلي ، او ځان ورپورې سَم مچې کړي) ، او تاسو چې څه مال خرچ کوی (په دغه حياناکو فقيرانو باندې) نو بيشکه الله تعالی په هغې باندې

(۱) اخرجه ابوداؤد ج ۳ ص ٦٦۴ حديث ۲۳۳۷ ، والترمذي .

(۲) البقرة آيت ۲۷۳ .

پوهه دی (په نورو خلقو باندې د خرچ كولو په نسبت په دغه حياناكو فقيرانو باندې خرچ كولو سره به تاسو ته ډير آجر دركړي) . (۱)

۴. يا غريب خپلوان ته يې وركړي (خو بغير د اصولو او فروعو، او ښځې او خاوند نه، ځكه دوی ته زكوة وركول صحيح نه دي) . رِشته دار ته په زكوة او خيرات وركولو كې دوه اجره دي : يو د صله رحمی، او دويم د زكوة وركولو .

۵. يا يې داسې غريب بال بچه داره ته وركړي چې د كور افراد يې ډير وي خو د آمدنی پوره انتظام يې نه وي.

يا يو غريب په څه سخته بيماری يا بل مشكل كې ګير وي چې اِقتصادي حالات يې خراب وي. نو دې ټولو ته په زكوة وركولو كې اجر زيات دی.

۸. **د زكوة اتم ادب** دادی چې دا خپل زكوة او خيرات به په خپل نظر كې كمزوری ګڼي، ځكه كه ده ته دا زكوة وركول ډير شی معلوم شي نو په دې سره انسان په عُجب كې مبتلاء كيږي، چې دا ځانله يوه خطرناكه بيماريْ ده، او الله ﷻ ته عُجب ډير نا خوښه دی.

عُجب او تكبر الله ﷻ نه خوښوي : په احاديثو كې دا واقعه په تفصيل سره ذكر ده چې د حُنين په ورځ كله د مسلمانانو تعداد د كافرانو په مقابله كې زيات وُ، نو د مسلمانانو زړونو ته دا خبره راغله چې :

نن خو مونږ ډير زيات يو، مغلوبه كيږو به نه.

نو دوی ته په دې ډير والي عُجب پيدا شو، الله ﷻ ته دا خوښه نه شوه، نو په اول كې مسلمانانو ته شكست ملاوْ شو، او ډير والي يې په هيڅ كار رانغی، بيا الله ﷻ د دوی مدد د فرښتو په ذريعه وكړو، او مسلمانانو ته يې فتحه وركړه. الله رب العزت د دې تذكره كړی:

﴿ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴾ . (۲)

---

(۱) معارف القرآن.

(۲) التوبة آيت ۲۵.

ترجمه: (الله تعالی ستاسو امداد په ډیرو موقعو کړی) او د حُنین په ورځ يې هم ستاسو مدد کړی (خو) کله چې تاسو په تعجب کې واچولی ستاسو ډیر والي، پس دغه ډیر والي ستاسو هيڅ په کار رانغی، او زمکه درباندې سره د فراخوالي تنګه شوه، بیا تاسو مخ په شا وګرځيدی.

فايده: اګر چې بيا الله ﷻ مومنانو ته دوباره فتح ورکړه، خو دا په ابتداء کې چې يې شکست اُوخوړ نو دا ځکه چې مسلمانانو ته اول په خپل ډیر والي باندې عُجب وُ، او دا الله ﷻ ته خوښ نه شو.

نيکي وړه ګڼل: علماء ليکي چې کله يوه نيکي په خپل نظر کې څومره وړه ګڼړلې شي نو هم دومره مقدار د الله ﷻ په نزد دا غټه ګڼلې شي، او ګناه چې څومره اندازه په خپل نظر کې غټه ګڼلې شي نو هماغومره اندازه د الله ﷻ په نزد وړه او کمه ګڼړلې شي.

لهذا انسان ته په کار دي چې که خپل زکوة او خيرات که هر څومره ډیر ورکړي دا به په خپل نظر کې کم ګڼي، د دې د پاره چې د ډیر ګڼلو په وجه چيرته په عُجب او تکبر کې رانشي، او دغه نيکي يې ضائع نه شي.

۹. **د زکوة نهم ادب** دادی چې د زکوة په اداکولو کې تادي وکړې شي، بلکه که د زکوة د واجب کيدو نه يې څه وخت مخکې ورکړي نو هم ډيره به ښه وي، ځکه په مخکې اداکولو سره د الله ﷻ د حکم په منلو کې خپل رغبت ښکاره کول دي.

بل د فقيرانو زړونه پرې خوشحاليږي، ځکه د زکوة په روستو کولو کې د مال د هلاکيدو او نورو ډيرو آفتونو خطره وي.

بل دا چې کوم علماء د زکوة واجب کيدو نه پس فورًا زکوة ورکول ضروري ګڼي نو د هغوی په نزد خو دا سړی د زکوة په روستو کولو سره ګناهګاريږي.

د زکوة اِجمالي فوايد

خلاصه دا چې د زکوة ورکولو ډير فوايد دي ځکه: دا د اسلام اَهم رُکن دی، مال ورسره پاکيږي، د مال د برکت او زيادت سبب ګرځي، آفتونه پرې دفع کيږي، د انسان نفس د بُخل نه پرې بچ کيږي، د معاشرې د تقويت او اِتحاد سبب ګرځي، د فقير حاجت پرې پوره کيږي، د مال د نعمت شکريه پرې ادا کيږي، او د دواړو جهانونو د سعادت او کاميابۍ ذريعه ګرځي. (۱)

د زکوة نه اداء کولو اَسباب

زکوة چونکه يوه اَهمه فريضه ده، او په قرآن کريم او احاديثو کې د دې ډير فوايد بيان شوي، خو بيا هم بعضې خلق د دې اهمې فريضې نه غافِل دي او زکوة نه ورکوي، دا ځکه چې د دې د پاره ظاهري يو څو اسباب دي:

۱. د دې خلقو په زړونو کې د شرعي احکامو (فرائضو، واجباتو او اَرکانو) څه اهميت نه وي، بلکه صرف د خپلو روپو جمع کولو غم ورسره وي، نو ځکه زکوة نه ورکوي.

۲. بعضې خلق دا ګمان کوي چې مونږ نور ډير د خير کارونه کوو نو که دا يو زکوة ورنه کړو نو دا څه پرواه نه کوي، حالانکه دا سوچ غَلط دی، ځکه زکوة په خپل ځای اَهمه فريضه ده، د بل عبادت په اداکولو سره دا نه اداکيږي، بلکه هم دا زکوة ورکول ضروري دي.

۳. بعضې خلقو ته د زکوة اَهميت او مسايل معلوم نه وي، او دا ورته پته هم نه وي چې ګني په مونږ باندې زکوة فرض دی، حالانکه دوی مالداروي، زکوة وربانديې فرض وي. نو ځکه ټول عمر د دې اهمې فريضې اداکولو نه محرومه پاتې شي.

۴. د بعضې خلقو په زړونو کې د دُنيا محبت دومره ورننوتې وي او بُخل وربانديې دومره غالِب شوې وي چې بيا هغه ته زکوة ورکول ډير ګران معلوميږي، بلکه زکوة ورکول ورته يو مالي تاوان معلوميږي.

---

(۱) نضرة النعيم في مکارم اخلاق الرسول الکريم صلی الله عليه وسلم ج ٦ ص ٢٢١٦ الزکاة.

حالانکه د دُنيا محبت او بُخل دواړه بدترين صفتونه دي چې د انسان د هلاکت او برباد ئ سبب ګرځي ، نو ځکه شريعت ده ته د زکوة ورکولو حکم کړی چې دده د زړه نه دا د دُنيا محبت او بُخل او وځي .

خلاصه

قدرمنو ! د انسان په کار صرف هغه مال راځي کوم چې ده په خپل ژوند کې د الله ﷻ د رضا دپاره په فقيرانو ، مسکينانو او حقدارانو باندې لږولي وي ، بلکه د مرګ نه روستو اکثر هيڅ مړي هم د چا په ياد نه وي ، بلکه صرف يو څو ورځې ورپسې خپل بچي ، ښځه او والدين څه لږې اوښکې توی کړي بيا په کلونو کلونو د هيچا په ياد کې هم نه وي ، بلکه هر کس په خپلو مصروفياتو کې ډوب وي .

لهذا انسان ته په کار دي چې په خپل ژوند کې د مال فرضي حقوق ادا کړي .

دُعا

الله تبارک وتعالی دې مونږ ته په صحيح طريقې سره د خپل مال نه د زکوة او خيرات اداکولو توفيق راکړي ، او الله ﷻ دې زمونږ د زړونو نه د دُنيامحبت اوبُخل اوباسي ، او زمونږ په زړونو کې دې سخاوت او اخلاص پيدا کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

د زکوة په باره کې ضروري فقهي مسائل

د مقررينو دپاره ضروري تنبيه : چونکه د زکوة مسايل څه ناڅه پيچيده او گران دي، او اکثر مسايل يې عوامو ته نه دي معلوم، لهذا د زکوة په باره کې درته ضروري فقهي مسائل په تفصيل سره د معتمدو کتابونو نه ليکم.

تاسو کولې شئ چې د وخت، موقع، او ضرورت په اَساس ددې مسائلو نه ځان ته اِنتخاب وکړئ، او بيان يې کړئ.

د هغه مسايلو غټ اجمالي عنوانات دا دي :

۱. زکوة په چا واجب دی ؟

۲. زکوة په کوم مال کې واجب دی او په کوم کې واجب نه دی ؟

۳. زکوة چاته ورکول جائز دي ؟

۴. او چاته ورکول ناجائز دي ؟

۵. د زکوة نور متفرِق مسايل.

زکوة په چا فرض دی ؟

کوم عاقل، بالِغ، آزاد مسلمان چې صاحب د نصاب وي يعنی اووه نيمې تولې سره زَر ورسره وي، يا دوه پنځوس نيمې تولې سپين زَر ورسره وي، يا د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو د قيمت په اندازه روپۍ ورسره وي، او دا د ضرورتِ اصليه نه زياتي وي، په دا څه قرض نه وي، او په دې کال تير شي نو په داسې کس زکوة ورکول فرض دي. (۱)

(۱) وشرط افتراضها: عقل، وبلوغ، واسلام، وحرية، والعلم به ولو حكما لكونه في دارنا. وسببه: اى سبب افتراضها ملک نصاب حولى نام فارغ عن دَين له مطالب من جهة العباد وعن حاجته الاصلية. شامي نعمانيه ج۲ ص۱ كتاب الزكوة، مطلب الفرق بين السبب والعلة والشرط، مجمع الانهر ج۱ ص۲۸۵ اول كتاب الزكاة، هداية على الفتح اللدير ج۲ ص۱۵۲ كتاب الزكاة.

د نابالغه او مجنون په مال کې زکوة نشته

د نابالغه او هغه ليوني په مال کې زکاة نشته کوم چې په هوش کې نه راځي . (۱)

د لږو سرو زرو او لږو سپينو زرو نه د زکوة ورکولو مسئله

که چيرته د يو کس سره اووه نيمې تولې سره زر نه وو ، بلکه د نصاب نه کم وو مثلا څلور تولې سره زر وو ، دغه شان سپين زر هم ورسره د دوه پنځوس نيمو تولو نه کم وو مثلا دولس تولې وو ، نو د دېنه د زکوة ويستلو طريقه داده چې د سرو زرو او سپينو زرو قيمت به اولږوي که د دينه د سپينو زرو نصاب پوره کيده (يعنې دوه پنځوس نيمې تولې سپين زر ورياندې کيده ، يا د دې قيمت ته رسيده) نو په دې سرې باندې زکوة فرض دی ، دې به څلويښتمه (۴۰) روپۍ زکوة ورکوي . (۲)

---

(۱) ومنها العقل والبلوغ . فليس الزكوة على صبي ومجنونٍ ... هنديه ج۱ ص ۱۷۲ كتاب الزكوة الباب الاول . / قوله : عقل وبلوغ فلا تجب على مجنون وصبي . شامي نعمانيه ج۲ ص ۴ ، عنايۃ مع فتح القدير ج۲ ص ۱۵۶ كتاب الزكاة ، مجمع الانهر ج۱ ص ۲۸۶ ، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۶۳ وجوب زكوة . / ومنها العقل والبلوغ فليس الزكوة على صبي ومجنون اذا وجد منه الجنون في السنة كلّها . هكذا في الجوهرة النيرة ، فتاوى عالمكيري ۱ : ۱۷۲ كتاب الزكاة ، فتاوى فريديه ج۳ ص ۳۶۰ باب وجوب الزكاة .

(۲) ويضمّ الذهب الى الفضة قيمةً . قوله : قيمة اى من جهة القيمة ، فمن له مائة درهم و خمسة مثاقيل قيمتها مائة عليه زكاتها . الدرالمختار على رد المحتار ج۲ ص ۳۰۳ باب زكاة المال ، مجمع الانهر ج۱ ص ۳۰۷ باب زكاة الذهب والفضة ، باب العاشر ، البحر الرائق ج۲ ص ۲۳۰ كتاب الزكوة ، قبيل باب العاشر ، فتاوى محموديه ج ۱۴ ص ۹۱ . / قال العلامه برهان الدين المرغيناني : ويضمّ الذهب الى الفضة للمجانسة من حيث الثمنية ومن هذا الوجه صار سببا ثم يضم بالقيمة عند ابي حنيفة رحمه الله . هداية على صدر فتح القدير ۲ : ۱۶۹ فصل في العروض كتاب الزكاة ، فتاوى فريديه ج ۳ ص ۴۰۵ . / وتضم قيمة الى الثمنين والذهب الى الفضة قيمة . كذا في الكنز . حتى لو ملك مأة درهم و خمسة دنانير قيمتها مأة درهم تجب الزكوة عنده خلافا لهما . الفتاوى العالمكيرية كتاب الزكوة الباب الثالث في زكوة الذهب والفضة والعروض ج۱ ص ۱۷۹ ، وهكذا في رد المحتار ج۲ ص ۳۰۳ ، والبحر ج۲ ص ۲۰۰ باب زكوة المال .

د نصاب نه کم سره زر او څه نغدو روپو په موجوديدو سره د زکوة حکم

که چيرته د يوې ښځې سره د اووه نيمو تولو نه کم سره زَر وي (مثلا څلور تولې سره زر وي)، او څه نغدې روپۍ هم ورسره وي، چې دضرورتِ اصليه نه زياتې وي، او په دې باندې کال تير شي، نو ددې نه د زکوة ويستلو طريقه داده چې د دې سرو زر قيمت به اولږولې شي او دا روپۍ به هم ورسره يو ځای کړې شي، اوس که چيرته دا مجموعه روپۍ د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو قيمت ته رسيدې نو په دې ښځه باندې زکوة فرض دی، څلويښتمه روپۍ زکوة به ورکوي. دغه شان په دې ښځه باندې قرباني هم واجب ده. (١)

د عُشر ثبوت د قرآن کريم نه

حافظ ابوبکر جصاص رازي رحمه الله په احکام القرآن کې ذکر کړي چې په دې باندې د ټول امت اتفاق دی چې په دې آيت ﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ. (٢)﴾ کې د حق نه مراد عُشر دی. (٣)

بعضې اَيمه وُ د آيت ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ﴾ نه هم استدلال کړی. (٤)

---

(١) وفى النهر قال الزاهدي: وله أن يقوّم احد النقدين ويضمّه الى قيمة العروض عند الامام، وقالا لايقوّم النقدين بل العروض ويضمها. وفائدته تظهر في مَن له حنطةٌ للتجارة قيمتها مأة درهم. وله خمسة دنانير قيمتها مأة تجب الزكوة عنده خلافا لهما. رد المحتار هامش الدرالمختار ٢ : ٣٧ باب زكاة المال، فتاوى فريديه ج٣ ص ٤٠٢. همدغه شان مضمون مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په بهشتي زيور کې د زکوة په بيان نهمه مسئله کې هم ليکلی.

(٢) الانعام آيت ١٤١.

(٣) اتفاق الامة على وجوب الحق في كثير من الحبوب والثمار وهو العشر ونصف العشر. احكام القرآن للجصاص ج٣ ص ١٠، ذكر الخلاف في الموجب فيه. ط، بيروت. روح المعاني ٣٨/٨ سورة انعام آيت ١٤١، تفسير مظهري ٢٩٤/٣ ط. رشيديه كوئته. فتاوى محموديه ج١٤ ص ٣٢٣.

(٤) ولقوله تعالى ﴿وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ. البقرة آيت ٢٦٧﴾ ويحتج به لابي حنيفة رحمه الله في ايجابه العشر. احكام القرآن للجصاص ج١ ص ٤٥٨ باب المكاسبة، زيلعي ٢٩٢/١ باب العشر، بدائع زكريا ص ١٦٩، ١٧٠/٢ كتاب الزكاة فصل واما زكاة الزروع والثمار. فتاوى محموديه ج١٤ ص ٣٢٤.

د زمکې په فصلونو کې عُشر یا نصفِ عُشر واجب دی

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د زمکې نه چې هر قِسمه فصل ، میوه او سبزي راووځي نو که چیرته دا په باراني اُوبو یا سمندري اُوبو باندې اُوبه کیده چې په اُوبه کولو یې څه خرچه نه کیده نو دداسې زمکې په پیداوار کې عُشر یعنی لسمه حصه زکوة واجب دی (یعنی په لس مَنه کې به یو مَن زکوة ورکوي) .

او که دا زمکه د بَیعې په اُوبو اُوبه کیده لکه : په ټیوب وِل ، یا په اَرَټ ، یا د بجلۍ په موټر ، یا په داسې سرکاري نهر اُوبه کیده چې حکومت ددې نهر آبیانه اخیسته نو دداسې زمکې په پیداوار کې نصفِ عُشر یعنی شلمه حصه زکوة واجب دی ، (نو په شلو منونو کې به یو مَن ، او په شلو سیرو کې به یو سیر زکوة ورکوي). (۱)

کومه ګیاه چې پخپله راختلې وي په هغې کې عُشر نشته

کومه ګیاه چې په خپله را اُوخیجي نو داد چا مملوک نه وي ، لهذا په دې کې عشر هم نه وي (۲)

د زمکې د پیداوار نه به خرچه نشي کټ کولی

د زمکې نه چې کوم فصل وغیره راووځي نو عشر به ددې ټولو نه ورکوي ، داسې به نه کوي چې اول ورنه د تخم ، د یَوې او دوایي وغیره خرچه کټ کړي . بلکه دټول پیداوار نه به عشر ورکوي . (۳)

---

(۱) لما رواه البخاري مرفوعا فيما سقت السماء والعيون او كان عثريا العشر وما سقي بالنضح نصف العشر . مشكوة المصابيح ۱ : ۱۵۹ باب ما يجب فيه الزكوة الفصل الاول كتاب الزكاة ./ ويجب العشر عند ابي حنيفة رحمه الله في كل ما تخرجه الارض . فتاوى عالمگيريه ۱ / ۱۸٦ الباب السادس في زكاة الزرع والثمار كتاب الزكاة ./ وفي الهندية : وما سقي بالدولاب والدالية ففيه نصف العشر ... فتاوى عالمگيريه ۱ : ۱۸٦ الباب السادس في زكاة الزرع والثمار ./ قال العلامة الحصكفي : ويجب نصفه في مسقى غرب اى دلو كبير ، ودالية اى دولاب لكثرة المؤنة . الدرالمختار على هامش رد المحتار ۲ : ۵۵ باب العشر . فتاوى فريديه ج۳ ص ۴۹۴ .

(۲) لانه لايقصد به استغلال الارض . الدرالمختار على هامش رد المحتار ۲ : ۵۵ باب العشر ، فتاوى فريديه ج۳ ص ۴۷٦

(۳) قال العلامة الحصكفي : بلا رفع مؤن اى كلف الزرع . وبلا اخراج البذر لتصريحهم بالعشر في كل الخارج . الدرالمختار على هامش رد المحتار ۲ : ۵٦ باب العشر ، فتاوى فريديه ج۳ ص ۴۸۳ .

د عُشر یا نصفِ عُشر د پاره غناء او نصاب شرط نه دی

د زمکې نه چې کوم فصلونه، میوې او سبزیانې راووځي نو د امام صاحب په نزد په دې کې لسمه حصه یا شلمه حصه زکوة واجب دی، ددې د پاره نه خو ددې کس مالداري او صاحبِ نصاب کیدل شرط دي، نه پرې کال تیریدل شرط دي، او نه ددې د وجوب د پاره څه مقدار شرط دی، بلکه په هر فصل، هره سبزی، اوهره میوه کې چې د زمکې نه راووځي لسمه حصه یا شلمه حصه زکوة واجب دی، ځکه په قرآن کریم او احادیثو کې عموم دی، څه قید په کې نشته. (۱)

په عُشر او زکوة کې فرق

په عُشر او زکوة کې یو څو فرقونه دي: اول دا چې په عُشر کې څه مقرر نصاب نشته، بلکه هر شی چې د زمکې نه پیدا شي په هغې کې عشر ورکول لازم دي، او د زکوة د پاره یو حد مقرر دی چې هغې ته اورسي نو بیا زکوة ورکول لازم دي.

دویم دا چې په عشر کې کال تیریدل شرط نه دي، نو که چیرته په یو کال کې دوه فصلونه اوشي نو د دواړو نه عشر ورکول لازم دي، او د زکوة د پاره کال تیریدل شرط دي.

---

(۱) قال العلامة الکاساني: ولابي حنيفة عموم قوله تعالى: ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوٓا أَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْأَرْضِ. البقرة آیت ۲۶۷﴾ وقوله عزوجل: ﴿وَاٰتُوْا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ. الانعام آیت﴾ وقول النبي ﷺ ماسقته السمآءُ ففيه العشر وماسقي بغرب او دالية ففيه نصف العشر. (اخرجه البخاري في صحيحه: ۳: ۳۴۷ فی الزكاة باب العشر فيما يسقي من ماء السماء) من غير فصل بين القليل والكثير. ولانّ سبب الوجوب وهي الارض النّامية بالخارج لايوجب التفصيل بين القليل والكثير. بدائع الصنائع ۲: ۱۸۰ باب العشر شرائط المحلية، فتاوی فریدیه ج۳ ص ۴۴۷. / يجب العشر في ارض غير الخراج وتجب في مسقى سماء اى مطر بلا شرط بقاء وحولان حول. ويجب نصفه في مسقى غرب اى دلو كبير، ودالية اى دولاب. الدر المختار على الرد المحتار نعمانية ۴۸/۲، ۵۰، باب العشر. مجمع الانهر ج۱ ص ۳۱۷، ۳۱۹ كتاب الزكاة باب زكاة الخارج. البحر الرايق ۲۳۷/۲ باب العشر، فتاوی محمودیه ج۱۴ ص ۳۴۱.
صاحب د هدایه وایي: قال ابو حنيفة رحمه الله وفي قليل ما اخرجته الارض وكثيره العشر سواء سقي سيحا او سقته السماء. هداية ج۱ ص ۲۰۱، باب زكاة الزرع والثمار. عالمگیري ۱۸۵/۱ الباب السادس في زكاة الزروع والثمار، البحر الرايق ۲۳۷/۲ باب العشر، فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۳۴۶. فتاوی محمودیه ج ۱۴ ص ۳۴۶.

دريم دا چې د عشر تعلق چونکه د زمکې سره دی ، نو د ليوني په زمکه کې هم عشر لازم دی ، حالانکه د ليوني په مال کې زکوة نشته .

څلورم دا چې د احنافو په نزد د نابالغه په مال کې زکوة نشته ، البته دده په زمکه عشر لازم دی .

په قرض داره باندې د زکوة مسئله

که چيرته يو کس صاحب د نصاب ؤ ، په ده کال تير شو ، خو په ده باندې قرضه هم شته ، نو دې به اول قرضه ادا کړي ، که اوس دا باقي پاتې مال نصاب ته رسيده ، نو په ده باندې په دې باقي پاتې مال کې زکوة ورکول لازمي دي ، او که دا د نصاب نه کم ؤ نو بيا په ده زکوة نشته . (۱)

د دُکان نه د زکوة ويستلو طريقه

که چيرته يو سړې صاحب د نصاب وي ، او دده دُکان وي او په ده کال تير شي نو ددينه دزکوة ويستلو طريقه داده چې په دُکان کې کوم شيان د خرڅ دي د هغې ټولو قيمت به اُولږوي ، بيا به قرضونه ورنه لرې کړي ، د باقي پاتې مال نه به څلويښتمه (۴۰) روپۍ زکوة اوباسي . (۲)

البته د دُکان عمارت ، ميز ، کرسۍ او اَلماری به په قيمت کې نه حسابوي ، ځکه په دې شيانو کې زکوة نشته ، بلکه صرف هغه شيان به حسابوي کوم چې په دې دُکان کې د خرڅ د پاره ايښودل شوي وي .

(۱) قال علي ابن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : وان كان ماله اكثر من دَينه زكى الفاضل إذا بلغ نصابًا . الهداية ج۱ ص ۱٦۸ كتاب الزكوة . / قال علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله : فلا زكوة على مكاتب و مديون للعبد بقدر دَينه فيزكي الزايد إن بلغ نصابًا . الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲ ص ۲٦۳ كتاب الزكوة ، ومثله في فتح القدير ج۲ ص ۱۱۸ كتاب الزكوة ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ٦۵ .

(۲) الزكوةُ واجبة في عروض التجارة كائنة مّاكانت . اى كائنة أي شيء يعني من جنس ما تجب فيه الزكوة كالسوائم . او غيرها كالثياب إذا بلغت قيمتها نصابًا من الورق أو الذهب ... اللباب في شرح الكتاب ج۱ ص۱۴۵ كتاب الزكوة ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۵ ص ۱۳۰ .

دغه رنګې كه د ډاكټر سره ډاكټري آلات وي ، يا بل كسَب ګر سره د كار آلات وي نو په دې آلاتو كې زكوة نشته ، بلكه د دې په آمدنۍ كې به زكوة وركوي . (۱)

د زكوة په روپو باندې د مشتركه مفادو د پاره اَسباب نشي اخيستى

كه چيرته د يوې علاقې يا محلې خلق د غَم يا ښادۍ د پاره مشتركه اَسباب اخلي لكه لوخي ، كرسۍ او تمبوان ، نو دا شيان د زكوة په روپو نشي اخيستى ، ځكه د زكوة د پاره تَمْلِيْک بِلَا عِوَضَه شرط دى ، او په دې شيانو كې د چا شخصي ملكيت نه وي ، لهذا په دې كې د زكوة روپۍ لګول صحيح نه دي . (۲)

نشه كوونكو ته د زكوة وركولو مسئله

زكوة خو (د اصولو او فروعو ، ښځه ، خاوند او هاشمي نه علاوه) هر فقير او مسكين ته وركولې شى خو سړي به د دې لحاظ ساتي چې په دې زكوة وركولو سره د يو ګناهګار سره په ګناه كولو كې مدد او نه كړې شي ، لهذا چرسي ، پوډري او اَفيمي ته د دې شيانو د اخيستو د پاره زكوة وركول مناسب نه دي . (۳)

---

(۱) قال العلامة الحصكفي : ولا في ثياب البدن ، واثاث المنزل ، و دور السكنى ونحوها ... وكذلک آلات المحترفين . الدر المختار على هامش رد المحتار ۲ : ۸ كتاب الزكوة . فتاوى فريديه ج۳ ص ۳۹۰ . .

(۲) لما قال علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله : ويشترط ان يكون الصرف تمليكًا لا إباحةً كما مرّ . لا يصرف الى بناء نحو المسجد ولا الى كفن ميّت .... لعدم التمليک وهو الركن . الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲ ص ۳۴۴ باب المصرف . / قال في الهندية : ولايجوز ان يبني بالزكوة المسجد وكذا القناطر والتعايات واصلاح الطرقات ... وكلّ مالاتمليک فيه . الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۸۸ كتاب الزكوة الباب السابع في المصارف ، ومثله في الهداية على صدر فتح القدير ج۲ ص ۲۰۷ باب من يجوز دفع الصدقة اليه .. فتاوى حقانيه ج۴ ص ۷۰ . / وكذلک مَن عليه الزكوة لو اَرَاد صرفها الى بناءِ المسجد او القَنْطَرة لايجوز . فان ارَاد الحِلية فالحيلةُ اَن يتصدق به المتولى عل الفقراءِ ثمّ الفقراءُ يدفعونه الى المتولي . ثم المتولي يصرف الى ذلک ... عالمكيري ج۲ ص ۴۷۳ كتاب الوقف الباب الثاني عشر في الرباطات والمقابر ، الدر المختار على الشامي ج۳ ص ۲۹۱ ، ۲۹۳ باب المصرف ، البحر الرايق ج۲ ص ۲۴۳ باب المصرف ، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۲۲۹ .

(۳) قال الامام ابو البركات النسفي رحمه الله : هي تمليک المال من فقير مسلم غير هاشمي ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عل المملک من كلّ وجه لله تعالى . كنز الدقائق على هامش بحر الرائق ج۲ ص ۲۰۱ كتاب الزكوة ، ومثله في بدائع الصنائع ج۲ ص۵ كتاب الزكوة فصل شرائط الفريضة ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۷۸ .

په زکوة کې تاخیر کول مکروهه دي

کله چې په یو کس باندې زکوة فرض شي نو ددې په اداکولو کې تادي بهتره ده ، او قصداً عمداً زکوة روستو کول مکروهه دي . (۱)

د زکوة په اداء کولو کې د موجوده ښار قیمت معتبر دی

یو دُکاندار مثلاً د چیني څه بورۍ په پېښور کې واخیستې ، او یوه بوري يې په پنځه زره (۵۰۰۰) روپۍ واخیسته ، اوس يې افغانستان ته وې وړي ، هلته ددې قیمت پنځه نیم زره (۵۵۰۰) روپۍ دی . کله چې کال پوره شو ، د چیني بوري هماغه شان ورسره په دُکان کې پرتې دي ، او په ده زکوة لازم شو ، نو دې به اوس د پنځه نیم زره (۵۵۰۰) روپو په حساب سره ددینه زکوة اُوباسي ، یعنی د همدې ښار د قیمت اعتبار به وي په کوم کې چې دې اوس موجود دی . (۲)

د بلې علاقې فقیرانو ته زکوة لیږل

په عامو حالاتو زکوة د یوې علاقې نه بلې علاقې ته وړل مکروهه دي بلکه د همدې علاقې په فقیرانو به يې تقسیموي ، خو که چیرته په بله علاقه کې دده خپلوان فقیران وي نو بیا ده ته دا جائز دي چې هغوی ته زکوة ویسي ، بلکه افضل دا دي چې اول خپلو فقیرانو رِشته

---

(۱) قال العلامة ابن الهمام : ما ذكر الفقيه ابو جعفر عن ابي حنيفة انه يكره ان يؤخرها من غير عذر . فتح القدير ۲ : ۱۱۴ كتاب الزكوة ./ وفى الهندية : وتجب على الفور عند تمام الحول حتى يأثم بتاخيره من غير عذر . وفي رواية الرازي على التراخي حتي يأثم عند الموت . والاول اصح . كذا فى التهذيب ، فتاوى عالمگيرية ۱ : ۱۷۰ كتاب الزكوة الباب الاول' قال العلامة ابن عابدين : (قوله فيأثم بتاخيرها) ظاهره الاثم بالتاخير ولو قلّ كيوم او يومين . لانهم فسروا الفور بأوّل اوقات الامكان . وقد يقال المراد ان لايؤخر الى العام القابل لما فى البدائع عن المنتقى اذا لم يؤد حتى مضى حولان فقد اساء واثم . فتأمل . ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۱۴ كتاب الزكوة ، فتاوى فريديه ج۳ ص ۲۶۹ ، ۲۷۹

(۲) ويقوّم فى البلد الذي المال فيه . الدر المختار على هامش رد المحتار ۲ : ۲۴ باب زكاة الغنم ، فتاوى فريديه ج۳ ص ۲۷۶ .

دارو ته زکوة ورکړې شي . ځکه په دې کې د زکوة سره سره د صله رحمۍ لحاظ هم شته . (۱)

خو دا کراهت هلته دی چې دازکوة دکال پوره کیدو نه پس ورکوي ، او که یو کس د کال پوره کیدو نه مخکې زکوة ورکوي ، او د بلې علاقې فقیرانو ته یې وړي نو دا بیا خیر دی . (۲)

صاحب د نصاب ته که دکال په مینځ کې نورې روپۍ ملاؤ شوی د هغې د زکاة حکم

که چیرته یو کس د کال په اول کې صاحب د نصاب وُ ، او دا روپۍ ورسره د ضرورتِ اصلیه نه زیاتې وی ، په دې روپو لا تر اوسه کال نه وُ تیر شوی چې د دې په مینځ کې دده لاس ته نورې روپۍ هم راغلی ، نو اوس چې کال پوره شي نو د دې ټولو نه به زکوة ورکوي، په دې روپو باندې مستقل کال تیریدل ضروري نه دي .

دغه شان که د کال په مینځ کې دده روپو ګټه وکړه نو د کال په پوره کیدو به د ټولو روپو نه زکوة ورکوي ، په دې ګټه باندې پوره کال تیریدل ضروري نه دي . (۳)

(۱) لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (تحت قوله بل فى الظهيرية لاتقبل) عن ابي هريرة ﷺ مرفوعًا الى النبي ﷺ انه قال يا أمة محمد والذي بعثني بالحق لايقبل الله صدقة مِن رجلٍ وله قرابة يحتاجون الى صلته وليصرفها الى غيرهم والذي نفسي بيده لاينظر الله اليه يومَ القيامة . والمراد بعدم القبول عدم الاثابة عليها وان سقط بها الفرض لانّ المقصود منها سدّ خله المحتاج . وفى القريب جمعٌ بين الصلة والصدقة . والافضل اخوته واخواته ... رد المحتار ج۲ ص۳۵۳ باب المصرف ،/ قال ابن نجيم رحمه الله : ويبدا فى الصّدقات بالاقارب ثم الموالي ثم الجيران ، وذكر في موضع آخر معزيًا الى ابي حفص الكبير لاتقبل صدقة الرجل وقرابته محاويج فيسدّ حاجتهم . البحر الرايق ج۲ ص ۲۴۳ باب المصرف ، ومثله في نورالايضاح ص ۱٦۰ كتاب الزكوة باب المصارف . فتاوى حقانيه ج۴ ص۷۵ .

(۲) قوله وكره نقلها تحريمًا ولو الى ما دون مسافة القصر . قوله بعد تمام الحول أما المعجلة ولو لفقير غير احوج ومديون فتنتفى الكراهة فيها . طحطاوي على المراقي ص ۵۹۴ باب المصرف ، البحرالرائق ج۲ ص۲۵۰ قبيل باب صدقة الفطر ، عالمكيري ج۱ ص ۱۹۰ الباب السابع فى المصارف ، شامي ج۳ ص۳۰۴ باب المصرف مطلب فى الحوائج الاصلية، فتاوى محمودية ج۱۴ ص ۲۴۷ .

(۳) وفى الهندية : ومن كان له نصاب فاستفاد في اثناء الحول مالا من جنسه ضمه الى ماله وزكاه سواء كان المستفاد من نمائه اولا . وبأي وجه استفاد ضمه سواء كان بميراث او هبة او غير ذلک . فتاوى عالمكيرية ۱ : ۱۷۵ كتاب الزكوة .

البته که په اول نصاب باندې کال پوره شو بيا د کال نه پس نورې روپۍ يې لاس ته راغلې نو په دې باندې اوس مستقل کال تيريدل ضروري دي . (۱)

د استعمال په کپړو کې زکوة نشته اګر که پنځوس جوړې وي

که څيرته يو سړي د وَاده د پاره پنځوس يا شپيته جوړه جامې جوړې کړې وي ، او دا يې د استعمال په نيت ايښې وي ، او ددې قيمت نصاب ته رسي ، او په دې باندې کال تير شي نو بيا هم په دې کې زکوة نشته ، ځکه دا مالِ نامي نه دی . (۲)

البته ددې کپړو ايښودو په وجه په ده صدقة فطر او قرباني واجب ده ، او ددې په وجه د نورو نه زکوة هم نشي اخيستی .

د سروزرو او سپينوزرو نه علاوه د کور د استعمال په شيانو کې زکوة نشته

د ژوند ضروري اَسباب لکه د استعمال ګاډې ، قالين ، فرنيچر د خدمت د پاره غلام او نور د کور د استعمال اسباب وغيره په دې شيانو کې زکوة نشته ، ځکه دا اموالِ ناميه نه دي او د تجارت د پاره هم نه دي . (۴)

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په بهشتي زيور کې ليکلي : د کور اَسباب لکه پتيلې ، ډيګچې ، لوي ډيګونه ، دخوراک څکاک لوخي ، داوسيدو مکان ، د اغوستو کپړې ، د ملغلرو هار وغيره شيانو کې زکوة واجب نه دی ، اګر که دا هر څومره ډير وي ، او که

---

(۱) وفي الهندية : فان استفاد بعد حولان الحول فانه لايضم ويستأنف له حول آخر بالاتفاق . فتاوى عالمكيري ۱ : ۱۷۵ الباب الاول في تفسيرها وصفتها وشرائطها كتاب الزكوة .

(۲) قال العلامة الحصكفي : ولا في ثياب البدن المحتاج اليها لدفع الحر والبرد . الدر المختار على هامش رد المحتار ۲ : ۸ كتاب الزكوة . / وفي الهندية : ومنها كون النصاب ناميًا حقيقة بالتوالد والتناسل والتجارة . او تقديرًا بان يتمكن من الاستنماء بكون المال في يده او في يد نائبه . وينقسم كل واحد منهما الى قسمين خلقي وفعلي . فالخلقي الذهب والفضة... والفعلي ما سواهما ويكون الاستنماء فيه بنية التجارة او الاسامة . فتاوى عالمكيرية ۱ : ۱۷۴ كتاب الزكوة . فتاوى فريدية ج۳ ص ۴۱۵ .

(۴) ومنها فراغ المال عن حاجته الاصلية فليس في دور السكنى وثياب البدن واثاث المنازل و دواب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكوة . فتاوى عالمكيرية ۱ : ۱۷۲ كتاب الزكوة ، فتاوى فريديه ج۲ ص ۳۶۸ ، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۵ ص ۱۱۴ .

دا د روزمره په استعمال کې راځي او که نه راځي خو زکوة پرې نشته ، البته که دغه اسباب د تجارت د پاره وو نو بيا پرې زکوة واجب دی . خلاصه دا چې د سرو زرو او سپينو زرو نه علاوه چې نور هر ډومره اسباب وي نو که د تجارت د پاره وو نو زکوة پرې شته ، او که د تجارت د پاره نه وُ نو بيا پرې زکوة نشته . (۱)

د پراپرټۍ واله په پلاټونو او سرمايه کې د زکوة حکم

کوم کس چې د زمکو او پلاټونو د خرڅولو او اخيستلو کاروبار کوي ، او په ده باندې کال تير شي نو دې به د پلاټونو د قيمت او نغدو ټولو روپو نه زکوة اوباسي . (۲)

ذاتي د استعمال په کتابونو کې زکوة نشته

کوم کتابونه چې د تجارت د پاره نه وي بلکه د مطالعې او استعمال د پاره وي نو په داسې کتابونو کې زکوة نشته ، اګر چې د دې کتابونو قيمت نصاب ته رسي ، ځکه کتابونه مالِ نامي نه دي . (۳)

---

(۱) د جنت کالي ص ۱۹۷ مسئله نمبر ۱۴.

(۲) وفی الهندية : واما الدلالة فهي ان يشتري عينا من الاعيان بعروض التجارة او يواجر داره التي للتجارة بعرض من العروض فتصير للتجارة وان لم ينو التجارة صريحا . فتاوی عالمكيريع ۱ : ۱۷۴ الباب الاول في تفسيرها وصفتها ومنها كون النصاب ناميا كتاب الزكوة ./ وكما في شرح التنوير : او في عروض تجارة قيمته نصاب ماليس بنقد . الدر المختار على هامش رد المحتار ۲ : ۳۳ باب زكاة المال، فتاوی فريديه ج۳ ص ۴۲۲ .

(۳) لعدم النماء لان المال هوالذهب والفضة والسائمة ومال التجارة . وفی الهندية : وان كانت له كتب تساوی مأتی درهم الا أنه يحتاج إليها للتدريس او التحفظ او التصحيح يجوز صرف الزكوة اليه . كذا في فتاوی قاضي خان . فتاوی عالمكيرية ۱ : ۱۸۹، ۲۰۱ الباب السابع في المصارف ، فتاوی فريديه ج۳ ص ۴۳۴ ./ (اما شروط الوجوب) منها فراغ المال عن حاجته الاصلية .... وكذا كتب العلم إن كان من اهله . عالمكيري ج۱ ص ۱۷۲ . (وعلى هذا كتب العلم لاهلها) اى على ما ذكرنا من عدم وجوب الزكوة حكم كتب العلم لأهلها . البناية في شرح الهداية ، كتاب الزكوة ج۴ ص ۱۹ ، وكذا في ردالمحتار ج۲ ص ۲٦۵ كتاب الزكوة .

البته که د کتابونو تجارت يې کولو يعنی مکتبه يې وه نو بيا د تجارت په شيانو کې خو زکوة واجب دی. (۱)

د سورلۍ چلولو ګاډي په قيمت کې زکاة نشته بلکه ددې په آمدنۍ کې دی

کوم ګاډې (موټر) چې د سورلۍ چلولو د پاره اخيستل شوې وي (لکه نن صبا فلائنګ کوچ، ټرک او دا غټ ګاډي وغيره) نو د کال په تيريدو سره ددې په قيمت کې زکاة نشته بلکه ددې په آمدنۍ او حاصلاتو کې زکوة دی، يعنی چې ددې په آمدنۍ باندې کال تير شي او د ضرورتِ اصليه نه زياتي وي نو په دې کې به زکوة ورکوي. (۲)

البته که د يو سړي د ګاډو بارګين وي يعنی ګاډي اخلي او خرڅوي، او په دې باندې کال تير شي نو اوس به ددې ګاډو په قيمت کې زکوة فرض وي. (۳)

خو که کوم موټر يې د ذاتي استعمال د پاره اخيستې وُ نو په دې کې زکوة نشته، ځکه په دې کې نُمو نشته.

د کرايه په کورونو او دُکانونو کې زکوة نه وي، بلکه ددې په کرايه کې وي

که چيرته د يو سړي دير کورونه او دُکانونه وي او دا يې نورو خلقو ته په کرايه ورکړي وي، نو ددې کورونو او دُکانونو په قيمت کې زکوة نشته ،بلکه ددې نه چې کومه کرايه

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: لابأس ان يعطي من الزكوة من له مسكن وما يتأثث به في منزله وخادم وفرس وسلاح وثياب البدن وكتب العلم إن كان من أهله فان كان له فضل عن ذلک تبلغ قيمته مأتی درهم حرم عليه أخذ الصدقة. رد المحتار هامش الدر المختار ۲ : ۷۰ باب المصرف، بحر الرايق، هنديه، فتاوی فريديه ج۳ ص ۴۱۵ .

(۲) وفی الهندية : ولواشتری قدورًا من صفر يمسكها و يؤاجرها لاتجب فيها الزكوة كما لاتجب في بيوت الغلة . فتاوی عالمكيرية ۱:۱۸۰ قبيل مسائل شتی كتاب الزكوة ، فتاوی فريديه ج۳ ص ۳۸۹ ./ ونظيره ما في مجموعة الفتاوی : رجلٌ اشتری اعيانا منقولة يواجرها مياومة ومشاهرة ومسانهة ويحصل له من المنقولات مالٌ عظيم لايجب الزكاة فيها لانها ليست بمال التجارة فانه يمسكها وينتفع بها نوع انتفاع فصار كالاستعمال فلم يجب في ذلک شيء . كذا في خزانة الروايات. مجموعة الفتاوی للعلامة عبدالحي الكهنوي ۱ : ۳۶۲ كتاب الزكوة . فتاوی فريديه ج۳ ص ۴۲۹ .

(۳) وفي الهندية الزكوة واجبة في عروض التجارة كائنة ماكانت إذا بلغت قيمتها نصابا . فتاوی عالمكيرية ۱ : ۱۷۹ الفصل الثاني في العروض . فتاوی فريديه ج۳ ص ۴۲۹ .

راجمع کيږي او هغه د ضرورتِ اصليه نه زياتي وي او په هغې کال تير شي نو بيا به د هغې نه زکوة ورکوي. (۱)

مالدار سړی د کال پوره کيدو نه مخکښې هم زکوة ورکولې شي

چې، کله سړې صاحب د نصاب وي او زکوة ورباندې فرض وي نو د کال د تيريدو نه مخکښې هم زکوة ورکولې شي، دغه رنګې د راتلونکو څو کلونو زکوة د مخکښې نه ورکول هم جائز دي. (۲)

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي: که مالدار سړې د کال پوره کيدو نه اول زکوة ورکړي نو هم ادا شو، او که مالداره نهٔ بلکه د چيرته نه يې د څه مال راتلو اميد وُ او ده د مخکښې نه د هغې زکوة ورکړو نو دا زکوة نه اداء کيږي ... که مالدار سړې د ډيرو کلونو زکوة په يو ځای پيشګي ورکړي نو هم جائز دی، البته که په مال کښې زيادت راغلی وُ نو د هغه زياتي مال زکوة به هم ورکوي. (۳)

د زکوة ورکولو په وخت د زکوة تذکره او په خُله وينا ضروري نه ده

مستحق ته د زکوة ورکولو په وخت دا ويل ضروري نه دي چې " دا زکوة دی" بلکه زکوٰة د هديې او تحفې په نوم هم ورکولې شی. بل دا چې ددې دوه وُ وختونو نه که په يو

---

(۱) قال العلامة عبدالحي: وفي مجمع البركات: رجلٌ اشترى اعيانا منقولة يواجرها مياومة ومشاهرة ومسانهة ويحصل له من المنقولات مالٌ عظيم لايجب الزكاة فيها لانّها ليست بمال التجارة فانه يمسكها وينتفع بها نوع انتفاع فصار كالاستعمال فلم يجب في ذلک شيء. كذا في خزانة الروايات. په همدې کتاب کښې بل ځای ذکر دي: ولواشترى قدورًا من الصفر يمسكها ويواجرها لايجب فيها الزكاة كما لايجب في بيوت الغلة. كذا في فتاوى قاضي خان، مجموعة الفتاوى ۱: ۳٦۳ كتاب الزكوة، فتاوى فريديه ج۳ ص ۲۴۵ ./اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي: که د چا سره پنځه يا لس کورونه وي او په کرايه يې چلوي، يا لوخي وي ورسره او په کرايه يې چلوي نو په دې کښې زکوة نشته. غرض دا چې په کرايه د چلوونکي مال اسباب يا مکانونو کښې زکوة نشته. د جنت کالې ص ۱۹۷ مسئله نمبر ۱۵

(۲) ولو عجل ذو نصاب زكوته لسنين أو لنصب صح لوجود السبب. الدرالمختار ج۲ ص ۲۹۳ كتاب الزكوة. /وفى الهندية: وكما يجوز التعجيل بعد ملک نصاب واحد عن نصاب واحد يجوز عن نصب كثيرة. كذا في فتاوى قاضي خان، فتاوى عالمكيري ج۱ ص ۱۷٦ كتاب الزكوة، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۵ ص ۱۰۳.

(۳) د جنت کالې ص ۱۹۸ مسئله نمبر ۲۲، ۲۳.

وخت کې هم د زکوة نيت اوشي نو زکوة اداء کيږي : يو د زکوة روپۍ د نورو روپو نه د راجدا کولو په وخت . او دويم فقير ته د ورکولو په وخت . په دې دوه وختونو کې که صرف په وخت کې د زکوة نيت اوشي نو زکوة اداء کيږي . (۱)

دغه رنګې مستحق ته د زکوة ورکولو په وخت په خُله نيت ضروري نه دی ، بلکه په زړه کې نيت کافي دی . (۲)

د عام کس دپاره ټي وي او ريډيو حاجتِ اصليه نه دي

د عام کس د پاره ټي وي او ريډيو په حاجتِ اصليه کې داخل نه دی ، ځکه آلات دلهوې او آلات دعياشۍ په حاجتِ اصليه کې داخل نه دي . نو که دچاسره قيمتي ټي وي ، ټيپ يا ريډيو وي نو په دې سره سړې غني کيږي ، د بل نه زکوة نشي اخيستی ، په ده سرسايه او قرباني واجب ده . البته ددې ټي وي او ريډيو په قيمت کې زکوة نشته ، ځکه دا مالِ نامي نه دي . (۳)

او که څوک په حکومت او سياست کې حصه اخلي نو بيا دده د پاره ټي وي او ريډيو په حاجتِ اصليه کې شمار دي . (۴)

---

(۱) لما في الهندية : ومن اعطى مسكينًا دراهم سماها هبة او قرضًا ونوى الزكوة فانها تجزيه وهو الاصح . الفتاوى الهندية ج۱ ص ۱۷۱ كتاب الزكوة الباب الاول ، البحر الرائق ج۲ ص ۲۱۲ كتاب الزكوة ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۵۱ ./ وشرط صحة ادائها نية مقارنة له الى الاداء ... وفي شرحه : قوله نية اشارة الى أنه لا اعتبار للتسمية فلوسماها هبة أو قرضا تجزيه في الاصح . شامي ج۲ ص ۲۶۸ كتاب الزكوة .

(۲) نوى الزكوة إلا أنه سماه قرضًا جاز في الاصح لانّ العبرة للقلب لا للسان . الدرالمختار مع رد المحتار ج۶ ص ۷۳۳ .

(۳) قال العلامة ابن نجيم : وفسرها (اى الحاجة الاصلية) في شرح المجمع لابن الملك بما يدفع الهلاك عن الانسان تحقيقا او تقديرًا فالثاني كالدّين ، والاوّل كالنفقة ودور السكنى وآلات الحرب والثياب المحتاج اليها لدفع الحر او البرد وكآلات الحرفة ، وآثاث المنزل ودواب الركوب وكُتُبُ العلم لاهلها .... وشرط ان يكون النصاب ناميا . والنماء في الشرع هو نوعان : حقيقي وتقديري ، فالحقيقي : الزيادة بالتوالد والتناسل والتجارات . والتقديري : تمكنه من الزيادة بكون المال في يده او يد نائبه فلا زكوة على من لم يتمكن منها في ماله كمال الضمار ... البحر الرائق ۲ : ۲۰۶ كتاب الزكوة . فتاوى فريديه ج۳ ص ۳۶۷ .

(۴) فتاوى فريديه ج۳ ص ۳۶۷ .

قرض دار ته په قرض کې د زکوة پرېښودلو طريقه

که چيرته په يو کس باندې ډېر قرضونه وي ، او دده سره ددې د آداکولو هيڅ مال نه وي ، اوس د مال خاوند (قرض خواه) ده ته دا قرض په زکوة کې پرېښودل غواړي نو ددې دوه (۲) طريقې دي :

اوله طريقه داده چې د مال خاوند (قرض خواه) به د قرض په مقدار روپۍ دې قرض داري ته په زکوة کې ورکړي ، دا قرض داري به يې قبض کړي ، بيا د مال خاوند به ورنه واپس دا روپۍ په زور قرض کې واخلي .

دويمه طريقه داده چې دا قرض داري به د بل چانه روپۍ په قرض راواخلي ، او دا به دې اول قرض خواه ته ورکړي ، دې به دا روپۍ واپس همدې قرض داري ته په زکوة کې ورکړي ، نو په دې دوه طريقو سره ددې قرض داري قرض خلاصيدې شي . (۱)

نوټ : قرض داري ته صرف دا ويل چې '' په تا باندې زما کوم قرض دی هغه ستا په زکوة کې شو '' په دې سره زکوة نه اداکيږي .

د څاروو د زکوة مسئله

څاروي په درې (۳) قِسمه دي :

اول قسم د تجارت دپاره دي . يعنی يو سړې څاروي اخلي او خرڅوي يې . نو ددې حکم دادې چې که ددې قيمت دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو ته رسيده او په دې کال تير شو نو په ده باندې څلويښتمه روپۍ زکوة ورکول لازمي دي .

دويم قِسم بار وړونکي څاروي دي لکه اَسونه ، خرونه ، قچر چې په دې باندې خلق مالونه ديو ځای نه بل ځای ته وړي راوړي . نو ددې حکم دادی چې که دا څاروي هر څومره ډير وي نو په دې کې زکوة نشته ، بلکه زکوة به ددې په آمدنۍ کې وي ، چې ددې په آمدنۍ باندې کال تير شي او نصاب ته رسي نو زکوة به ورکوي .

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله : واداء الدَّين عن العين وعن دَين سيقبض لايجوز . وحيلة الجواز ان يعطي مديونه الفقير زكوته ثم يأخذها عن دَينه .... ردالمحتار ج۲ ص ۱۳ ، البحرالرائق ج۲ ص ۲۴۳ باب المصرف ، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۸۴ .

دریم قِسم هغه څاروي دي چې شُودو (پیو) مَستو او غوړو له یې ساتلي وي ، بچې راوړي او هغه ورنه خرڅوي . نو ددې حکم دادی چې که دې څاروو له ګیاه په روپو راوړي نو په خپله په دې څاروو کې هم زکوة نشته .

او که دا څاروي د کال په اکثره حصه کې په ځنګل کې څرېږي نو بیا په دې څاروو کې زکوة شته ، چې د اُوښانو ، ګډو چیلو او غواګانو ځانله ځانله نصاب مقرر دی د هغې موافق به ورنه زکوة اوباسي .

(**نوټ** : ددې څاروو پوره نصاب په تفصیل سره بیانول ډیر اُوږد دی ، که ضرورت وُ نو بیا د علماؤ نه پوښتنه وکړئ) .

څاته چې زکوة ورکول جائز دي د هغو خلقو بيان

زکوة هر مسلمان غريب او فقير ته ورکولې شي خو چې سيّد نه وي، دغه رنګې يتيمانو، کونډو او غريبو طالب علمانو ته هم زکوة ورکولې شي. البته د اصولو، فروعو او ښځې، خاوند نه علاوه نورو غريبو خپلوانو ته په زکوة ورکولو کې اجر زيات دی، ځکه د دوی حق مخکې دی. (۱)

د دې خلقو څه تفصيل درته بيانوم:

غريب ورور او خور ته زکوة ورکولې شي

اصولو او فروعو، دغه شان د ښځې او خاوند نه علاوه نورو ټولو غريبو خپلوانو ته زکوة ورکولې شي خو چې صاحب د نصاب يعنی مالداره او سيّد نه وي، او دوی ته په زکوة ورکولو کې د صله رحمۍ رعايت هم دی. لهذا غريب ورور او خور ته زکوة ورکول جائز دي. (۲)

---

(۱) مصرف الزكوة والعشر هو فقير ومسكين .. الى قوله ولاالى من بينهما ولاد او بينهما زوجية، ولا الى بني هاشم. الدرالمختار على الرد ج۲ ص ۳۳۹، باب المصرف، عالمكيري ج۱ ص ۱۷۸، ۱۸۹ الباب السابع في المصارف، مجمع الانهر ج۱ ص ۳۲۴، ۳۳۱ باب في بيان احكام المصرف، فتاوی محموديه ج۱۴ ص ۱۷۸.

(۲) قال ابن عابدين: وقيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب كالاخوة، والاعمام، والاخوال الفقراء بل هم اولى لانه صلة وصدقة. ردالمحتار ج۲ ص ۳۴۶ باب المصرف. وقال زين الدين ابن نجيم رحمه الله: وقيد باصله وفرعه لانّ من سواهم من القرابة يجوز الدفع لهم وهو اولى لما فيه من الصلّة مع الصدقة كالاخوة والاخواة والاعمام والعمات والاخوال والخالات الفقراء ... البحرالرائق ج۲ ص ۲۴۳ باب المصرف، ومثله في الهندية ج۱ ص ۱۹۰ باب المصرف، فتاوی حقانيه ج۴ ص ۵۱. / والافضل في الزكاة والفطر والنذور الصرف اوّلاً الى الاخوة والاخوات ثم الى اولادهم ثم الى الاعمام والعمات ثم الى اولادهم، ثم الى الاخوال والخالات ... الهنديه ج۱ ص ۱۹۰ الباب السابع في المصارف، فتح القدير ص ۲۸۰ قبيل باب صدقة الفطر، مجمع الانهر ۱/ ۲۳۳ قبيل باب صدقة الفطر، شامي زكريا ج۳ ص ۳۴ باب المصرف مطلب في الحوائج الاصلية، فتاوی محموديه ج۱۴ ص ۱۷۷، ۲۱۲. / قوله والافضل صرفها للاقرب فالاقرب ... قال في النهر والاول صرفها الى اخوته الفقراء ثم اولادهم. ثم اعمامه الفقراء. طحطاوي على المراقي ص ۵۹۴ باب المصرف، شامي ج۲ ص ۳۵۴ باب المصرف، زيلعي ج۱ ص ۳۰۵ باب المصرف، فتاوی محموديه ج۱۴ ص ۲۱۳. / والافضل في الزكوة ..... الصرف اوّلا الى الاخوة والاخوات. عالمكيري ج۱ ص ۱۹۰.

خپلې ننګور (د ځوي ښځې) ته زكوة وركول جائز دي

كه د يو سړي سره خپله ننګور (د ځوي ښځه) يو ځاى په كور كې اوسيږي او ورنه جدا هم نه وي خو دا غريبه وي نو دې ننګور ته زكوة وركول جائز دي، اګرچې د دې فائده بيا هم د دې سړي خپل كورته راځي خو شريعت دا جائز كړي. (۱)

ځوم ته زكوة وركول جائز دي

په خپلوانو كې زكوة صرف اصولو او فروعو ته نشي وركولى، د غه شان ښځه او خاوند يې يو بل ته نشي وركولى، د دينه علاوه نور هر رِشته دار ته زكوة وركول جائز دي خو چې غريب وي او سيّد نه وي. بلكه د نورو په نسبت خپلو خپلوانو ته زكوة وركول ډير اجر لري، ځكه په دې كې د صله رحمى لحاظ ساتل هم دي. (۲)

اهلِ علم د زكوة زيات مستحق دي

د ديني مدارسو طلباء او علماء د علم په حصول او خوَرولو كې مصروفه وي، او دُنيوي كارونو ته نه اُوزګاريږي، لهذا كه دوى صاحب د نصاب نه وي يعنى محتاج او فقير وي نو دوى ته زكوة يا نور صدقات وركول ډير بهتر دي. په فتاوى هنديه كې ذكر دي:

اَلتَّصَدُّقُ عَلَى الفَقِيْرِ العَالِمِ اَفْضَلُ مِنَ التَّصَدُّقِ عَلَى الجَاهِلِ. (۳)

فقير عالِم ته صدقه وركول د جاهل فقير ته د صدقې وركولو نه ډير بهتر دي.

---

(۱) ويجوز دفعها لزوجة أبيه وإبنه و زوج إبنته. شامي ج۳ ص۲۹۳ باب المصرف تحت قوله والى من بينهما ولاد، تاتارخانيه ج۲ ص۲۷۳ الفصل الثامن من توضع الزكوة، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۲۱۱، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۶۳.

(۲) ويجوز دفعها لزوجة أبيه وإبنه و زوج إبنته. شامي ج۳ ص۲۹۳ باب المصرف تحت قوله والى من بينهما ولاد، تاتارخانيه ج۲ ص۲۷۳ الفصل الثامن من توضع الزكوة، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۲۱۱، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۶۲.

(۳) الفتاوى الهندية ج۱ ص۱۸۷ الباب السابع فى المصارف، ومثله فى الطحطاوي حاشيه مراقى الفلاح ص ۳۹۴ باب المصرف، ومثله فى البحر الرايق ج۲ ص ۲۵۰ قبيل باب صدقة الفطر، الدر المختار على الشامي ج۳ ص ۳۰۴ باب المصرف، مطلب في الحوايج الاصلية، سكب الانهر على مجمع الانهر ج۱ ص ۲۲۳ قبيل باب صدقة الفطر، فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۵۴.

قال ابن عابدين رحمه الله عن القهستاني: قوله افضل اى من الجاهل الفقير. الدرالمختار على هامش رد المحتار ج۲ ص ۶۹ كتاب الزكوة باب المصرف.

مالدار طالب العلم ته د زکوة ورکولو مسئله

کوم طالبُ العلم سره چې په کور کې ډير مال و دولت وي يعنی صاحب د نصاب وي خو دلته ورسره په دې سفر کې د نصاب په مقدار مال نشته نو داسې طالب ته زکوة ورکول جائز دي. (۱)

البته که دده سره په دې سفري حالت کې هم د نصاب مقدار مال وُ نو دده ته بيا زکوة ورکول صحيح نه دي. (۲)

د مالداره کس غريب پلار ته زکوة ورکول جائز دي

که چيرته يو سړي په خپله غريب وي او مستحق د زکوة وي نو دده ته زکوة ورکول جائز دي اګر چې ددې کس زامن مالدار وي، که دا ددې زامنو سره يو ځای اوسيږي يا جدا، خو په هر حال دده ته زکوة ورکول جائز دي، ځکه د ځوي په مالدارۍ سره پلار نه مالداره کيږي. (۳)

د مالدار سړي بالغ فقير ځوي ته زکوة ورکول جائز دي

که چيرته يو سړې مالدار يعنی صاحب د نصاب وي، او دده بالغ بچي فقيران وي، نو دې فقيرانو بچو ته زکوة ورکول جائز دي، ځکه د پلار په مالدارۍ سره د بچي په حالت څه اثر نه غورځي. البته ددې مالداره کس نابالغه بچو ته زکوة ورکول صحيح نه دي، ځکه نابالغه بچي د پلار تابع وي، او د دوی ټول ضروريات په پلار باندې لازم دي. (۴)

---

(۱) قال ابن عابدين رحمه الله: وابن السبيل اذا كان له في وطنه مال بمنزلة الفقير. رد المحتار ج ۲ ص ۳۴۳ باب المصرف، وابن السبيل من كان له مال في وطنه وهو في مكان لاشيء له فيه. الهداية ج۱ ص ۱۸۷ باب المصرف، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۵۷.

(۲) قال علي ابن ابي بكر المرغيناني رحمه الله: ولايجوز دفع الزكوة الى من يملك نصاباً من اي مال كان لان الغنى الشرعي مقدر به. الهداية ج۱ ص ۱۸۹ باب المصرف، فتاوى حقانيه ج۴ ص ۵۷.

(۳) وفي الهندية: ويجوز صرفها الى الاب المعسر وان كان ابنه موسرا. كذا في شرح الطحاوي. فتاوى عالمگيرية ۱: ۱۸۹ الباب السابع في المصارف، فتاوى حقانيه ج۳ ص ۳۷۴.

(۴)

چاته چې زکوة نشي ورکولې د هغوی بيان

کومو خلقو ته چې فرضي زکوة ورکول ناجائز دي د هغوی تفصيل دا دی :

اصولو او فروعو ته زکوة نشي ورکولی

که چیرته د يو سړي مور او پلار غريب وي او دده نه جدا او سيږي خو بيا هم دوی ته فرضي زکوة نشي ورکولی (البته نور احسانات ورسره کولې شي) . يعنی خپلو اصولو (پلار ، نيکه ، غورنيکه ، او داسې پورته . او مور ، نيا او همداسې پورته) او خپلو فروعو (يعنی زامنو ، نمسو ، کړوسو او همداسې بنکته سلسله) دوی ته زکوة ورکول نا جائز دي . (۱)

البته که دوی حاجتمند وو نو د دوی نفقه په مالدار بچي واجب ده (۲)

همدغه شان دصله رحمی په وجه ورسره نور امداد کولې شی . (۳)

نوټ : ناسکه مور (کومه چې دده خپله مور نه وي) چې غريبه وي او سيّده نه وي نو ديته زکوة ورکول جائز دي . (۴)

---

(۱) قال علي ابن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : ولايدفع المزكي زكوة ماله الى أبيه وجده وان علا . ولا الى ولده . وولد ولده وان سفل . الهدايه ج۱ ص ۲۰۶ باب المصارف ./ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : ولا الى من بينهما ولاد .... اى اصله وان علا كأبويه وأجداده وجدّاته من قبلهما . وفروعه وإن سفل . رد المحتار ج۲ ص ۲۴۳ باب المصرف ، ومثله في البحر الرايق ج۲ ص ۶۴۳ باب المصرف . فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۴۹ .

(۲) قال ويجبر الولدُ الموسر على نفقة الابوين المعسرين مسلمين كانا او ذميين قدر على الكسب او لم يقدر . عالمكيري ج۱ ص ۵۶۴ باب النفقة الفصل الخامس في نفقة ذوى الارحام ، خانية على الهندية ج۱ ص ۴۴۷ باب النفقة فصل في نفقة الوالدين وذوى الارحام ، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۲۱۴ .

(۳) و قيّد بالصدقة الواجبة لانّ صدقة التطوع الاولى دفعها الى الاصول والفروع . كذا في البدائع ، بحر ج۲ ص ۲۴۴ باب المصرف ، شامي زكريا ج۳ ص ۲۹۳ باب المصرف ، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۲۱۵ .

(۴) ويجوز دفعها لزوجة أبيه . شامي زكريا ج۳ ص ۲۹۳ باب المصرف ، تاتارخانيه ج۲ ص ۲۷۳ الفصل الثامن من لوضع الزكاة مطبوعه كراچي . فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۲۱۷ .

خاوند ښځې ته ، او ښځه خاوند ته زکوة نشي ورکولی

ښځه او خاوند دواړه يو بل ته زکوة نشي ورکولی . (۱)

سيّد ته زکوة نشي ورکولی

سيّد يعنی هاشمي ته زکوة ورکول صحيح نه دي . (۲)

نابالغ ته د زکوة ورکولو مسئله

کوم ماشوم چې دومره وړوکی وي چې په هيڅ شي نه پوهيږي نو ده ته زکوة ورکول صحيح نه دي ، البته که دا ماشوم مُراهِق ؤ (يعنی قريبُ البلوغ ؤ) څه نا څه پوهه ؤ ، او غريب ؤ نو ده ته زکوة ورکول جائز دي ، ځکه د زکوة قبض کولو د پاره دا ضروري نه ده چې ګني قبض کوونکې دې خامخا بالغ وي ، بلکه که ماشوم مراهِق وي نو ده ته هم زکوة ورکولی شی . (۳)

---

(۱) قال علي ابن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : ولا إلى إمرأته للاشتراک فی المنافع عادةً . ولاتدفع المرأة الى زوجها عند ابي حنيفة رحمه الله . الهداية ج۱ ص ۱۸۸ باب المصارف ./ قال علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله : ولا إلى مَن بينهما ولاد ولو مملوكاً لفقير . او بينهما زوجيّة ... الدرالمختار على صدر رد المحتار ج۲ ص ۳۴۶ باب المصرف ، ومثله فی الهندية ج۱ ص ۱۸۹ باب المصرف ، فتاوی حقانيه ج۴ ص ۵۸ .

(۲) او هاشمي : ای لا يجوز دفعها إلى بني هاشم لقوله عليه السلام إنّ هذه الصدقات انّما أوساخ النّاس وانّها لاتحلّ لمحمّدٍ ولا لآلِ محمّد . رواه مسلم . وقال عليه الصلوة والسلام : نحن اهل بيت لاتحلّ لنا الصدقة . رواه البخاري . زيلعي ج۱ ص ۳۰۳ باب المصرف ، البحرالرائق ج۲ ص ۲۴۶ باب المصرف ، مجمع الانهر ج۱ ص ۳۳۱ باب فی بيان احكام المصرف ، فتاوی محموديه ج۱۴ ص ۱۸۷ . مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په بهشتي زيور کې ليکي چې : د حضرت فاطمې رضی الله عنها اولاد ، د حضرت علي ، د حضرت جعفر ، حضرت عقيل ، او حضرت حارث بن عبدالمطلب رضي الله عنهم د دوی اولاد ته هم زکوة ورکول صحيح نه دي ، البته نور خيرات ورکولې شی . د جنت کالي دريمه حصه کومو خلقو ته چې زکوة ورکولې شی د هغوی بيان مسئله نمبر ۱۴ .

(۳) وفي الهندية : ولو قبض الصغير وهو مراهق جاز ، وكذا لو كانَ يعقل القبض بأنْ كان لا يرمي به ، ولا يخدع عنه . ولو دفع الى فقير معتوه جاز . الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۰ باب المصرف ، ومثله فی فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۲۸ فصل فيمن يوضع فيه الزكوة . قال علاؤ الدين الحصكفي رحمه الله : / ودفع الزكوة الى صبيان اقاربه برسم عيد او الى مبشر او مهدي الباكور جاز . وقال ابن عابدين رحمه الله في تشريح قوله (الى صبيان اقاربه) ای العقلاء . والا فلا يصح الا بدفع الى ولى الصغير . الدر المختار على صدر رد المحتار ج۲ ص ۳۵۶ باب المصرف ، فتاوی حقانيه ج۴ ص ۵۴ كتاب الزكوة .

نوټ : نابالغه ماشوم په غريبي او مالدارۍ کې د پلار تابع وي لهذا که ددې ماشوم پلار مالدار وُ نو بيا دې نابالغه (مراهِق) ماشوم له هم زکوة نشي ورکولی.

خلاصه : خلاصه دا چې اصولو (مور پلار، نيا او نياګۍ او همداسې په پورته سلسله) او فروعو (زامنو، لورانو، نمسو، کړوسو او همداسې په ښکته تړوله سلسله) او ښځه او خاوند په خپل مينځ کې يو بل ته، سيّد، او صاحبِ نصاب ته زکوة ورکول ناجائز دي، او ددينه علاوه نورو فقيرانو ته زکوة ورکول جائز دي. (۱)

د زکوة نه ورکوونکي حکم

کله چې په يو چا باندې زکوة فرض شي، که هغه د سرو زرو، يا سپينو زرو يا نغدو روپو وي، او يا عُشر وي او دې زکوة ورکول ضروري نه ګڼي، بلکه د زکوة نه بالکل انکار کوي نو دا سړی خو قطعي مُرتَد او کافِر دی، دده سره هغه معامله په کار ده کومه چې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د زکوة نه منکرينو سره کړې وه. (۲)

او که دې د زکوة فرضيت مني خو د بُخل او غفلت په وجه زکوة نه او باسي نو داسې کس فاسِق و فاجِر او سخت ګناهګار دی، او داسې کس د پاره په قرآن کريم او احاديثو کې د قبر او حشر سختې سزاګانې بيان شوې.

ځکه زکوة نه ورکول ګناهِ کبيره ده، دغه وجه ده چې علامه ذهبي رحمه الله په خپل کتاب الکبائر کې زکوة نه ورکول د ګناهِ کبيره وُ په لِست کې راوستی.

---

(۱) ولا إلى مَن بينهما ولاد، او بينهما زوجية، ولاالى غني يملک قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلية من أيّ مال، ولاالى بني هاشم. الدر على الرد ج۲ ص ۳۴۶ باب المصرف. / ولايعطي من الزكوة والدًا وان علا. ولا ولدًا وان سفل. وفى الخانية من قبل الذكور والاناث. تاتارخانية ج۲ ص ۲۷۱ الفصل الثامن فى المسايل المتعلقة بمن توضع فيه الزكوة، تبيين الحقائق ص ۳۰۱، ۳۰۳ باب المصرف، مجمع الانهر ج۱ ص ۳۲۹، ۳۳۱ باب في بيان احكام المصرف. فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۱۸۳.

(۲) وأما صفتها: فهي فريضةٌ محكمةٌ يكفر جاحِدُها ويُقتَلُ مانِعُها، هكذا في محيط السرخسي، عالمكيري ج۱ ص ۱۷۰ كتاب الزكوة. فَالدَّلِيلُ على فرضيّتها: الكتابُ والسنّةُ والاجماعُ والمعقولُ... بدائع ج۲ ص ۲. آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۵ ص ۵۹ تخرج شده ايڈيشن.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ﴾

التوبة آيت ۳۴.

د زكوة نه وركوونكي د پاره د دُنيا او آخرت سزاګاني او عذابونه

تاليف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د زكوة نه وركوونكي د پاره سزاګاني او عذابونه :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ . يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ . هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ﴾ . (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكٰوتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيْبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُهُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِيْ بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُوْلُ : أَنَا مَالُكَ ، أَنَا كَنْزُكَ ، ثُمَّ تَلَا ﴿ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .. ﴾ آلآيَةَ . (٢)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

د زكوة فرضيت قطعي دى

محترمو مسلمانانو ! چاته چې الله ﷻ مال و دولت وركړې وي ، دې صاحب د نصاب وي ، او په ده كال تير شي ، نو په ده باندې زكوة وركول فرض دي .

ځكه د زكوة فرضيت قطعي دى ، د كلمه توحيد او لمونځ نه پس دا د اسلام دريم (٣) بُنيادي او اَهم رُكن دى ، تر دې چې د زكوة نه منكِر كافِر دى ، او نه وركوونكې يې فاسِق و فاجر او سخت ګناهګار دى .

---

(١) التوبة آيت ٣٤ ، ٣٥ .

(٢) بخاري ج١ كتاب الزكوة باب إثم مانع الزكوة باب ٨٨٤ ، حديث ١٣٢١ ، و ج ٢ ص ١٠٦ حديث (١٤٠٣) .

دزکوة نه منکرينو خلقو سره جهاد

لکه څرنګې چې لمونځ د اسلام اَهم رکن دی نو همدغه شان زکوة هم د اسلام اَهم رُکن دی، په قرآن کريم کې دوه ديرش (۳۲) ځايه د لمانځه سره يو ځاى د زکوة ذکر راغلی، او ځانله هم په ډيرو ځايونو کې ددې حکم راغلی.

دغه وجه ده چې په لمانځه او زکوة کې يو خاص رابطه او تعلق دی، او په دې کې يو مَنَل او د بل نه اِنکار کول کفر دی.

په احاديثو کې ددې تذکره شته (۱) چې د رسول الله ﷺ د وفات نه پس څه قبائلو (لکه غطفان او بني سُليم وغيره) د زکوة ورکولو نه اِنکار وکړو، اګر چې دوی په ظاهره کلمه ويله، لمونځونه يې کول، خو صرف د زکوة نه يې اِنکار وکړو نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د دوی سره د جهاد اِعلان وکړو، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل:

ته د دوی سره څنګه جهاد کوی؟ حالانکه دوی خو کلمه وايي، (او لمونځونه کوي).

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وفرمايل:

وَاللهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ. فَإِنَّ الزَّكٰوةَ حَقُّ الْمَالِ.

قسَم په الله زه به د هغه چا سره خامخا جهاد کوم څوک چې د لمانځه او زکوة په مينځ کې فرق کوي (يعنی لمونځ مني او زکوة نه مني)، ځکه زکوة د مال حق دی.

حضرت عمر رضي الله عنه چې دا واوريده نو وې فرمايل:

فَوَاللهِ مَا هُوَ إِلَّا رَأَيْتُ أَنَّ اللهَ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ. فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ.

---

(۱) د بخاري شريف حديث دی حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي: لَمَّا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ أَبُوْبَكْرٍ رضي الله عنه وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ. فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ؟ وَقَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" فَمَنْ قَالَهَا فَقَدْ عَصَمَ مِنِّيْ مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ. وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ. فَقَالَ: وَاللهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ. فَإِنَّ الزَّكٰوةَ حَقُّ الْمَالِ. وَاللهِ لَوْ مَنَعُوْنِيْ عَنَاقًا كَانُوْا يُؤَدُّوْنَهَا إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلٰى مَنْعِهَا. قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: فَوَاللهِ مَا هُوَ إِلَّا رَأَيْتُ أَنَّ اللهَ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ. فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ.
بخاري شريف ج۱ کتاب الزکوة باب وجوب الزکوة باب ۸۸۲ حديث ۱۳۱۸. و ج۲ ص ۱۰۵ حديث ۱۳۹۹.

قسَم په الله جل جلاله د دې نه علاوه بله خبره نشته، بلکه زه پوهه شوم چې الله تعالى د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه سينه د (اِلهام په ذريعه) د دې منكرينو سره د جهاد د پاره پرانيستې ده، نو ماته هم يقين او شو چې د دې منكرينِ زكوة سره جهاد كول حق او صحيح دي .

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول

حضرت ابن عباس رضى الله عنهما وايي چې : (په قرآن مجيد كې) درې آيتونه داسې نازل شوي چې په هغې كې دوه شيان هر ځاى اكثريو ځاى ذكر دي نو كه چيرته يو انسان په دې كې يو كار كوي خو بل نه كوي نو هغه اول كار يې هم الله جل جلاله ته قبول نه دى .

اول : الله تعالى فرمايي : ﴿ أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾ . (١)

ترجمه : تاسو تابعداري د الله جل جلاله كوئ او تابعداري د رسول '' محمد '' صلى الله عليه وسلم كوئ .

نو اوس كه څوک د الله تعالى اطاعت كوي خو د پيغمبر عليه السلام اطاعت نه كوي نو دده دغه د الله جل جلاله اطاعت هم قبول نه دى (لكه نن صبا يهود او نصارى الله جل جلاله مني خو زمونږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه مني نو ځكه مسلمانان نه دي ، بلكه كافر دي) .

دويم : الله تعالى فرمايي : ﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ . (٢)

ترجمه : تاسو لمونځ قائموئ او زكوة وركوئ .

اوس كه يو كس لمونځ كوي خو زكوة نه وركوي نو دا لمونځ يې هم الله جل جلاله ته قبول نه دى

دريم : الله تعالى فرمايي :

﴿ أَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ﴾ . (٣)

(اې بنده !) زما شكريه اداء كوه او د خپل مور او پلار شكريه اداء كوه .

نو اوس كه يو كس د الله جل جلاله شكريه اداء كوي خو د خپل مور او پلار شكريه نه اداء كوي نو دغه د الله جل جلاله شكريه اداء كول يې هم قبول نه دي .

---

(١) سورة النساء ٩٥ . سورة النور ٥٤ ، سورة محمد ٣٣ . او د دينه علاوه هم په بې شماره ځايونو كې راغلى .

(٢) سورة البقرة آيت ٤٣ ، ٨٣ ، ١١٠ ، سورة النساء ٧٧ ، سورة النور آيت ٥٦ ، سورة المزمل آيت ٢٠ .

(٣) سورة لقمان آيت ١٤ .

ځکه په دې درې آيتونو کې دا دوه خبرې (اکثره) يو ځای ذکر دي نو يوه عملي کول او بله نه عملي کول، په دې سره دا اوله هم قبوله نه ده، بلکه دا دواړه عملي کول لازمي دي.

لهذا ـ لمانځه سره د مالدار د پاره زکوة ورکول هم لازمي دي. (۱)

د اسلام ټول احکامات عملي کول لازمي دي

نبي عليه السلام فرمايي:

أَرْبَعٌ فَرَضَهُنَّ اللهُ فِي الْإِسْلَامِ. فَمَنْ جَاءَ بِثَلَاثٍ لَمْ يغنِيْنَ عَنْهُ شَيْئًا حَتّٰى يَأْتِيَ بِهِنَّ جَمِيْعًا اَلصَّلٰوةُ، وَالزَّكٰوةُ، وَصِيَامُ رَمَضَانَ، وَحَجُّ الْبَيْتِ. (۲)

(د ايمان نه روستو) څلور (۴) شيان داسې دي چې الله تعالی په اسلام کې فرض کړي دي، پس څوک چې په دې څلورو کې درې (۳) اداء کوي (او د څلورم د فرضيت نه منکر وي) نو دا درې به دده په کار رانشي ترڅو پورې چې ټول اداء نه کړي (يعنی په ټولو باندې ايمان او يقين اونه لري). هغه څلور شيان (د ايمان نه روستو) لمونځ، زکوة، د رمضان روژې او د بيت الله حج کول دي.

معلومه شوه چې د لمونځ، روژې او حج غوندې زکوة هم د اسلام د اَهمو اَرکانو نه دی.

دزکوة نه ورکولو په وجه د لمونځ ثواب هم پوره نه ملاويږي

۱. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما فرمايي:

أُمِرْنَا بِإِقَامِ الصَّلٰوةِ وَإِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ، وَمَنْ لَّمْ يُزَكِّ فَلَا صَلٰوةَ لَهُ. (۳)

مونږ ته د لمانځه قائمولو او زکوة ادا کولو حکم شوی، او څوک چې زکوة نه ورکوي د هغه لمونځ هم قبول نه دی (يعنی د کامل لمانځه ثواب يې نه کيږي).

---

(۱) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: ثَلَاثُ اٰيَاتٍ نُزِلَتْ مَقْرُوْنَةً بِثَلَاثٍ لَا تُقْبَلُ مِنْهَا وَاحِدَةٌ بِغَيْرِ قَرِيْنَتِهَا. (احداها) قوله تعالی: ﴿ أَطِيْعُوا اللهَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ﴾. فَمَنْ أَطَاعَ اللهَ وَلَمْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ. (الثانية) قوله تعالی: ﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ فَمَنْ صَلّٰى وَلَمْ يُزَكِّ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ. (الثالثة) قوله تعالی: ﴿ أَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ﴾ فَمَنْ شَكَرَ اللهَ وَلَمْ يَشْكُرْ لِوَالِدَيْهِ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ. الكبائر للحافظ الذهبي، الكبيرة الثامنة عقوق الوالدين ص ۴۴.

(۲) احمد، وطبراني، فتاوی حقانية ج۴ ص ۱۱۳.

(۳) رواه الطبراني في الكبير باسانيد احدها صحيح، كذا في الترغيب، فتاوی حقانية ج ۴ ص ۱۱۴.

د زكوة نه وركوونكي حُكم

كله چې په يو چا باندې زكوة فرض شي ، كه هغه د سرو زرو ، يا سپينو زرو يا نغدو روپو وي ، او يا عُشر وي، او دې زكوة وركول ضروري نه گڼي ، بلكه د زكوة نه بالكل انكار كوي نو دا سړې خو قطعي مُرتَد او كافِر دى ، د ده سره هغه معامله په كار ده كومه چې حضرت ابوبكر صديق ﷺ د زكوة نه منكرينو سره كړې وه . (۱)

او كه دې د زكوة فرضيت مني خو د بُخل او غفلت په وجه زكوة نه وركوي نو داسې كس فاسِق و فاجِر او سخت گناهگار دى ، او داسې كس د پاره په قرآن كريم او احاديثو كې د قبر او حشر سختې سزاگانې بيان شوي.

ځكه زكوة نه وركول گناهِ كبيره ده ، دغه وجه ده چې علامه ذهبي رحمه الله په خپل كتاب ''الكبائر'' كې زكوة نه وركول د گناهِ كبيره وُ په لِست كې راوستى .

د علامه انورشاه كشميري رحمه الله وينا

علامه انور شاه كشميري رحمه الله په فيض الباري شرح صحيح البخاري كې ليكلي:

إِنَّ الْإِيْمَانَ إِسْمٌ لِالْتِزَامِ كُلِّ الدِّيْنِ . فَمَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ فَكَأَنَّهُ لَمْ يُؤْمِنْ بِالْكُلِّ، وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ بِالْكُلِّ فَهُوَ كَافِرٌ قَطْعًا . (۲)

ايمان نوم دى د پوره دين د اِلتزام او د منلو ، پس څوک چې په لمونځ او زكوة كې فرق كوي (يعنى د يو نه په كې اِنكار كوي) گويا چې ده په پوره دين باندې ايمان نه دې راوړى ، او چا چې په پوره دين باندې ايمان نه وي راوړى هغه سړې قطعي كافِر دى .

(۱) وأما صفتها : فهي فريضةٌ محكمةٌ يكفر جاحِدُها ويُقْتَلُ مانِعُها ، هكذا في محيط السرخسي ، عالمكيري ج۱ ص ۱۷۰ كتاب الزكوة . فَالدَّلِيْلُ على فرضيّتها : الكتابُ والسنّةُ والاجماعُ والمعقولُ ... بدائع ج۲ ص ۲ . آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۵ ص ۵۹ تخرج شده ايڈيشن .

(۲) فيض الباري شرح صحيح البخاري ج۱ ص۱۰۸ .

د زکوة نه ورکولو نقصانات او سزاگاني

کوم کس چې د بُخل، یا سستیا او لاپَرواهۍ د وجې نه د خپل مال نه زکوة نه ورکوي، یا د زمکې نه عُشر نه اُوباسي نو دداسې خلقو د پاره په قرآن مجید او احادیثو کې د قبر، حشر او جهنم داسې سختې سزاگانې ذکر شوي چې د هغې په آوریدو سره د انسان په وجود باندې ویښته اُودریږي، خو لیکن بیا هم د دُنیا په مَحبّت کې ډُوب انسان د غفلت د خُوب نه راپیدار نه شو، او ددې سختو سزاگانو په آوریدو دې بیا هم دې اَهمې فریضې طرف ته متوجّه نه شو

غوارم چې د هغې سزاگانو نه یو څو سزاگانې ستاسو په مخکې ذکر کړم کومې چې د زکوة نه ورکوونکي د پاره مقرر شوي.

۱ . د جهنم سزا

قرآن کریم د زکوة نه ورکوونکو دپاره دا سزا ذکر کړې چې څوک سره زَر او سپین زَر جمع کوي، او ددې نه فرضي زکوة نه اُوباسي نو په قیامت کې به همدغه سره زَر او سپین زر د جهنم په اُور گرمولې شي، او ددې خلقو تَندي، اَړخونه او شاگانې به پرې داغلې شي.

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيْمٍ . يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ . هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ﴾ . (۱)

ترجمه: او څوک چې سره زَر او سپین زَر ذخیره کوي او د الله ﷻ په لاره کې یې نه خرچ کوي (یعنی زکوة ورنه نه اُوباسي) پس (اې پیغمبره!) ته دوی ته د دَرد ناک عذاب زیرې ورکړه، په کومه ورځ چې به دا مال (او خزانې) د جهنم په اُور کې گرمولې شي، بیا به په دې سره د دوی تَندي، د دوی اَړخونه او د دوی شاگانې داغلې شي (او دا به ورته ویلې شي) چې دا هغه خزانې دي چې تاسو د خپل ځان دپاره جمع کړې وې، پس او څکئ تاسو مزه د هغه څه چې تاسو به جمع کول.

(۱) التوبة آیت ۳۴، ۳۵.

تفسير : تفسير مظهري ليکلي چې په دې آيت کې ذکر د تَندو ، اړخونو او شاګانو راغلی خو مراد ورنه ټول بدن دی ، چې ټول بدن ته به د هر اړخ نه داغونه ورکولې شي .
يا دا چې دا مذکوره اعضاء په ټول بدن کې اَشرف د اعضاؤ دي نو ځکه ددې تخصيص اوشو
يا ددې دري (۳) اندامونو تخصيص ددې د وجې اوشو چې کله دا بخيل مالدار څوک فقير زکوة غوښتونکې اوګوري نو اول دې ورته تَندې تريو (تُرش) کړي . يا که فقير دده مجلس ته راشي نو مخ ورنه واړوي ، او هغه ته اړخ کړي . يا که په دې هم کار اونه شي نو دې فقير ته مکمل شا کړي .
نو ځکه په دې آيت کې ددې درې (۳) اندامونو تخصيص اوشو ، چې همدغه سره زَر او سپين زَر به د جهنم په اُور کې ګرمولې شي او د دوی تَندي ، اړخونه او شاګانې به پرې داغلې شي . (۱)

۲ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَامِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلَافِضَّةٍ لَا يُؤَدِّيْ مِنْهَا حَقَّهَا إِلَّا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحُ مِنْ نَارٍ ، فَأُحْمِيَ عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوٰى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِيْنُهُ وَظَهْرُهُ ، كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيْدَتْ لَهُ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ الْعِبَادِ ، فَيَرٰى سَبِيْلَهُ ، إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ ... (۲)

---

(۱) فذكر الجهات كلها . يعني يكوي بها أبدانهم من كل جهة ، وقيل : إنما خص هذه الأعضاء بالذكر لأنهم إذا بصروا الفقير عبسوا ، وإذا ضمهم إياه مجلس أعرضوا عنه وتولوا باركانهم وولوه ظهورهم ، او لأنها أشرف الأعضاء الظاهرة فإنها المشتملة على الأعضاء الرئيسة التي هي الدماغ والقلب والكبد . تفسير مظهري ج۴ ص ۲۰۰ التوبة آيت ۲۵ ، معارف القرآن آيت ۳۵ ، الكبائر ص ۳۷ الكبيرة الخامسة منع الزكوة .

(۲) هذا الحديث اخرجه البخاري في صحيحه في كتاب الزكوة باب اثم مانع الزكوة رقم (۱۴۰۲) ، ومسلم كتاب الزكاة باب اثم مانع الزكوة ۲۲۶۵/۲۴ (۹۸۷) ، والنسائي في كتاب الزكاة باب التغليظ في حبس الزكاة رقم (۲۴۴۲) ، وابو داؤد في سننه في كتاب الزكاة باب في حقوق المال رقم (۱۶۵۸) وابن ماجه في سننه في كتاب الزكاة باب ما جاء في منع الزكاة رقم (۱۷۸۶) ، واحمد في مسنده (۲ : ۲۶۲ ، ۳۸۳) . / په يو روايت کې دا سې الفاظ راغلي : مَامِنْ صَاحِبِ كَنْزٍ لَا يُؤَدِّيْ زَكَاتَهُ إِلَّا أُحْمِيَ عَلَيْهِ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَيُجْعَلُ صَفَائِحَ ، فَيُكْوٰى بِهَا جَنْبَاهُ وَجَبِيْنُهُ حَتّٰى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَ عِبَادِهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ ، ثُمَّ يُرٰى سَبِيْلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ . ومسلم كتاب الزكاة باب اثم مانع الزكوة ۲۲۶۷/۲۶ ، ۲۶ (۹۸۷) .

څوک چې د سرو زَرو او سپينو زَرو مالِک وي ، او دا کس ددينه ددې (مالي) حق (زکوة) نه ادا کوي نو د قيامت په ورځ به ددې سرو زرو او سپينو زرو نه د اُور تختې جوړې کړې شي (يعنى دا پَترې او تَختې خو به د سرو زرو او سپينو زَرو وي خو هغه به په اُور کې دومره گرمې کړې شي گويا چې دا د اُور تختې دي، ځکه نبي ﷺ وړيسې او فرمايل:) او هغه به د جهنم په اُور کې گرمولې شي ، بيا به په دې سره دده اَړخ ، دده تَندې او دده شا داغلې شي ، کله چې دا پَترې يَخ شي نو دوباره به ورته گرمولې شي (۱) ، او بار بار به دده ته دا سزا د قيامت په داسې ورځ کې ورکولې شي چې د هغې مقدار د دُنيا په حساب سره پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله دی . (ده ته به دا سزا همداسې مسلسل ورکولې شي) تر دې چې د خلقو په مينځ کې فيصله اوشي ، بيا به ده ته د جنت يا جهنم لار اُوخودې شي .

(يعنى كه نور گناهونه يې نه وو كړي نو بيا به ددې سزا خوړلو نه روستو جنت ته بوتلې شي ، او كه نور گناهونه يې هم كړي وو نو بيا به جهنم ته بوتلې شي . (۲))

۲ . همدا مال و دولت به ورته دغاړې طوق کړې شي

كوم كس چې فرضي زكوة نه وركوي ، او بُخل كوي نو د قيامت په ورځ به د همدې مال نه يو زهر جَن گنجې مار جوړ كړې شي او ده ته به په غاړه كې وَر واچولې شي چې دې به چيچي

۱ . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ اٰتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴾ . (۳)

---

(۱) كُلَّمَا بَرَدَتْ . قال الطيبي : اى كلما بردت رُدّت إلى نار جهنم ليحمى عليها ، والمراد منه الاستمرار . وقال ابن الملك : يعنى إذا وصل كيُّ هذه الأعضاء مِن أوّلها إلى آخرها أعيد الكيُّ إلى أوّلها حتى وصل الى آخرها .. ويمكن أنْ يكون الضمير في " رُدّتْ " راجعًا إلى الأعضاء ، اى كلما ردّت الأعضاء بالتبديل بعد الإحراق والقرب من الفناء أعيدت الصفائح عليها ، فيكون موافقًا لقوله تعالى : ﴿ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ . سورة النساء الآية ۵٦ ﴾ فتح الملهم ج۵ ص ۳۴ كتاب الزكاة .

(۲) مظاهر حق ج۳ ص ۲٦۲ كتاب الزكاة .

(۳) آل عمران آيت ۱۸۰ .

ترجمه : او چاته چې الله ﷻ په خپل فضل سره مال ورکړی وي ، او دوی په کې بُخل کوي (يعنی فرضي زکوة نه ورکوي) نو دوی دې هرګز دا خيال نه کوي چې ګني دا بُخل د دوی د پاره ښه دی ، بلکه دا بُخل د دوی د پاره ډير بَد دی ، ډير زر به د قيامت په ورځ دغه مال په کوم چې دوی بُخل کړی وُ دوی ته به طوق ورواچولې شي (يعنی همدغه مال به يې د غاړې تيزندې کړې شي ، او زهرجَن ګنجې مار به ورنه جوړ کړې شي ، دده په غاړه کې به وَرواچولې شي چې دې به چيچي (۱))

۲ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ اٰتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكٰوتَهُ مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيْبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُهُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِيْ بِشِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُوْلُ : أَنَا مَالُكَ .أَنَا كَنْزُكَ . ثُمَّ تَلَا ﴿ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .. ﴾ آلآيَةَ . (۲)

چاته چې الله ﷻ مال ورکړی وي ، او دا ددې مال نه زکوة ادا نه کړي نو دده ددې مال نه به د قيامت په ورځ يو زهرجَن ګنجې مار جوړ کړې شي (چې د ډير و زهر و د وجې به يې په سَر ويښتان هم نه وي) ، ددې مار په سترګو کې به دوه تور ټاکي وي (لکه څرنګې چې دا د زهرجنو مارانو په سترګو کې وي (۳)) ، او دا مار به دده په غاړه کې د طوق په طور وَرواچولې شي ، بيا به دا مار ددې سرې دواړه وَښکي اُونيسي (چيچي به يې) او ورته وايي به : ''زه ستا خزانه يم (د کومې نه به چې تا زکوة نه ورکولو) ''. ددې نه پس نبي عليه السلام (ددې په تائيد کې) دا آيت اولوستو : وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ ...

---

(۱) وفي معنی تطويقهم به اربعة اقوال : احدها : أنه يُجعل کالحيّة يُطوّق بها الانسان . . . وهذا مذهب ابن مسعود . ومقاتل . والثاني : أنه يُجعل طوقًا من نار . رواه منصور عن مجاهد ، وابراهيم . والثالث : أن معنی تطويقهم به : تکليفُهُم أن يأتوا به . رواه ابن ابي نجيح عن مجاهد . والرابع : أن معناه : يُلزمُ أعناقَهم إثمُهُ . قاله ابن قتيبة . زاد المسير ج۱ ص ۳۵۳ آل عمران آيت ۱۸۰ .

(۲) بخاري ج۱ کتاب الزکاة باب إثم مانع الزکوة باب ۸۸۴ ، حديث ۱۳۲۱ .

(۳) الزّبيبتان : هما الزبدتان في الشدقين . وقيل : هما النكتتان السوداوان فوق عينيه . نزهة الناظرين ص ۱۹۶ الباب الثالث في التشديد على تارک الزکاة .

ترجمه: کومو خلقو ته چې الله ﷻ په خپل فضل سره مال ورکړې وي او په هغې کې بُخل کوي (يعنی زکوة ترې نه اُوباسي) نو هغوی دې دا ګمان نه کوي چې ګني دا بُخل د دوی د پاره ښه دی، بلکه دا بُخل د دوی په حق کې ډير بد دی، ډير زر به د قيامت په ورځ د غه مال په کوم کې چې دوی بخل کړی دا به د دوی ته طوق واچولې شي.

۳. د مشکوة شريف حديث دی، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

يَكُونُ كَنْزُ أَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ يَفِرُّ مِنْهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يَطْلُبُهُ حَتَّى يُلْقِمَهُ أَصَابِعَهُ. (۱)

ستاسو خزانې (د کومو نه چې زکوة نه وي ويستلې شوی هغه) به د قيامت په ورځ د ګنجي مار په صورت وي، مالِک به د هغې نه تختي او هغه به د ده په پسې شاته روان وي، دې به طلب کوي، تردې چې هغه مار به دا مالِک رالاندې کړي، او د هغه ګوتې به لقمه (نوړی) کړي. (يعنی ددې مالک ګوتي به اُوخوري).

۳. د زکوة نه ورکولو په وجه ټول مال هلاک او بې برکته کيږي

د زکوة نه اداء کولو يو نقصان دادی چې په کوم مال کې زکوة واجب شوې وي، او دا واجب شوې حصه زکوة د دې مال نه او نه ويستل شي، بلکه د نور حلال مال سره يو ځای شي نو په دې سره دا نور حلال مال هم هلاکيږي او بې برکته کيږي.

همدا مضمون رسول الله ﷺ په دې الفاظو بيان کړی چې:

مَا خَالَطَتِ الزَّكٰوةُ مَالًا قَطُّ إِلَّا أَهْلَكَتْهُ. (۲)

---

(۱) رواه احمد، مشکوة کتاب الزکاة الفصل الثالث حديث ۲۰. په مسلم شريف کې دا حديث داسې نقل دی، نبي عليه السلام فرمايي: وَلَا مِنْ صَاحِبِ مَالٍ لَا يُؤَدِّي زَكَاتَهُ إِلَّا تَحَوَّلَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ. يَتْبَعُ صَاحِبَهُ حَيْثُمَا ذَهَبَ. وَهُوَ يَفِرُّ مِنْهُ. وَيُقَالُ: هٰذَا مَالُكَ الَّذِي كُنْتَ تَبْخَلُ بِهِ. فَإِذَا رَأَى أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْهُ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي فِيهِ. فَجَعَلَ يَقْضَمُهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ. مسلم کتاب الزکوة باب اثم مانع الزکوة ۲۲۷۲/۲۸.

(۲) رواه الشافعي والبخاري في تاريخه والحُميديّ، مشکوة کتاب الزکوة الفصل الثالث حديث ۲۲، الترغيب والترهيب کتاب الصدقات (۱۸/ ۵۲٦).

د چا په مال کې چې د زکوة مال يو ځای شي (يعنی کوم زکوة چې نه وي ويستل شوی دا د نور مال سره يو ځای شي) نو دا دا نور حلال مال هم هلاکوي.

امام حُميدي رحمه الله ذکر کري چې امام بخاري رحمه الله د دې حديث مطلب دا بيانوي

يَكُوْنُ قَدْ وَجَبَ عَلَيْكَ صَدَقَةٌ فَلَا تُخْرِجُهَا فَيُهْلِكَ الْحَرَامُ الْحَلَالَ . (۱)

کله چې په تا باندې زکوة واجب شي او ته دا زکوة او نه باسی ، بلکه د نور حلال مال سره يو ځای شي نو دغه حرام مال (يعنی کوم زکوة چې تا نه دی ويستلی) ستا حلال مال هلاکوي

د باغ د مالکانو واقعه

کله چې سړي زکوة او صدقه نه ورکوي نو بيا الله ﷻ د ده مال هم هلاکوي او بې برکته يې کړځوي ، لکه په قرآن مجيد کې هم په همدې مناسبت يوې واقعې ته اشاره شوی کومه چې د باغ په مالِکانو باندې د دوی د بُخل او کنجوسی په وجه راغلې وه ، او الله تعالی د دوی غونډ مال ختم کړې وُ ، الله رب العزت د دې تذکره په دې آيتونو کې کړی :

﴿ إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ... ﴾ . (۲)

دا واقعه قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په تفسير مظهري کې او نورو مفسرينو په خپلو تفسيرونو کې رانقل کړی :

حضرت عبدالله بن عباس ﷄ فرمايي : چې په يمن کې يو نيک سړې وُ ، د هغه يو باغ وُ "صروان" نوم يې وُ ، کوم چې د صنعاء ښار نه د دوه فرسخه په فاصله کې وُ ، د دې نيک سړي دا طريقه وه چې د فصل ريبلو په وخت به د لور (په کوم سره چې فصل ريبلې شي) د څلې نه څه پاتې شو هغه به يې د فقيرانو او مسکينانو د پاره پريښودل ، او دې فقيرانو به د هغې نه د خپلې ګزارې د پاره غله حاصلوله .

دغه شان د غلې بادولو په وخت به چې د غنمو کومې دانې د بُوسو سره آلوتې وی هغه به يې هم د فقيرانو د پاره پريښودی .

---

(۱) مشکوة کتاب الزکوة الفصل الثالث في ضمن حديث ۲۲ .

(۲) القلم آيت ۱۷ .

دغه شان د باغ د میوو شوکولو په وخت به چې کومې میوې لاندې را اُوغورځیدې هغه به یې هم فقیرانو ته پریښودې (یعنې د کو ، غوبل او میوو شوکولو په وخت به ورته ډیر فقیران او مسکینان راجمع کیده ، او دوی به ورسره امداد کولو).

خو کله چې دا نیک بنده مړ شو ، او دده درې (۳) زامن وارثان پاتې شو ، نو هغوی په خپل مینځ کې یو بل ته وویل چې : " اوس خو زمونږ بال بچ زیات دی او پیداوار کم دی نو ځکه فقیرانو او مسکینانو ته څه نه شو پریښودی " (په ځنو روایاتو کې راځي چې دې زامنو یې داسې وویل : " زمونږ پلار خو بې وقوف وُ چې هسې یې فقیرانو ته دومره غله پریښوده ، مونږ له دغه طریقه بندول په کار دي ").

الله ﷻ د دوی واقعه داسې بیانوي :

﴿ إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ . وَلَا يَسْتَثْنُونَ . (۱)

ترجمه : هر کله چې دوی قسمونه وکړه په خپل مینځ کې ، چې دا ځل به دوی ضرور سهر وختي ددې باغ میوې پریکوي (ددې د پاره چې مسکینان رانه دې را خبر نه شي) ، او (په دې خپله منصوبه دومره ټینګ ولاړ وو چې) دوی انشاء الله هم او نه ویله .

﴿ فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ . فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴾ . (۲)

ترجمه : پس ستا درب د طرفه په دې باغ باندې یو ګرځیدونکې (عذاب ، یعنی اُور) وګرځیده ، او دوی اُوده وو ، پس د دوی باغ داسې شو لکه د ریبلي شوي فصل په شان (یعنی ټول فصل یې توري ایرې شو ، او مکمل ختم شو).

﴿ فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ . أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴾ . (۳)

ترجمه : نو دوی د صبا په وخت (وختي) یو بل ته آواز وکړو چې که چیرته تاسو میوه راټولوونکي یئ نو سهر وختي خپل پټي ته لاړ شئ .

---

(۱) القلم آیت ۱۷ ، ۱۸ .

(۲) القلم آیت ۱۹ ، ۲۰ .

(۳) القلم آیت ۲۱ ، ۲۲ .

﴿ فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ . أَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِّسْكِيْنٌ . وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قَادِرِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : پس دوی روان شو ، او د یو بل سره یې پټې خبرې کولې چې (ګورئ) نن د تاسو نه هیڅ یو مسکین دې باغ ته داخل نه شي (او دا پټې خبرې یې ددې د پاره کولې چې څوک راباندې خبر نه شي ، او راپسې رانشي) ، او دوی ډیر په اهتمام سره سهر وختي راورسیده ، او دوی په خپل تدبیر او قوت سره په دې قادر وو (چې نن به فقیران څه نه وړي) .

﴿ فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوْا إِنَّا لَضَآلُّوْنَ . بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : پس هر کله چې دوی دا (هلاک شوی) باغ ولیده (چې هلته هیڅ شی نه وُ پاتې) نو وې ویل : بیشکه مونږ لاره هیره کړی ، (خو کله یې چې خواوُ شا حدودو ته اُوکته نو وې ویل :) بلکه (یقیني خبره داده چې) مونږ ددې نعمت نه محرومه کړې شوي یو (او بَد نصیبه یو) .

﴿ قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : په دوی کې مینځنی ورور (کوم چې د پلار په شان نیک کس وُ) وویل : آیا ما تاسو ته دا نه وو ویلي چې تاسو د الله ﷻ پاکي ولې نه بیانوئ ؟ (او فقیران مه منع کوئ)

﴿ قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَالِمِيْنَ . فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ . قَالُوْا يَا وَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا طٰغِيْنَ . عَسٰى رَبُّنَآ أَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ إِنَّآ إِلٰى رَبِّنَا رَاغِبُوْنَ ﴾ . (۴)

ترجمه : بیا دوی وویل : بیشکه زمونږ رب پاک دی ، بیشکه همدا مونږ ظالمان وو (چې د فقیر بَرخه خوړل مو غوښته) ، بیا دوی یو بل ته رامخامخ شو چې یو بل یې ملامته کول (چې دا فقیران منع کول ستا غلطه رایه وه ، نو ځکه عذاب راغلو ، ددې اِلزام تراشۍ نه روستو دوی غور وکړو ، او ټولو اِقرار وکړو چې دا غلطي زمونږ د ټولو ده ، نو توبه یې

---

(۱) القلم آیت ۲۳ تا ۲۵ .

(۲) القلم آیت ۲۶ ، ۲۷ .

(۳) القلم آیت ۲۸.

(۴) القلم آیت ۲۹ تا ۳۲ .

أوويسته ، او د الله ﷻ نه يې اميد شروع کړو ، او) دوی وويل : های افسوس (هلاکت) دی زمونږ د پاره ، بيشکه همدا مونږ د حَد نه تيريدونکي وو ، اميد دی چې زمونږ رب مونږ ته ددينه بهترين باغ راکړي ، بيشکه مونږ خپل رب ته رجوع کوونکي يو .

امام بغوي رحمه الله وايي چې حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چې ماته دا خبره رارسيدلې چې : کله دوی په اِخلاص توبه وويسته نو الله ﷻ دوی ته ددې په بدله کې داسې باغ ورکړو چې د هغې د اَنګورو غونچې دومره لوي وی چې يوه غُنچه به په يوه قچر باروله شوه .(۱)

فايده : ددې واقعې نه دا معلومه شوه چې څوک هم بُخل کوي ، مالي حقوق نه ادا کوي، او د مسکينانو لحاظ نه ساتي نو الله تعالی دده په مال هلاکت راولي .

تفسير قرطبي رحمه الله ليکي :

لِأَنَّ الْعُقُوْبَةَ كَانَتْ بِسَبَبِ مَا أَرَادُوْهُ مِنْ مَنْعِ الْمَسَاكِيْنِ كَمَا ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى .(۲)

دا عذاب ورباندې ددې وجې نه راغلی وُ چې دوی د مسکينانو منع کولو اِراده کړې وه . لکه دا خبره الله رب العزت هم په خپله ذکر کړی .

۴ . د زکوة نه ادا کولو په وجه په قحط سالۍ کې مبتلاء کيدل

کوم خلق او قوم چې زکوة نه ورکوي نو په داسې خلقو باندې الله ﷻ قحط سالي راولي ، او بارانونه پرې بندوي .

۱. نبي عليه السلام فرمايي :

مَا مَنَعَ قَوْمٌ الزَّكٰوةَ إِلَّا ابْتَلَاهُمُ اللهُ بِالسِّنِيْنَ .(۳)

---

(۱) تفسير مظهري ج۱۰ ص ۳٦ القلم آيت ۱۷ تا ۳۲ ، معارف القرآن سورة قلم آيت ۱۷ .

(۲) قرطبي جز ۱۸ ص ۲۱۰ القلم آيت ۱۷.

(۳) رواه الطبراني في الاوسط ، ورواته ثقات ، والحاكم والبيهقي في حديث إلا انهما قالا : وَلَا مَنَعَ قَوْمٌ الزَّكَاةَ إِلَّا حَبَسَ اللهُ عَنْهُمُ الْقَطْرَ . وقال الحاكم صحيح على شرط مسلم . المستدرک على الصحيحين ۲۵۷۷ . الترغيب والترهيب ج۱ کتاب الصدقا حديث (۵۲۷/۲۰) . کوم قوم چې زکوة ورکول بند کړي نو الله ﷻ په دوی باندې باران بند کړي .

كوم قوم چې زكوة ورکول بند کړي نو الله تعالى دغه قوم په قحط سالى کې مبتلاء کوي.

٢. په يو حديث کې نبي ﷺ څه تفصيل ذكر كړى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم مهاجرينو ته وفرمايل :

يَا مَعْشَرَ الْمُهَاجِرِينَ خِصَالٌ خَمْسٌ إِنِ ابْتُلِيتُمْ بِهِنَّ وَنَزَلْنَ بِكُمْ أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ تُدْرِكُوهُنَّ: لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِي قَوْمٍ قَطُّ حَتَّى يُعْلِنُوا بِهَا إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الْأَوْجَاعُ الَّتِي لَمْ تَكُنْ فِي أَسْلَافِهِمْ. وَلَمْ يَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا أُخِذُوا بِالسِّنِينَ وَشِدَّةِ الْمَئُونَةِ وَجَوْرِ السُّلْطَانِ. وَلَمْ يَمْنَعُوا زَكَاةَ أَمْوَالِهِمْ إِلَّا مُنِعُوا الْقَطْرَ مِنَ السَّمَاءِ، وَلَوْلَا الْبَهَائِمُ لَمْ يُمْطَرُوا، وَلَا نَقَضُوا عَهْدَ اللهِ وَعَهْدَ رَسُولِهِ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوٌّ مِنْ غَيْرِهِمْ فَيَأْخُذُ بَعْضَ مَا فِي أَيْدِيهِمْ. وَمَا لَمْ تَحْكُمْ أَئِمَّتُهُمْ بِكِتَابِ اللهِ إِلَّا جُعِلَ بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ. (١)

اې د مهاجرينو ډلې ! پنځه (٥) شيان داسې دي که چيرته تاسو په هغې کې مبتلاء شئ (نو په ډير لوي آفت کې به ګير شئ) ، او زه په الله ﷻ سره پناه غواړم د دې خبرې نه چې تاسو په دې کې مبتلاء شئ.

(هغه پنځه شيان دا دي :) په کوم قوم کې چې بدکاري على الإعلان او ښکاره شروع شي نو په دوى کې داسې نوې نوې بيمارياني راپيدا کيږي کومې چې د دوى په اسلافو کې نه وى (يعنى مخکې د دې بيماريانو نوم هم چا نه وُ اَوريدلى).

---

(١) رواه ابن ماجه (٤٠١٩) والبزار والبيهقي من حديث ابن عمر. واللفظ للبيهقي، الترغيب والترهيب ج١ (٥٢٧/٢٠).

علامه ذهبي رحمه الله په الكبائر كې دا حديث په دې الفاظو رانقل كړى. نبي عليه السلام فرمايي : خَمْسٌ بِخَمْسٍ: قَالُوا : يَارَسُولَ اللهِ ! وَمَا خَمْسٌ بِخَمْسٍ؟ قَالَ : مَا نَقَضَ قَوْمٌ الْعَهْدَ إِلَّا سَلَّطَ اللهُ عَلَيْهِمْ عَدُوَّهُمْ. وَمَا حَكَمُوا بِغَيْرِ مَا أَنْزَلَ اللهُ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الْفَقْرُ. وَمَا ظَهَرَتْ فِيهِمُ الْفَاحِشَةُ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الْمَوْتُ. وَلَا طَفَّفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا مُنِعُوا النَّبَاتَ. وَأُخِذُوا بِالسِّنِينَ. وَلَا مَنَعُوا الزَّكَوةَ إِلَّا حُبِسَ عَنْهُمُ الْقَطْرُ. الكبائر ص ٣٧ الكبيرة الخامسة منع الزكوة.

پنځه شيان د پنځو شيانو په بدله کې دي ، چا عرض وکړو : يارسول الله ! د دې څه مطلب دى؟ پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : کوم قوم چې د معاهدې خلاف ورزي کوي نو الله تعالى به په دوى دشمن مسلط (غالب) کوي ، او کوم قوم چې د الله تعالى د نازل کړي قانون نه بغير (په بل قانون) فيصلې کوي نو الله تعالى په دوى فقر عام کړي (غربت پرې راولي) ، او کوم قوم چې په ناپ تول کې کمې کوي نو الله ﷻ د دوى د زمکې پيداوار کم کړي ، او په قحط سالى کې يې مبتلاء کړي ، او کوم قوم چې زكوة ورکول بند کړي نو الله تعالى په دوى باران بند کړي.

او كوم قوم چې په ناپ تول كې كمې كوي نو په دوى باندې قحط سالي ، مشقت او د بادشاه ظلم مسلط كولې شي .

او كوم قوم چې د خپلو مالونو نه زكوة ويستل بند كړي نو په دوى باندې د آسمان نه باران بند كړې شي ، او كه چيرته چارپيان (حيوانات) نه وى نو يو څاڅكې باران به هم نه ؤ شوى (خو چونكه چارپيان د الله ﷻ مخلوق دى او بې قصوره دي نو ځكه د دوى د وجې نه هم څه نا څه باران كيږي) .

او كوم قوم چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ وعدو خلاف ورزي كوي نو په دوى باندې نور قومونه مسلط كولې شي چې د دوى په لاس كې كوم مال و دولت وي هغه ورنه لوټ كړي .

او چې د چا حاكمان په كتاب الله باندې فيصلې نه كوي نو د دوى په خپل مينځ كې خانه جنګي شروع كيږي .

۵. زكوة نه وركول د جهنم د تللو سبب دى

زكوة نه ادا كوونكې به د قيامت په ورځ په هغه كسانو كې وي كوم چې به اول جهنم ته داخل كړې شي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُوْنَ النَّارَ : أَمِيْرٌ مُسَلَّطٌ ، وَذُوْ ثَرْوَةٍ لَايُؤَدِّيْ حَقَّ اللهِ مِنْ مَالِهِ ، وَفَقِيْرٌ فَخُوْرٌ . (۱)

اول هغه درې (۳) كسان چې جهنم ته به د تللو نه اول داخليږي په هغې كې اول ظالم بادشاه دى ، دويم هغه مالدار سړي دى چې د خپل مال نه د الله تعالى حق (زكوة) نه ادا كوي ، او دريم هغه فقير دى چې باوجود د فقر نه تكبر كوي .

(۱) اخرجه ابن ابي شيبة (۵/ ۲۹۶) ، و رواه ابن خزيمة في صحيحه ، وابن حبان ، الترغيب والترهيب ج۱ كتاب الصدقة (۹/ ۵۲۳) ، نزهة الناظرين كتاب الصدقة الباب الثالث فى التشديد على تارك الزكوة ص ۱۹۶ .

لطيفه : کله چې کافِر په دارُ الإسلام کې جِزيه ورکوي نو په دې سره دده جان ومال محفوظ ګرځي ، نو که چېرته يو مسلمان په طِيبِ نفس سره زکوة ورکوي نو په دې سره به هم دې په آخرت کې د جهنم د اور نه محفوظ ګرځي . (۱)

٦ . زکوة نه ورکول د عذابِ قبر سبب دی

علامه عبدالرحمن صفوري رحمه الله په خپل کتاب کې يوه واقعه ذکر کړې ، چې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په زمانه کې ډير مالدار سړی وُ ، کله چې دې وفات شو ، او خلقو ورله قبر وکنيسته نو په قبر کې يو لوي مار راووت ، خلقو ابن عباس ﷺ ته ددې خبر ورکړو ، هغه ورته وويل چې بل قبر ورله اُوکنئ ، کله چې يې بل قبر ورله جوړ کړو نو په هغې کې هم دا غټ مار راووت ، تر دې پورې چې اووه (۷) قبرونه يې ورله اوکنيسته او په هريو کې به دا مار راوَت ، حضرت ابن عباس ﷺ د دده دکوروالـه نه پوښتنه وکړه چې ده به څه عمل کولو (چې اوس ورته په هر قبر کې مار راووځي ؟) هغوی ورته وويل : ده به د خپل مال نه زکوة نه ورکول . ابن عباس ﷺ ورته حکم وکړو چې اوس يې د همدې مار سره خخ کړئ (ځکه چې دا دده د خپل عمل جزاء ده) . (۲)

۷ . زکوة نه ورکوونکې به دقيامت په ورځ د الله ﷻ د رحمت نه لري وي

کوم سړي چې فرضي زکوة نه ورکوي نو د قيامت په ورځ به دغه فقيران د الله ﷻ په دربار کې په دې مالدارو باندې شِکايت وکړي ، چې اې الله ﷻ ! دې خلقو زمونږ حقوق د مونږ نه منع کړي وو .

---

(۱) اَلکافِرُ يحرِمُ دَمُهُ وَمَالُهُ بِأَخذِ الجِزيَةِ مِنهُ . وَكَذٰلِكَ المُؤمِنُ يحرمُ لَحمُهُ وَدَمُهُ عَلَى النَّارِ فِي الآخِرَةِ إِذَا أَخرَجَ الزَّكوةَ بِطِيبِ نَفسٍ . نزهة المجالس ج۱ ص ۱۸٦ باب فضل الزكوة .

(۲) كان في زمن ابن عباس رضي الله عنهما رجلٌ كثيرُ المالِ فلمّا مات حفروا قبرَه ، فوَجَدُوا فيه ثعبانًا عظيمًا . فأخبروهُ ابن عباس ﷺ بذلك . فقال : احفروا غيره . فحفروا . فوجدوا الثعبان فيه حتى حفروا سبعة قبور . فسألَ ابنُ عباس ﷺ أهله عن حاله . فقالوا : إِنَّهُ كَانَ يَمنَعُ الزَّكوةَ . فَأَمَرَهُم بِدَفنِهِ مَعَهُ . نزهة المجالس ج۱ ص ۱۸۵ باب فضل الزكوة .

نبي عليه السلام فرمايي :

وَيْلٌ لِلأَغْنِيَاءِ مِنَ الفُقَرَآءِ يَوْمَ القِيَامَةِ يَقُوْلُوْنَ : رَبَّنَا ظَلَمُوْنَا حُقُوْقَنَا الَّتِيْ افْتَرَضْتَ لَنَا عَلَيْهِمْ. فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى : وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَأُدْنِيَنَّكُمْ وَلَأُبْعِدَنَّهُمْ . ثُمَّ تَلَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿ وَالَّذِيْنَ فِيْ أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ . لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴾ . (۱) ، (۲)

هلاکت دي (هغه) غنيانو لره (کوم چې د مال فرضي حقوق نه اداء کوي) ، ځکه د قيامت په ورځ به فقيران الله ﷻ ته وايي : اې زمونږه ربه ! دې مالدارانو د مونږ سره ظلم کړې وُ د هغه حقوقو متعلق کوم چې تا زمونږ د پاره په دوی باندې فرض کړي وُ (يعنی مونږ ته يې فرضي زکوة نه راکول) . الله رب العزت به ورته وفرمايي : زما دې په خپل عزت او جلال قسَم وي چې زه به خامخا تاسو مقرّب کړم ، او دوی به د خپل رحمت نه لرې کړم . بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيتِ مبارکه اولوست : ﴿ وَالَّذِيْنَ فِيْ أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ... ﴾ ترجمه : .... او هغه خلق چې د هغوی په مالونو کې حق معلوم دی ، د سوال کوونکو او محتاجو د پاره .

په سروزَرو او سپينوزرو کې دزکوة نه ورکولو سزا

د کومو زنانهٔ وُ سره چې د سرو زرو يا سپينو زرو زيورات وي او هغه نصاب ته رسي ، په دې کال تير شي ، او دا ورنه زکوة نه اُوباسي نو دداسې زَنانه د پاره سخت وعيدونه ذکر شوي چې همدغه سره زَر او سپين زَر به د دوی دپاره د جهنم اُور وګرځي .

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَيُّمَا إِمْرَأَةٍ تَقَلَّدَتْ قِلَادَةً مِنْ ذَهَبٍ قُلِّدَتْ فِيْ عُنُقِهَا مِثْلَهَا مِنَ النَّارِ يَوْمَ القِيَامَةِ . وَأَيُّمَا إِمْرَأَةٍ جَعَلَتْ فِيْ أُذُنِهَا خُرْصًا مِنْ ذَهَبٍ جُعِلَ فِيْ أُذُنِهَا مِثْلُهُ مِنَ النَّارِ يَوْمَ القِيَامَةِ . (۳)

---

(۱) المعارج آيت ۲۴ ، ۲۵ .

(۲) ذکره الهيثمي في المجمع (۳/ ۶۲) ، نزهة الناظرين کتاب الصدقة ص ۱۹۷ .

(۳) رواه ابوداؤد والنسائي باسناد جيد ، الترغيب والترهيب ج۱ (۳۱/ ۵۴۳) .

کومه ښځه چې په غاړه کې دسرو زرو هار اچوي (او نصاب ته د رسيدو باوجود ددينه فرضي زکوة نه ورکوي) نو د قيامت په ورځ به ددې په غاړه کې همدغه شان د اور هار اچولې شي، او کومه ښځه چې په غوږونو کې د سرو زرو غوږوالۍ اچوي (او ددينه زکوة نه ورکوي نو د قيامت په ورځ به ديته د اور غوږوالۍ وراچولې شي.

۲. د ابوداؤد شريف حديث دی، حضرت عايشه رضی الله عنها فرمايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم زما کورته راغی، نو زما په لاس کې يې غټې غټې د سرو زرو ګټمې وليدی، نو راته وې فرمايل: مَا هٰذَا يَا عَائِشَةُ ؟ اې عائشې! دا څه شی دی ؟

ما ورته ووېل: صَنَعْتُهُنَّ أَتَزَيَّنُ لَکَ يَا رَسُوْلَ اللهِ.

اې د الله رسوله! دا مې ددې د پاره جوړې کړي چې تاسو د پاره پرې ځان مزيّن کړم.

نبي عليه السلام راته وفرمايل: أَتُؤَدِّيْنَ زَکَاتَهُنَّ ؟ آيا ته ددې زکوة ورکوی ؟

ما ورته ووېل: نه. (ددې زکوة نه ورکوم). نو پيغمبر عليه السلام راته وفرمايل:

هِيَ حَسْبُکِ مِنَ النَّارِ. (۱) ستا د جهنم د بوتلو دپاره همدا کافي دي.

د څاروو نه دزکوة نه ويستونکي کس سزا

د کوم سړي سره چې د نصاب برابر اُوښان، غواګانې او چيلۍ وي او د هغې نه زکوة نه ورکوي نو د داسې کس دپاره هم سخته سزا ذکر ده. (۲)

د مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: مَا مِنْ رَجُلٍ يَکُوْنُ لَهُ إِبِلٌ أَوْ بَقَرٌ أَوْ غَنَمٌ لَايُؤَدِّيْ حَقَّهَا إِلَّا أُتِيَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْظَمَ مَا تَکُوْنُ وَأَسْمَنَهُ تَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا وَتَنْطَحُهُ بِقُرُوْنِهَا کُلَّمَا جَازَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُوْلَاهَا حَتّٰی يُقْضٰی بَيْنَ النَّاسِ. (۳)

---

(۱) حضرت عايشه رضی الله عنها فرمايي: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَرَاٰی فِيْ يَدَيَّ فَتَخَاتٍ مِنْ وَرِقٍ. فَقَالَ: مَا هٰذَا يَا عَائِشَةُ ؟ فَقُلْتُ: صَنَعْتُهُنَّ أَتَزَيَّنُ لَکَ يَا رَسُوْلَ اللهِ. قَالَ: أَتُؤَدِّيْنَ زَکَاتَهُنَّ ؟ قُلْتُ: لَا. هِيَ حَسْبُکِ مِنَ النَّارِ. ابوداؤد کتاب الزکوة باب ۵۲۶ الکنز ماهو وزکاة الحلي ۱۵۵۱، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۲۱۲ (۲۷ / ۵۳۰).

(۲) نوټ: د اُوښانو، غواګانو او چيلو ځانله ځانله نصاب دی، تفصيل په کې ډير دی، دلته يې نه شم ليکلی، که د چا سره ډير څاروي وي نو ددې د زکوة تفصيل دې د علماؤ نه معلوم کړي. ابوالشمس

(۳) متفق عليه، مشکوة کتاب الزکوة الفصل الاول حديث ۴.

د کوم سرې سره چې اُوښان ، غواګانې او چيلۍ وي ، او دا د دې نه زکوة نه ورکوي نو د قيامت په ورځ به دا څاروي په داسې حال کې راوستې شي چې ډير غټ او په څوربڅ شکل کې به وي ، نو دا څاروي به دا سړې په خپلو خپو سره مړي (چَخنړې کوي به يې) ، او په خپلو ښکرونو سره به يې وهي ، کله چې د دې څارو آخري جماعت لاړ شي نو بيا به ړومبي جماعت راوستې شي (يعنی بار بار به دا څاروي په ده باندې څي راځي ، دې به په خپو کې چَخنړې کوي ، او په ښکرونو به يې وهي) ، دا سلسله به تر هغه وخته پورې جاري وي تر څو پورې چې د خلقو حساب و کتاب کولو سره د هغوی فيصله اُو نکړې شي .

بخيل سړې د شيطاني وسوسو په وجه زکوة نه ورکوي

ډير بخيلان د دې د وجې زکوة نه ورکوي چې د دوی په ذهنونو کې دا شيطاني وَسوسه وي چې که چيرته زه د خپل مال نه زکوة اُو باسم نو دا خو ډيرې روپۍ جوړيږي ، په دې سره به زما اَصل سَرمايه کمه شي . حالانکه په زکوة ورکولو سره مال نه کميږي بلکه نور هم په کې برکت راځي .

دغه رنګې کله چې څوک د زکوة ورکولو اِراده وکړي نو په اِنساني جَامه کې ډير د شيطان ملګري ورته رامخې ته شي او دا وَسوسې وراچوي چې که ته دا زکوة ورکړې نو بيا به ستا بچو او ښځو ته څه پاتې شي ؟ په تا باندې خو د بچو او ښځې حق زيات دی. نو دا بخيل په دې دُهوکه کې راشي او زکوة بيا نه ورکوي .

لهذا انسان ته په کار دي چې د دُنيا سره د ومره محبت اونه کړي چې د دې په وجه يو مالي فرضي عبادت ورنه پاتې شي ، او نه د زکوة په ورکولو کې د بچو او ښځو د حق ضائع کيدلو پَرواه وکړي ، بلکه د شريعت موافق دې د خپل مال نه زکوة ورکوي .

الله تعالی فرمايي : ﴿اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ وَاللهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾ . (۱)

ترجمه : شيطان د تاسو سره د فقر وعده کوي (يعنی تاسو د محتاجه کيدو نه يَروي) ، او د بې حيايۍ (او شومتوب) حکم درته کوي . او الله تعالی درسره (د مال په لږولو او ښه څيز

(۱) البقرة آيت ۲۶۸ .

ورکولو سره) د خپلې بخښې او مهربانۍ وعده کوي، او الله تعالی د فراخۍ خاوند او پوهه دی

واقعه :

امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې یوه واقعه رانقل کړې : چې یو عالِم د زکوة او صدقې په باره کې وعظ کولو ، او دایې وویل : کله چې یو انسان په خرابو ځایونو کې مال لږوي نو هیڅوک یې نه منع کوي خو چې زکوة ، صدقه یا بل نیک کار کې یې خرچ کوي نو بیا شیطان او د شیطان ملګري یې صدقې ورکولو ته نه پرېږدي .

په دې مجلس کې یو کس ناست ؤ ، هغه وویل چې : کله زه صدقه ورکوم نو ما به شیطان او د هغه ملګري څنګه منع کړي ، دادې زه او س ځم ، صدقه ورکوم ، ګورم چې ما څوک منع کولې شي ؟

کله چې کور ته راغی ، د غنمو نه یې لمن راډکه کړه ، په کور کې خپلو بچو ولید ، مور ته یې آواز وکړو چې : راشه ، پلار مو ټول غنم وې وړه .

کله چې ددې سړي بي بي راغله ، پوښتنه نه یې ورنه وکړه : په دې غنمو څه کوی ؟ ده ورته وویل : صدقه کوم یې . هغې ورته وویل :

څه څه ، صدقه کوې یې . دا مونږ به څه خورو ؟ او دا بچې به دې څه خوري ؟

دوارو سره خبرې ګرمې کړې ، آخر دا چې دې ښځې یې دده لمن ته لاس وَرواچول ، او ټول غنم یې ورنه توی کړه .

دا کس خالي لاس جُمات ته راغی . خلقو ورنه پوښتنه وکړه : تاخو صدقه رانه وړه ؟

ده ورته وویل : یره څه وکړم ، ما د شیطان او د هغه د ملګرو مقابله وکړه ، خو د شیطانانو مور راباندې غالبه شوه ، او د صدقې غنم یې رانه ټول توی کړه . (۱)

د زکوة نه د اِنکار کوونکي کس سزا

دا خبره مخکې بیان شوه چې د زکوة نه اِنکار کول کُفر دی ، چا چې د زکوة نه اِنکار کړی الله ﷻ هغه په دُنیا کې هم رَسوا کړی ، او په آخرت کې خو به هسې هم دده د پاره دَرد ناک عذاب وي .

(۱) تفسیر کبیر ، صدقه کي برکات ص ۳۶۸ .

د قارون واقعه

په قرآن مجيد سورة قصص کې په اتمه (۸) رکوع کې د قارون واقعه ذکر ده، کومه چې تفسير مدارک، تفسير کشاف او درّمنثور واله تفصيلي ذکر کړې (خو زه به يې درته مختصر مطلبي ځای ذکر کړم).

قارون ته الله رب العزت ډير مال ورکړې وُ، الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ ﴾. (۱)

ترجمه: او مونږ ده ته دومره ډيرې خزانې (د مال و دولت) ورکړې وې چې د هغې ګنجيانې به د طاقتورو کسانو په ډله باندې درنې وې.

(يعنې د طاقتورو کسانو پوره جَماعت به په ډير مشکل سره دده د خزانو ګنجيانې پورته کولې شوې. پس هر کله چې ګنجيانې يې دومره ډيرې وې نو خزانې خو به يې يقينًا ډيرې زياتې وې).

حضرت موسی عليه السلام او دده قوم ورته ډير نصيحت وکړو چې تکبّر مه کوه، او په دې مال کې د آخرت دپاره څه عمل وکړه.

دلته علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير کې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما قول رانقل کړی چې حضرت موسی عليه السلام ورته وفرمايل:

إِنَّ اللهَ أَمَرَنِيْ أَنْ اٰخُذَ الزَّكٰوةَ. (۲)

بيشکه الله ﷻ ماته د تا نه د زکوة اخيستلو حکم کړی، نو قارون دده نه اِنکار وکړو، او قوم ته يې وويل چې: حضرت موسی عليه السلام په څه چل کې ستاسو مالونه خوري. تاسو مخکې دده ډير حکمونه منلي دي، اوس وايي چې زکوة راکړئ. نو آيا تاسو دا خبره برداشت

---

(۱) القصص آيت ۷۶.

(۲) تفسير درّمنثور ج۶ ص ۳۸۷ القصص آيت ۷۷. په تفسير مدارک او تفسير کشاف کې ذکر دي چې کله موسی عليه السلام دده ته د زکوة حکم وکړو چې د هرو زَرو (۱۰۰۰) دينارو او زرو (۱۰۰۰) درهمو په عوض کې يو دينار او يو درهم زکوة اُوباسه، قارون چې ديته حساب وکړو نو دده نه ډير شی جوړيده، نو بُخل يې وکړو، او د زکوة نه يې اِنکار وکړو. تفسير مدارک ج۲ ص ۲۷۷ القصص آيت ۷۷، تفسير کشاف ج۳ ص ۴۳۷ القصص آيت ۷۷.

کوئ ؟ د قارون ملګرو وويل : مونږ هيڅ کله دا خبره نه برداشت کوو ، پس ته زمونږ مشر يې ، ته چې څه حکم کوی مونږ يې منو . قارون وويل چې زه به يوه زِناکاره ښځه د مال و دولت په زُور پدې راضي کړم چې په حضرت موسى عليه السلام باندې د زِنا تهمت أولږوي (نو په خلقو کې به بدنام شي ، خلق به بيا دده خبرو ته غوږ نه ږدي)

نو ده د يوې زِنا کاره ښځې سره خبره وکړه چې کله د اختر په ورځ حضرت موسى عليه السلام د تورات احکامات بيانوي نو ته به پرې تهمت أولږوی . هغې وويل چې صحيح ده .

کله چې د اختر ورځ شوه ، او حضرت موسى عليه السلام خپل قوم ته د تورات احکامات بيانول شروع کړه : چې اې بني اسرائيلو ! که چا غلا وکړه نو مونږ به يې لاس پريکوو..... که چا زِنا وکړه او شادي شده کس وُ نو مونږ به يې رَجَم کوو . نو په دې کې قارون راپاڅيده او وې ويل :

که دا کار تا وکړو نو بيا ؟ حضرت موسى عليه السلام ورته وفرمايل چې زما هم همدا حکم دی

قارون وويل چې بعضې خلق دا ګمان کوي چې تا دا کار د فلانکۍ ښځې سره کړې دی .

کله چې هغه ښځه راوستې شوه ، حضرت موسى عليه السلام ورته قسَم ورکړو چې رښتيا ووايه ، او صحيح خبره بيان کړه . هغې اقرار وکړو چې ما ته قارون دومره دومره مال و دولت راکړی دی چې ته په حضرت موسى عليه السلام باندې تهمت أولږوه ، خو زه دا ګواهي ورکوم چې ته پاک يې او د الله جل جلاله رسول يې .

حضرت موسى عليه السلام په سجده پريوت ، او الله جل جلاله ته په ژړا شو . الله جل جلاله ورته وحي وکړه :

مُرِ الْاَرْضَ بِمَا شِئْتَ فَاِنَّهَا مُطِيْعَةٌ لَکَ .

اې موسى ! زمکې ته حکم وکړه چې څه ستا خوښه وي ، زمکه به ستا تابعداري کوي .

نو حضرت موسى عليه السلام زمکې ته حکم وکړو :

يَا اَرْضُ ! خُذِيْهِمْ . اې زمکې دې او دده ملګري اونيسه .

نو زمکې ټول لاندې راښکل ، تر دې چې د زنګنونو پورې ډوب شو .

قارون او دده ملګرو حضرت موسى عليه السلام ته سوال او زاري شروع کړې، چې مونږ معاف کړه، او قسمونه يې کول چې بيا به هيڅکله داسې نه کوو. خو حضرت موسى عليه السلام معاف نه کړه.

حضرت موسى عليه السلام په دويمه پيره زمکې ته حکم وکړو :

خُذِيْهِمْ. دوى ټول اونيسه (رايې کابره) نو زمکې تر نيمايي بدن پورې رانښکوده. دوى بيا سوال او زارۍ شروع کړې. خو حضرت موسى عليه السلام معاف نه کړه. ځکه دې ډير غصه ؤ.

په دريمه پيره حضرت موسى عليه السلام زمکې ته حکم وکړو : خُذِيْهِمْ. دوى ټول اونيسه. نو زمکې ټول ډوب کړه. (۱)

الله جل جلاله فرمايي :

﴿ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهُ مِنْ دُوْنِ اللهِ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴾. (۲)

ترجمه : مونږ قارون او دده کور په زمکه کې ورننخ کړه، پس بيا داسې يو ټولې نه ؤ چې د الله جل جلاله په مقابله کې يې دقارون مدد کړې وى، او نه ده په خپله خپل ځان بچ کړې شو (يعنى نه خو يې خپل ځان د عذاب نه بچ کړې شو او نه يې د حضرت موسى عليه السلام نه بدل واخيستې شو).

مفسرينو ليکلي چې د قارون د غرقيدو په وخت بعضې بني اسرائيلو وويل چې موسى عليه السلام ګني دده مال و دولت حاصلول غواړي، نو حضرت موسى عليه السلام دُعا وکړه، نو قارون، دده کور او خزانې ټول الله جل جلاله په زمکه کې ننويسته. (۳)

(۱) تفسير مدارک ج۲ ص۲۷۸، تفسير کشاف ج۳ ص ۴۳۷ القصص ايت ۷۷. الدّرالمنثور فى التفسير بالماثور ج۶ ص ۳۸۶ القصص آيت ۸۱.

(۲) القصص آيت ۸۱.

(۳) تفسير مدارک ج۲ ص۲۷۸، تفسير کشاف ج۳ ص ۴۳۷ القصص ايت ۷۷.

منافق ته د خپل مال نه زکوة ويستل ډير ګران معلوميږي

کله چې د يو سړي ايمان کمزوری وي ، او په زړه کې يې د دُنيا محبت وي نو بيا ده ته د خپل مال نه زکوة ويستل ډير ګران ښکاري ، او دا ورته يو مالي تاوان معلوميږي .

الله ﷻ هم په سورة توبه کې د بعضې منافقانو تذکره کړی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللهَ لَئِنْ اٰتَانَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ... ﴾ . (۱)

ددې آيت په شانِ نزول کې اکثره مفسرينو يوه واقعه رانقل کړی ، کومه چې بغوي ، ابن جرير ، ابن ابي حاتم ، ابن مردويه او بيهقي رحمهم الله د حضرت امامة باهلي رضی الله عنه په روايت سره نقل کړی .

د ثعلبه بن حاطب واقعه

(**نوټ** : ددې واقعې بيانولو نه مخکې په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې د نبي عليه السلام په زمانه کې د ثعلبة بن حاطب په نوم باندې دوه (۲) کسان وو :

يو " ثعلبه بن حاطب الاوسي البدري " ؤ کوم چې غزوه بدر او غزوه اُحد کې شريک شوې ؤ ، او په اُحد کې شهيد شوې هم ؤ .

او دويم ثعلبه بن حاطب منافق ؤ .

مفسرينو چې دکوم ثعلبه بن حاطب واقعه ددې آيت لاندې ليکلي نو ددې نه دا دويم ثعلبه منافق مراد دی ، دا د حضرت عثمان رضی الله عنه په دورِ خلافت کې مړ شوې ؤ .

ځکه هغه اول ثعلبه بن حاطب الاوسي خو بَدري صحابي دی او په غزوه اُحد کې شهيد شوی . او د بدري صحابهؤ په باره کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :

لَايَدْخُلُ النَّارَ اَحَدٌ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَّةَ .

هغه کس به هيچرې د جهنم اُور ته داخل نه شي چې غزوه بدر او حُديبې کې حاضر شوی وي (يعنی په دې دوه ځايونو کې شريک شوې وي) .

---

(۱) التوبة آيت ۷۵ .

نوټ : [د ثلعبه بن حاطب په باره کې تحقيق لاندې په حاشيه کې اوګوره . (١)]

واپس راځم شانِ نزول ته . حضرت امامه باهلي رضي الله عنه فرمايي چې يو کس '' ثعلبه بن حاطب انصاري '' د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو ، او ورته وې ويل : أُدْعُ اللهَ أَنْ يَّرْزُقَنِيْ مَالًا . د الله ﷻ نه دُعا اوغواړه چې ماته ډير مال راکړي او زه مالدار شم .

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل : وَيْحَكَ يَا ثَعْلَبَة . قَلِيْلٌ تُؤَدِّيْ شُكْرَهُ خَيْرٌ مِنْ كَثِيْرٍ لَاتُطِيْقُهُ .

افسوس دې په تا باندې اې ثعلبه ، هغه لږ مال چې ته د هغې شکر ادا کړې د هغه ډير مال نه بهتر دى چې ته د هغې حقوق نشې ادا کولې .

ثعلبه بيا خپله خبره وکړه ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

---

(١) **د ثعلبه بن حاطب په باره کې علمي تحقيق** : قَالَ الشيخُ ابن حجرٍ : وصاحبُ تلك القصّةِ مغائرٌ لِثعلبة بن حاطب الاوسي البدري فإنّه استشهد بأُحُدٍ على ما قاله ابن الكلبي ، وايضًا روي ابن مردويه أنّ صاحبَ تلك القصة ثعلبة بن حاطب وكيف يصحّ أنْ يكونَ بَدريًا . وقد ثَبَتَ أنّه صلى الله عليه وسلم قال : لَايَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ شَهِدَ بَدْرًا وَالحُدَيْبِيَّةَ . كرخي ، حاشيه جلالين نمبر ١٣ . وحكي عن ربّه أنّه قَالَ لِأَهْلِ بَدْرٍ : إِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ قَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ . فمن يكون بهذه المثابة كيف يعقبه الله نِفَاقًا في قلبه . فَالظاهرُ أنّه غيره . الاصابة ١/ ١٩٨ ، حاشيه روح المعاني جز ١٠ ص ٢٦٢ . /وَهذَا الّذي ذَكَرَهُ المفسرونَ غير '' ثعلبة بن ابي حاطب '' الصحابي المشهور ، وإنّما هذا رَجُلٌ مِنَ المنافقين يُسَمّى ثعلبة . حاشيه صفوة التفاسير ج١ ص ٥١٣ .

وَأَمّا ثعلبةُ بنُ حاطب الانصاري ففي تَرْجَمَتِهِ خَلْطٌ كثيرٌ ، أهو رجلٌ واحدٌ أم رجلانِ؟ أولهما هوالّذي آخى رسولُ الله بينه وبين معتب بن الحمراء ، وَالَّذِيْ شَهِدَ بَدْرًا وَأُحُدًا ، والآخر هو صاحبُ هذه القصّةِ . يُقَالُ : إِنَّ الْأَوَّلَ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ ، وَجَعَلَهُمَا بَعْضُهُمْ رَجُلاً وَاحِدًا وَنَفَوْا أَنْ يَكُوْنَ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ . انظر ترجمته في الاصابة ، والاستيعاب ٧٨ ، وأسد الغابة ١ : ٢٣٧ ، وابن سعد ٣/٢/٣٢ .

نوټ : کوم محققين علماء چې دا ګڼي چې ثعلبه بن حاطب انصاري د نبي عليه السلام په زمانه کې صرف يو کس ؤ نو هغوی بيا په دې واقعه باندې سخت ردُونه کړي چې دا واقعه ضعيفه ده ، ځکه چې ثعلبه بن حاطب انصاري خو بَدري صحابي ؤ . خو صحيح داده چې ثعلبه بن حاطب دوه (٢) کسان وو ، يو صحابي ؤ ، او بل منافق ؤ ، په دې آيت کې چې مفسرينو د کوم ذکر کړی هغه منافق ؤ . صحابي نه ؤ . ابوالشمس عفي عنه .

أَمَا تَرْضٰى أَنْ تَكُوْنَ مِثْلَ نَبِيِّ اللهِ . فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ شِئْتُ أَنْ تَسِيْرَ مَعِيَ الْجِبَالُ ذَهَبًا وَفِضَّةً لَسَارَتْ .

اې ثعلبه ! آيا ستا دا خوښه نه ده چې ته په فقر او غريبۍ کې د الله ﷺ د نبي په طريقه لاړ شې ، زما دې قسَم وي په هغه ذات چې د چا په قبضه کې زما ساه ده که چيرته زه اوغواړم چې دا غرونه د سرو زَرو او سپينو زرو جوړ شي او د ما سره ګرځي نو هم د ماسره به هر ځاى روان وي (خو زما دا نه ده خوښه ، بلکه فقر مې خوښ دى) .

ثعلبه ووېل : زما دې قسَم وي په هغه ذات کوم چې ته بَرحقه پيغمبر راليږلې يې که چيرته تا زما د پاره د الله ﷺ نه دُعا اوغوښته ، او هغه ما له مال راکړو نو زه به هر حقدار ته حق ورکوم (يعنى زکوة او نفلي صدقات به ادا کوم) .

پيغمبر عليه السلام ورته دُعا وکړه :

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْ ثَعْلَبَةَ مَالًا . اې الله ! ثعلبه ته مال ورکړې .

د نبي عليه السلام د دُعا په برکت سره د ثعلبه په چيلو کې داسې برکت پيدا شو چې د مدينې منورې زمکه پرې تنګه شوه ، او د مدينې نه بهر اووت ، ده به د ماسپخين او ماز يګر لمونځ په مدينه کې د جَمعې سره کول او نور لمونځونه به يې بهر هغه ځاى کې کول چيرته به چې دده مال ؤ .

بيا يې چيلۍ نورې هم زياتې شوى او دغه ځاى پرې هم تنګ شو ، د هغه ځاى نه به صرف د جُمعې مانځه له مدينې منوّرې له راتلو ، او نور پنځه واړه لمونځونه به يې هم هملته ادا کول . چيلۍ يې ورځ په ورځ همداسې زياتيدى تردې چې دومره زياتې شوى چې هغه ځاى يې هم پريښود ، او دومره لرې ديره شو چې د جُمعې او پنځه واړه لمونځونو جَمعه ورنه پاتې شوه .

څه وخت پس رسول الله صلى الله عليه وسلم د خلقو نه دده باره کې پوښتنه وکړه :

مَا فَعَلَ ثَعْلَبَةُ ؟ ثعلبه په څه حالت دى ؟

خلقو ورته ووېل : اې د الله رسوله ! د هغه چيلۍ دومره ديرې شوې دي چې د مدينې زمکه پرې تنګه شوه ، او س چيرته لرې ديره دى (نو ځکه نشي ليدى) .

پيغمبر عليه السلام ددې په اوريدو وفرمايل :

يَا وَيْحَ ثَعْلَبَة . يَا وَيْحَ ثَعْلَبَة . يَا وَيْحَ ثَعْلَبَة .

افسوس په ثعلبه ، افسوس په ثعلبه ، افسوس په ثعلبه .

په دې ورځو کې د زکوة آيت نازل شو په کوم کې چې رسول الله ﷺ ته د مسلمانانو نه د صدقاتو (زکوة) راغونډولو حکم اوشو . الله تعالى فرمايي :

﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا ... ﴾ . (۱)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته د دوی د مالونو نه صدقه (زکوة) واخله چې ته د دې صدقې په ذريعه دوی (د ګناهونونه) پاک او صفا کړې .

رسول الله ﷺ دوه (۲) کسان د زکوة راغونډولو د پاره وليږل ، هغوی ته يې د خلقو نه د زکوة راغونډولو پوره قانون وليکل چې د خلقو نه به په کومه طريقه زکوة راغونډوئ او کوم مال به اخلئ ؟

او دې دوه کسانو ته يې وويل چې تاسو د ثعلبه او د بني سُليم يو کس نه هم زکوة وصول کړئ . دا دوه کسان چې کله ثعلبه له ورغله ، او ده ته يې د رسول الله ﷺ دا فرمان مبارک واورول ، نو ده ورته وويل :

مَا هٰذِهِ إِلَّا جِزْيَةٌ . مَا هٰذِهِ إِلَّا أُخْتُ الْجِزْيَةِ . مَا أَدْرِيْ مَا هٰذَا ؟

دا خو جزيه ده ، يا د جزيې په شان ده ، زه خو په دې نه پوهيږم چې د مانه مال اخيستل څه شی دی ؟

او بيا يې ورته وويل : چې تاسو کله د هغه بل ځای نه فارغ شئ نو بيا دلته راشئ .

بيا دا دوه کسان هغه بل کس " سُليمي " ته ورغلل او هغه ته يې د رسول الله ﷺ فرمان مبارک واورول ، هغه د خپل مال نه بهترين څاروي راغونډ کړه ، او دوی ته يې راوسته چې دا واخلئ ، دوی ورته وويل : مونږ د چانړ کړې شوي څاروو اخيستو نه منع کړې شوي يو ، په تا خو دا واجب نه دي ، بلکه په تا خو درميانه قِسم څاروي واجب دي ، هغه سُليمي کس ورته

(۱) التوبة آيت ۱۰۳ .

وويل : دا واخلئ ، دا زه په خپله خوښه په طيبِ نفس درکوم (او د دې په اخيستو يې تينګار وکړو) .

دې دوه کسانو دا څاروي ورنه واخيست ، او واپس په ثعلبه باندې راغله ، ثعلبه ورته وويل : تاسو ماته د زکوة وصولولو حُکم نامه اُوښايئ . دوی چې ورته اُوخوده ، ده په کې سوچ کولو او ورته وې ويل :

مَا هٰذِهِ إِلَّا أُخْتُ الْجِزْيَةِ . إِنْطَلِقَا حَتّٰى أَرٰى رَأْيِيْ.

دا خو يو قِسم جِزيه ده (چې د مسلمانانو نه يې وصولول نه دي په کار) او بيا يې ورته وويل : تاسو دواړه اوس ځئ ، زه به سوچ وکړم بيا به څه فيصله وکړم (چې څه وکړم ؟) .

دا دوه کسان چې کله مدينې منورې ته واپس راغله ، او نبي عليه السلام ته ورمخامخ شو نو هغه ته د حال ويلو نه مخکې پيغمبر عليه السلام وفرمايل :

يَا وَيْحَ ثَعْلَبَةَ . اې افسوس په ثعلبه . او بيا يې د هغه سُليمي د پاره د برکت دُعا وکړه .

کله چې دې خلقو رسول الله ﷺ ته د ثعلبه او سُليمي حال ووېل ، نو الله تعالی دا آيتونه نازل کړه .

﴿ وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللهَ لَئِنْ اٰتَانَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ . فَلَمَّآ اٰتَاهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ . فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ إِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَا أَخْلَفُوا اللهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : په دې (منافقينو) کې بعضې خلق داسې دي چې د الله تعالی سره يې دا وعده کړې وه چې '' که چيرته الله تعالی مونږ ته په خپل فضل سره ډير مال راکړي نو مونږ به يې ضرور صدقه کړو (يعنی زکوة ، خيرات او نور حقوق به ورنه اداء کړو (۲)) ، او د نيکانو خلقو نه به شو (نيک نيک کارونه به ورباندې کوو) '' .

---

(۱) التوبة آيت ۷۵ تا ۷۸ .

(۲) والمرادُ بالتصدق : قيل إعطاء الزكوة الواجبة . ومابعده إشارة إلى فعل سائر اعمال البرّ من صلة الأرحام ونحوها. وقيل : المراد بالتصدق إعطاء الزكوة وغيرها من الصّدقات . وما بعدها إشارة الى الحجّ على ما روى عن ابن عباس رضى الله عنهما . تفسير روح المعاني جز ۱۰ ص ۴۶۵ .

پس کله چې الله تعالى دوى ته د خپل فضل نه (ډير مال) ورکړو نو په دې کې يې بُخل وکړو (يعنى فرضي زکوة يې ورنه کړو (۱))، او (د خپلې وعدې نه) واوړيده، او دوى مخ اړوونکي (انکار کوونکي) دي.

نو الله تعالى ددې په سزا کې د دوى په زړونو کې داسې نِفاق واچول چې د الله ﷻ سره دملاقات (يعنى د قيامت) د ورځې پورې به (د دوى په زړونو کې) قائم وي. دا (سزا) ددې د وجې نه ده چې دوى د الله ﷻ سره کومه وعده کړې وه دوى د هغې وعدې مخالفت وکړو، او په سبب ددې سره چې دوى به دروغ ويل.

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ثعلبه په باره کې درې (۳) ځله يَا وَيْحَ ثَعْلَبَةَ وويل، نو په دې مجلس کې د ثعلبه په خپلوانو کې يو کس ناست ؤ، هغه چې دا خبره واوريده نو په سفر راووت، او ثعلبه پسې ورغى، ډير يې ملامته کړو او ورته وې ويل: اې ثعلبه په تا افسوس دى، الله تعالى ستا په باره کې آيتونه نازل کړي. ثعلبه چې دا واوريده نو د ځان سره اُوبونګيده او مدينې منورې ته روان شو، (کله چې راغى نو) نبي عليه السلام ته يې وويل: زما صدقه قبوله کړه. پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل:

إِنَّ اللهَ مَنَعَنِيْ أَنْ أَقْبلَ مِنْکَ صَدَقَتَکَ.

الله تعالى زه ستا د صدقې (زکوة) اخيستو نه منع کړې يم.

ددې په اَوريدو ثعلبه (صرف د خلقو د بَدنامى نه د بچ کيدو د پاره (۲)) په خپل سَر باندې خاورې اَچولې. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

هٰذَا عَمَلُکَ، قَدْ أَمَرْتُکَ فَلَمْ تُطِعْنِيْ.

دا خو ستا خپل عمل دى، ما خو تا ته حکم وکړو خو تا زما تابعداري اونه کړه. (لهذا اوس ستا زکوة نشي قبلولى).

---

(۱) بَخِلُوْا بِهٖ: اى مَنَعُوْا حقَّ اللهِ تَعَالٰى مِنْهُ. تفسير روح المعاني جز ۱۰ ص ۴۶۵.

(۲) نبي عليه السلام ته د وحي په ذريعه دا معلومه شوې وه چې د ثعلبه پښيمانتيا او توبه د اخلاص نه ده بلکه په زړه کې يې اوس هم منافقت شته، او صرف مسلمانانو ته دهوکه ورکول غواړي نو ځکه يې نبي عليه السلام دده زکوة قبول نه کړو. معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله.

ثعلبه خپل کورته واپس لاړ. ددې نه يو څو ورځې پس رسول الله ﷺ وفات شو.

کله چې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خليفه شو نو دې راغی او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته يې زکوة راوړو، او ورته وې ويل چې زما زکوة قبول کړه، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وويل: کله چې د تا نه رسول الله ﷺ قبول نه کړو نو زه يې څنګه قبول کړم.

څه وخت پس کله چې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وفات شو او حضرت عمر رضي الله عنه خليفه شو نو ده ته يې زکوة راوړو، او ورته وې ويل: چې زما دا زکوة قبول کړه. ده ورته وويل: کله چې ستا زکوة رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه دې قبول کړې نو زه يې څنګه قبول کړم؟

د حضرت عمر رضي الله عنه د وفات نه پس حضرت عثمان رضي الله عنه خليفه شو، ده ته يې زکوة راوړو، او ورته وې ويل چې دا قبول کړه. ده ورته وويل:

کله چې د تا نه دا زکوة نبي عليه السلام، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه نه دې قبول کړې نو زه يې څنګه قبول کړم؟

بيا دا ثعلبه د حضرت عثمان رضي الله عنه په دورِ خلافت کې مړ شو. (۱)

﴿ **نوټ**: ددې موضوع متعلق فقهي مسائل په مخکينۍ موضوع '' د زکوة اَهميت، فضيلت او اَحکام '' کې تير شوي، هلته يې اوګوره ﴾.

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۳ ص ۴۱٦ التوبة آيت ۷۵، تفسير مظهري ج۴ ص ۲۷۰، تفسير طبري ج۵ ص ۴۰۵۵، تفسير زاد المسير ج۲ ص ۲۸۲، تفسير كشاف ج۲ ص ۲۷۸، تفسير روح المعاني جز ۱۰ ص ۴٦۴، تفسير مدارک ج۱ ص ۵۰۹، تفسير خازن ج ۲ ص ۲٦۳، صفوة التفاسير ج ۱ ص ۵۱۳، تفسير حقاني ج۳ ص ۲۵٦، معارف القرآن لمولانا ادريس كاندهلوي ج۳ ص ۴۹۳، معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله التوبة آيت ۷۵. ددېنه علاوه نورو مفسرينو هم رانقل کړې.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ إِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَأَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴾

الحديد آيت ۱۸ .

د صدقې ورکولو اهمیت ، فضیلت او فواید

تالیف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

د صدقې ورکولو اهميت ، فضيلت او فوايد

اَلْحَمْدُ لِحَضْرَةِ الْجَلَالَةِ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الرِّسَالَةِ ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ أَهْلُ الْفَضْلِ وَالْعَدَالَةِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ إِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَأَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴾.(١)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ .(٢)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَا مِنْ يَوْمٍ تُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ أَحَدُهُمَا : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ، وَيَقُوْلُ الْآخَرُ : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . (٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

د فرائضو سره د نفلي عباداتو ذخيره ساتل

محترمو مسلمانانو ورونو ! په دې کې هيڅ شک و شُبهه نشته چې زکوة ورکول خو په هر صاحبِ نصاب باندې فرض دي ، خو ليکن موقع په موقع نفلي صدقات ، خيراتونه او د خير په کارونو کې خپل مال خرچ کول هم بهترين عبادت دی ، نو ځکه د هر انسان دپاره په کار دي چې دې د فرائضو سره سره د نفلي عباداتو ذخيره هم د ځان سره اوساتي ، ددې دپاره

---

(١) الحديد آيت ١٨ .

(٢) الحشر آيت ٩ .

(٣) رواه البخاري في الزكاة ٢٣١ ، (٢/ ١٤٢) ، ومسلم في الزكاة ٥٧ . وفي رواية : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : مَا طَلَعَتْ شَمْسٌ قَطُّ إِلَّا (بعث) بِجَنْبَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ : اَللّٰهُمَّ مَنْ أَنْفَقَ فَأَعْقِبْهُ خَلَفًا . وَمَنْ أَمْسَكَ فَأَعْقِبْهُ تَلَفًا . رواه احمد وابن حبان والحاكم ، وقال صحيح الاسناد ، قال في مجمع الزوائد (١٠ / ٢٥٥) ، رواه احمد والطبراني في الكبير والاوسط ، ورواه المنذري في الترغيب ٢ / ١١٨ .

چې که چيرته د قيامت په ورځ دده په فرائضو کې څه کمې يا نقصان راشي نو هغه به په دې نوافلو سره پوره کړې شي . (۱)

علامه سيوطي رحمه الله په '' مرقاة الصّعود '' کې نقل کړي چې اويا (۷۰) نوافل د يو فرض په ځای قائميدې شي .

لهذا که چيرته يو کس فرضي زکوة ورکوي نو ددې سره سره دې نفلي صدقات او خيرات هم ورکوي ، ددې د پاره چې که چيرته دده په زکوة کې څه کوتاهي راغلې وي نو هغه کوتاهي او کمې به په دې صدقې سره پوره کړې شي .

مثال : په دُنيا کې که مونږ اوګورو چې څوک عدالت يا قاضي ته خپله فيصله وړي نو دده چې څومره خرچه کيږي د هغې نه زياتې روپۍ د ځان سره احتياطًا واخلي چې هسې نه ضرورت ورته راشي .

دغه شان انسان هم چې د الله ﷻ عدالت ته د عباداتو او زکوة د حساب د پاره پيش کيږي نو دده د پاره هم د نوافلو او صدقاتو ذخيره په کار ده چې که په فرائضو کې څه کمې راشي هغه به په دې نوافلو او صدقاتو سره پوره کړې شي .

د فرضي زکوة نه علاوه نور مالي حقوق

بل دا چې په بعضو خاصو حالاتو کې په مالدار انسان باندې د فرضي زکوة نه علاوه نور مالي حقوق هم باقي پاتې وي ، لکه مثلا يو سړي فرضي زکوة پوره اداء کړی ليکن اوس ورته معلومه شوه چې دده په ګاونډ کې په يو غريب باندې سخته وَلږه ده ، يا دده په نزدې خپلوانو کې څوک ډير محتاج دی ، يا يو شريف مصيبت زده مسافر ده ته راغې او دې مسافرِ

---

(۱) لکه دا مضمون په يو حديث مبارک کې هم ذکر شوی ، د ابوداود شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : إِنَّ اَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ الصَّلٰوةُ . يَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِمَلَائِكَتِهٖ : '' اُنْظُرُوْا فِيْ صَلٰوتِهٖ . أَتَمَّهَا أَمْ نَقَصَهَا '' فَيَنْظُرُوْا . فَإِنْ كَانَتْ كَامِلَةً كُتِبَتْ كَامِلَةً ، وَإِنْ كَانَ انْتُقِصَ مِنْهَا شَيْءٌ قَالَ : '' أَكْمِلُوْا لِعَبْدِيْ فَرِيْضَتَهُ مِنْ تَطَوُّعِهٖ '' ثُمَّ تُؤْخَذُ الأَعْمَالُ عَلٰى قَدْرِ ذٰلِكَ . ابوداؤد ج۴ ص ۲۱۳ حديث ۲۵۹۰ ، سنن ابن ماجه ج۱ ص ۴۵۸ باب ما جاء في اوّل ما يحاسب به العبدُ الصلوة حديث ۱۴۲۵ ، سنن الترمذي ج۱ ص ۵۲۵ حديث ۴۱۳ باب ما جاء انّ اول ما يحاسب به العبد يوم القيامة الصلوة .

ته فوري د مدد ضرورت وُ ، نو په دې صورتونو کې په دې مالدار باندې ددې ضرورتمند مدد کول لازمي دي ، او دې صرف د فرضي زکوة په اداء کولو نه خلاصيږي. (١)

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم همدا خبره بيان کړې ، او په دليل کې يې د قرآن مجيد آيت ذکر کړی ، نبي ﷺ فرمايي :

إِنَّ فِي الْمَالِ لَحَقًّا سِوَى الزَّكٰوةِ ثُمَّ تَلَا : ﴿ لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ... ﴾ . (٢) ، (٣)

بيشکه په مال کې د زکوة نه علاوه هم (د الله ﷻ) حق شته ، بيا نبي عليه السلام دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو ، الله تعالى فرمايي :

ترجمه : نيکي صرف دا نه ده چې تاسو خپل مخونه مشرق او مغرب طرف ته وګرځوئ بلکه (لويه او) اصل نيکي خو داده چې څوک ايمان راوړي په الله تعالى ، په ورځ د آخرت ، په فرښتو ، په کتابونو او پيغمبرانو باندې ، او ورکوي مال د الله تعالى په محبت کې خپلو (حاجتمندو) خپلوانو ته ، يتيمانو ته ، مسکينانو ته ، مسافرو ، او (محتاجو) سوال کوونکو ته ، او د غلامانو په خلاصولو کې ، او د لمونځ پابندي کوي او زکوة ورکوي . . .

فايده : په دې آيت کې د نيکۍ په کارونو کې د ايمان نه روستو د يتيمانو ، مسکينانو ، مسافرو او نورو حاجتمندو طبقو سره د مالي امداد ذکر دی ، او بيا وروسته د لمانځه او زکوة حکم دی . معلومه شوه چې دا دلته د حاجتمندو د ضرورت پوره کولو کوم ذکر دی دا د فرضي زکوة نه علاوه دی ، ځکه د فرضي زکوة تذکره خو مستقلاً ذکر ده ، او د ضرورتمندو مالي امداد کولو ذکر مستقلاً دی .

(١) معارف القرآن البقره في ضمن آيت ١٧٧ ، معارف الحديث ج٤ ص ٣٢٣ کتاب الزکوة .

(٢) البقرة ايت ١٧٧ :

(٣) اخرجه الترمذي ، وابن ماجه ، والدارمي ، مشکوة باب فضل الصدقة حديث ٢٦ کتاب الزکوة .

مسئله : ددينه دا مسئله معلومه شوه چې د انسان غاړه صرف په دې نه خلاصيږي چې دې خالصه فرضي زکوة ورکړي او نور ګني دده په ذمه هيڅ حقوق نشته ، بلکه د زکوة ادا، کولو نه روستو هم په خاصو حالاتو کې د انسان په ذمه د ضرورتمند و امداد کول لازمي دي.

البته صرف دومره خبره ده چې د زکوة د پاره يو خاص قانون دی چې د هغې مطابق زکوة ورکول په هر حالت کې فرض او ضروري دي ، او دا نور مالي حقوق په انسان باندې په خاصو حالاتو کې فرض دي، يعنی که چيرته ضرورت وُ نو په ده اِمداد کول فرض دي ، او که ضرورت نه وُ نو په ده هم فرض نه دي . (۱)

اګر چې په احاديثو کې دا مضمون شته چې کله يو سړي زکوة ادا کړي نو ده د مال فرضي حقوق اداء کړه . (۲) د زکوة نه علاوه باقي نوره يا د نوافلو درجه ده . ددې وجې نه د جمهورو علماؤ او ائمه اربعهٔ دا مذهب دی چې په مال کې بَحيثيتِ مال د زکوة نه علاوه بل شی واجب نه دی ، خو دنورو حيثياتو د وجې ، يا په خاصو موقعو او خاصو حالاتو کې په ده باندې بيا هم وجوب شته ، لکه د خپلې بي بي او دوړو بچو نفقه ، يا چې يو کس د وَلږې يا تندې د لاسه مړ کيږي د هغه مدد کول.

امام غزالي رحمه الله په "اِحياءُ العلوم" کې ذکر کړي چې د بعضې تابعينو مذهب دادی چې په مال کې د زکوة نه علاوه نور حقوق هم شته ، لکه دا مذهب د نخعي ، شعبي ، عطاء او مجاهد رحمهم الله دی .

---

(۱) معارف القرآن البقره آيت ۱۷۷ . امام قرطبي رحمه الله ددې پاس حديث ذکر کولو نه روستو فرمايي : چې ددې حديث باره کې اګر چې د بعضو علماؤ اقوال شته (چې بعضې ورته ضعيف وايي) خو د آيت نه پخپله هم د حديث د مضمون تائيد کيږي، دې وايي : قلتُ والحديثُ وإنْ كان فيه مقال فقد دلّ على صحته معنى ما في الآية نفسها من قوله تعالى: ﴿وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ﴾ . فذكر الزكوة مع الصلوة . وذلك دليل على أنّ المراد بقوله : ﴿وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ﴾ ليس الزكاة المفروضة فإنّ ذلك كان يكون تكرارًا . والله اعلم . واتّفق العلماء على أنّه إذا نزلت بالمسلمين حاجة بعد اداء الزكوة فإنّه يجب صرف المال اليها . قال مالک رحمه الله يجب على النّاس فداء أسراهم وإن استغرق ذلك أموالهم . وهذا اجماع ايضًا . وهو يقوّي ما اخترناه . والموفق الإله . تفسير قرطبي ج۲ ص۲۳۷ البقرة آيت ۱۷۷ .

(۲) نبي عليه السلام فرمايي : إِذَا أَدَّيْتَ الزَّكٰوةَ فَقَدْ قَضَيْتَ مَا عَلَيْكَ . رواه ابن حبان ، وابن خزيمه في صحيحهما ، والحاكم وقال صحيح الاسناد ، وكذا في الترغيب . کله چې تا زکوة ادا کړو نو په تا چې کوم واجب حق وُ هغه تا اداء کړو (ددينه علاوه نوره صرف د نوافلو درجه ده) .

د امام شعبي رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې په مال کې د زکوة نه علاوه څه بل حق شته ؟ هغه ورته ووېل : آو ـ او بيا يې د قرآن مجيد دا آيت تلاوت کړو : ﴿وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى....﴾

د شريعت ، اخلاقو او انساني همدردۍ خبره

بل دا چې دا د شريعت ، اَخلاقو او انساني همدردۍ هم خلاف ده چې يو کس خو دې د ډير مال و دولت د وجې په عيش و عشرت ، او خواهشاتو کې اَخته وي ، د خپل آرام و راحت دپاره دې بِلډنګونه او اَسباب برابروي ، سره زَر ، سپين زَر او مال و دولت دې جمع کوي ، او بل طرف ته دده يو مسلمان ورور د اُوچې ډوډۍ محتاج وی ، د هغه بچي د وَلږې او تَندې د لاسه مړه کيږي ، دده په ګاونډ کې کنډې ، يتيمان ، محتاج او فقيران اُوسيږي ، او دا مالدار سره د قدرته د دوی سره هيڅ امداد نه کوي ، بلکه صرف د خپل مال په زياتولو کې لګيا وی ، نو دا يقيني خبره ده چې دا د شريعت ، او انساني همدردۍ خلاف خبره ده .

لهذا د فرضي زکوة نه علاوه په نورو موقعو کې هم خپل حلال مال لږول ضروري دي .

بل دا چې لکه څرنګ چې په فقير او مسکين باندې دا فقريو امتحان دی چې آيا دې پرې صبر کوي او که نه ؟ نو دغه شان د مالدار دپاره دا مال هم يو امتحان دی چې آيا دا په دې مال کې فرضي حقوق اداء کوي او که نه ؟

د صدقې ترغيب او برکات

دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې د صدقې ورکولو ډير فضيلت بيان شوی ، او رسول الله صلی الله عليه وسلم هم خپل امت ته د صدقې ورکولو ډير ترغيب ورکړی.

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ﴾ (۱)

---

(۱) الحديد آيت ۱۸ . همدا مضمون د قرآن مجيد په نورو آيتونو کې هم ذکر دی لکه د سورة بقرة آيت ۲۴۵ ، سورة تغابن آيت ۱۷ .

ترجمه: بېشکه صدقه ورکوونکي سړي او صدقه ورکوونکې ښځې، او څوک چې الله ﷻ ته په ښه شان سره قرض ورکوي (يعنی د الله ﷻ د رضا دپاره په اخلاص سره صدقه ورکوي(۱)) نو دوی ته به ددې صدقې ثواب دوچند کولې شي، او د دوی د پاره اَجر د عزت (يعنی جنت) دی.

۲. بل ځای الله رب العزت فرمايي:

﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيْمٌ﴾. (۲)

ترجمه: څوک دی چې الله ﷻ ته په ښه شان قرضه ورکړي (يعنی په اخلاص سره داسې صدقه ورکړي چې بې احسانه او بې ريا وي (۳)) نو الله تعالی به دا دده د پاره څو څو چنده زيات کړي، او دده د پاره لوي اَجر دی.

فايده: الله ﷻ خو صَمد او بې نيازه ذات دی د چا د قرضې محتاج نه دی، خو دلته مطلب دادی چې څوک د الله ﷻ د رضا د پاره يو فقير، مسکين او ضرورتمند ته صدقه ورکړي نو دا ګويا ددې انسان د الله ﷻ سره اَمانت شو، ددې اَجر به ورکوي، لکه څرنګه چې سړې چاته قرض ورکړي او هغه يې ده ته بيا واپس کوي. (۴)

---

(۱) ﴿وَأَقْرَضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ بالصدقةِ والنفقة في سبيل الله. قال الحسنُ: كُلُّ ما في القرآن مِنَ القرضِ الحَسَنِ فهو التَّطَوّعُ. وقيل: هوالعملُ الصَّالِحُ مِنَ الصَّدقةِ وغيرها مُحْتَسِبًا صادقًا. ﴿وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيْمٌ﴾ يعنى الجنة. تفسير قرطبي ج۱۷ ص ۲۱٦ الحديد آيت ۱۸./ ﴿وَأَقْرَضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ صدقةٌ مقرونةٌ بالاخلاص إبتغاء مرضاة الله بِلا منٍّ ولا أذى، ولا إرادة جزآء من المحتاج المعطي. تفسيرمنير ج ۱۴ ص ۳۳۹ الحديد آيت ۱۸..

(۲) الحديد آيت ۱۱.

(۳) ﴿قَرْضًا حَسَنًا﴾ اى صدقةً محتسبًا مِنْ قلبه بِلَا مَنٍّ ولَا أذًى، وَالقَرْضُ الحَسَنُ: أن يكونَ المُتَصَدِّقُ صادق النية طيب النفس يَبتغي به وجهَ الله، دُونَ الرِّياء والسُّمعةِ، وأَنْ يكونَ مِنَ الحَلَالِ. تفسير قرطبي ج ۱۴ ص ۲۰۸ الحديد آيت ۱۱.

(۴) سُمّي الصَّدقةُ قرضًا لانّ القرضَ أخرج لاسترداد البدل. اى مَنْ ذَا الَّذِيْ يُنْفِقُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حتى يبدله الله بِالْأَضْعَافِ الكثيرةِ. تفسير قرطبي ج۱۷ ص ۲۰۸ الحديد آيت ۱۱.

د حضرت ابوالدحداح ﷺ واقعه :

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي : چې کله دا آيت ﴿مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا ... ﴾ نازل شو نو حضرت ابوالدحداح ﷺ عرض وکړو : اې د الله ﷻ رسوله ! زما مور او پلار دې په تاسو قربان وي ، آيا يقيني الله ﷻ د مونږ نه قرض غواړي ؟ حالانکه د هغه قرض ته هيڅ حاجت نشته ، نبي ﷺ وفرمايل : آو . الله تعالى دا غواړي چې ددې په ذريعه تاسو جنت ته داخل کړي .

ابوالدحداح ﷺ ددې په اوريدو سره وويل : اې د الله تعالى رسوله ! لاس راوړاندې کړئ، هغوی لاس وَرووړاندې کړو ، نو ابوالدحداح ﷺ داسې وويل :

زه د قجورو د دوه وُ باغونو مالِک يم ، ددينه بغير زما په مِلک کې بل څه نشته ، زه خپل دغه دواړه باغونه الله تعالى ته قرض ورکوم .

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : چې يو د الله تعالى په لار کې وقف کړه ، او بل د خپل بال بچ د ژوند ضروورياتو د پاره ځان سره اوساته .

ابوالدحداح ﷺ وفرمايل : تاسو گواه اوسئ ، په دې دواړو کې چې کوم ډير ښه باغ دی زه هغه د الله تعالى په لار کې خرچ کوم ، په کوم کې چې د قجورو شپږسوه (۶۰۰) اُونې دي .

نبي ﷺ وفرمايل : ددې په بدل کې به الله رب العزت تا ته جنت در کړي .

ابوالدحداح ﷺ خپل کورته راغی ، او خپلې بي بي رضی الله عنها ته يې ددې خبر ورکړو ، نو هغه هم د ابوالدحداح ﷺ په دې ډيرې بهترينې سودا کولو سره ډيره خوشحاله شوه .

رسول الله ﷺ وفرمايل :

كَمْ مِنْ عِذْقٍ رَدَاحٍ . وَدَارٍ فَيَاحٍ لِأَبِي الدَّحْدَاحِ .

څومره ډيرې د قجورو ميوه دارې ونې اونې ، او څومره پراخه محلونه (دجنت) د ابوالدحداح رضي الله عنه د پاره تيار دي . (۱)

۳ . رسول الله ﷺ فرمايي : قَالَ اللهُ تَعَالَى : أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . (۲)

(۱) معارف القرآن البقرة آيت ۲۴۵ . تفسير قرطبي واله ددې شانِ نزول داسې بيانوي : لمّا نزل : ﴿ مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللهَ قَرْضًا حَسَنًا ... ﴾ قالَ ابوالدّحداح فداک أبي و أمي يا رسول الله ! إنّ الله يستقرضنا وهو غنيٌّ عن القرض ؟ قال : نعم '' يريدُ أنْ يدخلكم الجنّة به '' . قال : فإنّي أقرضتُ ربّي قرضًا يضمن لي به ولِصِبْيَتِي الدّحداحة معي الجنة ؟ قال : نعم . قال : فناولني يدک . فناوله رسول الله ﷺ يده . فقال : إنّ لي حديقتَين إحداهما بالسّافلة والأخرى بالعالية . واللهِ لَا أملکُ غيرها . قد جعلتُهما قَرضًا لله تعالى . قالَ رسول الله ﷺ : '' إجعل إحداهما لله والأخرى دعها معيشة لک ولعيالک '' . قال : فأُشهدک يا رسول الله أنّي قد جعلتُ خيرَهما لله تعالى . وهو حائطٌ فيه ستمائة نخلة . قال : إذًا يجزيک الله به الجنّة . فانطلق أبوالدحداح حتّى جاء أمّ الدحداح وهي مع صبيانها في الحديقة تدور تحت النخل فأنشأ يقول :

هَدَاکِ رَبِّي سُبُلَ الرّشادِ * الى سَبِيْلِ الْخَيْرِ وَالسَّدَادِ
بِينِيْ من الحائط بالودادِ * فقد مضى قرضًا الى التّنادِ
أقرضْتُه الله على اعتمادي * بالطّوع لَا مَنٍّ وَلَا ارْتِدَادِ
إِلّا رَجَاءَ الضِّعف في المَعاد * فَارْتَحِلِي بالنفس والاولادِ
وَالبِرّ لاشکَّ فخَيْرُ زادِ * قَدّمَه المرءُ إلى المعادِ .

قالت أمّ الدحداح : رَبِحَ بَيْعُکَ . بَارَکَ اللهُ لَکَ فيما اشتريتَ . ثُمّ أجابَتْه أمّ الدحداح وأنشأتْ تقول :

بشّرَکَ اللهُ بخَيْرٍ وفَرَحْ * مِثْلُکَ اَدّى ما لديه ونَصَحْ
قد مَتّعَ الله عيالي وَمَنَحْ * بالعَجوة السّوداءِ وَالزّهْوِ البَلَحْ
وَالعبدُ يسعى وله ما قد كَدَحْ * طولَ الليالي وعليه مَا اجْتَرَحْ .

ثم أقبلتْ أمّ الدحداح على صبيانها تُخرج ما في أفواههم وتنفض ما في أكمامهم حتى أفضت الى الحائط الآخر . فقال النبي ﷺ : كَمْ مِنْ عِذْقٍ رَدَاحٍ . وَدَارٍ فَيَاحٍ لِأَبِي الدَّحْدَاحِ . تفسير قرطبي ج۳ ص ۲۲۶ البقرة آيت ۲۴۵ ، و اخرجه عبدالرزاق في تفسيره ۳۰۷ ، وابن جرير الطبري ۵۶۲۱ مختصرا عن زيد بن اسلم .

(۲) هذا الحديث اخرجه البخاري في صحيحه في كتاب التفسير ، تفسير سورة هود باب '' وكان عرشه على الماء '' رقم (۴۶۸۴) ومسلم باب الحث على النفقة وتبشير المنفق بالخلف ۲۲۸۳ / ۳۶ (۹۹۳) ، والترمذي في جامعه في كتاب تفسير القرآن رقم (۳۰۴۵) ، وابن ماجه في سننه في المقدمة رقم (۱۹۷) ، واحمد في مسنده (۲ : ۲۴۳ ، ۳۱۳) . وَفِي رِوَايَةٍ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ قَالَ لِيْ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْکَ . مسلم باب الحث على النفقة (۲۲۸۴ / ۳۷) .

حديث قدسي دی الله تعالی فرمايي : اې د آدم ځويه ! ته (زما په ضرورتمندو بندګانو باندې) خرچ کوه زه به په تا باندې خرچ کوم (يعنی د خپلو خزانو نه به تاته درکوم) .

فايده : ګويا دالله ﷻ د طرفه دا ضمانت دی چې څوک په محتاجو او ضرورتمندو باندې خرچ کوي نو الله تعالی به دوی ته د خپلو غيبي خزانو نه ورکوي .

او دا په معاشره کې مونږ ګورو چې څوک هم په فراخ دلۍ سره د ضرورت په ځايونو کې خرچ کوي نو الله تعالی هماغه شان ده ته د بلې لارې نه فراخه ورکوي . الله رب العزت فرمايي : ﴿وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ﴾(۱) ترجمه : او څه چې تاسو (د الله ﷻ په لاره کې) خرچ کوئ نو هغه به دديې بدله درکوي .

۴ . يو کرت رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل :

أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ ؟

په تاسو کې څوک داسې دی چې هغه ته د وارِث مال د خپل مال نه ډير خوښ دی ؟

صحابه کرامو ورته وفرمايل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! مَا مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ .

په مونږ کې خو هيڅ څوک داسې نشته ، بلکه هر کس ته خپل مال زيات خوښ دی .

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

فَإِنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ . وَمَالُ وَارِثِهِ مَا أَخَّرَ .(۲)

بيشکه د انسان خپل مال هغه دی چې ده دخپل ځان نه مخکې وليږل (يعنی صدقه يې کړو او د آخرت ذخيره يې جوړه کړه) ، او د وارِث مال هغه دی کوم چې ده روستو پريښود .

يعنی د انسان خپل مال هغه دی چې ده د الله ﷻ د رضا دپاره صدقه کړو نو دا به ده ده په کار راشي ، او کوم چې دده نه پاتې شو نو دا خو بيا دده د وارثانو مال دی .

---

(۱) سورة سبا آيت ۳۹ .

(۲) رواه احمد ۱ / ۳۸۲ ، والبخاري في الزكاة ۸ / ۱۸۶ وجز ۸ ص ۹۳ حديث ۶۴۴۲ باب مَا قَدَّمَ من ماله فهو لَهُ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۳ .

بايد هر مسلمان صدقه ورکړي

د بخاري شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

عَلَىٰ كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ.

(د نعمتِ الهي پيشِ نظر) په هر مسلمان صدقه ورکول لازمي دي .

صحابه کرامو (دې اوريدو سره) عرض وکړو : که دچا سره د صدقې ورکولو دپاره هيڅ شی نه وي (نو هغه به څه کوي ؟) نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

فَلْيَعْمَلْ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ .

داسې سړي له په کار دي چې هغه د خپلو لاسونو په ذريعه مال اوګټي ، خپل ځان ته هم فايده اورسوي ، او نورو ته صدقه هم ورکړي .

صحابه کرامو عرض وکړو : که دا کس ددې طاقت هم نه لري ، او محنت ، مزدوري هم نشي کولی (نو بيا به څه کوي ؟) .

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : فَيُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ .

دا کس دې د غمجن او پريشان حاله سړي څه کار وکړي او د هغه مدد دې وکړي (چې دا هم يو قِسم صدقه ده) .

صحابه کرامو بيا عرض وکړو : که دا هم نشي کولی (نو بيا به څه کوي ؟) . نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ. ده له په کار دي چې خلقو ته د نيکۍ حکم وکړي .

صحابه کرامو عرض وکړو : که يو کس دا هم نشي کولی ؟ پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل : فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهُ لَهُ صَدَقَةٌ. (۱)

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : عَلَىٰ كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ . قَالُوا : فَإِنْ لَمْ يَجِدْ قَالَ : فَلْيَعْمَلْ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ . قَالُوا فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ أَوْ لَمْ يَفْعَلْ ، قَالَ : فَيُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ . قَالُوا : فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْهُ ؟ قَالَ : فَيَأْمُرُ بِالْخَيْرِ . قَالُوا : فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ ؟ قَالَ : فَيُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهُ لَهُ صَدَقَةٌ . رواه البخاري ومسلم ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ۸ .

ده له په کار دي چې خپل ځان د تکليف رسولو نه منع کړي (يعنی په خپل لاس او ژبې سره بل چاته تکليف اونه رسوي، او که وَس يې کيږي نو بل کس دې هم نورو خلقو ته د تکليف رسولو نه منع کړي) ځکه دا کار هم دده دپاره صدقه ده (يعنی ده ته به په دې سره هم دصدقې ثواب حاصليږي).

فايده: ددې حديث نه معلومه شوه چې په انسان باندې د الله ﷻ دومره نعمتونه دي چې که په چا باندې زکوة فرض نه وي نو بيا هم ده له په کار دي چې څه نا څه صدقه ورکوي، اوس که مال و دولت ورسره بالکل نه وي نو مزدوري دې وکړي په خپل ځان دې هم خرچ کړي او صدقه دې هم ورنه ورکړي، او که دا هم نشي کولی نو د يو پريشان حاله کس خدمت دې په لاس خپو وکړي، او که دا هم نشي کولی نو په ژبه دې خدمت وکړي او خلقو ته دې د نيکی حکم وکړي، ورنه کم از کم دې نورو ته ضرر نه رسوي.

ددې حديث رُوح او خاص پيغام دادی چې: هر مسلمان که هغه مالدار وي او که غريب، که طاقتور وي او که کمزورې نو څه نا څه طريقې سره دې د حاجتمندو مدد وکړي، که هغه د مال په ذريعې سره وي، يا د خدمت په ذريعې سره، يا هغه سره د اِحسان په ذريعې سره.(۱)

د صدقې ورکولو فوايد

زمونږ په شريعت کې د صدقې ورکولو دومره فضايل او فوايد بيان شوي دي چې د هغې ټولو بيانول ډير گران دي، خو زه به درته صرف يو څو غټ فوايد بيان کړم:

د صدقې په وجه په مال کې برکت او پاکوالی راځي

د صدقې اوله فايده داده چې ددې په وجه د انسان په مال کې برکت پيدا کيږي او مال ورسره صفا کيږي.

۱. الله رب العزت فرمايي:

﴿وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُۥ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾.(۲)

(۱) معارف الحديث ج۳ ص ۳۲۵.

(۲) سورة سبا آيت ۳۹.

ترجمه : او څه چې تاسو (د الله ﷻ په لاره کې) خرچ کوئ، نو هغه به دده بدله درکوي، او هغه ډیر ښه رزق ورکوونکی دی .

۲ . بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او تاسو چې کوم مال خرچ کوئ، هغه به درته (په دُنيا او آخرت کې) پوره پوره واپس درکړی شي ، او په تاسو به ظلم نشي کولی .

۳ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَا مِنْ يَوْمٍ تُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا . وَيَقُولُ الْآخَرُ : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . (۲)

په هره ورځ د سهر په وخت کې دوه (۲) فرښتې راکوزيږي ، او په هغې کې يوه فرښته (: سخي د پاره) دا دُعا کوي : يا الله ! څوک چې (د خير په کارونو کې) خرچ کوي هغه ته دده بَدله ورکړه (يعنی په دُنيا کې يې مال زيات کړه ، او آخرت کې ورته دده ثواب ورکړه (۳))

۴ . په يو روايت کې دا حديث داسې ذکر دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

(۱) البقرة آيت ۲۷۲ .

(۲) رواه البخاري في الزكاة ۲۳۱ ، (۲/ ۱۴۲) ، ومسلم في الزكاة ۵۷ . وفي رواية : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷛ : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : مَا طَلَعَتْ شَمْسٌ قَطُّ إِلَّا (بعث) بِجَنْبَتَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ : اَللّٰهُمَّ مَنْ أَنْفَقَ فَأَعْقِبْهُ خَلَفًا . وَمَنْ أَمْسَكَ فَأَعْقِبْهُ تَلَفًا . رواه احمد وابن حبان والحاكم ، وقال صحيح الاسناد ، قال في مجمع الزوائد (۱۰ / ۲۵۵) ، رواه احمد والطبراني في الكبير والاوسط ، ورواه المنذري في الترغيب ۲ / ۱۱۸ .

(۳) خَلَفًا : اى عِوَضًا عَظِيمًا . وَهُوَ الْعِوَضُ الصَّالِحُ . اَوْ عِوَضًا فِي الدُّنْيَا وَبَدَلًا فِي الْعُقْبٰى . لقوله تعالى : ﴿ وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِيْنَ . سورة السبا آيت ۳۹ ﴾ . قال الحافظ : اَمَّا الْخَلَفُ فَإِبْهَامُهُ أَوْلٰى . لِيَتَنَاوَلَ الْمَالَ وَالثَّوَابَ وَغَيْرَهَا . فتح الملهم ج۵ ص ۷۵ .

إِنَّ مَلَكًا بِبَابٍ مِّنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَقُوْلُ : مَنْ يُّقْرِضِ الْيَوْمَ يُجْزَ غَدًا ، وَ مَلَكٌ بِبَابٍ آخَرَ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ، وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . (۱)

بيشکه د جنت په دروازو کې په يوه دروازه باندې يوه فرښته دا اعلان کوي " څوک چې نن قرض ورکړي (يعنې دالله ﷻ په لاره کې مال خرچ کړي) نو سبا (د قيامت په ورځ) به ددې بدله ورکړې شي " او يوه فرښته په بله دروازه باندې دا دُعا کوي : يا الله ! خرچ کوونکي ته ددې ښه بدله ورکړې، او منع کوونکي (بخيل) ته بربادي ورکړې (يعنې د هغه مال بې برکته او ضائع کړې).

واقعه :

۵ . په مسلم شريف کې يوه واقعه ذکر ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

بَيْنَا رَجُلٌ فِيْ فَلَاةٍ مِّنَ الْأَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِيْ سَحَابَةٍ إِسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ . فَتَنَحَّى ذٰلِكَ السَّحَابُ فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِيْ حَرَّةٍ فَإِذَا شَرْجَةٌ مِّنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذٰلِكَ الْمَاءَ كُلَّهُ . فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ . فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِيْ حَدِيْقَةٍ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ . فَقَالَ : يَا عَبْدَاللهِ ! مَا اسْمُكَ ؟ قَالَ (لَهُ) : فُلَانٌ . لِلْإِسْمِ الَّذِيْ سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ . فَقَالَ لَهُ : يَا عَبْدَاللهِ ! لِمَ سَأَلْتَنِيْ عَنْ إِسْمِيْ ؟ قَالَ سَمِعْتُ فِي السَّحَابِ الَّذِيْ (هٰذَا) مَاؤُهُ (صَوْتًا) يَقُوْلُ : إِسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ لِإِسْمِكَ . فَمَا تَصْنَعُ فِيْهَا ؟ قَالَ : أَمَّا إِذَا قُلْتَ هٰذَا فَإِنِّيْ أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ ، وَ اٰكُلُ أَنَا وَعِيَالِيْ ثُلُثًا ، وَأَرُدُّ فِيْهِ ثُلُثَهُ . (۲)

---

(۱) رواه البخاري ومسلم وابن حبان ، الترغيب والترهيب ج۱ (۱/ ۶۳۵) . وفي رواية : إِنَّ مَلَكًا بِبَابٍ مِنْ أَبْوَابِ السَّمَآءِ يَقُوْلُ : مَنْ يُقْرِضِ الْيَوْمَ يُجْزَ غَدًا ، وَمَلَكٌ بِبَابٍ آخَرَ يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا ، وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا . رواه الطبراني وابن حبان ، ورواه احمد ۲ / ۳۰۵ ، والسيوطي في الدر ۱ /۳۱۳ ، والهندي في الكنز ۱۹۱۱۹ . د نبي عليه السلام حديث دى : ما أحسن عبد الصدقة إلا أحسن الله الخلافة على تركته . ذكره الزبيدي في الاتحاف (۴/ ۱۶۷) ، نزهة الناظرين ص ۱۹۸ كتاب الصدقة .

(۲) رواه مسلم ۲۲۸۸ ، واحمد ۲۹۶ ، والبيهقي ۴/ ۱۲۳ . نضرة النعيم ج۴ ص ۱۵۰۹ حديث ۸ ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۲۳۷ ، المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۱ .

يو کس د زمکې په يوه حصه (ځنګل) کې ولاړ وُ چې د وريځې نه يې يو آواز واوريدو : (څوک ويونکې وايي :)

إِسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ . د فلانکي سړي باغ اُوبه (يعنی سيراب) کړه .

بيا هغه وريځ يو طرف ته لاړه ، په يو کاڼځنه سخته زمکه باندې يې اُوبه اُو وَرولی ، او هغه ټولې اُوبه د هغه نالو نه په يوه نالۍ کې راجمع شوی ، او يو طرف ته روانې شوی ، دا سړې هم ددې اُوبو پسې روان شو (ددې د پاره چې دا اوګوري چې دا اُوبه د چا باغ ته ځي ؟) ناڅاپه يې يو کس وليده ، چې په خپل باغ کې ولاړ دی ، د بيلچې په ذريعه يې دا اُوبه په باغ کې خوَرولی . ده ورنه پوښتنه وکړه :

يَا عَبْدَاللهِ ! مَا اسْمُکَ ؟ اې د الله ﷻ بنده ! ستا څه نوم دی ؟

هغه ورته وويل : زما نوم فلانې دی . هاغه نوم يې ورته واخيست کوم چې ده د وريځ نه اوريدلې وُ ، بيا دې باغ واله دده نه پوښتنه وکړه : اې د الله ﷻ بنده ! ته زما د نوم پوښتنه ولې کوی ؟ ده ورته وويل : د کومې وريځې نه چې دا اُوبه راغلي ما ددغې وريځې نه دا آواز اوريدلی چې ويل يی : إِسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ . د فلانکي سړي باغ اُوبه کړه .

او هغه نوم ستا دی . خو اوس دا راته ووايه چې ته په دې باغ کې د خير کوم کار کوی ؟ (چې د هغې په وجه تاته دا فضيلت او بزرګي درکړې شوه چې وريځې ته دا حکم اوشو چې د فلانکي باغ له اُوبه ورکړه) . د باغ واله ورته وويل : دا وخت ته پوښتنه کوی نو ځکه زه هم اوس تاته دا ښايم چې زه په دې باغ کې څه کوم ؟ نو ددې باغ چې کوم پيداوار کيږي زه هغه ګورم (د هغې خصمانه کوم ، بيا هغه په درې حصو تقسيم کړم) يوه حصه يعنی دريمه حصه خو فورًا صدقه کړم ، بله دريمه حصه زه او زما اهل و عيال خوري ، او بله دريمه حصه زه په دې باغ لږوم .

فايده : د صدقې ورکولو په برکت ورته الله ﷻ دومره عزت وکړو چې وريځې ته حکم کيږي چې د فلانکي باغ اُوبه کړه ، دا ټول برکت د صدقې ورکولو دی .

٦ . د ابوداوُد شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ ! إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلْفُ فَشُوبُوهُ بِالصَّدَقَةِ . (۱)

ای د تاجرانو ټولګيه ! بيشکه په بَيعه کې لغوه (دروغ) او قسَم راځي نو تاسو دا په صدقه ورکولو سره پاکه کړئ (ځکه په صدقه ورکولو سره د دينه پاکوالی راځي) .

د صدقې ورکولو په وجه مال نه کميږي

بعضې خلق دا ګمان کوي چې که چيرته مونږ صدقه يا خيرات ورکړو نو ګني په دې سره به زمونږ مال کم شي ، حالانکه داسې نه ده ، رسول الله ﷺ خپل امت ته دا خبره واضحه کړې چې د صدقې په وجه مال نه کميږي ، بلکه نور هم په کې برکت پيدا کيږي .

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ ، وَمَا زَادَ اللهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا ، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . (۲)

صدقې په مال کې کمې نه دې راوستی ، (يعنی صدقې سره مال نه کميږي) ، او الله تعالی په معافي کولو سره د بنده په عزت کې نوره هم اضافه کوي ، او چا چې هم دا الله ﷻ د پاره تواضع او عاجزي کړې نو الله تعالی هغه پورته کړې دی ،

فايده : په دې حديث کې اوله خبره دا بيان شوه چې که يو کس د خپل مال نه څه صدقه ورکړي نو په دې سره مال نه کميږي ، اګر چې په ظاهره په دې مال کې کمې راشي خو په حقيقت کې په صدقې او خيرات سره مال نور هم زياتيږي ، ځکه الله ﷻ دده په مال کې برکت اچوي ، او په دُنيا کې ددې نِعمُ البَدل هم ورکوي ، يعنی مال يې زيات شي ، د آفتونو نه

(۱) اخرجه ابوداؤد ۳۳۲٦ ، والنسائي ۷ / ۱۴ ، نزهة الناظرين ص ۱۹۷ الباب الرابع في فوائد الصدقة .

(۲) رواه مسلم فی البرّ والصلة ٦۹ ، واحمد ۵ / ۲۳۵ ، ۳٦۸ ، والبيهقي ۱۰ / ۲۳۵ ، ۴ / ۱۸۷ ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ۲ . وَفِي رِوَايَةٍ : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ ، وَمَا مَدَّ عَبْدٌ يَدَهُ بِصَدَقَةٍ إِلَّا أُلْقِيَتْ فِي يَدِ اللهِ قَبْلَ أَنْ تَقَعَ فِي يَدِ السَّائِلِ ، وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْئَلَةٍ عَنْهَا غِنًى إِلَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ . رواه مسلم فی البر والصلة ۲۹ ، واحمد ۲ / ۲۳۵ ، ۳۸٦ ، والبيهقي ۱ / ۲۳۵ ، ۴ / ۱۸۷ .

محفوظ شي ، او دده په عمل نامه کې ددې ډير اجر وليکلې شي ، نو ځکه نبي عليه السلام وفرمايل چې صدقه ورکول مال کې کمې نه کوي . (۱)

۲. په يو بل حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم قسَم کوي :

ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ ـ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ ـ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنَ الصَّدَقَةِ . وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ اللهُ عِزًّا . وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْئَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ . (۲)

درې (۳) خبرې داسې دي چې زه د هغې په صداقت قسَم کوم ، او تاسو ته يوه خبره کوم هغه ياده کړئ ، د بنده مال په صدقې ورکولو سره نه کميږي ، او په کوم بنده چې ظلم اوشي او هغه پرې صبر وکړي نو الله تعالى به يې نور هم عزت زيات کړي ، او کوم بنده چې (په خپل ځان باندې) د سوال دروازه پرانيزي نو الله تعالى به په ده باندې د فقيرۍ دروازه پرانيزي .

۳. اميرِ شريعت سيد عطاء الله شاه بخاري رحمه الله به فرمايل : چې ما ټول عُمر د دوه (۲) کسانو تلاش وکړو خو هغه ما اونه موندل :

يو هغه کس چې هغه صدقه ورکړي وي او هغه غريب شوې وي (يعنى په صدقې ورکولو سره هيڅوک نه غريب کيږي ، بلکه الله ﷻ يې په مال کې نور هم برکت اچوي) .

او دويم هغه کس چې هغه ظلم کړې وي او هغه د الله ﷻ د سزا نه محفوظ شوې وي (بلکه الله ﷻ ظالم ته خامخا سزا ورکړې) .

په پټه صدقې ورکولو سره د الله ﷻ د غضب نه محفوظ کيدل

کله چې انسان په پټه صدقه ورکړي چې د رِيا او سُمعت نه پاکه وي نو په دې سره دا انسان د الله ﷻ د غضب او قهر نه محفوظ کيږي .

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) مظاهر حق ج۳ ص ۳۸۸ . .

(۲) رواه احمد ۴ / ۲۳۱ ، والتبريزي في المشكاة ۵۲۸۷ ، والسيوطي في الدرّ ۴ / ۲۳۱ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۱ ، رياض الصالحين ج۱ باب الكرم والجود والانفاق في وجوه الخير .

صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ ، وَصِلَةُ الرَّحِمِ تَزِيْدُ فِي الْعُمُرِ . (١)

په پټه صدقه ورکول د الله ﷻ غضب يَخوي (يعنى د الله ﷻ غضب دفع کوي) . او صله رحمي کول په عُمر کې زيادت (او برکت) راولي .

٢ . په يو بل حديث کې ورسره نوره اضافه هم شته ، نبي عليه السلام فرمايي :

إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيْتَةَ السُّوْءِ . (٢)

بيشکه صدقه ورکول د الله ﷻ غضب (غصه) يَخوي (يعنى ختموي يې) ، او د خراب مرګ نه حفاظت کوي .

فايده : د الله ﷻ د غضب يخيدو مطلب دادى چې الله ﷻ به دا کس په دُنيا کې په عافيت او سکون سره ساتي او د بَلاګانو نه به يې محفوظ کوي .

او د خراب مرګ نه د محفوظ کيدو مطلب دادى چې صدقه ورکوونکې به د مرګ په وخت د خراب حالت او د شيطاني وسوسو نه محفوظ وي ، او په داسې بيمارۍ کې به نه مبتلاء کيږي چې د هغې په وجه يې خاتمه خرابه شي ، بلکه خاتمه بِالخير به يې نصيبه کيږي . (٣)

٣ . په يوه موقع د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ ؟ اې د الله ﷻ رسوله ! کومه صدقه غوره ده ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : سِرٌّ إِلَى فَقِيْرٍ وَجُهْدٌ مِّنْ مُقِلٍّ . (۴)

---

(١) قال في مجمع الزوائد (٣/١١٥) رواه الطبراني في الكبير (٢/٩٦) واسناده حسن ، الترغيب والترهيب ج١ (۴/٦١٧) ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٣٨ ثواب صدقة السرّ ، نزهة الناظرين ص ١٩٩ كتاب الصدقة .

(٢) رواه الترمذي الحديث ٦٦۴ ، وابن حبان في صحيحه والسيوطي في الجوامع ٥٦٦١ ، والهندي في الكنز ١٥٩٣٥ ، ١٦١١۴ ، والزبيدي في الاتحاف ۴/١١۴ ، ١٦٧ ، المتجر الرابح ١٣٦ ثواب الصدقة وفضلها ، وقال الترمذي حديث حسن غريب . الترغيب والترهيب (۴/٦١٧) . وروي ابن المبارک في كتاب البر شطره الاخير . ولفظه : إِنَّ اللهَ لَيَدْرَءُ بِالصَّدَقَةِ سَبْعِيْنَ بَابًا مِنْ مِيْتَةِ السُّوْءِ . الترغيب والترهيب ج١ (٢١/٥٨٩) .

(٣) مظاهر حق ج٣ ص ۴٠٢ .

(۴) رواه احمد ٥/٢٦٥ ، والطبراني في المعجم ٨/٢٥٩ ، ٢٦٩ ، والسيوطي في الدر ١/٣٥٣ ، المتجر الرابح ص ١٣٧ ثواب صدقة المقلّ .

فقير ته په پټه صدقه ورکول، او په فقيرۍ (تنگ دستی) کې صدقه ورکول.

په پټه سره د صدقې ورکولو فضيلت

څومره چې صدقه پټه ورکړې شي نو دومره ددې اجر زيات وي، ځکه په دې کې خو يو رِيا نه وي، او بل اخيستونکې هم د نورو خلقو د وړاندې او نه شرميږي.

۱. الله رب العزت فرمايي:

﴿إِن تُبْدُوا الصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾.(۱)

ترجمه: که چيرته تاسو صدقې په ښکاره ورکوئ نو (هم) ښه خبره ده، او که چيرته تاسو دا صدقې پټوئ او په پټه يې فقيرانو ته ورکوئ نو دا (په پټه ورکول) ستاسو د پاره ډير بهتر دي، او الله تعالی به (ددې په برکت) ستاسو ځنې گناهونه لرې (معاف) کړي، او الله تعالی په هغه کارونو چې تاسو يې کوئ ښه خبردار دی.

۲. د بخاري او مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَاظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ. ..... وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتّٰى لَاتَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهُ.(۲)

اووه (۷) کسان داسې دي چې د قيامت په هغه سخته ورځ کې به الله ﷻ دوی ته د خپل عرش د سيوري لاندې ځای ورکړي، په کومه ورځ چې د عرش د سيوري نه علاوه بل سيوری نوي........ په دوی کې يو هغه کس دی چې په داسې پټې طريقې سره (په خپل لاس) صدقه ورکړي چې چپ لاس ته هم معلومه نه وي چې خپل لاس څه شی صدقه کړو.

۳. د ترمذي شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

---

(۱) البقرة آيت ۲۷۱.

(۲) اخرجه البخاري في الاذان باب ۳۶ والرقاق باب ۲۴ والزكوة باب ۱۶ (۲۲۶) والحدود باب ۱۹. ومسلم في الزكوة حديث ۹۱. والترمذي في الزهد باب ۵۳. والنسائي في القضاة باب ۲، واحمد ۲/۴۳۹.

لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيْدُ فَخَلَقَ الْجِبَالَ فَقَالَ بِهَا عَلَيْهَا (۱) فَاسْتَقَرَّتْ فَعَجِبَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الْجِبَالِ فَقَالُوْا : يَارَبِّ ! هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْجِبَالِ ؟ قَالَ : نَعَمْ الْحَدِيْدُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْحَدِيْدِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلنَّارُ . فَقَالُوْا : يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلْمَاءُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الْمَاءِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اَلرِّيْحُ . فَقَالُوْا : يَارَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيْحِ ؟ قَالَ : نَعَمْ اِبْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ صَدَقَةً بِيَمِيْنِهِ يُخْفِيْهَا مِنْ شِمَالِهِ . (۲)

کله چې الله تعالی زمکه پیدا کړه نو هغه په خوزیدو شوه ، بیا الله تعالی غرونه پیدا کړه او دایې په زمکه اُودرول ، نو زمکه په قلاره شوه . فرښتو ته د غرونو په سختئ ډیر تعجب اوشو ، الله تعالی ته یې ورویل :

اې الله ! ستا په مخلوقاتو کې د غرونو نه هم سخت شی شته ؟ الله تعالی ورته وفرمایل : هو . اُوسپنه ده (چې دا کاڼي هم ماتوي) .

فرښتو بیا عرض وکړو : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو کې د اُوسپنې نه هم زیات سخت څه شی شته ؟ الله رب العزت ورته وفرمایل : آو ، هغه اُور دی (چې دا اُوسپنه هم ویلې کوي) .

فرښتو بیا پوښتنه وکړه : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو کې د اُور نه هم زیات سخت شی شته ؟ الله تعالی وفرمایل : آو ، اُوبه دي (چې اُوبه اُور هم مړ کوي) .

فرښتو بیا عرض وکړو : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو د اُوبو نه هم زیات قوي څه شی شته ؟ الله تعالی وفرمایل : آو ، هوا ده (چې دا اُوبه هم اُوچوي) .

فرښتو بیا وویل : اې زمونږه ربه ! آیا ستا په مخلوقاتو کې د هوا نه هم زیات مضبوط څه شی شته ؟ الله رب العزت ورته وفرمایل :

نَعَمْ اِبْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ صَدَقَةً بِيَمِيْنِهِ يُخْفِيْهَا مِنْ شِمَالِهِ .

---

(۱) وَفِيْ رِوَايَةٍ : لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيْدُ وَتَكَفَّأُ فَأَرْسَاهَا بِالْجِبَالِ ..... رواه الترمذي الحديث ۳۳٦۹ ، واحمد ۳ / ۱۲۲ ، والتبريزي في المشكوة ۱۹۲۳ ، والمنذري في الترغيب ۲ / ۳۰ . المعجم الرابع ص ۱۳۹ .

(۲) رواه الترمذي ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الثاني حديث ۳۵ .

آو ، هغه د بني آدم هغه صدقه ده چې په خپل ښي لاس باندې داسې صدقه ورکړي چې د خپل چپ (ګس) لاس نه يې هم پټوي .

(يعنی داسې په پټې طريقې سره په ښي لاس صدقه ورکړي چې چَپ لاس هم د دينه خبر نه شي).

نوټ : په پټه صدقې ورکولو ته د ټولو نه زيات سخت شی ځکه ويلې شو چې په دې سره د الله ﷻ رضا حاصليږي ، او د الله تعالی غضب پرې دفع کيږي ، د نفسِ اَمّاره مخالفت راځي ، ځکه هر سړې فطرتًا دا غواړي چې زه صدقه ورکړم نو ما دې خلق اوګوري ، زما تعريف دې وکړي ، او زه دې مشهور شم . اوس چې سړې دا په پټه ورکړي نو په دې سره د نفسِ امّاره او شيطان مخالفت راغی ، او د رِيا او ځان خودنې نه هم بچ شو . (۱)

۴ . د مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي : چې درې (۳) کسان داسې دي چې د هغوی سره الله ﷻ محبت کوي ، په دې درې کسانو کې يو کس هغه دی چې :

فَرَجُلٌ أَتَى قَوْمًا فَسَأَلَهُمْ بِاللهِ وَلَمْ يَسْأَلْهُمْ بِقَرَابَةٍ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ فَمَنَعُوهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلٌ بِأَعْقَابِهِمْ فَأَعْطَاهُ سِرًّا لَا يَعْلَمُ بِعَطِيَّتِهِ إِلَّا اللهُ وَالَّذِيْ أَعْطَاهُ . (۲)

هغه کس چې داسې يو فقير ته صدقه ورکړي کوم فقير چې يو قوم ته راشي او د الله ﷻ په نوم ورنه څه اوغواړي (يعنی دا فقير ورته ووايي چې زه تاسو ته د الله ﷻ په ذات قسم درکوم چې د ما سره اِمداد وکړئ) ، او دې فقير د دې خلقو نه د هغه حقِ قرابت په وجه څه اونه غوښته کوم چې دده او د قوم په مينځ کې وُ (بلکه خالص د الله ﷻ په نوم يې ورنه اوغوښت) خو دې قوم دې فقير ته هيڅ ورنه کړه ، بيا د دې جماعت يو کس د دې فقير پسې په پټه روان شي او ده ته يې داسې په پټه سره څه (صدقه) ورکړه چې دده په دې ورکړه باندې د

(۱) مظاهر حق ج۳ باب فضل الصدقة .

(۲) رواه احمد ۵/ ۸۴ ، ۱۶۳ ، ۱۷۶ ،والحاكم في المستدرك ۱/ ۴۱۶،۲۵ ، ۲/ ۱۱۳ ، والترمذي الحديث ۲۵۶۸ ، وابن خزيمة في صحيحه ۲۴۵۶ ، ۲۵۵۶ ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الثاني حديث ۳۴ ، المتجر الرابح ص ۱۳۸ ثواب صدقة السرّ .

الله ﷻ او ددې فقير نه علاوه بل هيڅوک هم پوهه نشي (نو دغه په پټه صدقه ورکوونکې کس د الله ﷻ دير محبوب دی) .

۵ . حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي :

صَدَقَةُ السِّرِّ فِي التَّطَوُّعِ تفضُلُ عَلَانِيَتَهَا بِسَبْعِينَ ضِعْفًا . (۱)

نفلي صدقه په پټه ورکول د ښکاره صدقې ورکولو نه يو په اويا (۷۰) چنده بهتره ده .

٦ . ابن جعد رحمه الله وايي :

إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتَدْفَعُ سَبْعِينَ بَابًا مِنَ السُّوْءِ وَفَضْلُ سِرِّهَا عَلىٰ عَلَانِيَتِهَا سَبْعِيْنَ ضِعْفًا . (۲)

بيشکه صدقه ورکول (په انسان باندې) د بدۍ او تکليفونو اويا (۷۰) دروازې بندوي، او د پټې صدقې ورکولو فضيلت په ښکاره صدقه ورکولو باندې يو په اويا چنده زيات دی .

د صدقې په وجه مصيبتونه او مرضونه دفع کيږي

۱ . رسول الله ﷺ فرمايي :

اَلصَّدَقَةُ تَسُدُّ سَبْعِيْنَ بَابًا مِنَ السُّوْءِ . (۳)

صدقه (په انسان باندې) د بدۍ او تکليفونو اويا (۷۰) دروازې بندوي .

(۱) احياء العلوم ، نزهة الناظرين ص ۲۰۲ .

(۲) المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۹ ثواب صدقة السرّ .

(۳) رواه الطبراني في المعجم ۴/۳۲۷، والمنذري في الترغيب ۲/۱۹ ، والهيثمي في المجمع ۳/۱۰۹ . المتجر الرابح ص ۱۳۴ ثواب الصدقة وفضلها .

فايده : فَإِنْ قِيْلَ : كَيْفَ قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ " اَلصَّدَقَةُ تَسُدُّ سَبْعِيْنَ بَابًا مِنَ السُّوْءِ " وَنَحْنُ نَرىٰ مَنْ يَتَصَدَّقُ ثُمَّ يُبْتَلىٰ؟ فَالْجَوَابُ : مِنْ وَجْهَيْنِ : اَلْأَوَّلُ : أَنَّهَا تَدْفَعُ الْبَلَاءَ حَالَ الصَّدَقَةِ . اَلثَّانِيْ : اَنَّهَا تَدْفَعُ بَلَاءَ الْعُقُوْبَةِ لَا بَلَاءَ الْمَثُوْبَةِ . نزهة المجالس ج۲ ص ۱٦ .

۲. نبي عليه السلام فرمايي: بَاكِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَايَتَخَطَّى الصَّدَقَةَ. (۱)

تاسو د صدقې په ورکولو کې تادي کوئ (يعنى د مرګ او بيمارۍ نه مخکې مخکې صدقه ورکوئ)، ځکه بلا (او مصيبتونه) په صدقه سبقت نشي کولى (يعنى بلاګانې او مصيبتونه په صدقه ورکولو نه زياتيږي، بلکه دا صدقه ورته حايل شي او بلاګانې پرې دفع کيږي).

واقعه: د صدقې په برکت د بچي حفاظت

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب "روضة المشتاق" کې يوه واقعه رانقل کړې، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

يو سړي او ښځې د ماسخوتن د ودۍ (روټۍ) خوړله، کله چې دې ښځې نوړۍ خپلې خُلې ته راپورته کړه نو په دروازه کې يو فقير خوراک اوغوښته، نو دې ښځې دا نوړۍ په خپله اونه خوړه، بلکه فقير ته يې ور اُوليږله، کله چې صبا شو، نو دا خاوند يې پټي ته د کار د پاره لاړ، د غرمې په وخت دې ښځې ورپسې روټۍ ورووړله، نو په غيږ کې يې ورو کې بچې هم وُ، په لاره کې يې دا ماشوم په يوځاى کې کينول، ددې د پاره چې د پيازو څه پاڼې رااُوشکوي چې خاوند يې د روټۍ سره اوخوري، دا په دې راشوکولو کې مصروفه وه چې ناڅاپه يو ليوه راغى، او دا ماشوم يې په خُله کې ونيوه او ورنه وې تختول. دې ښځې قبلې ته مخ کړو، او دا دُعا يې اوغوښته:

اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ رَفَعْتُ اللُّقْمَةَ. وَأَنَا أَشْتَهِيْهَا فَهَتَفَ بِيْ سَائِلٌ عَلَى الْبَابِ فَآثَرْتُهُ بِهَا عَلَى نَفْسِيْ مِنْ أَجْلِكَ وَرَغْبَةً فِيْمَا لَدَيْكَ. وَقَدْ وَقَفْتُ بِبَابِكَ فَأَعِدْ عَلَيَّ وَلَدِيْ. (۲)

اې الله! تاته ښه معلومه ده چې بيګاه ما کله د روټۍ خوړلو اِراده وکړه، او نوړۍ مې خُلې ته راپورته کړه، نو يو فقير په دروازه کې آواز وکړو، اګر چې زما دې خوراک ته زړه هم

(۱) رواه البيهقي في الشعب مرفوعًا هكذا وموقوفا على انس ﷺ، البيهقي ۴/۱۸۹، المتجر الرابح ص ۱۳۵ ثواب الصدقة وفضلها. وفي رواية: بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَايَتَخَطَّاهَا. رواه رزين، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك الفصل الثالث حديث ۲۹.

(۲) نزهة الناظرين الباب الرابع في فوائد الصدقة ص ۱۹۷. وهكذا في تنبيه الغافلين ص ۱۵۰ باب ما تدفع الصدقة عن صاحبها.

کيده خو ما صرف ستا د رضا او ستا د خوشحالۍ د پاره هغه ته په ځان باندې ترجيح ورکړه ، نو اې الله ! زه دا دی اوس ستا مخې ته ولاړه يم ته ما ته د هغې صدقې په برکت سره دا بچې را واپس کړې .

نو هغه ليوه واپس را وګرځيده ، بچې ورسره په خُله کې وُ ، کله چې دې ښځې ته رانزدې شو ، نو بچې يې هلته واپس پريخود ، او يو هاتفي آواز اوشو :

هٰذِهِ اللُّقْمَةُ بِتِلْكَ اللُّقْمَةِ .

دا نوړۍ د هغې نوړۍ په عوض کې ده .(يعنی کله چې تا هغه نوړۍ په صدقه کې ورکړې وه نو د هغې په برکت سره مو ستا دا بچې د ليوه د نوړۍ ګرځيد و نه محفوظ کړو) .

۳ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

دَاوُوْا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ . (۱)

تاسو د خپلو بيماريانو علاج په صدقې ورکولو سره کوئ .

(يعنی که صدقه ورکوئ نو الله رب العزت به درته د بيماريانو نه شفاء درکوي) .

واقعه :

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د يو رئيس متعلق ليکلي چې کله به دې بيمار شو ، نو خپل موټر به يې د حکيم پسې ور وليږل ، هغه به يې راوست ، هغه به دې او کته ، او نسخه به يې ورته وليکله ، کله به چې حکيم لاړو ، نو ده به دا نسخه خپل يو خادِم ته ورکړه چې بازار ته لاړ شه ، او د دوايي په دُکان کې د دې قيمت معلوم کړه چې دا د څو روپو دوايي ده ، هغه به چې د دې قيمت معلوم کړو نو دې رئيس به هماغومره روپۍ په فقيرانو باندې تقسيم کړې ، او او به يې ويل چې:

" زما دوايي همدا ده " . د خدای شان دی چې څنګه به يې دا روپۍ صدقه کړې نو په هماغه وخت به روغ جوړ او صحت مند شو . (۲)

---

(۱) اخرجه البيهقي في السنن ۳ / ۳۸۲ .

(۲) خطبات حکيم الامت .

۴ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : حَصِّنُوْا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكٰوةِ ، وَدَاوُوْا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ ، وَاسْتَقْبِلُوْا أَنْوَاعَ الْبَلَايَا بِالدُّعَاءِ . (۱)

تاسو د خپلو مالونو حفاظت په زکوة ورکولو سره وکړئ ، او د خپلو مرضونو علاج په صدقې ورکولو سره وکړئ ، او په دُعاګانو قِسما قسم بَلاګانې د ځان نه دفع کړئ .

واقعه : د صدقې په وجه د خپې زخم ښه کيدل

امام بخاري رحمه الله ذکر کړي چې د مشهور محدث عبدالله بن مبارک رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه : اې ابوعبدالرحمن ! زما په ګونډې (زنګون) کې د اووه (۷) کالونه راپه ديخوا زخم دى ، ما ددې هر قسمه علاج وکړو ، او د ډيرو طبيبانو سره مې مشوره هم وکړه خو هيڅ فايده راته اونه شوه . عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته وويل :

لاړ شه او داسې يو ځاى اوګوره چيرته چې خلقو ته د اُوبو ضرورت وي ، هلته يو کوهې اُوکنه ، ځکه زما دا اميد دى چې کله هلته اُوبه رااُوځي نو دلته به ستا وينه راوتل بند شي (او دَانه به دې ښه شي) .

هغه کس همداسې وکړه او د الله ﷻ په فضل سره روغ جوړ شو . (۲)

واقعه : د صدقې په برکت د مخ دانې ښه کيدل

امام بيهقي رحمه الله ذکر کړي چې زمونږ يو استاذ ''امام ابوعبدالله حاکم رحمه الله'' د هغه په مخ باندې هم ډيرې دَانې وى ، هر قسمه علاج يې وکړو خو هيڅ فايده يې اونه کړه ، په دې کې تقريبًا يو کال تير شو ، يوه ورځ دې د امام ابوعثمان الصابوني رحمه الله په خدمت کې حاضر شو او هغه ته يې وويل :

---

(۱) اخرجه البيهقي في السنن ۳ / ۳۸۲ ، تنبيه الغافلين (۴۳۲) .

(۲) وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَسَنِ بْن شَقِيْقٍ : قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ الْمُبَارَكِ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ : يَا أَبَا عَبْدِالرَّحْمن ! قُرْحَةٌ خَرَجَتْ فِيْ رُكْبَتِيْ مُنْذُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَقَدْ عَالَجْتُ بِأَنْوَاعِ الْعِلَاجِ وَسَأَلْتُ الْأَطِبَّاءَ فَلَمْ أَنْتَفِعْ بِهِ . قَالَ اذْهَبْ فَانْظُرْ مَوْضِعًا يَحْتَاجُ النَّاسُ فِيْهِ الْمَاءَ فَاحْفِرْ هُنَاكَ بِئْرًا . فَإِنِّيْ أَرْجُوْ أَنْ يَنْبُعَ هُنَاكَ عَيْنٌ وَيُمْسِكَ عَنْكَ الدَّمَ . فَفَعَلَ الرَّجُلُ فَبَرَأَ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۹ .

تاسو زما د پاره د جُمعې په ورځ خاصه دُعا وکړئ چې الله ﷻ ما ته د دې بيمارۍ نه شِفاء راکړي. همدغه شان اوشوه، ده ورته د جُمعې په ورځ په اخلاص دُعا وکړه او خلقو وربانديې آمين وويل:

کله چې بله د جُمعې ورځ راغله نو يوه ښځه راغله، او يو کاغذ يې امام ابوعثمان رحمه الله ته راوليږل چې په هغې کې دې ښځې ليکلي وو.

تيره جُمعه چې کله زه کور ته لاړم نو ماسخوتن مې د امام عبدالله حاکم د صحت د پاره ښه په اِخلاص دُعا وکړه، کله چې اُوده شوم نو د نبي عليه السلام سره مې په خُوب کې ملاقات اوشو، هغوی راته وفرمايل:

قُوْلِيْ لِأَبِيْ عَبْدِاللهِ يوسعُ الْمَاءَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ.

ابوعبدالله حاکم ته ووايه چې په مسلمانانو بانديې د اُوبو فراخي راوله. (د دې په برکت به الله ﷻ درله شِفاء درکړي).

امام بيهقي رحمه الله فرمايي چې ما دا کاغذ ابوعبدالله حاکم ته وَروليږل، هغه چې دا اوکته نو متصل يې د خپل کور مخې ته د اُوبو سبِيل جوړولو حکم وکړو، کله چې سبيل جوړ شو نو هغه به يې د اُوبو نه تازه ډکول، او مسلمانانو به د هغې نه اُوبه څکلی.

امام بيهقي رحمه الله وايي چې يوه جُمعه په مينځ کې نه وه تيره شوی چې په مخ بانديې يې د شفاء آثار ښکاره شو، او ډير زر يې ټول مخ د دَانو نه صفا شو، او د مخکيني غونديې يې مخ بالکل صفا او بې داغه راووت.

دغه رنګې نورو ډيرو بزرګانو په بيماريانو او مشکلاتو کې دغه د صدقې ورکولو طريقه اختيار کړی چې په نتيجه کې الله رب العزت ورته شِفاء ورکړی او مشکلات يې ختم شوي (۱)

د صدقې په وجه ګناهونه معاف کيږي

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا﴾. (۲)

(۱) صدقه کې برکات ۲٦٥، انتخاب از الترغيب والترهيب.

(۲) التوبة آيت ۱۰۳.

ترجمه : اې پيغمبره ! ته د دوی د مالونو نه صدقه (او زکوة) واخله چې ته د دې صدقې په ذريعه دوی (د ګناهونونه) پاک او صفا کړې .

۲ . د ترمذي شريف اُوږد حديث دی ، حضرت معاذ بن جبل ﷺ فرمايي چې ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه موقع وفرمايل :

اَلَا اَدُلُّکَ عَلٰی اَبْوَابِ الْخَيْرِ ؟

آيا زه تا ته د خير دروازې اونه ښايم ؟ (په کومو دروازو سره چې انسان ته خير رسي) .

ما ورته وويل : بَلٰی يَارَسُوْلَ اللهِ . هو ، اې د الله ﷻ رسوله ! (ضرور يې اوښايئ) .

نو نبي عليه السلام راته وفرمايل :

اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ ، وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ . (۱)

روژه ډال ده (يعنی لکه څرنګ چې د ډال په ذريعه انسان د دُشمن د حملو نه ځان ساتي نو دغه شان د روژې په وجه هم انسان د شيطان د حملو نه محفوظ وي) ، او صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څرنګ چې اُوبه اُور ختموي .

۳ . په يو بل حديث کې دي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يَذْهَبُ الْجَلِيْدُ عَلَى الصَّفَا . (۲)

صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه باران چې د صفا او خُويَه کاڼي نه ګرد ختموي .

واقعه :

علماؤ يوه واقعه رانقل کړې چې منصور بن عمار رحمه الله يوه ورځ خلقو ته وعظ کولو نو د مجلس د خلقو نه يو کس راپاڅيده او څلور دراهم يې اوغوښته ، منصور بن عمار رحمه الله وويل :

(۱) رواه الترمذي في حديث ، وقال حسن صحيح ، الترمذي الحديث ۲٦۱٦ ، ورواه ابن ماجه الحديث ۳۹۷۳ ، واحمد ٥/ ۲۳۰ ، والطبراني في المعجم ۱۸ / ۳٥۱ .

(۲) رواه ابن حبان ، ورواه الدارمي ۲ / ۳۱۸ ، واحمد ۳ / ۳۹۹ ، والحاكم ۴ / ۴۲۲ ، المتجر الرابح ص ۱۳٥ حديث ٥٦۴ ثواب الصدقة وفضلها ، مكاشفة القلوب فضيلة الصدقة .

مَنْ أَعْطَاهُ أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ دَعَوْتُ لَهُ أَرْبَعَ دَعَوَاتٍ .

څوک چې ده ته څلور (۴) درهمه ورکړي نو زه به هغه ته څلور دُعاګانې وکړم .

په دې مجلس کې د يهودي يو غلام ناست ؤ هغه راپاڅيد او ده ته يې څلور درهمه ورکړه، او بيا يې منصور رحمه الله ته وويل : ماته اوس څلور دُعاګانې وکړه :

۱. زه غلام يې يم ، ماته دُعا وکړه چې الله ﷻ ما آزاد کړي .

۲. زه فقير يم ، ماته دُعا وکړه چې الله ﷻ ما مالداره کړي .

۳. زما مالِک او سردار يهودي دی هغه ته د اِسلام راوړلو دُعا وکړه .

۴. زه ګناهګار يم ، ماته دُعا وکړه چې الله ﷻ زما ګناهونه معاف کړي . (دغه شان زما د مالک د ګناهونو معاف کولو د پاره هم دُعا وکړه) .

منصور بن عمار دده د پاره څلور واړه دُعاګانې وکړی .

کله چې دا غلام خپل ځای ته واپس لاړ ، نو خپل مالِک ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه ناوخته راغلی ؟ ده ورته غونده قصه بيان کړه چې دغه شان د منصور بن عمار رحمه الله په مجلس کې د وعظ اوريدو د پاره ناست ووم ، بيا يو فقير څلور درهمه اوغوښت ، منصور وويل چې چا ده ته څلور درهمه ورکړه زه به هغه ته څلور دُعاګانې وکړم ، نو ما هغه فقير ته څلور درهمه ورکړه ، د هغې په عوض کې منصور رحمه الله ماته څلور دُعاګانې وکړی :

۱. يوه دُعا زما د آزاديدو وه . خپل مالک ورته وويل : أَنْتَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ . ته د الله ﷻ د رضا د پاره آزاد يې .

۲ . دويمه دُعا زما د مالداری وه . نو خپل مالک ورته څلور زره (۴۰۰۰) درهمه ورکړه

۳ . دريمه دُعا ستا د اِسلام راوړلو د پاره وه . نو مالک يې فورًا کلمه شهادت : أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ . ووېله ، او په اسلام باندې مشرّف شو .

۴ . څلورمه دُعا زما او ستا د مغفرت او بخښې د پاره وه . خپل مالک ورته وويل : دا کار خو زما په قدرت کې نشته .

کله چې دا مالک يې د شپې اُوده شو نو په خوب کې ورته يو ويوونکې وايي :

أَنْتَ فَعَلْتَ مَا فِيْ قُدْرَتِکَ وَأَنَا أَفْعَلُ مَا فِيْ قُدْرَتِيْ . قَدْ غَفَرْتُ لَکَ وَلِلْعَبْدِ وَلِلْوَاعِظِ وَلِلْحَاضِرِيْنَ أَجْمَعِيْنَ . (۱)

څه چې ستا په قدرت کې وو هغه تا وکړه ، او څه چې زما په قدرت کې دي هغه به زه وکړم، نو ما تا ته ، ستا غلام ته ، وعظ کوونکي او ناستو ټولو حاضرينو ته بخښنه وکړه .

د صدقې په وجه د جهنم د اُور او د قيامت دورځې د سختئ نه بچ کيدل

۱ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ اللهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَان فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ . فَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ . وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ . (۲)

په تاسو کې د هريو کس سره به الله تعالی براه راست داسې خبرې کوي چې دده او الله ﷻ په مينځ کې به څه واسطه او ترجمان نه وي ، کله چې دا کس خپل خي طرف ته اوګوري نو صرف هغه اعمال به ورته په نظر راشي کوم چې ده مخکې ليږلي وي ، کله چې شاته اوګوري نو هم صرف هغه اعمال به ورته په نظر راشي کوم چې ده د ځان نه مخکې ليږلي وي، کله چې دې خپلې مخې ته اوګوري نو د اُور نه علاوه بل هيڅ شی به اونهويني . لهذا د جهنم د اُور نه ځان بچ کړئ اګر چې د قجورې د يوې حصې په صدقه کولو سره وي .

۲ . په يو روايت کې داسې الفاظ دي نبي عليه السلام فرمايي :

مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ . (۳)

په تاسو کې چې څوک ددې طاقت لري چې د جهنم د اُور نه ځان اوساتي اګر که دا د يوې قجورې په څه حصه صدقه کولو سره وي ، خو خپل ځان دې د اُور نه محفوظ کړي (او د قجورې دا څه حصه دې صدقه کړي چې ددې په برکت د جهنم د اُور نه محفوظ شي) .

(۱) نزهة المجالس ج۲ ص ٥ باب في فضل الصدقة وفعل المعروف .

(۲) رواه البخاري ۹/ ۱٦۲ ، ۱۸۱ ، واحمد ۴/ ۲٥٦ .

(۳) رواه البخاري ۹/ ۱٦۲ ، ۱۸۱ ، واحمد ۴/ ۲٥٦ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص۱۳۲ .

۳ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

لِيَتَّقِ أَحَدُكُمْ وَجْهَهُ النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ . (۱)

په کار ده چې په تاسو کې (هر) يو کس خپل مخ د اور نه اوساتي اګر چې هغه د قجورې په يوه ټکړه (صدقه کولو) سره وي .

۴ . په يو حديث کې ذکر دي ، سردارِ دوجهان محمد رسول الله ﷺ فرمايي :

تَصَدَّقُوْا فَإِنَّ الصَّدَقَةَ فِكَاكُكُمْ مِنَ النَّارِ . (۱)

صدقه کوئ ځکه صدقه تاسو د جهنم د اور نه آزادوي .

۵ . نبي عليه السلام فرمايي :

مَنْ أَطْعَمَ أَخَاهُ حَتّٰى يُشْبِعَهُ ، وَسَقَاهُ مِنَ الْمَاءِ حَتّٰى يَرْوِيَهُ بَاعَدَهُ اللهُ مِنَ النَّارِ سَبْعَ خَنَادِقَ مَا بَيْنَ كُلِّ خَنْدَقَيْنِ مَسِيْرَةُ خَمْسِ مِائَةِ عَامٍ . (۲)

چا چې خپل يو (مسلمان) ورور ته خوراک ورکړو تر دې چې هغه يې بنه موړ کړو ، او په هغه يې اوبه اوڅکلی تر دې چې د هغه تنده يې ماته کړه نو الله تعالی به دې د جهنم د اور نه اووه (۷) خندقه لرې کړي چې د هر دوه (۲) خندقونو په مينځ کې د پنځه سوه (۵۰۰) کاله په اندازه مسافت دی .

انسان به د قيامت په ورځ د صدقې د سُوري لاندې وي

۱ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

---

(۱) رواه احمد ۱ / ۳۸۸ ، والهيثمي في المجمع ۳ / ۱۰۵ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۴ . په يوه موقع نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت عائشې رضی الله عنها ته وفرمايل : يَا عَائِشَةُ ! إِسْتَتِرِيْ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَإِنَّهَا تَسُدُّ مِنَ الْجَائِعِ مَسَدَّهَا مِنَ الشَّبْعَانِ . رواه احمد باسناد صحيح ۶/ ۷۹ ، والمنذري في الترغيب والترهيب ۲/ ۱

(۲) رواه البيهقي ۴ / ۱۸۹ ، المتجر الرابح ص ۱۳۵ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : عَنْ مَيْمُوْنَةَ بِنْتِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ أَفْتِنَا عَنِ الصَّدَقَةِ . فَقَالَ : إِنَّهَا حِجَابٌ مِنَ النَّارِ لِمَنْ إِحْتَسَبَهَا يَبْتَغِيْ بِهَا وَجْهَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . قال في مجمع الزوائد (۳/ ۱۱۱) رواه الطبراني في الكبير ، المسند (۵ / ۲۶۵) ، المتجر الرابح ص ۱۳۶ .

(۳) رواه الطبراني وابو الشيخ والحاكم ، وقال صحيح الاسناد ، و رواه المنذري ۵/ ۶۵ ، والزبيدي في الاتحاف ۵/ ۲۳۳ ، والهيثمي في المجمع ۳ / ۱۳۰ ، والحاكم ۴ / ۱۲۹ ، المتجر الرابح ص ۱۳۶ ، مكاشفة القلوب باب فضيلة الصدقة .

ظِلُّ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَدَقَتُهُ . (۱)

د قيامت په ورځ به د مومن سوري د هغه صدقه وي .

يعنی صدقه به د قيامت په ورځ د انسان د سَر د پاسه د تمبو په شان اُو دروَلې شي چې د هغې ورځې د سختې ګرمی نه به يې محفوظ کوي .

۲ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَنْ أَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْرِ ، وَ إِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهِ . (۲)

بيشکه صدقه د صدقه ورکوونکي نه د قبر ګرمائش ختموي ، او مومن به د قيامت په ورځ د صدقې د سُوري لاندې وي .

د صدقې په وجه جنت ته داخيدل

۱ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيُدْخِلُ بِاللُّقْمَةِ مِنَ الْخُبْزِ وَ قُبْصَةِ التَّمْرِ وَ مِثْلِهِ مِمَّا يَنْتَفِعُ بِهِ الْمِسْكِيْنُ ثَلَاثَةً الْجَنَّةَ : رَبَّ الْبَيْتِ الْآمِرِ بِهِ . وَالزَّوْجَةَ تُصْلِحُهُ . وَالْخَادِمَ الَّذِيْ يُنَاوِلُ الْمِسْكِيْنَ . (۳)

بيشکه الله ﷻ د خوراک په يوه نوړۍ ، د قجورې په څه لږه حصه يا د دې په شان د بل يو څيز په کوم چې مسکين فايده اخلي د دې شيانو په صدقه کولو سره الله ﷻ درې (۳)

(۱) رواه احمد ٥ / ۴۱۱ ، والهيثمي في المجمع ۳ / ۱۱۰ ، والمنذري ۳ / ۱٦ ، وابن خزيمة في الصحيح ۲۴۳۲ ، المتجرالرابح ص ۱۳۲ ثواب الصدقة وفضلها ./ په يوبل حديث کې ذکر دي : كُلُّ امْرِءٍ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهِ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ . رواه الهيثمي في الموارد ۸۱۷ ، والسيوطي في الدر ۲ / ۱٦ ، والعجلوني في الكشف ۱ / ٥۱۱ ، المتجرالرابح ص ۱۳۲ . د قيامت په ورځ به هر سړې (په هغه سخته ګرمی کې) د خپلې صدقې د سوري لاندې ولاړ وي تر دې چې د خلقو په مينځ کې فيصله وکړې شي .

(۲) رواه الطبراني في الكبير ، المتجرالرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۲ حديث ٥۴٥ .

(۳) رواه الطبراني في الاوسط والحاكم ۴ / ۱۳۴ ، والسيوطي في الدرّ ۱ / ۳٥٥ ، والمنذري في الترغيب ۲ /۴ . په كنزالعمال کې د دې حديث د ذکر کيدو نه روستو ورسره څه نوره اضافه هم شته ،چې نبي عليه السلام وفرمايل : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَنْسَ خَدَمَنَا . رواه الحاكم ۴ /۱۳۴ ، الهندي في الكنز ۱٦۱٦۷ المتجرالرابح ص ۱۳۴ ، ۱۴۴ .

کسان جنت ته داخلوي: يو د کور مالِک، کوم چې د صدقې ورکولو حکم کوي. دويم هغه بي بي کومه چې دا خوراک تياروي. او دريم هغه خادم کوم چې دا خوراک مسکين ته ورکوي.

۲. امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله دنبي عليه السلام يو حديث رانقل کړی چې په هغې کې د جنت د اتو (۸) دروازو ذکر دی، او په هغې دروازو کې يوه دروازه د "بَابُ الصَّدَقَة" هم ده، چې صدقه ورکوونکي به په دې دروازه باندې جنت ته داخلېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ.

څوک چې صدقه ورکوي نو دې به د جنت د "بَابُ الصَّدَقَة" (يعنی د صدقې د دروازې) نه بللې شي (کومه چې به د صدقه ورکوونکو د پاره خاص وي، او ده ته به وويلې شي: اې د الله ﷻ بنده! ته په دې دروازه جنت ته داخل شه). (۱)

۳. حديث کې راځي چې د قيامت په ورځ به بغير د حساب و کتاب او بغير د عذاب ورکولو نه څلور (۴) کسان د جنت دروازې ته راوستې شي، په دې څلورو کسانو کې به يو هغه عالِم وي چې په خپل علم يې عمل کړې وي، دويم به هغه حاجي وي چې بغير د فساد نه يې حج کړې وي، دريم به هغه شهيد وي چې د الله ﷻ د رضا د پاره په جهاد کې شهيد شوې وي، څلورم به هغه سخي وي چې حلال مال يې ګټلې وي او بيا يې د الله ﷻ په لاره کې بغير د رِياء نه خرچ کړې وي.

په دې څلورو واړو کې به هر يو کس دا کوشش کوي چې جنت ته اول زه داخل شم، دوی به په خپل مينځ کې سره په جګړه وي، نو الله ﷻ به حضرت جبريل عليه السلام راوليږي چې د دوی په مينځ کې فيصله وکړي.

حضرت جبريل عليه السلام به اول د شهيد نه پوښتنه وکړي: تا په دُنيا کې څه عمل کړی چې ته اول جنت ته د داخليدو اِراده لرې؟ هغه به ورته ووايي:

(۱) متفق عليه، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث نمبر ۳.

زه د الله ﷻ د رضا د پاره په جهاد کې شهيد شوې يم . جبريل عليه السلام به پوښتنه ورنه وکړي : تا د شهادت ثواب د چا نه اوريدلې وُ ؟ دې به ورته ووايي : ما د عالِم نه اوريدلې وُ . جبريل ؑ به ورته ووايي : بيا خو د خپل أستاذ د اَدب لحاظ اُوساته ، د خپل أستاذ نه څنګه مخکې جنت ته داخلېږې ؟

بيا به جبريل عليه السلام د حاجي او سخي نه هم همدغه شان پوښتنه وکړي ، هغوی به هم ورته همدغه شان جواب ورکړي .

(جبريل عليه السلام به هغوی ته هم دا جواب ورکړي چې کله تاسو د حج او سخاوت فضيلت د عالِم نه اوريدلې دی نو بيا خو دا عالِم ستاسو أستاذ دی ، او د أستاذ اَدب په کار دی ، نو حق دده جوړيږي چې دې اول جنت ته داخل شي) .

بيا به عالِم د الله ﷻ د وړاندې عرض وکړي : اې الله ﷻ ! ما خو چې دا عِلم حاصل کړې وُ نو دا خو د سخي د سخاوت او دده د اِحسان په وجه سره (چې ده به د ما سره اِمداد کولو نو ځکه مې عِلم حاصل کړې وُ ، لهذا که زما په ځای دا سخي اول جنت ته داخل شي نو دا به ښه وي) .

الله رب العزت به اوفرمايي : دې عالِم ريښتيا وويل : اې رضوانه ! دجنت دروازه کلاوُ کړه ، ددې د پاره چې دا سخي اول جنت ته داخل شي ، او دا نور ورپسې بيا روستو جنت ته داخل شي . (۱)

---

(۱) و روي أنّ النّبيَّ عليه السلام قال : إذا كان يومُ القيامة يؤتى باربعة نفرٍ عند بابِ الجنّة بغيرِ رؤيةِ الحساب والعذاب : الاول : العالمُ الّذي عمل بعلمه . والثاني : الحاج الّذي حجّ بغيرِ عمل الفساد . والثالث : الشّهيدُ الّذي قتل في المعركة . والرابع : السّخيُّ الّذي اكتسبَ مالًا حلالًا وأنفقه في سبيل الله بغيرِ رِياء . فينازع بعضُهم بعضًا لِدخولِ الجنّة أوّلًا . فيرسلُ اللهُ تعالى جبرائيلَ لِيَحْكُمَ بينهم . فيسألُ أوّلًا الشّهيدَ . فيقول له : ما عملتَ في الدّنيا وأنتَ تريدُ دخولَ الجنّة أوّلًا ؟ فيقول : قتلتُ في المعركة لرضى الله تعالى . فيقول : ممّن سمعتَ ثوابَ الشّهيدِ . فيقول: مِنَ العلمآءِ . فيقولُ : إحْفَظِ الأدَبَ لاتتقدّم على مُعَلِّمِك . ثمّ يرفع رأسه الى الحاج فيقول مثل ذلك . ثمّ الى السّخيّ فيقول مثل ذلك . ثمّ يقولُ العالمُ : إلهيْ مَا حَصَلْتُ العِلمَ إلّا بسخاوةِ السّخِيِّ وَبِسَبَبِ إحْسَانِهِ . فيقولُ الله عزّ وجل صَدَقَ العَالِمُ يَا رِضْوَانُ . إفْتَحْ أبْوَابَ الجَنَّةِ حتّى يدخلَ السّخيُّ الجنّةَ وهؤلاء بَعْدَهُ . كذا في مشكوة الانوار ، درة الناصحين ص ۲۴ .

۴. عمربن عبدالعزيز رحمه الله وايي:

اَلصَّلٰوةُ تبلغُکَ نِصفَ الطَّرِيْقِ، وَالصَّوْمُ يبلغُکَ بَابَ المَلِکِ، وَالصَّدَقَةُ تُدْخِلُکَ عَلَيْهِ. (۱)

لمونځ به تا نيمايي لارې پورې اُورسوي، او روژه به دې د بادشاه (الله ﷻ) دروازې ته اُورسوي، او صدقه به دې په بادشاه وَرداخل کړي (او هغه ته به دې اُورسوي).

صدقه الله ﷻ زياتوي

۱. حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ تَصَدَّقَ بِعِدْلِ تمرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ - وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ - فَإِنَّ اللهَ يَقْبَلُهَا بِيَمِيْنِهِ، ثُمَّ يُرَبِّيْهَا لِصَاحِبِهَا كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ مُهْرَهُ، حَتَّى إِنَّ اللُّقْمَةَ لَتَصِيْرُ مِثْلَ أُحُدٍ، وَتَصْدِيْقُ ذٰلِكَ فِيْ كِتَابِ اللهِ تَعَالٰى: ﴿هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ الصَّدَقَاتِ (۲)﴾، وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿يَمْحَقُ اللهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ (۳)﴾. (۴)

څوک چې د قجورې په مقدار (په صورت يا قيمت کې) د حلال مال نه صدقه ورکړي، او (په دې پوهه شئ چې) الله تعالى صرف حلال مال قبلوي، ځکه دغه صدقه الله تعالى په خپل لاس قبلوي (يعنى د الله ﷻ په دربار کې کمالِ قبوليت ته رسي او د صدقه ورکوونکي نه دير خوشحاليږي)، بيا الله تعالى دا صدقه د صدقه ورکوونکي د پاره داسې پالي (او تربيت يې کوي) لکه څرنګ چې په تاسو کې يو سړې د خپل آس يا د خرورکې بچې پالي (يعنى الله ﷻ د دې صدقې ثواب دده د پاره مسلسل زياتوي) تر دې پورې چې دا صدقه

(۱) المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۶ ثواب الصدقة وفضلها، نضرة النعيم ج۶ ص ۲۲۱۶.
(۲) التوبة آيت ۱۰۴.
(۳) البقرة آيت ۲۷۶.
(۴) رواه البخاري ۲/ ۱۳۴، ۹/ ۱۵۴، واحمد ۲/ ۳۳۱، والبيهقي ۴/ ۱۷۷. وَفِي رِوَايَةٍ لِابْنِ خُزَيْمَةَ: إِنَّ العَبْدَ إِذَا تَصَدَّقَ مِنْ طَيِّبٍ تَقَبَّلَهَا اللهُ مِنْهُ، وَأَخَذَهَا بِيَمِيْنِهِ، فَرَبَّاهَا كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتّٰى تَكُوْنَ مِثْلَ الجَبَلِ. رواه احمد ۲/ ۲۶۸، وابن خزيمة في صحيحه ۲۴۲۶. المتجر الرابح ص ۱۳۳.

(يا ددې ثواب) د غر په شان ډيره شي (نو دغه شان به الله ﷻ ددې صدقې ثواب هم زيات ورکړي، او د قيامت په ورځ به يې په تله د ميزان کې دروند وګرځوي).

۲. په يو بل حديث کې ذکر دي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ لَيُرَبِّي لِأَحَدِكُمُ التَّمَرَةَ وَاللُّقْمَةَ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ فَصِيلَهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ أُحُدٍ. رواه الطبراني وابن حبان. (۱)

بيشکه الله تعالى ستاسو د صدقه شوې قجورو او نوړۍ داسې تربيت کوي لکه څرنګ چې په تاسو کې يو کس د خپل آس يا خرو روکي بچي، او د اوښې د بچي تربيت کوي (يعنى الله ﷻ دده دا صدقه دده د پاره همداسې مسلسل زياتوي) تر دې چې دا د أحد د غر هومره شي.

د صدقې په برکت د ګناهونو نه توبه ګار کيدل

کله چې يو کس خالِصه د الله ﷻ د رضا او خوشحالۍ د پاره صدقه ورکړي نو دا بهر حال دده د پاره د ثواب ذريعه جوړيږي، اګر که دده دا نفلي صدقه په غلطۍ کې د يو ګناهګار لاس ته هم لاړه شي، خو بيا به هم الله ﷻ دې صدقه ورکوونکي ته ددې اجر ورکوي، او دده د اخلاص د برکته به الله ﷻ هغه صدقه اخيستونکې هم د ګناه نه منع کوي.

رسول الله ﷺ خپل امت ته د بني اسرائيلو يوه واقعه ذکر کړې، کومه چې امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله هم نقل کړې، رسول الله ﷺ فرمايي:

(۱) رواه احمد ۲۵۱/٦، والهندي في الكنز ۱٦۰۲، والمنذري في الترغيب ۲/ ۴. په يو بل روايت کې داسې الفاظ دي: إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَصَدَّقُ بِالْكِسْرَةِ تَرْبُو عِنْدَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ أُحُدٍ. رواه الهيثمي في المجمع ۳/ ۱۱۰، والمنذري في الترغيب ۲/ ۴، والهندي في الكنز ۱۵۹۳۱، ۱٦۱۲۴. اَلْفَلُوُّ: بفتح الفاء وضم اللام وتشديد الواو وهو المهر كما جاء مفسّرا عند الترمذي. وَالْفَصِيْلُ: ولد الناقة الى أن يفصل عن أمه. المعجم الرابع ص ۱۲۳. وقيل: فَلُوَّةُ: بفتح الفاء وضم اللام وتشديد الواو وهو المهر لانه يفلي اي يفطم. وقيل: هو كلّ فطيم من ذات حافر. والجمع افلاء كعدوّ واعداء.

قَالَ رَجُلٌ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ سَارِقٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى سَارِقٍ . فَقَالَ : اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ . لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ زَانِيَةٍ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ : تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى زَانِيَةٍ . قَالَ : اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى زَانِيَةٍ لَأَتَصَدَّقَنَّ بِصَدَقَةٍ . فَخَرَجَ بِصَدَقَتِهِ فَوَضَعَهَا فِي يَدِ غَنِيٍّ فَأَصْبَحُوا يَتَحَدَّثُونَ : تُصُدِّقَ اللَّيْلَةَ عَلَى غَنِيٍّ ، قَالَ : اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ عَلَى سَارِقٍ وَزَانِيَةٍ وَغَنِيٍّ . فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ : أَمَّا صَدَقَتُكَ عَلَى سَارِقٍ فَلَعَلَّهُ أَنْ يَسْتَعِفَّ عَنْ سَرِقَتِهِ ، وَأَمَّا الزَّانِيَةُ فَلَعَلَّهَا أَنْ تَسْتَعِفَّ عَنْ زِنَاهَا . وَأَمَّا الْغَنِيُّ فَلَعَلَّهُ أَنْ يَعْتَبِرَ فَيُنْفِقَ مِمَّا أَعْطَاهُ اللهُ . رواه البخاري ومسلم . وَزَادَ فِيهِ : فَأُتِيَ فَقِيلَ لَهُ : أَمَّا صَدَقَتُكَ فَقَدْ قُبِلَتْ . ثُمَّ ذَكَرَ بَقِيَّةَ الْحَدِيثِ . (۱)

يو ځل (د بني اسرائيلو) يو سړي په خپل زړه کې ، يا خپل يو دوست ته وويل : چې زه به نن شپه د الله ﷻ په لاره کې څه مال خامخا خرچ کوم ، نو هغه (دده قصد او ارادې مطابق) څه مال اُوبنکلو (چې يو مستحق ته يې ورکړي) ، پس ده دا مال يو غَل ته ورکړو (حالانکه ده ته دا معلومه نه وه چې ګني دا غَل دی ، او د خيرات مستحق نه دی) . کله چې سهر شو نو خلقو ته دِ الهامِ خداوندي په وجه ، يا د غل د خپلې خُولې نه دا خبره معلومه شوه ، نو خلقو د تعجب د وجې خبرې شروع کړې چې : نن شپه يو غَل ته د صدقې مال ورکړې شوی دی .

(هر کله چې صدقه ورکوونکي ته هم حال معلوم شو نو) هغه وويل : اې الله ﷻ ! تا لره تعريف دی (۲) (باوجود ددې) چې د صدقې مال يو غَل ته په لاس ورغی . بيا يې وويل : نن شپه به زه بيا صدقه ورکوم (چې مستحِق ته حاصله شي) ، نو هغه د صدقې په نيت سره بيا څه مال اُوبنکلو ، او (دا ځل يې هم په غلط فهمۍ کې) هغه مال يوې زِناکارې ښځې ته په لاس کې ورکړو .

---

(۱) رواه البخاري ۲ / ۱۳۷ ، ومسلم في الزكاة ۷۸ ، والنسائي ۵ / ۵۵ ، واحمد ۲ /۳۲۲ ، والبيهقي ۴ / ۱۹۲ ، ۷ /۳۴ . مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساک الفصل الثالث حديث نمبر ۱۸ .

(۲) دې صدقه ورکوونکي د الله ﷻ تعريف يا خو په طريقې د شکر اداء کړو : چې يا الله ! ستا شکر دی چې ما صدقه ورکړه اګر چې هغه غير مستحق ته په لاس ورغله ، او يا يې د تعجب په طور د خپل زړه د اطمينان د پاره د الله ﷻ تعريف اداء کړو .

کله چې سهر شو نو بیا خلقو خبرې شروع کړې چې نن شپه یوې زِناکارې ښځې ته د صدقې مال ورکړې شوی . نو هغه سړي وویل : اې الله ﷻ ! تا لره تعریف دی (اګر که دا غل) د صدقې مال یوې زِناکارې ښځې ته په لاس ورغی . خو نن شپه به بیا صدقه ورکوم، نو هغه بیا څه مال د صدقې په نیت اُوښکلو ، او (دا ځل یې بیا په غلط فهمۍ کې) دا مال د یو غني (مالدار) په لاس کې ورکړو ، کله چې سهر شو نو خلقو خبرې شروع کړې چې نن شپه یو مالداره ته د صدقې مال ورکړې شوی . نو هغه سړي وویل : اې الله ﷻ ! تا لره تعریف دی اګر که د صدقې مال غَل، زانیې او غني سړي حاصل کړو .

کله چې دا سړې اُوده شو نو خُوب کې ده ته وویلې شو چې تا څومره صدقې ورکړي دي هغه ټولې قبولې شوې دي ، څکه چې د صدقې کوم مال غَل ته ورکړې شوې دی (هغه بې فائدې او د ثواب نه خالي نه دی څکه) ممکنه ده چې هغه د دې په وجه د غلا نه منع شي.

او د صدقې کوم مال چې زِناکارې ښځې ته ورکړې شوې دی ممکنه ده چې هغه د دې په وجه د زِنا نه منع شي .

او د صدقې کوم مال چې مالدار ته ورکړې شوی ممکنه ده چې هغه د دې په وجه عبرت حاصل کړي ، او الله تعالی چې هغه ته څه ورکړي دي هغه خرچ کړي .

فایده : نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بني اسرائیلو د دې کس دا واقعه څکه بیان کړه چې معلومه شي چې کله هم د الله تعالی د رضا په خاطر صدقه وزکړې شي نو هغه بهر حال د ثواب ذریعه ده ، ده ته به د دې ثواب ورکولې شي .

صدقه افضل عمل دی

حضرت عمر ﷺ فرمايي :

ذُكِرَ لِيْ أَنَّ الْأَعْمَالَ تَبَاهٰى . فَتَقُوْلُ الصَّدَقَةُ : أَنَا أَفْضَلُكُمْ . (۱)

(۱) رواه ابن خزيمة في صحيحه والحاكم وقال صحيح على شرطهما ، الترغيب والترهيب ج۱ (۶۰۷/۴۳)، المستطرف للابشهي (۱۰/۱) ، نضرة النعيم ج٦ ص ۲۵۲۸ الصدقه . وفي رواية : إِنَّ الْأَعْمَالَ تَبَاهَتْ . فَقَالَتِ الصَّدَقَةُ : أَنَا أَفْضَلُكُمْ. المستطرف للابشهي، نضرة النعيم ج٦ ص ۲۵۲۸ الصدقه

ماته اُوخودې شو چې اَعمال په يو بل باندې فخر کوي ، صدقه وايي : زه په تاسو کې بهتريم.

د صدقې ثواب څو څو چنده دی

۱ . د مشكوة شريف حديث دی ، په يوه موقع حضرت ابوذر رضی الله عنه د نبي عليه السلام نه پوښتنه وکړه :

يَانَبِيَّ اللهِ ! أَرَأَيْتَ الصَّدَقَةَ مَاذَا هِيَ ؟

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! ماته اوښايئ چې صدقه څه شی دی ؟ (يعنی د صدقې ثواب څومره دی ؟)

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل :

أَضْعَافٌ مُضَاعَفَةٌ وَعِنْدَاللهِ الْمَزِيْدُ . (۱)

د صدقې ثواب څو څو چنده دی ، بلکه د الله تعالی په نزد ددې نه هم زيات دی .

فايده : د '' أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً '' مقدار د احاديثو نه د لس (۱۰) چنده نه نيولې تر اووه سوه (۷۰۰) چنده پورې معلوميږي ، خو دا هم آخري حَد نه دی ځکه که الله تعالی په خپل خالص رحمت سره اوغواړي نو د صدقې ثواب د اووه سوه (۷۰۰) چنده نه هم زيات ورکوي. لکه الله رب العزت په خپله فرمايي :

﴿ وَاللهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَآءُ ... ﴾ . (۲)

ترجمه : او الله تعالی چاته چې اوغواړي نو د هغه ثواب (لاتعداده) زياتوي . (۳)

بعضې علماء ددې حديث دا مطلب هم بيانوي چې الله ﷻ انسان ته په دُنيا کې هم ددې صدقې عِوَض څو څو چنده ورکوي ، لکه دا په معاشره کې ليدل شوې هم ده چې څوک هم په

(۱) رواه احمد ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الثالث حديث نمبر ۳۹ .

(۲) البقرة آيت ۲۶۱ .

(۳) مظاهر حق شرح مشكوة .

اخلاص سره د الله ﷻ په لاره کې صدقه ورکوي نو الله ﷻ دده عِوض په څو څو چنده ورکوي، خو ددې د پاره اخلاص او يقين شرط دی . (۱)

۲ . يحيى بن معاذ فرمايي :

مَا أَعْرِفُ حَبَّةً تَزِنُ جِبَالَ الدُّنْيَا إِلَّا الْحَبَّةَ الَّتِيْ مِنَ الصَّدَقَةِ . (۲)

ما ته داسې دَانه نه ده معلومه چې هغه په وزن کې د دُنيا د غره هومره برابره وي مګر صرف هغه دَانه چې هغه صدقه کړې شي نو هغه د ثواب په اعتبار سره د الله ﷻ په نزد د دُنيا د غره نه هم په وزن کې درنه ده .

په اوو (۷) خصلتونو سره د صدقې اجر زياتيږي

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله په "تنبيه الغافلين" کې ليکلي دي چې په اووه (۷) خصلتونو سره د صدقې ثواب زياتيږي :

۱ . صدقه ورکول د حلال مال نه . ځکه الله تعالى فرمايي :

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ﴾ . (۳)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو خرچ کړئ (د الله ﷻ په لاره کې) د هغه پاکيزه شيانو نه کوم چې تاسو ګټلي وي .

۲ . د لږ مال نه هم په بې تکلفۍ سره ورکول .

۳ . زرېې ورکول ، ددې د پاره چې رانه پاتې نه شي .

۴ . د بُخل نه ځان صفا کول ، او د ښه او بهترين مال نه ورکړه کول . ځکه الله تعالى فرمايي : ﴿ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ . (۴)

---

(۱) معارف الحديث ج۴ ص ۳۲۰ .

(۲) المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۶ ثواب الصدقة وفضلها .

(۳) البقرة آيت ۲۶۷ .

(۴) البقرة آيت ۲۶۷ .

ترجمه : او تاسو رَدي (بيکاره) شي ته اراده مه کوئ چې د هغې نه يې خرچ کړی (يعنی بې کاره شی د الله ﷻ په لاره کې مه خرچ کوئ) حالانکه تاسو په خپله د هغې (رَدي شي) اخيستلو ته تيار نه يی (چې څوک يې د يو واجب حق په بدله کې يا تحفه کې درکوي) ، مګر که تاسو پرې سترګې پټې کړئ (او لحاظ يې وکړئ ، او وايې خلی نو دا بيله خبره ده)، او پوهه شئ چې الله ﷻ بې نيازه (دی ، هيچاته محتاج نه دی) او د تعريف لايق دی (نو د هغه په نامه داسې شی ورکوئ چې هغه هم ښه او د تعريف لائق وي) .

۵. په پټه يې ورکړي . ددې د يَرې نه چې رِيا په کې رانشي .

۶. اِحسان وربانديې اونه کړي . ځکه په دې سره د صدقې اَجر باطليږي .

۷. چاته چې صدقه ورکوي هغه ته به ضرر نه رسوي ، ځکه ضرر رسول ګناه ده او په دې سره هم د صدقې اجر باطليږي . الله تعالی فرمايي :

﴿يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ...﴾ . (۱)

ترجمه : اې مومنانو ! (تاسو ثواب د) خپلې صدقې په زباتلو (يادګيرنې) او تکليف رسولو باندې مه ضايع کوئ . (۲)

غريبو خپلوانو ته د صدقې ورکولو اَجر

نفلي صدقات انسان هر يو غريب رِشته دار ته ورکولی شي ، ليکن فرضي زکوة اصولو او فروعو ته نشي ورکولی ، دغه رنګې ښځه او خاوند يې په خپل مينځ کې يو بل ته نشي ورکولی . البته نفلي صدقات خپلوانو ته ورکولی شي ، او ددې اَجر هم زيات دی ، ځکه يو خو د صدقې اَجر شو ، او دويم د صِله رحمی اَجر شو .

۱ . الله رب العزت فرمايي : ﴿ فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ . (۳)

---

(۱) البقرة آيت ۲۶۴ .

(۲) تنبيه الغافلين باب ۳۶ باب فضيلة الصدقة .

(۳) الروم آيت ۳۸ . همدغه شان مضمون په سورة بقرة کې هم ذکر دی . الله تعالی فرمايي : ﴿وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ ...﴾ . البقرة آيت ۱۷۷ .

ترجمه: پس ته خپل رِشته دار ته، مسکينانو ته، او مسافرو ته د هغوی حق ورکوه، همدا خبره د هغو خلقو د پاره ډيره غوره ده څوک چې د الله ﷻ رضا غواړي، او همدا خلق کامياب دي.

۲. بل ځای الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿ قُلْ مَآ أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ وَالْيَتَامٰى وَالْمَسَاكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللهَ بِهِ عَلِيْمٌ ﴾. (۱)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته ورته ووايه: تاسو چې کوم مال خرچ کوئ نو هغه د مور او پلار، خپلو خپلوانو، يتيمانو، او مسکينانو حق دی (دوی ته يې ورکوئ)، او تاسو چې کومه نيکي (او ښيګړه) کوئ نو بيشکه الله تعالی په هغې ښه پوهه دی.

۳. د ترمذي شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ: صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ. (۲)

مسکين ته صدقه ورکول يوه صدقه ده (يعني صرف د صدقې ثواب پرې حاصليږي) او خپلو خپلوانو ته صدقه ورکول د دوچند ثواب باعث دی: يو د صدقې ثواب، او دويم د صله رحمۍ ثواب (يعنی خپلوانو سره د حُسنِ سلوک ثواب).

۴. په احاديثو کې خو تر دې پورې راغلي چې که چيرته يو سړی په خپل اولاد او خپل ځان باندې خرچ کوي او نيت يې صحيح وي نو دا هم په صدقه کې حسابيږي.

د بخاري شريف حديث دی، نبي عليه السلام فرمايي:

---

(۱) البقرة آيت ۲۱۵.

(۲) رواه الترمذي وحسّنه والنسائي وابن خزيمة وابن حبان والهيثمي ۳/ ۱۱٦. الترغيب والترهيب ج۱ (۲/ ٦۲۰)، ورواه الحاكم وقال: صحيحُ الاسناد، إلا انّ ابنَ خزيمةَ قال: اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَعَلَى الْقَرِيْبِ صَدَقَتَانِ: صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ. المتجر الرابح ص ۳۳۲ ثواب الصدقة على الزوج والاقارب. / وفي رواية: أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ اَلصَّدَقَةُ عَلَى ذِي الرَّحِمِ الْكَاشِحِ رواه الطبراني وابن خزيمة والحاكم، وقال: صحيح على شرط مسلم. ورواه احمد ۳/ ۴۰۲، والهيثمي في المجمع ۲/ ۱۱٦، والحاكم ۱/ ۴۰٦، والمنذري ۲/ ۳۷، ۳/ ۱۴۱. اَلْكَاشِحُ: هو المضمر العداوة والمقاطعة في كشحه وهو خصره. المتجر الرابح ص ۳۳۲.

إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةً وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةً . (۱)

کله چې يو سړی په خپل أهل (يعنی ښځې او خپلوانو) باندې خرچ کوي او دا په دې کې د ثواب توقع لري نو دده دا خرچ به دده د پاره (مقبوله) صدقه وي.

فايده : په خپل اهل وعيال باندې خو هر سړی د خپل وَس مناسب خرچ کوي خو خلقو ته دا د ثواب کار نه معلوميږي ، بلکه دا يو تاوان ، مجبوري او د نفس تقاضا ګڼي ، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل اُمت ته دا اُوخودله چې که چيرته يو انسان په خپل بال بچ باندې د ثواب په نيت او د الله ﷻ د رضا د پاره خرچ کوي نو په دې سره هم ده ته اَجر و ثواب ملاويږي ، او دا هم دده د پاره د آخرت ذخيره جوړيږي . (۲)

۵ . په يو حديث کې ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

مَا أَطْعَمْتَ نَفْسَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ ، وَمَا أَطْعَمْتَ زَوْجَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ ، وَمَا أَطْعَمْتَ خَادِمَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ . (۳)

تا چې په خپل ځان کوم خوراک وکړو نو داهم ستا د پاره صدقه ده ، او تا چې په خپله بي بي کوم خوراک وکړو نو دا هم ستا د پاره صدقه ده ، او تا چې په خپل خادِم کوم خوراک وکړو نو دا هم ستا د پاره صدقه ده . (يعنی په دې ټولو صورتونو کې به تاته د صدقې ثواب حاصليږي) .

د صدقې ثواب هميشه باقي پاتې وي

د ترمذي شريف حديث دی ، حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي :

اِنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا بَقِيَ مِنْهَا ؟ قَالَتْ : مَا بَقِيَ إِلَّا كَتِفُهَا ،

(۱) رواه البخاري الايمان ۳۷ ، ومسلم . وَفِي رِوَايَةٍ : وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي إِمْرَأَتِكَ . رواه البخاري الايمان ۳۷ .

(۲) معارف الحديث ج۴ ص ۳۳۳ .

(۳) قال في المجمع (۳/ ۱۱۹) رواه احمد ورجاله ثقات ، رواه احمد ۴/ ۱۳۱ ، والبيهقي ۴/ ۱۷۹ .

قَالَ : بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا . (۱)

يو ځل صحابه کرامو يا اهلِ بَيتو يوه ګډه ذبح کړه ، هرکله چې د هغې غوښه تقسيم شوه نو نبي عليه السلام وفرمايل : د چيلۍ نه څه باقي پاتې شوي دي ؟

حضرت عائشې رضی الله عنها ورته وفرمايل : د اُولي (ليچي ، مټ) نه علاوه نور څه نه دي پاتې شوي (يعنی نوره ټوله غوښه تقسيم شوی ، صرف اُولې پاتې دی) .

نبي عليه السلام وفرمايل : د اُولي (ليچي) نه علاوه نوره ټوله باقي پاتې ده .

يعنی اصل کې غوښه هغه باقي ده کومه چې په فقيرانو تقسيم شوی ځکه د هغې ثواب زمونږ د پاره د الله ﷻ سره محفوظ دی ، او دا کومه حصه (اُولې) چې په کور کې پاتې دی نو دا خو فاني دی ، د خوراک نه روستو به ختم شي .

دې خبرې ته په دې آيتِ مبارکه کې هم اشاره ده ، الله تعالی فرمايي :

﴿ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللهِ بَاقٍ ﴾ . (۲)

ترجمه : څه چې د تاسو سره دي هغه ټول فاني دي ، او څه چې د الله ﷻ سره دي هغه باقي پاتې کيدونکي دي .

په صدقه کې بهترين او غوره مال ورکول

صدقه خو د انسان د پاره د قيامت ذخيره وي ، چې دا به په قبر او د قيامت په سخته ورځ کې د انسان په کار راځي ، لهذا د الله ﷻ په نوم داسې مال صدقه کول په کار دي چې هغه بهترين او غوره وي ، نو دا به د ډير ثواب ذريعه وي .

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ﴾ . (۳)

(۱) رواه الترمذي وصححه ج۴ ص ۲۲۵ حديث ۲۴۷۰ باب ۳۳ ، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الثاني حديث ۳۱ .

(۲) النحل آيت ۹۶ .

(۳) آل عمران آيت ۹۲ .

ترجمه : تاسو به هيڅ کله نيکي حاصله نه کړې شئ تر څو پورې چې تاسو خرچ نه کړئ له هغه شي نه کوم چې تاسو خوښوئ . (يعنی تر څو پورې مو چې د ټولو نه غوره شی نه وي خيرات کړی تر هغې پورې به جنت ته داخل نه شی) .

۲ . بل ځای الله رب العزت فرمايي :

﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ.. ﴾ . (۱)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو (د الله ﷻ په لاره کې) د هغه پاکيزه مالونو نه خرچ کوئ کوم چې تاسو ګټلي دي ، او کوم چې ما تاسو د پاره د زمکې نه راټوکولي دي ، او تاسو د الله ﷻ په نوم د خراب مال د خرچ کولو قصد مه کوئ ..

د حضرت ابو طلحة ﷜ د سخاوت جذبه

حضرت انس رضی الله عنه فرمايي : چې حضرت ابوطلحه رضی الله عنه د مدينې په اَنصارو کې د کجورو د باغونو په اعتبار سره ډير مالدار وُ (يعنی د قجورو باغونه يې ډير وو) ، او ده ته په خپل مال کې د ټولو نه ډير محبوب " بَيْرَحَا " نومې باغ وُ ، کوم چې د مسجدِنبوي ﷺ بالکل مخامخ وُ ، (او ډير قيمتي باغ وُ) . نبي عليه السلام به اکثر دې باغ ته تشريف وړلو ، او د هغه ځای اُوبه به يې (په شوق) څکلی ، چې ډيرې ښې (يعنی خوږې ، حلالې او پاکې) وی .

حضرت انس ﷜ فرمايي چې کله دا آيت نازل شو :

﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : تاسو هرګز نيکی (يعنی جنت او اُوچت مقام) ته تر هغه وخته پورې نه شی رسيدی تر څو پورې چې تاسو هغه څيز خرچ نه کړئ کوم چې ستاسو ډير خوښ وي .

---

(۱) البقرة آيت ۲۶۷ .

(۲) آل عمران آيت ۹۲ .

نو ابو طلحه رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو، او عرض يې وکړو: اې د الله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم! بېشکه الله تعالی فرمايي: ﴿لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ نو "بَيْرَحَا" باغ ماته په ټولو مالونو کې ډېر خوښ دی (۱)، زه دا د الله تعالی د پاره صدقه کوم، او ددې آيت پيشِ نظر زه د الله جل جلاله نه د نيکۍ او ثواب اميد لرم، او اميد واريم چې دا به زما د پاره د آخرت ذخيره جوړه شي، پس اې د الله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم! تاسو دا قبول کړئ، او کوم ځای چې تاسو مناسب ګڼئ هلته يې خرچ کړئ.

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: بَخٍ بَخٍ. (۲) واه واه، دا باغ ځومره د ګټې واله مال دی، او تا چې څه وويل هغه ما واوريده، زه مناسب دا ګڼم چې ته دا مال په خپلو محتاجو خپلوانو باندې صدقه کړې (چې د صدقې ثواب سره سره درته د صِله رَحمۍ ثواب هم حاصل شي). ابو طلحة رضي الله عنه وفرمايل: اې د الله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم! ستاسو د ارشاد مطابق به عمل کوم نو ابو طلحة رضي الله عنه هغه باغ په خپلو خپلوانو او د تره په زامنو تقسيم کړو. (۳)

---

(۱) "بَيْرَحَا": حديقة نخل، وروي بكسر الباء "بِيْرَحَا" وفتحها "بَيْرَحَا". رياض الصالحين ج۱ باب الانفاق مما يحب ومن الجيد./ وقيل: بَيْرُحَاءَ بكسر الباء وفتحها وبالمد "بَيْرَحَاءَ" هي اسمٌ لحديقة نخل كانت لأبي طلحة رضي الله عنها. المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۲.

(۲) بَخٍ: بفتح الموحدة وسكون المعجمة، وقد تنون مع الثقيل والتخفيف بالكسر والرفع ويحذف التنوين. ومعناها تفخيم الأمر والإعجاب، ونظيرها في الهندية: واه واه. فتح الملهم شرح صحيح مسلم ج۵ ۶۰.

(۳) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ أَبُوطَلْحَةَ أَكْثَرَ الْأَنْصَارِ بِالْمَدِينَةِ مَالًا مِنْ نَخْلٍ، وَكَانَ أَحَبُّ أَمْوَالِهِ إِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ، وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ، وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيهَا طَيِّبٍ. قَالَ أَنَسٌ: فَلَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ: ﴿لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ قَامَ أَبُوطَلْحَةَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ: ﴿لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾ وَإِنَّ أَحَبَّ مَالِي إِلَيَّ بَيْرُحَاءَ، وَإِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ تَعَالَى، أَرْجُوا بِرَّهَا وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللهِ فَضَعْهَا يَا رَسُولَ اللهِ حَيْثُ أَرَاكَ اللهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: بَخٍ بَخٍ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ. وَسَمِعْتُ مَا قُلْتَ وَإِنِّي أَرَى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِينَ. فَقَالَ أَبُوطَلْحَةَ: أَفْعَلُ يَا رَسُولَ اللهِ. فَقَسَمَهَا أَبُوطَلْحَةَ فِي أَقَارِبِهِ وَبَنِي عَمِّهِ. رواه مسلم في الزكاة ۴۲، والبخاري باب الزكاة على الاقارب ج۲ ص ۱۱۹ حديث ۱۴۶۱ وفي الوصايا ۶۱ وفي الاشربة ۱۹۹، مشكوة باب افضل الصدقة الفصل الثالث حديث ۱۷.

فايده : په بعضو رواياتو کې څه تفصيل شته چې حضرت ابو طلحة ﷺ د نبي عليه السلام د هدايت مطابق په خپلو خاصو خپلوانو : اُبيّ بن کعب ﷺ، حسان بن ثابت ﷺ، شداد بن اوس او په نبيط بن جابر باندې تقسيم کړو . او دا دومره قيمتي باغ وُ چې بيا روستو حضرت معاوية ﷺ د حضرت حسان بن ثابت ﷺ نه صرف دده حصه باغ په يو لک درهمه واخيسته، نو غونډ باغ خو به ډير قيمتي وُ ، ليکن د حضرت ابو طلحة ﷺ په زړه کې د الله ﷻ محبت او دومره سخاوه چې دا ټول باغ يې صدقه کړو . (۱)

د حضرت طلحه ﷺ د سخاوت نور واقعات

۱ . د حضرت طلحة ﷺ بي بي حضرت سعدى بنت عوف رضي الله عنها فرمايي چې يوه ورځ زه په حضرت طلحة ﷺ باندې راداخله شوم نو دې ډير خفه وُ ، ما ورنه پوښتنه وکړه چې ولې دومره خفه يې ؟ هغه راته وويل : د ماسره ډير مال جمع شوى چې د هغې په وجه پريشانه يم .

ما ورته وويل : مه خفه کيږه، خپل قوم او خپلوان راجمع کړه او په هغوى باندې دا مال تقسيم کړه . هغه وويل : ډيره ښه ده ، خپل غلام يې وليږل ، دده خپلوان او قوم يې راجمع کړو، او په هغوى کې يې دا مال ټول تقسيم کړو .

ما د هغه خادم نه پوښتنه وکړه : چې دا څومره مال وُ چې ده تقسيم کړو ؟ هغه راته وويل: څلور لکه (۴۰۰۰۰۰) درهمه وو . (۲)

۲ . امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ذکر کړي چې حضرت ابو طلحة ﷺ ته يو دوست راغى او دده دروازه يې اُوټکوله ، کله چې دې ورله راووت ، پوښتنه يې ورنه وکړه :

---

(۱) معارف الحديث ج۴ ص ۳۳۷ .

(۲) وقالتْ سعدى بنت عوف : دخلتُ على طلحة فرأيتُ منه ثِقْلًا فقلتُ له : مَالَكَ ؟ فقال : اِجتَمعَ عندي مالٌ وقد غمني، فقلتُ و ما يغمک ادع قومک ؟ فقال : يا غلام عليّ بقومي ، فقسمه فيهم ، فسألتُ الخادمَ كم كان ؟ قال : أربعمائة الف . اخرجه الحاكم ، احياء العلوم ج ۳ ص ۳۳۷ كتاب ذم البخل و ذم حب المال .

څنګه راغلی يې ؟ هغه ورته وويل : په ما باندې څلور سوه (۴۰۰) درهمه قرضه ده . دې کورته لاړو ، څلور سوه درهمه يې راواخيست او راغی دې کس ته يې ورکړه .

کله چې کورته راغی نو ژړل يې ، بي بي ورته وويل : چې کله درته درهم ورکول دومره ګران معلوميده نو بيا دې ولې ورکول ؟ ده ورته وويل : د درهمو پسې نه ژاړم ، بلکه ددې د وجې ژاړم چې ماته څنګه ددې کس حال تر اوسه معلوم نه ؤ چې دې آخر دې ته مجبوره شو چې زما دروازې ته راغی (بلکه په کار دا وه چې ما دده حالت دمخکې نه معلوم کړې وی او دده ضرورت مې پوره کړې وی ، او دې زما دروازې ته په راتلو نه وې مجبوره شوی) . (۱)

۳. حضرت حسن رحمه الله وايي چې حضرت ابو طلحة ﷺ خپله يو زمکه په حضرت عثمان ﷺ باندې په اووه لکه (۷۰۰۰۰) درهمه باندې خرڅه کړه ، کله چې دا درهم ده ته راغله نو سوچ يې وکړو چې که دا مال د ماسره ټوله شپه پاتې شي او په دې حالت کې ماله مرګ راشي نو زما به څه حالت وي ؟ نو د خپلو خادمينو په ذريعه يې ټوله شپه دا درهم د مدينې منورې په فقيرانو ، مسکينانو او کونډو باندې تقسيمولی ، تر دې پورې چې د سهر په وخت دده سره يو درهم هم باقي پاتې نه شو (۲)

۴. د حضرت طلحة ﷺ بي بي حضرت سعدی رضی الله عنها وايي چې حضرت طلحة ﷺ يوه ورځ يو لک درهم صدقه کړه ، بيا (دده دسادګۍ دا حالت ؤ چې) په دغه ورځ جُمات ته صرف ددې د وجې لا نه رو چې کپړې يې شليدلې وی هغه يې ځان له ګنډلی . (۳)

(دېته سخاوت وايي چې يو لک درهم يې نورو ته ورکړه او په ځان باندې يې هيڅ هم اونه لږول) .

---

(۱) وأتى رجل صديقًا له فدق عليه الباب فقال : مَاجَاءَ بِكَ ؟ قال : عليّ أربعمائة درهم دَين . فوزن أربعمائة درهم وأخرجها إليه . وعاد يبكي . فقالت امرأته : لم أعطيته إذ شقّ عليك ؟ فقال : إنّما أبكي لأنّي لم أتفقد حاله حتى احتاج الى مفاتحتي . احياء العلوم ج۳ ص ۲۳۷ كتاب ذم البخل و ذم حب المال .

(۲) اخرجه ابونعيم ، الترغيب والترهيب لليافعي ۸۸ .

(۳) اخرجه ابونعيم فى الحلية ، الترغيب والترهيب لليافعي ۸۹ .

۵. يو کرت حضرت ابو طلحة ﷺ ته يو اَعرابي راغی او څه يې ورنه او غوښته، ده ورته وويل: ما د حضرت عثمان رضی الله عنه يوه زمکه په درې لکه (۳۰۰۰۰۰) درهمه اخيستی، نو اوس ستا خوښه ده که دا زمکه اخلې، او که دا زمکه په هغه باندې واپس خرڅه کړم او تاله نغدې روپۍ درکړم؟ دې اعرابي فقير ورته وويل: زما نغدې روپۍ په کار دي، نو حضرت ابو طلحة ﷺ دا زمکه په حضرت عثمان ﷺ خرڅه کړه او دې فقير ته يې نغدې روپۍ ورکړی.(۱)

د حضرت ابوبکر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ صدقه

۱. د ابوداؤد شريف حديث دی، حضرت عمر ﷺ فرمايي چې يو کرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته د صدقې کولو حکم وکړو، په دغه وخت کې د ما سره مال ډيرؤ، ما د ځان سره وويل چې نن ورځ خو به زه د حضرت ابوبکر صديق ﷺ نه مخکې کيږم، نو خپل ټول نيم مال مې راواخيست، او د رسول الله ﷺ په خدمت کې مې پيش کړو، نبي عليه السلام رانه پوښتنه وکړه:

مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ کور واله ته دې څومره مال پريښود؟

ما ورته وويل: نيم مال مې پريښود.

ددې نه پس حضرت ابوبکر صديق ﷺ خپل ټول مال د ځان سره راوړو، او د نبي عليه السلام په خدمت کې يې پيش کړو، پيغمبر ﷺ د هغه نه پوښتنه وکړه:

مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ کور واله ته دې څومره مال پريښود؟

هغه ورته وويل:

أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ. ما خپل کور واله د پاره صرف الله ﷻ او د هغه رسول پريښود.

حضرت عمر ﷺ فرمايي چې ما حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته وويل:

(۱) احياء العلوم ج۳ ص ۲۳۷ کتاب ذم البخل و ذم حب المال.

لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا.

زه به اوس آينده د تا نه په هيڅ شي کې د مخکې کيدو مقابله اونه کړم . (۱)

۲ . حضرت ابوبکر صديق ﷺ چې کله اسلام قبول کړو نو د څلويښتو زرو درهمو مالک ؤ ، خو ده دا ټول رقم د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړه . (۲)

۳ . دغه رنګې ډير غلامان يې د اخيستو نه روستو آزاد کړه په کومو کې چې د حضرت بلال ﷺ او عامر بن فصيره ﷺ په شان جليل القدر صحابه کرام هم شامل دي . (۳)

۴ . حضرت ابوهريرة رضى الله عنه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يو کرت ارشاد اوفرمايه چې "د هيچا مال ماته دومره فايده نه ده رارسولې څومره چې د حضرت ابوبکر صديق ﷺ مال ماته نفع رارسولې ده" . ددې خبرې په اوريدو سره حضرت ابوبکر صديق ﷺ اوژړل ، او عرض يې وکړو : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زه او زما مال خو صرف ستاسو د پاره دی . (۴)

د حضرت عثمان ﷺ صدقه

حضرت عثمان ﷺ ته الله ﷻ ډير مال و دولت ورکړې ؤ ، خو د هغه په زړه کې د مال محبت نه ؤ ، هغه به په هره موقع خپل مال د الله ﷻ د رضا د پاره خرچ کولو .

(يو څو نمونې ستاسو د وړاندې پيش کوم) :

---

(۱) عَنْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ـ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ أَنَّهُ قَالَ: أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ. فَوَافَقَ ذٰلِكَ مَالًا عِنْدِيْ، فَقُلْتُ: الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَابَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا. فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِيْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ فَقُلْتُ: مِثْلَهُ. قَالَ: وَأَتَى أَبُوْبَكْرٍ ـ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ. فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ قَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ. فَقُلْتُ: لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا. اخرجه ابوداود (۱۶۷۸) ، وقال الالباني : حسن (۱ / ۳۱۵) ، والترمذي (۳۶۷۵) . نضرة النعيم ج۲ ص۱۵۰۹ الجود .

(۲) الترغيب والترهيب لليافعي ۸۷ .

(۳) مكارم الاخلاق .

(۴) اسد الغابة ۳ / ۲۲۲ .

۱. د " بیر رومه " اخیستل او صدقه کول :

"بیر رومه" یو کوهي ؤ ، او دا کوهي د یو یهودي ملکیت ؤ ، دغه وخت مسلمانانو ته د اُوبو ډیر مشکلات وو ، دوی به د دې یهودي نه اُوبه په بیعه اخیستې .

کله چې حضرت عثمان ﷺ ته معلومه شوه چې مسلمانانو ته د اُوبو په حاصلولو کې ډیر مشکلات دي نو دې یهودي ته ورغلو او ورته وې ویل : دا کوهي په ما باندې راخرڅ کړه ، هغه ورته وویل : زه خو په دې باندې ډیرې روپۍ ګټم ، دا نه خرڅوم .

کله چې حضرت عثمان ﷺ د یهودي جواب واوریده نو ورته وې ویل : ته نیم کوهي په ما راخرڅ کړه او قیمت رانه د پوره کوهي واخله .

(چونکه د اهلُ الله سره ډیره پوهه وي ، الله ﷻ ورته فِراست ورکړې وي) .

یهودي چې د حضرت عثمان ﷺ خبره واوریده نو وې ویل : صحیح ده ، د کوهي نیم حق ستا شو خو قیمت پوره راکړه . حضرت عثمان ﷺ قیمت پوره ورکړو او نیم کوهي یې ورنه واخیست . یهودي ورته وویل : یوه ورځ به ستا نمبر وي ، ته اُوبه رااُوباسه ، او بله ورځ به زما نمبر وي ، زه به اُوبه رااُوباسم .

کله چې حضرت عثمان ﷺ یهودي ته روپۍ ورکړی نو عام اِعلان یې وکړو چې زما په نمبر کې دې مسلمانان او کافران ټول بغیر د قیمت اداء کولو نه مفت اُوبه وړي .

کله چې خلقو ته په یوه ورځ مفت اُوبه ملاویدل شروع شو نو په دویمه ورځ بیا په بیعه اخیستو واله هیڅوک هم نه وو .

یهودي یو څو میاشتې پس راغی ، او حضرت عثمان ﷺ ته یې وویل : تاسو د مانه دا باقي کوهي هم واخلئ (ځکه د ما نه خو هیڅوک هم په روپو باندې اُوبه نه اخلي) .

نو حضرت عثمان ﷺ د ا باقي نیم کوهي هم واخیستلو او ټول یې د الله ﷻ د رضا د پاره وقف کړ . (۱)

---

(۱) وَاشْتَرَی عُثْمَانُ ﷺ بِئر رومة بِعِشْرِيْنَ أَلْفًا وَسلبها للمسلمين . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المرويّة عن الانبياء والصالحين ص ۲۰۰ .

۲ . د غزوه تبوکٔ په موقع سخاوت :

د غزوه تبوک په موقع باندې حضرت عثمان ﷺ د يوې مثالي قرباني ثبوت پيش کړې ؤ، ده درې سوه (۳۰۰) اُوښان د سازو سامان سره ټول صدقه کړه ، او بيا يې زر (۱۰۰۰) اشرفۍ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې پيش کړی .

راوي وايي چې رسول الله ﷺ د حضرت عثمان ﷺ ددې سخاوت نه دومره خوشحاله ؤ، چې هغه اشرفۍ يې په لاس کې اَړولې راړولی ، او دايې فرمايل :

مَا ضَرَّ ابْنُ عَفَّانَ مَا فَعَلَ بَعْدَ هٰذَا .

د نن نه پس چې حضرت عثمان ﷺ څه کار هم کوي ده ته به هيڅ نقصان نه رسي . يعنی ددې صدقې د قبوليت په برکت به ده ته د کامِل خير توفيق نصيبه کيږي . (۱)

۳ . د قحط سالۍ په وخت د حضرت عثمان ﷺ سخاوت :

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي چې يو کال قحط سالي راغله ، د خوراک ذخيره ختمه شوه ، خلق د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خدمت کې حاضر شو ، او ددې ذکر يې ورته وکړو ، ده ورته وويل چې صبا به انشاء الله ستاسو دا تکليف ختم شي .

په صبا باندې د شام نه د حضرت عثمان ﷺ د سلو (۱۰۰) اُوښانو قافله راورسيده چې سل واړه اُوښان د غلې نه بار (ډک) وو . د مدينې منورې تاجران راجمع شو ، او ورته وې

(۱) مکارم الاخلاق . د ابن سعد د روايت مطابق په غزوه تبوک کې ديرش زره (۳۰۰۰۰) پياده صحابه ، او لس زره (۱۰۰۰۰) سواره شامل وو ، او حضرت عثمان ﷺ د غونډ فوج دريمه حصه اخراجات ځانله په خپله ذِمه اخيستي وو ، گويا حضرت عثمان ﷺ د لس زره پياده فوج د پاره اسباب برابر کړې ؤ ، ددينه علاوه يې زر (۱۰۰۰) اُوښان ، اويا (۷۰) اسونه او نور سامان ورکړې ؤ ، او ددې سره سره يې د رسول الله ﷺ په خدمت کې زر (۱۰۰۰) اشرفی پيش کړی ، چې نبي عليه السلام د ديرې خوشحالی نه په لاسونو مبارکو کې اړولې راړولی ، او دا يې فرمايل: مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذَا الْيَوْمَ . د نن نه روستو د حضرت عثمان هيڅ کار ده ته ضرر نشي رسولی . خلفاء راشدين بن از شاه معين الدين ندوي ص ۱٦۲ ، بحواله مستدرک حاکم ج۳ . هکذا اخرجه احمد ، کذا في البداية .

ويل چې دا غله په مونږ را اخرڅه کړه ، ځکه په مسلمانانو باندې تکليف دی ، مونږ به يې بازار ته د خرڅ د پاره ويسو ، ده ورته وويل : كَمْ تَرْبَحُوْنِيْ؟ تاسو به ماته ددې څومره ګټه را کړئ؟

تاجرانو ورته وويل : په څو چې تا په شام کې اخيستې د هغې برابر ګټه به درکړو ، ده ورته وويل : ددې غلې قيمت ددې نه زيات لږول شوی دی (يعنی ما ته ددې نه زياته نفع ملاويږي) نو تاسو ددې قيمت نور هم زيات کړئ .

تاجرانو ورته وويل : مونږ به تاته يو په ډبل ګټه درکړو ، خو حضرت عثمان ﷺ وويل : نور هم زيادت وکړئ ، ځکه ددې قيمت ددې نه زيات لږول شوی .

تاجرانو همداسې ګټه زياتوله ، تر دې چې يو په څلور ګټه يې ورنه اوغوښته ، خو ده ورته وويل : چې ما ته ددېنه زياته نفع ملاويږي کومه چې تاسو را کوئ .

آخر دې تاجرانو ورته وويل : اې عثمان ! تاته چا ددېنه زيات قيمت لږولی ؟ حالانکه د مدينې منورې تاجران خو ټول دلته همدا مونږ يو ، د مونږنه علاوه خو نور څوک نشته چې د تا نه دا غله په زيات قيمت واخلي .

حضرت عثمان ﷺ ورته وفرمايل : ما ته الله ﷻ يو په لس چنده ددې اجر مقرر کړی ، الله رب العزت فرمايي :

﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا...﴾ . (۱)

ترجمه : څوک چې (د الله ﷻ دربار ته) نيکي راوړي نو ده ته به ددې نيکۍ يو په لس چنده بدله ملاويږي .

حضرت عثمان ﷺ تاجرانو ته وويل : ما ته خو الله ﷻ ددې نفع يو په لس چنده را کوي نو آيا تاسو ددې نه زياته را کولې شئ ؟ تاجرانو وويل : نه .

نو حضرت عثمان ﷺ وفرمايل : أُشْهِدُكُمْ أَنَّهَا صَدَقَةٌ لِلْمُسْلِمِيْنَ . زه تاسو ګواه کوم چې دا ټوله غله د مسلمانانو د پاره (زما د طرفه) صدقه ده . (۲)

---

(۱) الانعام آيت ۱۶۰ .

(۲) الترغيب لليافعي ۸۷ ، حضرت عثمان ذی النورين بحواله ازالة الخفاء .

(نو سل واره اوښان د غلې نه ډک یې په مسلمانانو باندې صدقه کړه) .

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې ما په همدغه شپه باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې وليده چې په ښائسته برگ آس باندې سور دی ، د نور جامې یې اغوستې دي ، او په تادی باندې روان دی .

ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي چې ما ورته وويل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زه ستاسو د ملاقات ډېر شوقي يم ، ماته لږ رامتوجه شئ (چې ستاسو په ملاقات مشرّف شم) نبي عليه السلام وفرمايل :

يَا ابْنَ عَبَّاسٍ إِنَّ عُثْمَانَ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ وَ أَنَّ اللهَ قَبِلَهَا مِنْهُ وَ زوجهُ بِهَا عرُوْسًا فِي الْجَنَّةِ وَقَدْ دُعِيْنَا إِلى عرُوْسِهِ . (۱)

اې ابن عباس ! بیشکه حضرت عثمان ﷺ (سل اوښان د غلې) صدقه کړي ، او الله تعالی دده صدقه قبوله کړی ، او ددې په عوض کې یې په جنت کې دده واده مقرر کړی ، (زه ځکه په تادی باندې يم چې) مونږ د هغه واده ته غوښتي شوي يو .

فايده : سبحان الله . د قحط سالۍ په وخت کې د مسلمانانو سره د احسان کولو او د صدقې ورکولو څومره لوي آجر دی چې الله رب العزت ددې په عوض کې څومره لوي عزت ورکړو .

---

(۱) حضرت عثمان ذی النورین بحواله ازالة الخفاء . قَالَ ابْنُ عبّاسٍ رضی الله عنهما : وَقَعَ قحطٌ فِي عهدِ أبي بكرٍ . فقيل له إنَ النّاسَ في شدةٍ . فقال : إنّكم لاتمسُونَ حتى يفرجَ عنكم . فلمّا كان آخر النهار جاء عير عثمان من الشام . فجاءه التجار . وقالوا : إنَ النّاس فِي شدّةٍ من القحط و قد قدم عليك مائة راحلة من البر فَبِعْنَا إيّاها . قال : كم تربحوني؟ قالوا : العشرة نجعلُ ربحها درهمين . قال : زَادُوْنِي أكْثَرَ مِنْ ذلک . قالوا نربحک أربعة . قال زادوني . قالوا : نحنُ تجار المدينةِ فَمَنْ زَادَكَ ؟ قَالَ : إِنَّ اللهَ زادنِي بِكُلِّ درهمٍ عشرة . قالَ اللهُ تعالى : ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا...﴾ أُشْهِدُكُمْ أنَّهَا صَدَقَةٌ لِلْمُسْلِمِيْنَ . قَالَ ابْنُ عبّاسٍ : فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ تِلْكَ اللَّيْلَةَ فِي الْمَنَامِ عَلى برذون أبلق وعليه حلة حرير من نورٍ وهو مُسْتَعْجِلٌ . فقلتُ : الرسولَ الله إِنِّيْ مُشْتَاقٌ إِلَيْكَ . فَقَالَ : يَا ابْنَ عَبَّاسٍ إِنَّ عُثْمَانَ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ وَ انَّ اللهَ قَبِلَهَا مِنْهُ وَ زوجهُ بِهَا عرُوْسًا فِي الجنةِ وَقَدْ دُعِيْنَا إلى عرُوْسِهِ . نزهة المجالس ج۲ ص ۱۴ باب فضل الصدقة وفعل المعروف ...

د حضرت عائشې رضي الله عنها صدقه

۱. حضرت عروه بن زبير رحمه الله فرمايي :

رَأَيْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تُقَسِّمُ سَبْعِيْنَ أَلْفًا وَهِيَ تُرَقِّعُ ثَوْبَهَا .

وَرُوِيَ أَنَّهَا قَسَّمَتْ فِيْ يَوْمٍ ثَمَانِيْنَ وَمِائَةَ أَلْفٍ بَيْنَ النَّاسِ . فَلَمَّا أَمْسَتْ قَالَتْ : يَا جَارِيَةُ عَلَيَّ فُطُوْرِيْ . فَجَاءَتْهَا بِخُبْزٍ وَزَيْتٍ . فَقَالَتْ لَهَا أُمُّ ذَرَّةَ : أَمَا اسْتَطَعْتِ فِيْمَا قَسَّمْتِ الْيَوْمَ أَنْ تَشْتَرِيْ لَنَا بِدِرْهَمٍ لَحْمًا نُفْطِرُ عَلَيْهِ ؟ فَقَالَتْ : لَوْ ذَكَّرْتِنِيْ لَفَعَلْتُ . (۱)

ما حضرت عايشه رضی الله عنها وليده چې اويا زره (۷۰۰۰۰) اشرفۍ يې صدقه کولې، حالانکه په دې وخت کې هم ددې د قميص په يو طرف کې پيوَندونه لږيدلي وو .

په يو روايت کې راځي چې دې په يوه ورځ يو لک او اتيا زره (۱۸۰۰۰۰) درهمه د خلقو په مينځ کې تقسيم کړه، کله چې ماښام شو نو خپلې خادمې ته يې وويل : زما روژه ماتې راوړه (چې روژه پرې ماته کړم)، نو هغې ورته يوه روټۍ او د زيتونو تيل راوړه . نو د حضرت عايشې رضي الله عنها خادمې "ام ذرّة" ورته وويل :

تا خو دومره ډير درهم تقسيم کړه ، که چيرته تا په دې کې مونږ له په يو درهم غوښه اخيستې وی نو اوس به مونږ پرې افطار کړې وی ؟ حضرت عايشې رضي الله عنها ورته وويل: که چيرته تا مخکې ماته رايادہ کړې وی نو ما به درله غوښه اخيستې وه (اوس خو ټول درهم ختم شو) .

فايده : ديته اعلی درجه سخاوت وايي چې په خپله يې روژه هم وه، او دومره ډير درهم يې صدقه کړه خو ځان له يې يو درهم هم پرې نه خود چې غوښه يې پرې اخيستې وی . او باوجود د دومره ډيرو درهمو او اَشرفو صدقه کولو يې بيا هم په خپلو جامو کې پيوندونه لږيدلي وو .

---

(۱) مختصر منهاج القاصدين (۲۰۳)، والاحياء ۳/۲۴۷). نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول النبي الكريم صلى الله عليه وسلم ج٦ ص ۲۲۵۵ . وهكذا في الترغيب والترهيب ج۳ ص ۳۳۱ كتاب ذم البخل وذم حب المال .

۲ . دخپل ځان په نسبت فقير ته ترجيح ورکول :

امام مالک رحمه الله نقل کړي چې حضرت عائشې رضی الله عنها ته يو مسکين راغی، او سوال يې ورنه وکړو ، حالانکه د حضرت عائشې رضی الله عنه روژه وه او ددې په کورکې صرف يوه ډوډۍ (چپاتې) وه (او ددې نه علاوه ورسره بل هيڅ شی د خوراک نه ؤ).

دې خپلې وينځې ته وويل : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ . دا ډوډۍ دې فقير له ورکړه .

هغې ورته وويل : د تاسره خو ددينه علاوه بل داسې شی نشته چې ته په هغې روژه ماته کړې (صرف همدا يوه روټۍ ده ، نو دا څنګه دې فقير له ورکړم ؟)

حضرت عائشې رضی الله عنها ورته بيا وفرمايل : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ . دا ډوډۍ دې فقير له ورکړه . نو دې وينځې مسکين ته دا ډوډۍ ورکړه .

کله چې ماښام شو نو يو کور واله يا يو سړي دې ته هديه راوليږله چې د چيلۍ پخ شوې غوښه او روټۍ وغيره وو . دا وينځه وايي چې زه حضرت عائشې رضی الله عنها راأوغوښتم او راته وې ويل :

كُلِيْ مِنْ هٰذَا ، هٰذَا خَيْرٌ مِنْ قُرْصِكِ . (۱)

دا خوره ، دا ستا د ککوړي (چپاتي روټۍ) نه ډير بهتر دی .

۳ . د صدقې سره سره فقير ته دُعا هم کول :

حضرت مولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله ليکلي : چې حضرت عائشې رضی الله عنها ته به څوک فقير راغی او دُعاګانې کول به يې شروع کړه (لکه دا عادت دعامو فقيرانو دی چې څه غواړي نو ورسره ورسره دُعاګانې هم کوي) .

---

(۱) رَوَى مَالِكٌ ـ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى ـ عَنْ مَوْلَاةٍ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ مِسْكِيْنًا سَأَلَ عَائِشَةَ وَهِيَ صَائِمَةٌ وَلَيْسَ فِيْ بَيْتِهَا إِلَّا رَغِيْفٌ . فَقَالَتْ لِمَوْلَاةٍ لَهَا : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ . فَقَالَتْ : لَيْسَ لَكِ مَا تُفْطِرِيْنَ عَلَيْهِ . فَقَالَتْ : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ . فَفَعَلَتْ . فَلَمَّا أَمْسَيْنَا أَهْدٰى لَهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَوْ إِنْسَانٌ ـ مَا كَانَ يُهْدِيْ لَهَا ـ شَاةً وَكَفَنَهَا فَدَعَتْنِيْ عَائِشَةُ . فَقَالَتْ : كُلِيْ مِنْ هٰذَا . هٰذَا خَيْرٌ مِنْ قُرْصِكِ . اخرجه مالک فی الموطاء ، جامع الاصول لابن الاثير (۶/۴۵۲) ، نضرة النعيم ج۶ ص ۲۲۵۵ السخاء.

نو حضرت عائشې رضی الله عنها به هم دې فقير ته دُعاګانې کولې ، او بيا به يې ورته صدقه هم ورکړه .

چا ورته وويل : اې اُمّ المؤمنين ! دا څه وجه ده چې کله د تا نه يو فقير څه غواړي او دُعاګانې درته کوي نو ته هم ورته اول دُعاګانې کوې او بيا ورته صدقه ورکړې ؟

دې ورته وويل : که زه ورته صدقه ورکړم او دُعا ورته اونه کړم نو د هغه اِحسان په ما باندې زيات شو ، ځکه دُعا د صدقې نه ډيره بهتره ده ، نو ځکه زه هم ورته اول دُعاګانې وکړم چې د هغه د دُعاګانو د اِحسان بدله پوره شي ، بيا د هغې نه روستو صدقه ورکړم ، دا د دې د پاره چې زما دا صدقه خالصه د الله ﷻ د رضا ذريعه وګرځي ، او د څه اِحسان په مقابله کې رانشي . (۱)

د يو نابينا صحابي په خپل لاس صدقه ورکول

حضرت عثمان رحمه الله وايي چې د حضرت حارثه بن نعمان ﷺ په آخيري عُمر کې نظر ختم شوې وُ ، هغه داسې کار کړې وُ چې د خپلې کمرې د لمانځه د ځای نه يې يوه رسۍ تر د دروازې پورې بوتلې وه ، کله به چې يو فقير بهر په دروازه کې آواز وکړو نو ده به په کمره کې د موجوده ټوکرۍ نه څه راواخيست ، رسۍ به يې اونيوه ، دروازې ته به راغی او فقير ته به يې په خپل لاس باندې صدقه ورکړه .

د کور خلقو ورته وويل : ته دومره تکليف مه کوه ، بلکه فقير ته به مونږ صدقه ورکوو .

ده ورته وويل : ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فقير ته په خپل لاس باندې صدقه ورکول انسان د خراب مرګ نه محفوظ ساتي . (نو ځکه زه په خپل لاس فقير ته صدقه ورکوم) . (۲)

---

(۱) سيرة المصطفى صلى الله عليه وسلم لمولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله .

(۲) اخرجه الطبراني .

فقير او محتاج ته د خوراک او جامو ورکولو فضيلت

په قرآن کريم او احاديثو مبارکه وُ کې فقير او محتاج ته د خوراک او جامو ورکولو ډير اَجرونه او ثوابونه بيان شوي. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّأَسِيْرًا . إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللهِ لَا نُرِيْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّلَا شُكُوْرًا . إِنَّا نَخَافُ مِنْ رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوْسًا قَمْطَرِيْرًا . فَوَقٰهُمُ اللهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقّٰهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا ﴾ . (۱)

ترجمه: او دوی (يعنی نيکان خلق) د الله ﷻ په مينه کې په مسکين، يتيم او قيدي باندې خوراک خوروي، (او دا ورته وايي چې:) بيشکه مونږ په تاسو باندې صرف د الله ﷻ د رضا د پاره خوراک خورَوو، نه خو د تاسو نه څه (عملي) بَدله غواړو، او نه (ددې قولي) شکريه غواړو. بيشکه مونږ خو د خپل رب نه د هغې ورځې په باره کې ويريږو چې سخته او ترخه به وي، پس الله تعالی به دوی د دغې ورځې د سختئ نه بچ کړي، او دوی ته به تازګي او خوشحالي ورکړي.

۲. د ابوداؤ د شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

أَيُّمَا مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلٰى عُرْيٍ كَسَاهُ اللهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ . وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلٰى جُوْعٍ أَطْعَمَهُ اللهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ . وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقٰى مُسْلِمًا عَلٰى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللهُ مِنَ الرَّحِيْقِ الْمَخْتُوْمِ . رواه ابوداؤ والترمذي . (۲)

---

(۱) الدهر آيت ۸ تا ۱۱ .

(۲) رواه ابوداؤد الحديث ۱٦۸۲ باب فضل سقي الماء ، والتبريزي في المشكوة ۱۹۱۳ باب فضل الصدقة الفصل الثاني حديث ۲۵ ، والمنذري في الترغيب ۳ / ۱۱۷ ، والسيوطي في الجوامع ۹۴٦۹ ، ۹۴۸۸ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : مَا مِنْ مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا إِلَّا كَانَ فِيْ حِفْظِ اللهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ مِنْهُ خِرْقَةٌ . رواه الترمذي وقال حديث حسن ، والحاكم ، وقال : صحيح الاسناد ، ولفظه : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : مَنْ كَسَا مُسْلِمًا لَمْ يَزَلْ فِيْ سِتْرِ اللهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ مِنْهُ خَيْطٌ أَوْ سِلْكٌ . رواه الترمذي الحديث ۲۴۸۴ ، والمنذري في الترغيب ۳ / ۱۱٦ ، والزبيدي في الاتحاف ۴ / ۱۷۲ ، والهندي في الكنز ۲٦۰۷۳ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۲ .

کوم مسلمان چې يو بَربنډ مسلمان ته جامې ور واغوندي (يعنی هغه ته کپړې د اغوستلو دپاره ورکړي) نو الله تعالی به هغه ته د جنت شين لباس ور واغوندي . او کوم مسلمان چې په يو اُوږي مسلمان باندې خوراک اُوخوري نو الله تعالی به په هغه باندې دجنت ميوې اُوخوري . او کوم مسلمان چې په بل تږي مسلمان باندې اُوبه اوڅکوي نو الله تعالی به په ده باندې د جنت مُهر بَند شراب اوڅکوي .

فايده : د مُهر بندو شرابو دا مطلب دی چې الله تعالی به په ده د جنت داسې شراب اُوڅکوي چې ډير اعلی به وي ، او هغه به د سِيل او مُهر په ذريعه د تغير او تبديل نه محفوظ وي ، او صرف د همدې کس د پاره به خاص شوي وي ، لکه په قرآن کريم کې هم د دې شرابو تذکره شته ، الله تعالی فرمايي :

﴿يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيْقٍ مَّخْتُوْمٍ ، خِتَامُهُ مِسْكٌ .. ﴾ . (۱)

ترجمه : په هغوی به مُهر لږولې شوي خالص (پاکيزه) شراب څکلولې شي چې د دې مُهر به د مشکو وي .

۳ . د ترمذي شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

أَيُّمَا مُؤْمِنٍ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا عَلَى جُوْعٍ أَطْعَمَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ ، وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَقَى مُؤْمِنًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الرَّحِيْقِ الْمَخْتُوْمِ ، وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ كَسَا مُؤْمِنًا عَلَى عُرْيٍ كَسَاهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ . (۲)

کوم مومن چې بل اُوږي مؤمن ته خوراک ورکړي نو الله تعالی به ده ته د قيامت په ورځ د جنت ميوې ورکړي . او کوم مؤمن چې په يو تږي مومن باندې اُوبه اُوڅکلی نو الله تعالی به په ده باندې د قيامت په ورځ مُهر شده شراب اوڅکوي . او کوم مومن چې بربنډ مومن ته جامې درواغوندي نو الله تعالی به ده ته د قيامت په ورځ د جنت لباس ورواغوندي .

۴ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

(۱) المطففين آيت ۲۵ ، ۲٦ .

(۲) رواه ابوداؤد والترمذي واللفظ له الحديث ۲۴۴۹ ، المنذري في الترغيب ۲/ ۱۱۷ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۵ .

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِيْ ، قَالَ : يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُوْدُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ؟ قَالَ : أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِيْ فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ ، أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِيْ عِنْدَهُ . يَا ابْنَ آدَمَ اِسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِيْ ، قَالَ : يَا رَبِّ وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ؟ قَالَ : أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اِسْتَطْعَمَكَ عَبْدِيْ فُلَانٌ فَلَمْ تُطْعِمْهُ ، أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذٰلِكَ عِنْدِيْ ؟ يَا ابْنَ آدَمَ اِسْتَسْقَيْتُكَ فَلَمْ تَسْقِنِيْ ، قَالَ : يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيْكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ؟ قَالَ : اِسْتَسْقَاكَ عَبْدِيْ فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ ، أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ لَوَجَدْتَ ذٰلِكَ عِنْدِيْ . (۱)

الله تعالی به د قيامت په ورځ (خپلو بنده ته) ووايي : اې د آدم ځويه ! زه بيمار شوې ووم تا زما بيمارپُرسي نه وه کړې (او زما پوښتنې له نه وې راغلی) ، دې به ورته ووايي : اې زما ربه ! ما څنګه ستا بيمارپُرسي کړې وی حالانکه ته خو ربّ العالمين يې ؟ (په تا خو بيماري نه راځي) ، الله ﷻ به ورته وفرمايي : آيا تا ته پته نه وه چې زما فلانې بنده بيمار دی حالانکه تا د هغه بيمارپُرسي نه وه کړې آيا تا ته دا معلومه نه وه که چيرته ته د هغه پوښتنې له ورغلې وی نو تا به زه هلته د هغه سره موندلې وی (يعنی زما رضا به تا ته حاصله شوې وه) .

(بيا به الله ﷻ دې بنده ته او فرمايي :) اې د آدم ځويه ! ما د تا نه خوراک غوښتې ؤ خو تا په ما خوراک نه ؤ خوړلی . دې به ورته ووايي : اې زما ربه ! ما په تا باندې څنګه خوراک خوړلې وی ؟ حالانکه ته خو ربُ العالمين يې (ستا خوراک ته ضرورت نشته) . الله ﷻ به ورته وفرمايي : آيا تا ته دا معلومه نه وه چې زما فلانې بنده د تا نه خوراک غوښتې ؤ خو تا خوراک نه ؤ ورکړی ، آيا ته په دې پوهه نه وې که چيرته تا هغه ته خوراک ورکړې وی نو تا به د هغې اَجر د ما سره موندلې وی ؟ (يعنی ما به درته د هغې اجر او بدله درکړې وی) .

---

(۱) رواه مسلم في البر ۴۳ جز ۴ ص ۱۹۹ حديث ۲۵۶۹ باب فضل عيادة المريض .

(الله ﷻ به بيا دې بنده ته وفرمايي) اې د آدم ځويه ! ما د تانه اوبه غوښتې وې نو تاماته اوبه هم نه وې راکړې ، دې به ورته ووايي : اې زما ربه ! ما په تا باندې څنګه اوبه څکلې وې حالانکه ته خو ربُ العالمين يې (تا ته د اوبو څکلو ضرورت نشته) . الله ﷻ به ورته اوفرمايي: د تا نه زما فلاني بنده اوبه غوښتې وې خو تا په هغه اوبه نه وې څکلې ، آيا تاته معلومه نه وه که چيرته تا په هغه باندې اوبه څکلې وې نو نن به تا د ماسره (دهغې په عوض کې د شهدو او شودو په شکل) د هغې اجر موندلې وې .

د جنت مستحق کيدل

۱ . حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي : چې ما دنبي عليه السلام نه پوښتنه وکړه :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَخْبِرْنِيْ بِشَيْءٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ .

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! ما ته داسې عمل اوښايه چې زه هغه اوکړم او جنت ته داخل شم

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

أَطْعِمِ الطَّعَامَ وَأَفْشِ السَّلَامَ وَصِلِ الْأَرْحَامَ وَصَلِّ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلِ الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ . رواه احمد وابن حبان والحاكم وقال : صحيح الاسناد . (۱)

خلقو ته خوراک ورکوه ، سلام خور کړه (يعنې په هر چا سلام اچوه) ، صلي رحمي کوه ، او کله چې خلق اوده وي ته دشپې لمونځ کوه نو ته به جنت ته په سلامتيا سره داخل شې .

۲ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا حَتّٰى يُشْبِعَهُ مِنْ سَغَبٍ أَدْخَلَهُ اللهُ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ لَايَدْخُلُهُ إِلَّا مَنْ كَانَ مِثْلَهُ . (۲)

---

(۱) رواه احمد ۳ / ۳۲۵ ، ۳۳۴ ، والزبيدي في الاتحاف ۴ / ۴۳۳ ، والهندي في الكنز ۱۱۸۳۴ . وفي رواية : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا يُرٰى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا أَعَدَّهَا اللهُ تَعَالٰى لِمَنْ أَطْعَمَ الطَّعَامَ وَأَفْشَى السَّلَامَ وَصَلّٰى وَالنَّاسُ نِيَامٌ. رواه ابن حبان . رواه البيهقي ۴ / ۳۰۱ ، والحاكم ۱ /۸۰ ، ۳۷۰ ، والطبراني في المعجم ۳ / ۳۴۲ ، والهيثمي في المجمع ۲ / ۲۵۴ ، ۳/ ۱۹۲ ، ۱۰ / ۲۷۸ .

(۲) رواه الهيثمي في المجمع ۱ / ۱۳۱ ، والمنذري في الترغيب ۲ /۶۷ ، والزبيدي في الاتحاف ۵/ ۲۳۸ ، والهندي في الكنز ۱۶۳۴۷ . اَلسَّغَبُ : هُوَ الْجُوْعُ .

چاچې په يو مومن خوراک وکړو تر دې پورې چې دې يې د ولږې نه موړ کړو (يعنی د ده ولږه يې ختمه کړه) نو الله ﷻ به (د دې په عوض کې) دې د جنت په داسې دروازه باندې (جنت ته) داخل کړي چې په دې دروازه به بل هيڅوک نه داخليږي، البته که يو کس د ده په شان وي (يعنی هغه هم په يو مومن خوراک کړې وي، نو بيا به هغه هم په دې دروازه جنت ته داخليږي).

۳. په يوه موقعه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه: (۱)

مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟ نن په تاسو کې د چا روژه ده؟

حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه جواب ورکړو: أَنَا. زما روژه ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

مَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟ نن په تاسو کې چا په يو مسکين خوراک خوړلی؟

حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه وفرمايل: أَنَا. ما په مسکين خوراک خوړلی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا وفرمايل:

مَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟

نن په تاسو کې څوک د جنازې سره (د جنازې لمانځه يا قبرستان ته) تللی؟

حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه وفرمايل: أَنَا. زه (تللې يم).

نبي عليه السلام بيا پوښتنه وکړه:

مَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا؟ نن په تاسو کې څوک د مريض پوښتنې له تللی؟

حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه وفرمايل: زه (د مريض پوښتنې له تللې يم).

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟ فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَا. فَقَالَ: مَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟ فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا. فَقَالَ: مَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟ فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا. فَقَالَ: مَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا؟ قَالَ أَبُوبَكْرٍ: أَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا اجْتَمَعَتْ هٰذِهِ الْخِصَالُ قَطُّ فِي رَجُلٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. رواه ابن خزيمة وابن حبان. و رواه مسلم، والبخاري في الادب المفرد ۵۱۵، مشکوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ۴، ورواه المنذري في الترغيب ۲/۶۷، ۴/۳۱۸، ۳۱۹.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

مَا اجْتَمَعَتْ هٰذِهِ الْخِصَالُ قَطُّ فِيْ رَجُلٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ .

په چا کې هم چې دا خبرې جمع شي هغه به ضرور جنت کې داخليږي .

(يعنى جنت ته به بغير د حساب و کتاب نه داخليږي ، يا دا مطلب چې دا سړې که اوغواړي نو د جنت د هرې دروازې نه داخليدې شي ، ځکه د مطلق جنت ته داخليدو د پاره خو صرف ايمان کافي دی ، نو چې په چا کې دا صفتونه جمع شي نو دا به بغير د حساب و کتاب نه جنت ته داخليږي . (۱))

۴ . د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اُعْبُدُوا الرَّحْمٰنَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَأَفْشُوا السَّلَامَ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ . (۲)

تاسو د رحمان ذات عبادت کوئ ، په غريبانو باندې خوراک خوروَئ ، او سلام عام کړئ (يعنى په هر چا سلام اچوئ، يا دا مطلب چې سلام ظاهروئ يعنى " السلامُ عليکم " په اوچت آواز سره وايئ) نو جنت ته به په سلامتيا سره داخل شئ .

په انسانانو او نورو حيواناتو باندې د اوبو څکلو اجر

۱ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت سعد بن عبادة ﷺ فرمايي : چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وفرمايل : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أُمِّيْ مَاتَتْ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ ؟

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! بيشکه زما مور (امّ سعد رضى الله عنها) وفات شوې ده نو د هغې د پاره بهترينه او فايده منده صدقه کومه ده ؟

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة ج۳ ص ۳۹۱ .

(۲) رواه الترمذي وقال : حديث صحيح ، ورواه المنذري فى الترغيب ۲ /۶۳ ، والتبريزي فى المشکوة باب فضل الصدقة الفصل الثاني حديث ۲۰ (۱۹۰۸) ، والهندي فى الکنز ۴۳۲۸۵، ۴۳۲۹۱ ، والالباني فى السلسلة الصحيحة ۲ / ۵۵۱ . المتجر الرابح ص ۱۲۳ ./ وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ أَطْعَمَ أَخَاهُ حَتّٰى يُشْبِعَهُ ، وَسَقَاهُ مِنَ الْمَاءِ حَتّٰى يُرْوِيَهُ بَاعَدَاللهُ مِنَ النَّارِ سَبْعَ خَنَادِقَ مَا بَيْنَ كُلِّ خَنْدَقَيْنِ مَسِيْرَةَ خَمْسِ مِائَةِ عَامٍ . رواه الطبراني فى الکبير وابو الشيخ ابن حبان فى الثواب ، والحاکم والبيهقي ، وقال الحاکم صحيح الاسناد . الترغيب والترهيب ج۱ (۱۲ / ۶۶۵) .

نبي عليه السلام وفرمايل: اَلْمَاءُ . اُوبه بهترينه صدقه ده.
نو هغه يو کوهي اُوکنيسته، او د اُمِّ سعد په نوم يې وقف کړو، او دايې وويل:
هٰذَا لِأُمِّ سَعْدٍ. دا کوهي (زما د مور) د اُمّ سعد د پاره صدقه دی. (۱)

فايده : اُوبو ته بهترينه صدقه ځکه ويل شوی چې دا هم د الله ﷻ په نعمتونو کې يو لوي نعمت دی، ځکه د اُوبو نه بغير د انساني ژوند بقاء ممکن نه ده، بيا خاصکر چې چيرته د اُوبو ډير ضرورت وي نو هلته کوهي کنيستل، يا د اُوبو تالاب وغيره جوړول صدقه جاريه ده چې تر څو پورې دا کوهي موجود وي او خلق ورنه فايده اخلي نو تر هغې پورې به دې انسان ته د دې اجر رسي.

په تېرې سپي باندې د اُوبو څکلو په وجه مغفرت:

۱. **د يو سړي مغفرت** : امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله او نورو محدثينو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا حديث مبارک رانقل کړی چې نبي عليه السلام فرمايي:

بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِيْ بِطَرِيْقٍ إِشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيْهَا فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ وَيَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ فَقَالَ الرَّجُلُ: لَقَدْ بَلَغَ هٰذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِيْ كَانَ بَلَغَ مِنِّيْ فَنَزَلَ فِي الْبِئْرِ فَمَلَأَ خُفَّهُ مَاءً ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيْهِ حَتّٰى رَقِيَ فَسَقَى الْكَلْبَ. فَشَكَرَ اللهُ لَهُ. فَغَفَرَلَهُ. قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ! وَإِنَّ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الْبَهَائِمِ لَأَجْرًا؟ فَقَالَ: فِيْ كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ. (۲)

---

(۱) رواه ابوداؤد الحديث ۲۱۷، والترمذي الحديث ۱۱۲، والنسائي ۱ / ۱۱۵، وابن ماجه الحديث ۶۰۷، واحمد (۶۳)، و رواه ابن خزيمه في صحيحه ۱۲۹۲، والهندي في الكنز ۴۳۱۸۹، والبخاري في التاريخ ۱ / ۳۳۲. / وَفِيْ رِوَايَةٍ: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّ أُمِّيْ تُوُفِّيَتْ وَلَمْ تُوْصِ أَفَيَنْفَعُهَا أَنْ أَتَصَدَّقَ عَنْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ وَعَلَيْكَ بِالْمَاءِ. قال في مجمع الزوائد للهيثمي (۳ / ۱۳۸) رواه الطبراني في الاوسط ورجاله رجال الصحيح، رواه المنذري في الترغيب ۲ / ۷۳، والبيهقي في المجمع ۳ / ۱۳۸، المتجر الرابح ص ۱۴۸.

(۲) اخرجه البخاري في المساقاة باب فضل سقي الماء ۲۳۶۳ وفي الادب باب رحمة الناس والبهائم ۶۰۰۹، ومسلم باب فضل سقي البهائم المحترمة واطعامها ۵۸۱۳، وابوداؤد في الجهاد باب ما يؤمر به من القيام على الدواب والبهائم ۲۵۵۰. وهكذا في المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۷.

يو کس په لاره روان ؤ (په مکه معظمه کې (۱))، سخت تږی شو ، نو په لاره کې يې يو کوهي اُوليد ، دې کوهي ته ورښکته شو ، اُوبه يې اُوڅکلی . کله چې پاس را اُوخَت ، نو يو سپی يې وليد چې هغه هم ډير تږی شوی ؤ ، او د تندې نه يې ژبه راويستی وه ، او د ډيرې تندې د وجې يې لمده خټه څټله . نو دې سړي دځان سره وويل : چې څنګه زه تږی شوی ووم ، دغه شان دې هم سخت تږی شوی ، نو دوباره کوهي ته ورښکته شو ، او خپله موزه يې د اُوبو نه ډکه کړه ، په خُله کې يې ونيوه ، بَره رااُوخت او په دې سپي يې اُوبه اوڅکلی .

نبي ﷺ فرمائي: فَشَكَرَ اللهُ تَعَالَى لَهُ . فَغَفَرَ لَهُ . الله تعالى دده دا عمل قبول کړ، او ده ته يې د همدې عمل په وجه بخښنه وکړه .

صحابه کرامو پوښتنه وکړه : ای د الله ﷺ رسوله ! آيا زمونږ د پاره ددې چارپيانو سره اِحسان کولو او په دوی اُوبه څکلو کې هم اجر شته ؟
نبي عليه السلام وفرمايل : د هر لوند جګر (ژوندي) شي سره احسان کولو کې اجر دی .

۲. د بَدکارې ښځې مغفرت :

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو کرت صحابه کرامو ته وفرمايل : چې يوې بَدکارې ښځې ته صرف ددې د وجې مغفرت وکړې شو چې هغه يوه ورځ په داسې يو سپي تيره شوه چې د کوهي په غاړه ولاړ ؤ ، د تندې د وجې نه يې خپله ژبه راويستلې وه ، قريبه وه چې تندې هلاک کړې وی .

(نو ددې ښځې په دې سپي باندې رحم راغی ، چونکه په دې کوهي باندې څه رسی او بوکه نه وه چې اُوبه يې پرې راويستې وی) نو دې ښځې خپله د څرمنې موزه راوويسته ،او په خپل زړوکي (پړوني) پورې يې اُوتړله ، او دې سپي له يې په کې اُوبه راوويستی (او په هغه يې اوڅکلې) .نو دې بَدکارې ښځې ته صرف ددې کار په وجه مغفرت وکړې شو .
صحابه کرامو عرض وکړو : آيا د چارپيانو سره په اِحسان کولو کې هم زمونږ د پاره ثواب شته ؟ پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل :

(۱) وفي رواية للدار قطني في الموطآت : يمشي بطريق مكة . كما في فتح الباري ۴۱/۵ . تكملة فتح الملهم ج۴ ص ۲۴۰ باب فضل سقي البهائم المحترمة واطعامها .

فِيْ كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ (۱)

آو ، د هر لوند ځګر واله (يعنې هر جاندار) سره په اِحسان کولو کې اجر شته (که هغه انسانان وي او که حيوانات) .

البته مُوذِي ځناور (د کوم د وژلو حکم چې راغلی لکه مار ، لړم وغيره نو هغه) ددې حکم نه مستثنی دي . (۲)

د قيامت په ورځ سفارش کول

څوک چې په يو کس باندې د الله ﷻ د رضا د پاره اُوبه اُوڅکي ، نو دغه کس به د قيامت په ورځ ددې څکوونکي کس سفارش کوي . او جنت ته به يې د ځان سره داخل کړي . ددې په باره کې درته د رسول الله صلی الله عليه وسلم يو څو احاديث ذکر کوم :

۱. نبي عليه الصلوة والسلام په يوه موقع وفرمايل:

إِنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ يُشْرِفُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَهْلِ النَّارِ . فَيُنَادِيْهِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيَقُوْلُ : يَا فُلَانُ ! هَلْ تَعْرِفُنِيْ ؟ فَيَقُوْلُ : لَا وَاللهِ مَا أَعْرِفُکَ . مَنْ أَنْتَ ؟ فَيَقُوْلُ : أَنَا الَّذِيْ مَرَرْتَ بِيْ فِي الدُّنْيَا فَاسْتَسْقَيْتَنِيْ شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ فَسَقَيْتُکَ . قَالَ : عَرَفْتُ . قَالَ : فَاشْفَعْ لِيْ بِهَا عِنْدَ رَبِّکَ . قَالَ : فَيَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى جَلَّ ذِكْرُهُ فَيَقُوْلُ : إِنِّيْ أَشْرَفْتُ عَلَى النَّارِ فَنَادَانِيْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِهَا فَقَالَ : هَلْ تَعْرِفُنِيْ ؟ قُلْتُ : لَا وَاللهِ مَا أَعْرِفُکَ مَنْ أَنْتَ ؟ قَالَ : أَنَا الَّذِيْ مَرَرْتَ بِيْ فِي الدُّنْيَا فَاسْتَسْقَيْتَنِيْ شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ فَسَقَيْتُکَ فَاشْفَعْ لِيْ عِنْدَ رَبِّکَ . فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ . فَيَأْمُرُ بِهِ فَيُخْرِجُ مِنَ النَّارِ . (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : غُفِرَ لِامْرَأَةٍ مُوْمِسَةٍ مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلَى رَأْسِ رَكِيٍّ يَلْهَثُ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ فَنَزَعَتْ خُفَّهَا فَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا فَنَزَعَتْ لَهُ مِنَ الْمَاءِ . فَغُفِرَ لَهَا بِذَلِكَ . قِيْلَ : إِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا ؟ قَالَ : فِيْ كُلِّ ذَاتِ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ . رواه البخاري ج ۴ ص ۱۳۰ حديث ۳۳۲۱ ، و مسلم ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ۱۴ .

(۲) مظاهر حق شرح مشكوة ج۳ ص ۳۹۹ .

(۳) رواه المنذري في الترغيب ۲ / ۶۹ ، والزبيدي في الاتحاف ۱۰ / ۴۹۶ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۸ .

د قيامت په ورځ به يو جنتي سړي جهنميانو ته سر ورپورته کړي (او په هغوی به نظر واچوي)، نو د جهنم واله ؤ نه به يو کس ده ته آواز وکړي: اې فلانکيه! آيا ته ما پيژنې؟

جنتي به ورته ووايي: نه، په الله ﷻ قسم، زه تا نه پيژنم، ته څوک يې؟

هغه به ورته ووايي: زه هغه کس يم چې ته په دُنيا کې يوه ورځ په ما تيريدې، تا د مانه د څکلو د پاره اُوبه اوغوښتې، نو ما په تا اُوبه څکلې وې. جنتي به ورته ووايي: ما اوس اوپيژندې. جهنمي به ورته ووايي: ته د هغې په عوض کې اوس زما سفارش وکړه.

جنتي به د الله تعالى نه سوال وکړي چې يا الله! ما په جهنميانو باندې نظر واچولو، نو په هغوی کې يو کس ماته آواز وکړو، او راته وې ويل: چې آيا ته ما پيژنې؟ ما ورته وويل: نه، قسم په الله که زه تا پيژنم، ته څوک يې؟ هغه راته وويل: زه هغه کس يم چې په دُنيا کې ته په ما باندې تيريدې، تا د مانه د څکلو اُوبه اوغوښتې، ما اُوبه درباندې څکلې وې، اوس هغه وايي چې ته خپل رب ته زما سفارش وکړه.

نو اې الله ﷻ! دده په باره کې زما سفارش قبول کړه. الله رب العزت به دده سفارش قبول کړي. بيا به دا جنتي کس دغه جهنمي د جهنم د اُور نه رااُوباسي.

۲. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ رَجُلَيْنِ سَلَكَا مَفَازَةً أَحَدُهُمَا عَابِدٌ وَالآخَرُ بِهِ رَهَقٌ . فَعَطَشَ الْعَابِدُ حَتَّى سَقَطَ فَجَعَلَ صَاحِبُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ وَهُوَ صَرِيعٌ . فَقَالَ : وَاللهِ إِنْ مَاتَ هٰذَا الْعَبْدُ الصَّالِحُ عَطَشًا وَمَعِيَ مَاءٌ لَاأُصِيْبُ مِنَ اللهِ خَيْرًا أَبَدًا . وَلَئِنْ سَقَيْتُهُ مَائِيْ لَأَمُوْتَنَّ . فَتَوَكَّلَ عَلَى اللهِ (وَسَقَاهُ) وَعَزَمَ فَرَشَّ عَلَيْهِ مِنْ مَائِهِ وَسَقَاهُ فَضْلَهُ . فَقَامَ فَقَطَعَ الْمَفَازَةَ . فَيُوْقَفُ الَّذِيْ بِهٖ رَهَقٌ لِلْحِسَابِ فَيُؤْمَرُ بِهٖ إِلَى النَّارِ فَتَسُوْقُهُ الْمَلَائِكَةُ فَيَرَى الْعَابِدَ فَيَقُوْلُ : يَا فُلَانُ ! أَمَا تَعْرِفُنِيْ ؟ فَيَقُوْلُ : وَمَنْ أَنْتَ؟ فَيَقُوْلُ : أَنَا فُلَانُ الَّذِيْ آثَرْتُكَ عَلَى نَفْسِيْ يَوْمَ الْمَفَازَةِ . فَيَقُوْلُ : بَلَى أَعْرِفُكَ . فَيَقُوْلُ لِلْمَلَائِكَةِ : قِفُوْا . فَيَقِفُوْنَ فَيَجِيْءُ حَتَّى يَقِفَ فَيَدْعُو رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَقُوْلُ : يَارَبِّ ! قَدْ عَرَفْتَ

يَدَهُ وَكَيْفَ آثَرَنِيْ عَلَى نَفْسِهِ ، يَا رَبِّ هَبْهُ لِيْ ، فَيَقُوْلُ : هُوَ لَكَ ، فَيَجِيْءُ فَيَأْخُذُ بِيَدِ أَخِيْهِ فَيُدْخِلُهُ الْجَنَّةَ . (۱)

دوه (۲) کسان په ځنګل کې روان وو، يو عبادت ګزار ؤ ، او بل بَدعمله ؤ ، په عابد باندې تَنده ولږيده او د ډيرې تندې د وجې نه په زمکه راأوغورځيد ، خپل ملګرې ته يې کته، او دې بې هوشه په زمکه پروت ؤ ، دې بدکار کس (ځان سره) ووېل : قسَم په الله، که چيرته دا نيک انسان د تندې د لاسه مړ شو او د ما سره دا دی أوبه شته نو زه به هيڅ کله د الله ﷻ د طرفه خير اونه مومم ، او که چيرته زه په ده باندې خپلې أوبه څکم نو زه (په دې دَشته کې) پخپله د تندې د لاسه مړکيږم .

نو ده په الله ﷻ باندې توکّل وکړو ، او عزم يې وکړو (چې خپل ضرورت به قربان کړم خو ده ته به أوبه ورکړم) . نو ده خپلې أوبه په هغه باندې څه چَړکاؤ کړې او نورې يې ورباندې أوڅکلې . په دې سره هغه عابد نيغ راپاڅيد او خپل سفر يې جاري اوساتلو د هغه دَشتې نه وَوتل . نبي عليه السلام فرمايي چې کله دا بدکاره بنده (د قيامت په ورځ) د حساب د پاره أودرولې شي او د جهنم حکم پرې اوشي نو فرښتې به دې جهنم طرفته روان کړي ، دې به دا عابد اووينې او ورته اوبه وايي : اې فلانيه ! آيا ته ما نه پيژنې ؟ عابد به ورته ووايي : ته څوک يې ؟ هغه به ورته ووايي : زه هغه فلانې کس يم چې د ځنګل (يعنی د سفر) په ورځ (په دَشته کې) ما تا ته په خپل ځان باندې ترجيح درکړې وه . عابد به ورته ووايي : آو ، ما اوپيژندې . بيا به فرښتو ته ووايي : أودريږئ . هغوی به أودريږي . دې به راشي او د الله ﷻ نه به دُعا اوغواړي ، او دا به ووايي :

اې زما ربه ! تا ته پته ده چې ده د ما سره اِحسان کړی او ما ته يې په خپل ځان باندې ترجيح راکړی وه ، نو اې زما ربه ! دې ما ته راکړې ، الله ﷻ به ورته اوفرمايي : دې ما تا له درکړو ، لهذا دا عابد به راشي او داخپل بَدکار ورور به د لاس نه اونيسي او جنت ته به يې داخل کړي

(۱) رواه الهيثمي في المجمع ۳/ ۱۳۲ ، والطبراني في الاوسط ورواه البيهقي في الشعب ، الترغيب والترهيب ج ۱ ۲۵/ ۶۷۰، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۸ ثواب من سقى آدميا او بهيمة او حفر بئرا . قَوْلُهُ : " بِهِ رَهَقٌ " أَيْ اِرْتِكَاب للمعاصي وغشيان للمحارم .

فصل يا ميوه داره اُونه په ښه نيت کرل هم صدقه ده

که چیرته یو کس څه فصل اُوکري ، یا یوه میوه داره اُونه اُوکري او ددینه انسانان ، مرغان یا حیوانات خوراک کوي تر دې پورې چې ددېنه څوک غلا هم وکړي نو دا ټول ددې کرُونکي د پاره صدقه ده .

۱. د بخاري او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ . (۱)

کوم مسلمان چې یوه اُونه اوکري یا فصل اُوکري ، او بیا انسانان ، مرغۍ او څاروي (د مالک د رضا نه بغیر) ددې نه څه خوري نو دا (نقصان) هم د مالک د پاره صدقه ده .

۲. د مسلم شریف په روایت کې څه نوره اضافه هم شته ، نبي کریم ﷺ فرمايي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ . وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ . وَلَا يَرْزَؤُهُ (أَيْ يَنْقُصُهُ) أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . (۲)

کوم مسلمان چې یوه اُونه اُوکري نو ددینه چې څه هم او خوړې شي هغه دده د پاره صدقه ده ، څه چې ددینه غلا شي هغه هم دده دپاره صدقه ده (۳) ، او ددینه چې یو کس څه هم کموي (او نقصان پکې راولي) نو دا هم دده د پاره د قیامت د ورځې پورې صدقه ده .

---

(۱) رواه البخاري في المزارعة ۸ ، ۲ ، ومسلم في المساقاة ۱۲ ؛ والترمذي الحديث ۱۳۸۲ ، واحمد ۳/۲۲۹ ، ۲۴۳ .

(۲) رواه مسلم في المساقاة ۷ ، والمنذري ۳/۳۷۵ . وَفِي رِوَايَةٍ : فَلَا يَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْسًا وَلَا يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَأْكُلُ مِنْهُ إِنْسَانٌ وَلَا دَابَّةٌ وَلَا طَيْرٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه مسلم في المساقاة ۱۰ ، والمنذري في الترغيب ۳/۳۷۵ .

(۳) **یو اعتراض او دهغې جواب** : اعتراض : په دې موقع یو اعتراض پیدا کیږي چې د اعمالو ثواب خو په نیت باندې موقوف دی ، نو چې کله د یو سړي د اُونې یا فصل نه غلا اوشوه نو په دې کې خو دده د ثواب نیت نشته ، نو بیا ده ته د صدقې ثواب څنګه حاصلیږي ؟

جواب : شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمه الله ددې جواب دا کړی چې کله یو زمیندار یا بل کس څه اُونه یا فصل کري نو دده اصلي مقصود ددینه "بغیر د تخصیص نه د مطلق انسان او حیوان د ژوند ضرورت پوره کول او بقاء ده" اوس چې ددې اُونې یا فصل نه انسانان یا حیوانات خوراک کوي اګر چې په غلا یې ورنه کوي خو ددې سره ددې انسان د اجمالي نیت تعلق راغی ، او د حصول ثواب د پاره همدا اجمالي نیت هم کافي دی . دا څانله خبره ده چې څوک ددینه غلا وکړي هغه ته به ددې سزا ملاویږي ، خو دې مالک ته به ددې اجمالي نیت په وجه د صدقې ثواب حاصلیږي . مظاهر حق شرح مشکوة ج ۳ باب فضل الصدقة الفصل الاول في ضمن حديث ۱۳ .

صدقه د مرګ نه مخکې په کار ده

انسان ته په کار دي چې صدقه او خيرات د مرګ نه مخکې په خپل ژوند کې په خپل لاس ورکړي ، ځکه بهترينه صدقه هم هماغه ده کومه چې انسان په خپل ژوند کې د تندرستۍ په حالت کې ورکړي .

او که په خپل ژوند يې ورنه کړي نو بيا به په ده باندې وخت تير وي د افسوس او ندامت لاسونه به مږوړي خو هيڅ شی به په ګوتو نه ورځي .

الله رب العزت فرمايي :

﴿وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنٰكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِيْ إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيْبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ . وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا وَاللهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾ . (۱)

ترجمه : (اې مومنانو !) مونږ چې درته څه درکړي دي د هغې نه (په حقوقِ واجبه او خيرات کې) خرڅ کوئ ، د دې نه وړاندې چې په تاسو کې يو چاته مرګ راشي او هغه بيا (د آرزو او اَرمان په ډول) دا وايي : اې زما ربه ! تا ولې ماته يو څو ورځې نور مهلت رانه کړو چې ما خيرات کړې وی ، او زه د نيکانو خلقو نه شمار شوې وی ، (خو دده دا آرمان به فايده مند ځکه نه وي چې) او الله تعالی هيڅ کله يو چاته مُهلت نه ورکوي کله چې دده نيټه راشي ، او الله تعالی خبر دار دی د هغه کارونو نه چې تاسو يې کوی .

اَفضله صدقه :

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، حضرت ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې يو کس د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه :

أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا ؟ اې د الله جل جلاله رسوله صلی الله عليه وسلم ! د ثواب په اِعتبار سره کومه صدقه لويه او اَفضله ده ؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

---

(۱) المنافقون آيت ۱۰ ، ۱۱ .

أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ ، تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمَلُ الْغِنٰى ، وَلَاتُمْهِلْ حَتّٰى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا ، وَلِفُلَانٍ كَذَا ، وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ . (۱)

افضله صدقه هغه ده چې ته صدقه په داسې حال کې ورکړې چې ته تندرست او صحيح يې ، د مال جمع کولو حرص لرې ، د فقر نه ويرېږې ، او د دولت حاصلولو اميد لرې ، او (په صدقه او خيرات کې) دومره تاخير مه کوه چې کله ستا ساه مرۍ ته راورسي (يعنې قريب الموت شې) نو بيا وايې : دومره مال د فلاني دپاره دی ، او دومره د فلاني دپاره دی . حالانکه دا مال اوس په خپله د فلاني ګرځيدلې وي (يعنې اوس په دې آخري وخت کې خو ددې مال سره د وارثانو حق متعلق شوی او په خپله د هغوی ګرځيدلی دی) .

۲ . د ابوداؤد شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

لَأَنْ يَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِيْ حَيَاتِهِ بِدِرْهَمٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِائَةٍ عِنْدَ مَوْتِهِ . (۲)

څوک چې په خپل ژوند کې يو درهم صدقه کړي دا دده دپاره د مرګ په وخت د سلو (۱۰۰) درهمو صدقه کولو نه ډير بهتر دی .

يعنې چې په خپل ژوند کې يو درهم صدقه کړي نو دا دده دپاره د هغه سلو (۱۰۰) درهمو صدقه کولو نه ډير بهتر دی کوم چې سړی د مرګ په وخت صدقه کوي .

۳ . د ترمذي شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَثَلُ الَّذِيْ يَتَصَدَّقُ عِنْدَ مَوْتِهِ ، أَوْ يُعْتِقُ كَالَّذِيْ يُهْدِيْ إِذَا شَبِعَ . (۳)

څوک چې د مرګ په وخت صدقه ورکوي ، يا غلام آزادوي نو د هغه مثال د هغه سړي په شان دی چې دې بل کس ته هاغه وخت هديه (يعنې خوراک) ورليږي کله چې دده خېټه ډکه شوې وي (او موړ شوې وي) .

(۱) متفق عليه ، مشکوة باب الانفاق وکراهية الامساک الفصل الاول حديث ۹ . وفي رواية : وَتَأْمَلُ الْبَقَاءَ . مسلم باب بيان انّ افضل الصّدقة صدقة الصحيح الشحيح ۲۳۵۸ / ۹۳ .

(۲) رواه ابوداؤد ، مشکوة باب الانفاق وکراهية الامساک الفصل الثاني حديث ۱۲ .

(۳) رواه احمد والنسائي والدارمي والترمذي وصححه ، مشکوة باب الانفاق وکراهية الامساک الفصل الثاني حديث ۱۳ .

نو چې څنګه د خيټې ډکيدو نه روستو پاتې شوې خوراک بل ته صدقه کول په دې کې ثواب کم دی نو دغه شان د مرګ په وخت صدقه ورکولو کې هم ثواب کم دی په نسبت د هغې چې په خپل ژوند او د روغ صحت په حالت کې يې ورکړي .

تنبيه : په انسانانو کې عامه کمزوري داده چې کله دوی صحت مند وي او د مرګ آثار يې نه وي ليدلي نو دوی بُخل کوي ، صدقه نه ورکوي ، ځکه شيطان ورته په زړه کې دا وَسوسې وراچوي چې په دې صدقې سره به دې مال کم شي او بيا به د نورو محتاج شې ، خو چې کله ورته مرګ رامخې ته شي نو بيا ورته صدقه رايادة شي . نبي عليه السلام فرمايي چې دا طريقه صحيح نه ده ، بلکه د الله ﷻ په نزد محبوبه او مقبوله صدقه هغه ده کومه چې انسان په خپل ژوند کې د تندرستی په حالت کې ورکړي . او کومه صدقه چې دې د مرګ په وخت کوي ، يا دده د مرګ نه روستو يې دده پسې وارِثان دده د مال نه کوي نو ددې ثواب اګر چې ده ته رسي خو ثواب يې د هغې صدقې په نسبت کم وي کومه چې ده په خپل ژوند کې د صحت په حالت کړې وي .

د مرګ نه روستو هم په کار راتلونکي اعمال

کله چې يو کس ژوندې وي نو دې په خپله نيک اَعمال کوي او د آخرت د پاره ذخيره تياروي ، خو ليکن چې کله دې وفات شي نو بيا خو د نيکو اعمالو دا سلسله ختمه شي .

البته يو څو اعمال داسې دي چې د هغې ثواب انسان ته د مرګ نه پس هم رسي

۱ . نبي کريم ﷺ فرمايي :

إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّامِنْ ثَلَاثٍ : صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ . (۱)

کله چې يو انسان مړ شي نو د عمل د ثواب سلسله دده نه منقطِع شي ، مګر د درې (۳) شيانو د ثواب سلسله بيا هم باقي وي (يعنی دده د مرګ نه روستو هم دده پسې د هغې ثواب

وررسي) : اول صدقه جاريه ، دويم هغه عِلم چې د هغې نه نفعه حاصلولې شي ، او دريم هغه نيک اولاد چې ده ته دُعاګانې کوي .

۲. په يو بل حديث کې څه نور تفصيل هم ذکر دی ، نبي کريم ﷺ فرمايي :

إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ ، وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ أَوْ مُصْحَفًا وَرَّثَهُ ، أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ ، أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ ، أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ ، أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ تَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ . (۱)

بيشکه مؤمن ته چې د مرګ نه پس هم د کوم عمل يا د نيکيو ثواب رسيږي ، په هغې کې اول : هغه عِلم دی چې دې يې زده کړي او بيا يې نورو ته هم اورسوي ،

دويم : هغه نيک اولاد دی چې ده د خپل ځان نه روستو پريښې وي (او هغه ده ده دپاره دُعاګانې کوي) ،

دريم : هغه قرآن مجيد دی چې ده د وارثانو دپاره پريښې وي (او هغوی په دې کې تلاوت کوي) ،

څلورم : هغه جُمات (مسجد) دی چې ده په خپل ژوند کې جوړ کړې وي ،

پنځم : هغه کور دی چې د مسافرو دپاره يې جوړ کړې وي ،

شپږم : هغه نهر دی چې ده جاري کړې وي (يعنی ده کِنستې وي) ،

اووم : هغه صدقه (جاريه) ده چې ده د تندرستۍ په حالت کې په خپل ژوند کې د خپل مال نه ويستې وي . نو ددې شيانو اَجر او ثواب به انسان ته د مرګ نه پس هم رسيږي .

د حديث تشريح : په دې حديث کې نبي عليه السلام د هغه شيانو تذکره وکړه چې د هغې ثواب انسان ته د مرګ نه پس هم رسي ، ددې څه لږ وضاحت ستاسو د وړاندې بيانوم :

په دې کې اول هغه علم دی چې په خپله يې زده کړي او بيا يې نورو ته اُوښايي . يعنی يو چاته قرآن مجيد په ناظره اوښايي ، يا يې ورته حفظ کړي ، يا يو عالِم جوړ کړي ، يا يو ديني کتاب وليکي ، يا چاته د لمانځه يا بل عبادت طريقه ورزده کړي ، نو چې تر څو پورې دده د

(۱) رواه ابن ماجه باسناد حسن الحديث ۲۴۲ ، المقدمة باب ۲۰ ، والبيهقي و رواه ابن خزيمة في صحيحه ۲۴۹۰ ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۵۵ الترغيب فى العلم وطلبه وتعلمه وتعليمه (۱ /۱۹٦) ، مشكوة ص ۳٦ كتاب العلم الفصل الثالث .

شاګردانو دا سلسله تر قيامته پورې جاري وي نو تر هغې وخته پورې به دې انسان ته ددې ثواب رسيږي، يا تر څو پورې چې دده د ديني کتاب نه خلق فايده اخلي، يا کومو خلقو ته چې ده لمونځونه يا نور عبادات خودلي وي او هغوی داعبادات کوي نو په دې ټولو صورتونو کې به دې انسان ته د مرګ نه پس هم ددې اعمالو ثواب رسي.

په حديث کې دويم شی نيک اولاد ذکر شو، يعنی کله چې د يو سړي اولاد نيک وي نو هغوی به دده د مرګ نه پس د ده د پاره دُعاګانې کوي نو ددې اجر هم دې انسان ته رسي، بيا خاصکر چې کله مور او پلار د بچي تربيت په اسلامي طريقې سره وکړي يعنی عالم يا حافظ يا نيک بنده ورنه جوړ کړي نو اوس چې دا بچي کوم نيک اعمال کوي په دې کې به خامخا د والدينو حصه وي، ځکه دده د نيک جوړيدو ذريعه همدا مور او پلار ګرځيدلي.

په حديث کې دريم شی هغه قرآن مجيد دی چې ده د وارثانو د پاره پريښې وي، يعنی دې کس د خپل ځان د پاره قرآن مجيد هديه کړې ؤ، خو چې کله دې وفات شو نو دا قرآن مجيد دده وارثانو ته پاتې شو، اوس هغوی په کې تلاوت کوي نو دې انسان ته هم ددې اجر رسيږي. دغه شان که يو کس يو عالم له، يا يوې مدرسې له څه کتابونه واخلي نو تر څو پورې چې ددې کتابونو نه فايده اخيستلې شي نو تر هغه وخته پورې به دې انسان ته برابر ثواب رسيږي.

په حديث کې څلورم شی جُمات جوړول ذکر شوي، او پنځم شی مسافرخانه جوړول ذکر شوي. نو تر څو پورې چې په دې جُمات کې خلق لمونځونه او تلاوتونه کوي، يا په دې مسافرخانه کې مسافر قيام کوي نو تر هغې وخته پورې به دې جوړوونکي ته هم اجر و ثواب رسيږي.

په حديث کې شپږم شی نهر جاري کول ذکر شو. يعنی يو نهر په يوه علاقه راولي، نو تر څو پورې چې ددې نهر نه انسانان او حيوانات فايده اخلي نو تر هغې وخته پورې به دې انسان ته ثواب رسيږي اګر که دې وفات شوې وي.

همدغه شان حکم د کوهي کنيستلو يا تالاب جوړولو هم دی چې تر څو ددې د اُوبو نه خلق فايده اخلي نو ده ته به ددې اجر و ثواب رسي.

په حديث کې اووم شی هغه صدقه جاريه ذکر ده کومه چې ده په خپل ژوند کې د صحت په حالت کې د خپل مال نه ورکړي وي . نو ددې ثواب به هم انسان ته د مرګ نه پس هم رسي ، په دې کې د بعضې شيانو تذکره مخکې اوشوه ، لکه يو ديني مدرسه جوړه کړي ، جمات جوړ کړي ، د قبرستان د پاره زمکه وقف کړي ، مسافر خانه جوړه کړي ، يا بل داسې د خير کار وکړي چې د هغې نه خلق مسلسل نفع اخلي نو ددې ټولو شيانو ثواب به انسان ته د مرګ نه پس هم رسي .

د مرګ نه پس هم انسان ته د صدقې ثواب رسي

دا مسئله د ډيرو احاديثو نه ثابته ده او په دې باندې د ائمه حق اِجماع هم ده چې لکه څرنګ چې يو انسان په خپل ژوند باندې څه صدقه د الله ﷻ د رضا د پاره ورکړي نو ده ته دې اَجر و ثواب رسي ، دغه شان که د يو مسلمان والدين يا نور څوک خپلوان وفات شوي وي او دې د هغوی پسې د صدقې ، اِستغفار يا نورو نيکو اَعمالو ثواب رسول غواړي نو د احاديثو په رڼا کې د هغوی پسې ددې ثواب الله ﷻ رسوي .

او دا د الله ﷻ يو لوي فضل هم دی چې انسان ته يې داسې اَعمال خودلي چې د وفات شوو کسانو سره د هغوی د مرګ نه روستو هم احسان کولې شي ، او هغوی ته د صدقو او نورو نيکو اعمالو د ثوابونو تحفې ليږلې شي .

۱. د بخاري شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمايي چې د حضرت سعد بن عبادة رضي الله عنه مور په داسې حالت کې وفات شوه چې حضرت سعد رضي الله عنه په خپله موجود نه ؤ (بلکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يوې غزا ته تللې ؤ ، کله چې واپس راغی) نو رسول الله ﷺ ته يې ووېل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ أُمِّيْ تُوُفِّيَتْ وَأَنَا غَائِبٌ عَنْهَا أَيَنْفَعُهَا شَيْءٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا ؟

اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زما په عدمِ موجودګۍ کې زما مور وفات شوې ده پس که چيرته زه د هغې د طرفه صدقه وکړم نو آيا دا به هغې ته نفع اورسوي ؟ (او هغې ته به ددې ثواب اورسي ؟)

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: نَعَمْ. آو، (هغې ته ددې نفع او ثواب رسي).

نو ده وويل: بيشکه زه تاسو گواه جوړوم چې ما خپل باغ "مِخرَاف" د خپلې مور د پاره صدقه کړو. (۱)

۲. همدغه شان يوه بله واقعه امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله هم رانقل کړې، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: چې يو کس د نبي عليه السلام په خدمت کې حاضر شو، او وې ويل: بيشکه زما مور ناڅاپه وفات شوې، او زما دا گمان دی چې که چيرته هغې د مرگ نه مخکې څه خبرې کولې شوې نو ضرور به يې صدقه کړې وه

فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا ؟

نو اوس که چيرته زه د هغې د طرفه صدقه وکړم نو آيا ددې ثواب به هغې ته اورسي؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

نَعَمْ. هو (ددې ثواب هغې پسې رسي). (۲)

۳. حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو کس راغی او ورته وې ويل: إِنَّ أَبِي مَاتَ وَتَرَكَ مَالًا وَلَمْ يُوْصِ فَهَلْ يُكَفِّرُ عَنْهُ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهُ؟

بيشکه زما پلار وفات شوی او په ترکه کې يې څه مال هم پريخی خو (د صدقې وغيره) څه وصيت يې نه دی کړی، نو که چيرته زه د هغه د طرفه صدقه وکړم نو آيا زما دا صدقه به د هغه د پاره د گناهونو کفاره، او د مغفرت سبب اوگرځي؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل: نَعَمْ. هو (د الله ﷻ نه اميد شته چې دا صدقه به د هغه د گناهونو د مغفرت او د هغه د نجات ذريعه وگرځي). (۳)

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ ﷺ تُوُفِّيَتْ أُمُّهُ وَهُوَ غَائِبٌ عَنْهَا فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنَّ أُمِّي تُوُفِّيَتْ وَأَنَا غَائِبٌ عَنْهَا أَيَنْفَعُهَا شَيْءٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَإِنِّي أُشْهِدُكَ أَنَّ حَائِطِيَ الْمِخْرَافَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا. رواه البخاري ج۴ ص۷ حديث ۲۷۵۶ باب إذا قال أرضي او بستاني صدقة لله .. وحديث ۲۷۶۲، معارف الحديث ج۴ ص۳۲۸.

(۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: إِنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ ﷺ: إِنَّ أُمِّي أُفْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ. رواه البخاري ج۲ ص۱۰۲ حديث ۱۳۸۸، ومسلم ۵۱ (۱۰۰۴).

(۳) رواه ابن جرير في تهذيب الآثار، معارف الحديث ج۴ ص۳۲۸.

مال هم يو امتحان دی

قدرمنو ! انسان ته په کار دي چې ده ته الله ﷻ کوم مال و دولت ورکړی ، دا په دې کې مالي او فرضي حقوق خو لازمي اداء کړي ، او ددينه علاوه نور نفلي صدقات هم موقع په موقع ورکړي . ځکه لکه څرنګ چې په يو غريب باندې غُربت يو امتحان دی چې دا په دې باندې صبر کوي او که نه ؟ نو دغه شان په مالدار باندې دا مالداري هم يو امتحان دی چې دا په دې کې مالي حقوق اداء کوي او که نه ؟

الله ﷻ خو داسې هم کولې شي چې ددې مالدار نه مال واپس واخلي غريب يې کړي او دا غريب مالدار کړي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ لِلّٰهِ عِبَادًا يَخُصُّهُمْ بِالنِّعَمِ لِمَنَافِعِ الْعِبَادِ فَمَنْ بَخِلَ بِتِلْكَ الْمَنَافِعِ عَلَى الْعِبَادِ نَقَلَهَا اللهُ عَنْهُ وَحَوَّلَهَا إِلَى غَيْرِهِ . (۱)

بيشکه د الله ﷻ څه بندګان دي چې هغوی ته نعمتونه خاص ددې د پاره ورکوي چې بندګانو ته پرې نفع اورسوي ، اوس چې څوک په دغه منافعو باندې بُخل کوي او نورو بندګانو ته ددې نعمتونو نه فايده نه وررسوي نو الله ﷻ ده نه دا نعمتونه واخلي او بل کس ته يې ورکړي (نو بيا هغه کس نورو خلقو ته ددې نعمتونو په ذريعه فايده رسوي) .

ددې په باره کې درته يو دوه واقعې د عبرت د پاره نقل کوم :

واقعه : دولت مند فقير ، او فقير دولت مند جوړول

شهاب الدين محمد بن احمد الشبهي رحمه الله ليکلي چې يو مالدار سړی د خپلې بي بي سره ناست ؤ ، يو ځای يې ډوډۍ خوړه ، او خوراک هم ډير بهترين ؤ ، په دې دوران کې يو فقير بهر آواز وکړو ، په دې سړي باندې د فقير راتګ سخت بَد ولږيده ، بهر ور اُووت ، فقير يې سخت اُورټل او په ډيره بې عزتۍ سره يې رُخصت کړو .

---

(۱) احياء العلوم ج ۳ ص ۳۲۷ .

د خدای شان ګوره چې څه وخت روستو دا سړی ډير زيات غريب شو، ټول نعمتونه ورنه الله ﷻ واخيست، تر دې چې کورني حالات يې هم دې اندازې ته ورسيده چې د ډيرو جګړو په وجه يې آخر خپلې ښځې ته طلاق هم ورکړو.

د عِدت تيريدلو نه روستو دې ښځې د بل خاوند سره نکاح وکړه چې هغه هم ډير مالدار سړی ؤ، يوه ورځ دا ښځه او دا نوی خاوند دواړه يو ځای ډوډۍ ته ناست وو، چې په دې کې فقير بهر په دروازه کې آواز وکړو، او خوراک يې او غوښتو، خاوند ورته وويل: چې ورشه او فقير ته دا بهترين خوراک ورکړه، دې ښځې هم خپل خاوند ته وويل: په کار ده چې مونږ دې فقير ته څه خوراک ورکړو، ځکه هسې نه چې دې خفه شي او د الله ﷻ غضب نازل شی. خاوند ورته وويل: ډيره ښه ده. کله چې دې ښځې فقير ته خوراک وې وړو، او واپس راغله، نو ډيره حيرانه او خفه وه، خاوند ورنه پوښتنه وکړه: چې ولې دومره حيرانه او خفه يې؟ دې ورته وويل: نن خو ما يو عجيبه منظر وليده، هغه دا چې يوه ورځ زه د مخکيني خاوند سره په روټۍ ناسته ووم، په دې کې يو فقير بهر په دروازه کې آواز وکړو، نو زما دا خاوند وَراُووَت، هغه يې ډير بې عزته کړو او ډير د ذلت په حالت کې يې رخصت کړو، الله ﷻ په هغه باندې داسې غُربت راوست چې هغه ټول نعمتونه يې ورنه واخيست، تر دې چې ماته يې هم طلاق راکړو. او دومره اندازه يې ذليل کړو چې اوس زه دا دې بهر اُووتم نو دا هماغه زما اولنی خاوند ؤ چې سوال يې کولو.

ددې ښځې دويم خاوند وويل: زه تاته ددې نه هم زياته عجيبه خبره بيان کړم، هغه دا چې د هغه دروازې ته کوم فقير درغلی ؤ نو زه هماغه فقير يم، خو هغه مالدار کس د الله ﷻ د نعمتونو شکريه ادا نه کړه، د مال فرضي او واجبي حقوق يې نه ادا کول، نو د هغې په وجه الله رب العزت د هغه نه ټول مال واخيست، فقير يې کړو، او زه الله ﷻ مالدار کړم. (۱)

---

(۱) المستطرف في كل فن مستظرف، اصلاحي خطبات ج۵ ص ۲۱۱، اشرف الحكايات ص ۷۷. همدا واقعه علامه ابن خلكان په خپل تاريخ کې هم ذکر کړی: ذكر ابن خلكان في تاريخه أنّ رجلًا كان يَأكُلُ دَجاجةً مع زوجته فجاء سائلٌ فردّه خائبًا. ثم بعد مدة ذَهَبَ مالُه وطلّق زوجته. فتَزَوَّجَتْ غيره. فبينما هُمَا ذات ليلة يأكلانِ دجاجة إذ جاءهما سائلٌ فقال لها: إدْفَعِيْ إليه الدّجاجة. فدفعتْها إليه فإذا هُوَ زوجُها الاوّل. فأخبَرَتْ زوجَها الثاني فقال: واللهِ أنا السّائلُ الاولُ الّذي ردّني خائبًا. نزهة المجالس ج ۱ ص ۲۸۱.

فایده: ددې واقعې نه دا عبرت حاصليږي چې که يو انسان ته الله ﷻ مال و دولت ورکړي، نو دا دې د الله ﷻ ددې نعمت شکريه اداء کړي، مالي حقوق دې ادا کوي، د فقيرانو، مسکينانو، کونډو او يتيمانو سره دې احسان کوي. او د الله ﷻ د نافرمانۍ او تکبّر نه دې ځان ساتي، ځکه کوم رب چې انسان ته مال و دولت ورکوي هماغه رب دا هم کولې شي چې دده نه واپس دا ټول نعمتونه واخلي او واپس يې فقير کړي.

د جُذامي، ګنجي او ړوند واقعه:

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي چې په بني اسرائيلو کې درې (۳) کسان وو، يو جُذامي (يعنی غوښه رژيدونکې بيماری واله)، دويم ګنجي، او دريم ړوند. الله ﷻ دوی آزمايل او غوښته، نو يوه فرښته يې ورته (په انساني شکل کې) راوليږله، دا فرښته اول دې جُذامي له راغله او ورته وې ويل: ستا څه خوښ دي؟ ده ورته وويل: زما ښائسته او روغ بدن خوښ دی چې دا مرض رانه لرې شي (ځکه خلق ددې نه نفرت کوي)، نو فرښتې خپل لاس دده په بدن راښکود چې په دې سره دده وجود مکمل صحيح شو، بيا ورته فرښتې وويل: ستا کوم مال خوښ دی؟ جُذامي وويل: زما اوښان خوښ دي. نو ده ته يې يوه بلاربه اُوښه ورکړه (او ورته وې ويل چې الله ﷻ دې په دې کې تاله برکت واچوي).

ددې نه پس فرښته ګنجي له راغله او ورته وې ويل: ستا څه شی ډير خوښ دی؟ ده ورته وويل: زما روغ سَر خوښ دی چې دا ګنجې توب د مانه لرې شي (ځکه خلق ددينه نفرت کوي)، ملائکې ورله په سَر باندې لاس راښکود چې په دې سره دده سَر مکمل صحيح شو او ګنجې توب يې ختم شو. بيا فرښتې ورنه پوښتنه وکړه: ستا کوم مال ډير خوښ دی؟ هغه ورته وويل: غواګانې، نو فرښتې ورله يوه بلاربه غوا ورکړه (او د برکت دُعا يې ورته وکړه)

بيا دا فرښته ړوند ته راغله او ورته وې ويل: ته څه غواړی؟ ده ورته وويل: روغې سترګې، چې هرڅوک پرې وينم. دې فرښتې ورله په سترګو لاس راښکود چې په دې سره يې سترګې بينا شوی. بيا يې ترې پوښتنه وکړه: ستا کوم قِسم مال ډير خوښ دی؟ ده ورته وويل: چيلۍ. نو يوه بلاربه چيلۍ يې ورته ورکړه. (او د برکت دُعا يې ورته وکړه).

دا درې (۳) واړه په لږه زمانه کې دومره مالدار شو چې يو ته د اُوښانو لوي کنډک جوړ شو ، بل ته د غواګانو لوي کنډک جوړ شو او بل ته د چيلو لويه رَمه جوړه شوه (چې د ډير والي د لاسه يې غونډ ځنګل نيولې وُ) .

بيا دا فرښته د الله ﷻ په حُکم سره (په انساني شکل کې) اول دې جُذامي ته راغله او ورته وې ويل :

زه يو مسافِر مسکين يم ، د سفر سامان راسره ختم شوی ، نن زما د خدای نه بغير بله څه وسيله نشته او تاته مې طمع ده ، زه د هغه الله ﷻ په نوم د تانه يو اُوښ غواړم کوم الله ﷻ چې تاله ښکلې صفا څرمن او روغ بدن درکړې دی (يو اُوښ راله راکړه) چې زه پرې سور شم او خپل کورته اورسم .

جُذامي ورته وويل : لږې شه ، په ما نور هم ډير حقونه دي ، تا له څه نه شم درکولی .

فرښتې ورته وويل : شايد زه خو تا پيژنم ، آيا ته جُذامي نه وی چې خلقو به درنه کرکه کوله ؟ آيا ته غريب نه وی چې بيا درله الله ﷻ ډير مال درکړو ؟

هغه ورته وويل : دا ته څه وايې ؟ دا مال خو ماته د پلار نيکه نه په ميراث کې راپاتې دی. فرښتې ورته وويل : که ته دروغ وايې نو الله ﷻ دې تا بيا په زوړ حالت کړي .

ددې نه پس فرښته ګنجي له راغله او د هغه نه يې هم همدغسې سوال وکړو ، هغه ورته هم همدغسې جواب ورکړو . فرښتې ورته وويل : که ته دروغجن يې نو تا دې الله ﷻ بيا په هماغه زاړه حالت کړي .

فرښته بيا ړاند له راغله او ورته وې ويل : چې زه مسافر يم ، هيڅ راسره نشته ، نن زما بغير د خدای نه او ستا نه بله هيڅ آسره نشته ، زه د هغه الله ﷻ په نوم کوم چې تاله نظر درکړی د تانه يوه چيلۍ غواړم چې د هغې په مدد سره زه خپل سفر پوره کړم .

هغه ورته وويل : بيشکه زه ړوند ووم (خو الله ﷻ په خپل رحمت سره ماته نظر راکړو) او س چې ستا څومره چيلۍ خوښې وي د ځان سره يې بوځه ، قسَم په الله چې هيڅ شی د تانه منع نه دی .

فرښتې ورته وويل : ته خپل مال د ځان سره سَنبال کړه ، زما مال ته هيڅ ضرورت نشته ، بلکه صرف په تاسو درې (۳) واړو باندې امتحان کول وو ، هغه اوشو ، الله پاک د تانه راضي شو او د هغوی دواړو نه ناراضه شو .(۱)

فايده : فکر او سوچ په کار دی چې د ناشکرۍ د وجې نه د هغوی دواړو نه ټول نعمتونه واپس واخيستل شو او واپس په هماغه زاړه حالت باندې شو ، او دې دريم کس ته د شکر په وجه دا نعمتونه هم په ځای پاتې شو ، الله پاک هم ورنه راضي شو او په دُنيا او آخرت کې هم کامیابه شو .

د انسان نه دا هر څه پاتې دي

قدرمنو ! که انسان سوچ وکړي نو دا دُنيا فاني ده دده نه دا مال و دولت او دا هر څه پاتې دي ، کامياب انسان هغه دی چې دې په کې د ځان د پاره د آخرت ذخيره تياره کړي .

واقعه :

د دُنيا د فاني کیدو باره کې درته په آخره کې يوه واقعه بيانوم ، کومه چې علامه تقي الدين الشافعي رحمه الله په خپل کتاب " نزهة الناظرين ... " کې او نورو علماؤ هم رانقل کړې چې : حضرت عيسى عليه السلام يوه ورځ سفر کولو ، نو يو کس ورسره ملګرې شو هغه ورته وويل :

يَانَبِيَّ اللهِ أَكُوْنُ مَعَكَ . اې د الله ﷺ پيغمبره ! زه به هم د تاسره په سفر کې ملګرې يم .

(ده ورته وويل : صحيح ده) دواړه روان شو ، کله چې د نهر يوې غاړې ته ورسيده نو دواړه کيناسته ، د دواړو سره درې (۳) ډوډۍ (روټۍ) وې ، دواړو دوه (۲) ډوډۍ اُوخوړې ، يوه پاتې شوه ، بيا حضرت عيسى عليه السلام نهر ته لاړو ، اُو بېرته راغی نو دريمه ډوډۍ نه وه ، د ملګري نه يې پوښتنه وکړه :

أَيْنَ الرَّغِيْفُ ؟ هغه دريمه ډوډۍ څه شوه ؟

(۱) د جنت کالے حصه اول ص ۳۲ .

ده ورته وويل : لَا أَدْرِيْ . ماته پته نشته . چې هغه څه شوه .

دواړه په سفر روان شو ، په لاره کې يې يوه هوسۍ وليده چې د هغې سره دوه (۲) بچي هم وو ، حضرت عيسى عليه السلام هغه يو بچي ته اِشاره وکړه نو هغه راغى ، هغه يې ذبحه کړو ، وريت يې کړو ، او دواړو اُوخوړ و ، بيا حضرت عيسى عليه السلام د هوسۍ دې بچي ته وويل :

قُمْ بِإِذْنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . د الله جل جلاله په حکم پاڅه .

د هوسۍ بچې پاڅيده ، او روان شو . بيا حضرت عيسى عليه السلام دې سفر ملګري ته وويل :

أَسْأَلُكَ بِالَّذِيْ أَرَاكَ هٰذِهِ الْآيَةَ مَنْ أَخَذَ الرَّغِيْفَ ؟

زه تانه د هغه الله جل جلاله په واسطه پوښتنه کوم چا چې تاته دا معجزه او نښه دراُوخوده چې هغه دريمه ډوډۍ چا واخيسته ؟

هغه ورته وويل : لَا أَدْرِيْ . ماته پته نشته .

دوى دواړه بيا په سفر روان شو ، تر دې چې يو دَشتي (ځنګل) ته ورسيده ، هلته حضرت عيسى عليه السلام څه خاورې راجمع کړې ، او ورته وې ويل :

كُنْ ذَهَبًا بِإِذْنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . د الله جل جلاله په حکم سره سره زَر شئ .

نو د هغې خاورو نه سره زَر جوړ شو ، بيا حضرت عيسى عليه السلام دا په درې (۳) حصو تقسيم کړه ، او دې د سفر ملګري ته يې وويل : دا يوه حصه سره زَر ستا شو ، دا دويمه حصه زما شو ، او دا دريمه حصه د هغه چا شو چا چې هغه دريمه ډوډۍ اخيستې وي .

دې کس وويل : هغه خو ما اخيستې وه . نو حضرت عيسى عليه السلام ورته وويل :

فَكُلُّهُ لَكَ . دا ټول ستا شو .

بيا حضرت عيسى عليه السلام دده نه جدا شو . دا سړې دې سرو زَرو ته ناست وُ ، په دې لاره دوه (۲) کسان تيريده ، کله چې دوى ددې کس سره دا سره زَر وليده ، نو دده د قتلولو اِراده

یې وکړه ، ده ورته وویل : ماته څه مه وایئ ،دا به په خپل مینځ کې تقسیم کړو ، هغوی ورسره دا اُومنله .

بیا یې خپل مینځ کې وویل : چې یو کس به بازار ته ولیږو چې خوراک راوړي ، او وې خورو ، او دا دوه کسان به دلته ددې سروزَرو د حفاظت د پاره ناست وي ، بیا به یې سره تقسیم کړو . کله چې هغه یو کس بازار ته لاړو ، خوراک یې واخیست ، د ځان سره یې سوچ وکړو چې په دې خوراک به زهر واچوم چې دا دواړه پرې مړه شي او دا ټول سره زَر به ماته پاتې شي ، نو ده په دې خوراک کې زهر واچول . دلته دې دوه (۲) کسانو مشوره وکړه چې کله د بازار نه دا کس خوراک راوړي نو د مخې سره به یې قتل کړو ، او دده حصه سره زَر به هم مونږ ته پاتې شي .

کله چې د بازار نه هغه کس خوراک راوړو نو دوی دواړو ورباندې حمله وکړه او هغه یې قتل کړو ، بیا یې خپل مینځ کې یو بل ته وویل : راځه چې اول دا خوراک وکړو نو بیا به دا سره زَر سره تقسیم کړو ، کله چې دوی خوراک وکړو نو په هغې کې خو زهر ګډ شوي وُ ، نو د مخې سره دواړه پرې مړه شو . درې (۳) واړه کسان مړه پراته وو ، او سره زَر هم هماغه شان باقي پاتې وو .

حضرت عیسی علیه السلام او دده څه ملګري دوباره په دې لاره تیریده نو وې لیده چې سره زَر هم هماغه شان پراته دي او درې (۳) کسان مړه هم ورسره پراته دي ، نو خپلو ملګرو ته یې وویل :

هٰذِهِ الدُّنْیَا فَاحْذَرُوْهَا .

دا د دُنیا اَنجام دی (څنګه یې دا درې واړه مړه کړه او په خپله باقي پاتې ده) تاسو ددې د محبت او اَنجام نه وویریږئ . (۱)

بهر حال خبره مې دا کوله چې د هر چانه دا مال و دولت پاتې دی خو په دې کې کامیاب انسان هغه دی چې دا په دې مال کې د ځان دپاره د آخرت توخه تیاره کړي .

---

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۴۹۳ . وهكذا في التبر المسبوک للامام الغزالي رحمه الله

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَقُوْلُ الْعَبْدُ مَالِيْ مَالِيْ ، وَإِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ : مَا أَكَلَ فَأَفْنٰى ، أَوْ لَبِسَ فَأَبْلٰى ، أَوْ أَعْطٰى فَاقْتَنٰى ، مَا سِوٰى ذٰلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ . (۱)

بنده وايي چې دا زما مال دی ، دا زما مال دی ، حالانکه دده مال صرف درې (۳) شيان دي : ۱. هغه چې وې خوړو او ختم يې کړ ، ۲. يا هغه چې وايې غوست او زوړ يې کړو ، ۳. او يا هغه چې د الله ﷻ په لاره کې يې چا فقير او حاجتمند له ورکړو او د خپل ځان د پاره يې د قيامت ذخيره جوړه کړه . او ددينه علاوه چې څه دي نو دې ورنه تلونکې دی ، او نورو ته يې پريږدي (يعنی دده باقي مال نه دې لاړ ، او دا يې وارثانو ته پاتې شو) .

خلاصه دا چې دا دُنيا فاني او آخر ختميدونکې ده ، کامياب انسان هغه دی چې دې دا مال و دولت او ژوند غنيمت وګڼي ، د مال فرضي حقوق اداء کړي ، او ورسره ورسره د نفلي صدقاتو او نور د خير په کارونو کې خپل مال ولږوي ، ځکه حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه خو تر دې پورې فرمايي :

أُمِرْنَا بِالصَّدَقَةِ كُنَّا نُحَامِلُ فَنَتَصَدَّقُ . (۲)

کله به چې مونږ ته د صدقې ورکولو حکم اوشو نو مونږ به په مزدورۍ په خپله شا باندې بوج وړلو ، او يا به مو د هغې مزدورۍ نه صدقه ورکوله .

دُعا : الله تبارک وتعالی دې مونږ ته هم د صدقې ورکولو توفيق راکړي چې د فقيرانو ، مسکينانو ، کنډو ، يتيمانو او عاجزو سره مدد وکړو ، د هغوی ضرورتونه پوره کړو . او الله ﷻ دې مونږ ټولو ته د نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) رواه مسلم ج۴ ص ۲۲۷۳ حديث ۲۹۵۹ کتاب الزهد والرّقائق ، الترغيب والترهيب ج۱ (۱۱/۵۹۳) .

(۲) وفي رواية : كُنَّا نُحَامِلُ عَلٰى ظُهُوْرِنَا . مسلم ج۱ ص ۳۲۷ .

د صدقې متعلق فقهي مسايل

د صدقې په باره کې درته يو څو ضروري فقهي مسايل ذکر کوم:

د نفلي صدقې حکم

نفلي صدقه په عامو حالاتو کې په انسان باندې لازم نه ده، بلکه مستحب ده. (۱)
البته په خاصو حالاتو کې په انسان باندې لازم ده. (۲)

---

(۱) اعلم أنّ الصدقة تستحب بفاضل عن كفاية من يمونه... شامي زكريا ۳/۳۰۸ باب المصرف، مطلب الافضل على ان ينوي بالصدقة جميع المسلمين. فتاوی محموديه ج۱۴ ص ۳۵۸.

(۲) علماء ليکي چې د انسان غاړه صرف په دې نه خلاصيږي چې دې خالصه فرضي زکوة ورکړي او نور ګني دده په ذمه هيڅ حقوق نشته، بلکه د زکوة اداء کولو نه روستو هم په خاصو حالاتو کې د انسان په ذمه د ضرورتمندو امداد کول لازمي دي. البته صرف دومره خبره ده چې د زکوة د پاره يو خاص قانون دی چې د هغې مطابق زکوة ورکول په هر حالت کې فرض او ضروري دي، او دا نور مالي حقوق په انسان باندې په خاصو حالاتو کې فرض دي، يعنی که چيرته ضرورت وُ نو په ده امداد کول فرض دي، او که ضرورت نه وُ نو په ده هم فرض نه دي. معارف القرآن البقره في ضمن آيت ۱۷۷.

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم همدا خبره بيان کړې. او په دليل کې يې د قرآن مجيد آيت ذکر کړی، نبي ﷺ فرمايي:

إنّ في المال لحقّا سوى الزّكوة ثمّ تلا: ﴿لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ ...﴾ البقرة ايت ۱۷۷. اخرجه الترمذي، وابن ماجه، والدارمي، مشكوة باب فضل الصدقة حديث ۲۶ كتاب الزكوة.

بيشکه په مال کې د زکوة نه علاوه هم (د الله ﷻ) حق شته، بيا نبي عليه السلام دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو، الله تعالى فرمايي:

ترجمه: نيکي صرف دا نه ده چې تاسو خپل مخونه مشرق او مغرب طرف ته وګرځوئ بلکه (لويه او) اصل نيکي خو داده چې څوک ايمان راوړي په الله تعالى، په ورځ د آخرت، په فرښتو، په کتابونو او پيغمبرانو باندې، او ورکوي مال د الله تعالى په محبت کې خپلو (حاجتمندو) خپلوانو ته، يتيمانو ته، مسکينانو ته، مسافرو، او (محتاجو) سوال کوونکو ته، او د غلامانو په خلاصولو کې، او د لمونځ پابندي کوي او زکوة ورکوي...

فائده: په دې آيت کې د نيکۍ په کارونو کې د ايمان نه روستو د يتيمانو، مسکينانو، مسافرو او نورو حاجتمندو طبقو سره د مالي امداد ذکر دی....... (نور تفصيل په راتلونکې صفحه لاندې حاشيه کې او ګوره)

غني ته د نفلي صدقې ورکولو حکم

څوک چې مالدار (صاحب د نصاب) وي نو که چیرته ده ته نفلي صدقه ورکړې شي نو دا صدقه نه ده بلکه دا هبه ګرځي، په دې باندې د صدقې ثواب نه ملاویږي، البته هبه ګرځي.

دغه رنګې که په غني کس باندې د صدقې خوراک وکړې شي نو دا صدقه نه ده او نه د صدقې ثواب پرې حاصلیږي، بلکه دا هبه وګرځیده. (۱)

البته علماء لیکي چې د نفلي صدقې په دعوت کې غني شریکیدې شي. (۲)

او یا ورپسې د لمانځه او زکوة حکم دی. معلومه شوه چې دا دلته د حاجتمندو د ضرورت پوره کولو کوم ذکر دی دا د فرضي زکوة نه علاوه دی، ځکه د فرضي زکوة تذکره خو مستقلا ذکر ده، او د ضرورتمندو مالي امداد کولو ذکر مستقلا دی.

امام قرطبي رحمه الله ددې پاس حدیث ذکر کولو نه روستو فرمایي: چې ددې حدیث باره کې اګرچې د بعضو علماؤ اقوال شته (چې بعضې ورته ضعیف وایي) خو د آیت نه پخپله هم د حدیث د مضمون تایید کیږي، دې وایي

قلتُ والحديث وإن كان فيه مقالٌ فقد دلّ على صحته معنى ما في الآية نفسها من قوله تعالى: ﴿وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ﴾. فذكر الزكوة مع الصلوة. وذلك دليل على أنّ المراد بقوله: ﴿وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ﴾ ليس الزكاة المفروضة فإنّ ذلك كان يكون تكرارًا. والله اعلم. واتّفق العلماء على أنّه إذا نزلت بالمسلمين حاجة بعد اداء الزكوة فإنه يجب صرف المال اليها. قال مالك رحمه الله يجب على النّاس فداء أسراهم وإن استغرق ذلك أموالهم. وهذا اجماع ايضًا. وهو يقوّي ما اخترناه. والموفق الإله. تفسير قرطبي ج۲ ص ۲۳۷ البقرة آيت ۱۷۷.

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ذکر کړي چې د بعضې تابعینو مذهب دا دی چې په مال کې د زکوة نه علاوه نور حقوق شته، لکه دا مذهب د نخعي، شعبي، عطاء او مجاهد رحمهم الله دی.

د امام شعبي رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې په مال کې د زکوة نه علاوه څه بل حق شته؟ هغه ورته وویل: آو. او بیا یې د قرآن مجید دا آیت تلاوت کړو: ﴿وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى ....﴾

ددې وجې نه د جمهورو علماؤ او ائمه اربعهؤ دا مذهب دی چې په مال کې بَحیثیتِ مال د زکوة نه علاوه بل شی واجب نه دی، خو د نورو حیثیاتو د وجې، یا په خاصو موقعو او خاصو حالاتو کې په ده باندې بیا هم وجوب شته، لکه د خپلې بي بي او دوړو بچو نفقه، یا چې یو کس د ولږې یا تندې د وجې مړ کیږي د هغه مدد کول.

(۱) لانّ الصدقة على الغنيّ هبة. الدرالمختار كتاب الهبة ٥ / ٦٩٨ ط سعيد، كفايت المفتي ج ۴ ص ۳۲۲ صدقات نافله.

(۲) لانّ الصدقة على الغنيّ هبة. شامي ج۲ ص ۳۵۵ مطلب فى الحوائج الاصلية طبع ايچ ايم سعيد، آپ كے مسائل اور ان كا حل ج۵ ص ۲۲۱.

په صدقه کې فقيرانو ته نغدې روپۍ ورکول بهتر دي

که چيرته يو سړې په صدقه کې نغدې روپۍ ورکوي، يا تيار پوخ شوې خوراک ورکوي، يا بل شی ورکوي نو دا ټول جائز دي، البته نغدې روپۍ ورکول بهتر دي، ځکه په دې روپو سره فقير هر قسمه حاجت پوره کولې شي. (۱)

د حرام کاروبار واله کس د هَديې حکم

که چيرته د يو کس ټول کاروبار د حرامو وي او د حلالو هيڅ کاروبار يې نه وي نو بيا دده هَديه قبلول، يا دده خوراک کول جائز نه دي. البته که هغه ووايي چې دا مې حلال مال پيدا کړي، يا مې د چا نه قرض راخيستی نو بيا خير دی.

او که اکثره کاروبار يې د حلالو ؤ نو بيا دده هَديه قبلول جائز دي. (۲)

د حرام مال نه د صدقې ورکولو حکم

صدقه د حلال مال نه په کار ده ځکه د حرام مال نه صدقه کول الله ﷻ نه قبلوي. د مشکوة شريف حديث دی نبي عليه السلام فرمايي:

إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَايَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا. (۳)

الله تعالى پاک دی او صرف پاک شی قبلوي.

---

(۱) ودفعُ القيمة اى الدّراهم أفضل من دفعِ العين على المذهب المفتى به.... وفى الشامية: لانّ العلة فى أفضليّة القيمة كونها أعون على دفع حاجة الفقير لاحتمال أنّه يحتاج غير الحنطة ... شامي ج۲ ص ۳٦٦، آپ کے مسايل اور ان کا حل ج۵ ص ۲۲۲.

(۲) اهدى الى رجل شيئًا او أضافه ان كان غالب ماله من الحلال فلا بأس. إلا أن يعلم بانه حرام. فان كان الغالب هو الحرام ينبغي لايقبل الهدية ولايأكل الطعام. إلا آن يخبره بانّه حلال ورثته او استقرضه من رجل. كذا فى الينابيع، عالمكيري ج۵ ص ۳۴۲ الباب الثاني فى الهدايا والضيافات، آپ کے مسايل اور ان کا حل ج ۵ ص ۲۲۵.

(۳) مشكوة ص ۲۴۱ كتاب البيوع باب الكسب وطلب الحلال الفصل الاول، وباب فضل الصدقة ص ۱٦۸، مسلم ج۲ ص۷۰۳ حديث ۱۰۱۵، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۵ ص ۲۰۱.

....

علماء ليکلي چې د حرام مال نه د صدقې ورکولو داسې مثال دی لکه يو سړی د ګندګی نه د که ټوکرۍ يو بادشاه ته په هديه کې پيش کوي ، نو په دې سره خو بادشاه نه خوشحاليږي بلکه اُلټه پرې خفه کيږي .

علماؤ خو تر دې پورې ليکلي چې حرام مال د ثواب په نيت ورکول ډير زيات خطرناک دي . (يعنی که چيرته يو کس دا حرام مال ځانته حلال اوګڼي او د صدقې په وخت د ثواب نيت وکړي نو په دې سره انسان کافر کيږي) . (۱)

زکوة نه اداء کول او صدقه ورکول

که چيرته د يو سړي په ذِمه فرضي زکوة پاتې وي او دې نفلي صدقه ورکوي نو اګر چې د صدقې ثواب ورته ملاويږي ، خو فرض پريښودل او مستحب اداء کول بې عقلي ده ، ځکه د فرضو پريښودل ګناه کبيره ده . (۲)

اول قرض اداء کول او بيا صدقه ورکول

که چيرته په سړي باندې قرض وي نو ده ته په کار دي چې اول دا قرض اداء کړي او بيا نفلي صدقه ورکوي ، ځکه د قرض اداء کول فرض دي او نفلي صدقه مستحب ده ، اګر چې ده ته په دې صدقه ورکولو ثواب ملاويږي خو بيا هم اول د قرض اداء کول ضروري دي . (۳)

پيشه وَر يا نشه يي خلقو ته صدقه ورکول

بعضې خلق صاحبِ نصاب يعنی مالدار وي ، په صحت باندې ښه روغ وي ، ضرورت مند نه وي خو سوال کول يې هسې عادت ګرځيدلې وي ، يا پودريان او چرسيان وي سوال کوي

(۱) انّما يكفر إذا تصدّقَ بالحرام القطعي اى مع رجاء الثّواب النّاشي عن استحلاله كما مرّ فافهم . الدر المختار مع رد المحتار نعمانيه ج۲ ص ۲٦ مطلب فى التصدق من المال الحرام كتاب الزكوة ، بذل المجهود ۱/۳۷ باب فرض الوضوء طبع مكتبه رشيديه سهارنپور ، بحر ۵/۱۲۲ كتاب السير باب احكام المرتدين ، فتاوى محمودية ج۱۴ ص ۳٦۰ .

(۲) اعلم أنّ تركَ الفرضِ والواجب ولو مرّة بلا عذر كبيرة . شرح فقه اكبر ص ٦۸ طبع مجتبائي دهلي ، فتاوى محموديه ج ۱۴ ص ۳۵۹ .

(۳) اَلفرضُ أفضلُ من النّفل بسبعين درجة . مرقات ۳/۳۳۵ باب الافلاس والانظار الفصل الاول طبع بمبئ ، فتاوى محموديه ج۱۴ ص ۳۵۹ . .

نو داسې خلقو ته صدقه ورکول نه دي په کار ، بلکه ددې په ځای ضرورت مندو ته صدقه ورکول په کار دي. (۱)

د داسې خلقو دپاره سوال کول ناجائز دي. (۲)

او داسې خلقو ته زکوة یا صدقه واجبه ورکولو سره زکوة او صدقاتِ واجبه هم نه اداء کیږي. (۳)

په صدقه کې فقیر ته زړې جامې ورکول

اګر چې فقیر ته په صدقه کې ښه شی او نوې جامې ورکول په کار دي ځکه د نوو جامو ورکولو ثواب زیات دی خو بیا هم که چیرته د فقیر ضرورت وربانډې پوره کیده نو زړې جامې هم ورکولې شی. (۴)

(۱) ولا یحلّ أن یسأل شیئًا من القوت (مَن له قوت یومه) بالفعل او بالقوّة کالصحیح المکتسب. وفی الشامیة ویأثم معطیه... قال الاکمل فی المشارق: وأمّا الدّفع الی مثل هذا السائل عالمًا بحاله فحکمه فی القیاس الاثم به. لانه إعانة علی الحرام لکنه یجعل هبة وبالهبة للغني اولمن لایکون محتاجا الیه لایکون إثما. ای لانّ الصدقة علی الغني هبة کما انّ الهبة للفقیر صدقة. شامي ج۲ ص ۳۵۵ مطلب فی الحوائج الاصلیة ، آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۵ ص ۲۲۰.

(۲) ولا یحلّ له أن یسأل شیئًا من القوت مَن له قوت یومه. النهر الفائق ۱/۴۶۹ باب المصرف ، الدرمع الشامي ۲/۳۵۴ باب المصرف ، تبیین الحقائق ۱/۳۰۵ باب المصرف ، فتاوی محمودیه ج۱۴ ص ۳۶۱.

(۳) ولا الی غنيّ یملک قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلیّة من أيّ مال کان. شامي نعمانیه ج۲ ص ۶۴ باب المصرف ، النهر الفائق ج۱ ص ۴۶۴ باب المصرف ، تبیین الحقائق ۱/۳۰۲ باب المصرف ، فتاوی محمودیه ج۱۴ ص ۳۶۱.

(۴) فتاوی محمودیه ج۱۴ ص ۳۶۳.

د صدقې په باره کې نور بهترين واقعات :

د صدقې په باره کې درته يو څو نور بهترين واقعات نقل کوم، مقررين حضرات دد ينه هم استفاده کولې شي.

د صدقې په وجه د نيکۍ تله درنيدل

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

تَعَبَّدَ عَابِدٌ مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ فِيْ صَوْمَعَتِهِ سِتِّيْنَ عَامًا وَأُمْطِرَتِ الْأَرْضُ فَاخْضَرَّتْ (وَأَشْرَفَ) الرَّاهِبُ مِنْ صَوْمَعَتِهِ فَقَالَ: لَوْ نَزَلْتُ فَذَكَرْتُ فَازْدَدْتُ خَيْرًا. فَنَزَلَ وَمَعَهُ رَغِيْفٌ أَوْ رَغِيْفَانِ فَبَيْنَمَا هُوَ فِي الْأَرْضِ لَقِيَتْهُ امْرَأَةٌ فَلَمْ يَزَلْ يُكَلِّمُهَا وَتُكَلِّمُهُ حَتَّى غَشِيَهَا، ثُمَّ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فَنَزَلَ الْغَدِيْرَ يَسْتَحِمُّ فَجَاءَ سَائِلٌ (فَأَوْمَأَ) إِلَيْهِ أَنْ يَأْخُذَ الرَّغِيْفَيْنِ، ثُمَّ مَاتَ، فَوُزِنَتْ عِبَادَةُ سِتِّيْنَ سَنَةً بِتِلْكَ الزَّنْيَةِ فَرَجَحَتِ الزَّنْيَةُ بِحَسَنَاتِهِ. ثُمَّ وُضِعَ الرَّغِيْفُ أَوِ الرَّغِيْفَانِ مَعَ حَسَنَاتِهِ فَرَجَحَتْ حَسَنَاتُهُ، فَغُفِرَلَهُ. (۱)

د بني اسرائيلو يو عابد عبادت کولو، هغه په خپله ګرجه کې شپيته (۶۰) کاله عبادت وکړو، (يو ځل) په زمکه باران اوشو، هغه شنه شوه (هر طرف ته شينکې را اُوټوکيده)، دا راهب د خپلې ګرجې نه راووت، او وې ويل: که چيرته زه (د ګرجې نه) لاندې کوز شم، او

(۱) رواه ابن حبان في صحيحه ج۲ ص ۱۰۲ حديث ۳۷۸، و رواه السيوطي في الدر ۱ / ۳۵۵، والمنذري في الترغيب ۲/۲۲ (۵۰ / ۶۱۵)، والهندي في الكنز ۱۶۱۷۳، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۴۵ ثواب اطعام الطعام لوجه الله، وهكذا في تنبيه الغافلين ص ۱۵۰ باب ما تدفع الصدقة عن صاحبها. ورواه البيهقي عن ابن مسعود موقوفا عليه. ولفظه: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَاهِبًا عَبَدَاللهَ فِيْ صَوْمَعَتِهِ سِتِّيْنَ سَنَةً. فَجَاءَتِ امْرَأَةٌ فَنَزَلَتْ إِلَى جَنْبِهِ. فَنَزَلَ إِلَيْهَا فَوَاقَعَهَا سِتَّ لَيَالٍ. ثُمَّ سُقِطَ فِيْ يَدِهِ فَهَرَبَ. فَأَتَى مَسْجِدًا فَآوَى فِيْهِ ثَلَاثًا لَا يَطْعَمُ شَيْئًا فَأُتِيَ بِرَغِيْفٍ فَكَسَرَهُ فَأَعْطَى رَجُلًا عَنْ يَمِيْنِهِ نِصْفَهُ وَأَعْطَى آخَرَ عَنْ يَسَارِهِ نِصْفَهُ. فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِ مَلَكَ الْمَوْتِ فَقَبَضَ رُوْحَهُ. فَوُضِعَتِ السِّتُّوْنَ فِيْ كَفَّةٍ وَوُضِعَتِ السِّتَّةُ فِي الْكَفَّةِ. فَرَجَحَتْ يَعْنِي السِّتَّةُ. ثُمَّ وُضِعَ الرَّغِيْفُ فَرَجَحَ يَعْنِيْ رَجَحَ الرَّغِيْفُ السِّتَّةَ. رواه البيهقي في الشعب موقوفا بهذا اللفظ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۷ ثواب صدقة المقل

د الله ﷻ عبادت وکړم نو ماته به نور هم خير ملاؤ شي ، پس هغه لاندې راکوز شو ، او د هغه سره يو يا دوه چپاتي (يعنى ډوډۍ) هم وې ، دغه وخت چې ده په زمکه دالله ﷻ ذکر کولو نو ده له يوه ښځه راغله ، ده به د هغې سره خبرې کولې ، او هغې به دده سره خبرې کولې ، تر دې چې (نفس يې بې قابو شو ، او د) هغې سره يې زِنا وکړه ، بيا په ده باندې بې هوشي راغله ، غُسل خانې ته لاړو ، او غسل يې وکړو ، ده ته يو سائِل راغى (خوراک يې ورنه اوغوښت) ، ده هغه سائل ته اِشاره وکړه چې دواړه چپاتي (ډوډۍ) واخله ، بيا هغه راهب وفات شو ، دده د شپيتو کالو عبادت د زِنا په بدله کې تول کړې شو نو زِنا يې په نيکيو باندې درَنه شوه ، بيا هغه يو يا دوه چپاتي (کوم چې ده سائل ته ورکړې وو هغه) د ده د نيکيو سره يو ځاى تول کړې شو نو په دې سره دده نيکۍ درنې شوې ، نو ده ته مغفرت وکړې شو .

د صدقې مثال

نبي عليه السلام فرمايي :

وَ اٰمُرُكُمْ بِالصَّدَقَةِ وَمَثَلُ ذٰلِكَ كَمَثَلِ رَجُلٍ اَسَرَهُ الْعَدُوُّ فَاَوْثَقُوْا يَدَهُ اِلٰى عُنُقِهِ وَقَرَّبُوْهُ لِيَضْرِبُوْا عُنُقَهُ فَجَعَلَ يَقُوْلُ : هَلْ لَكُمْ اَنْ اُفْدِيَ نَفْسِيْ مِنْكُمْ وَجَعَلَ يُعْطِي الْقَلِيْلَ وَالْكَثِيْرَ حَتّٰى فَدٰى نَفْسَهُ . (۱)

د صدقې په وجه مغفرت

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله په "تنبيه الغافلين" کې يوه واقعه رانقل کړې ، دې وايي چې ما د خپل پلار نه اوريدلي چې : د حضرت عيسى عليه السلام په زمانه کې يو سړې وُ ، خلقو به ورته د ډير بُخل د وجې نه ملعون ويلو ، يوه ورځ ده ته يو کس راغى او ورته وې ويل:

(۱) رواه الترمذي وصححه ، وابن خزيمة ج۳ ص ۱۹۵ حديث ۱۸۹۵ ، وابن حبان والحاكم في المستدرك ۱ : ۴۲۱ . (رقم الحديث ۱۵۳۴) وقال : صحيح على شرطهما . ورواه المنذري في الترغيب ۲ / ۳۹۷ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۵ ثواب الصدقة وفضلها .

يَا مَلْعُوْنُ ! أَعْطِنِيْ شَيْئًا مِّنَ السِّلَاحِ أَسْتَعِيْنُ بِهِ فِيْ غَزْوِيْ وَتَنْجُوْ بِهِ مِنَ النَّارِ

اې ملعونه ! ماته څه اسلحه راکړه زه به په جهاد کې ددينه مدد واخلم ، او ته به ددې (صدقې) په وجه د جهنم د اُور نه نجات اومومې .

دې ملعون ورنه مخ واړول ، او هيڅ يې ورنه کړه . هغه سړي همدغه شان نامراده واپس لاړ ، معلون په زړه کې پښيمانه شو ، بيا يې ورپسې آواز وکړو ، او خپله توره يې ورکړه .

دا سړې ورنه روان شو ، په لاره کې ورله حضرت عيسى عليه السلام په مخه ورغى چې ورسره يو عابِد هم وُ کوم چې اويا (۷۰) کاله د الله ﷻ عبادت کړې وُ ، حضرت عيسى ﷺ ددې کس نه پوښتنه وکړه :

مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ بِهٰذَا السَّيْفِ ؟ دا توره دې د کوم ځاى نه راوړه ؟

ده ورته ووېل : د ملعون نه مې راوړه . حضرت عيسى ﷺ د ملعون په دې صدقه باندې ډير خوشحاله شو . ملعون په خپله دروازه کې ناست وُ ، کله چې عيسى ﷺ او دا عابد دواړه په دې لاره تيريدل ، نو ملعون په زړه کې ځان سره ووېل : ورپاڅيږم چې د حضرت عيسى ﷺ او ددې عابد مخ اوګورم . کله چې دې راپاڅيدو ، او ددوى دواړو مخ ته يې اوکته ، نو په دې وخت کې دې عابِد حضرت عيسى عليه السلام ته ووېل :

زه خو ددې ملعون نه تختم ، هسې نه چې دده د سپيره توب په وجه زه په اُور کې او سوزم .

الله رب العزت حضرت عيسى عليه السلام ته وحې وکړه :

قُلْ لِعَبْدِيْ هٰذَا الْمُذْنِبِ إِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُ بِصَدَقَتِهِ بِالسَّيْفِ وَبِحُبِّهِ إِيَّاكَ . وَقُلْ لِلْعَابِدِ إِنَّهُ رَفِيْقُكَ فِي الْجَنَّةِ .

زما دې ګناهګار بنده ته ووايه چې ما ده ته د تورې د صدقه کولو ، او د تاسره د محبت کولو په وجه مغفرت وکړو . او دې عابد ته ووايه چې دا ملعون به په جنت کې ستا ملګرې وي .

عابد چې کله دا خبره واوريده ، نو وې ويل :

وَاللهِ مَا أُرِيْدُ الْجَنَّةَ مَعَهُ . وَلَا أُرِيْدُ رَفِيْقًا مِثْلَهُ .

قسَم په الله ، زه خو جنت ته د ده سره يو ځای تلل نه غواړم ، او نه دغه شان د جنت ملګري غواړم.

الله رب العزت حضرت عيسى عليه السلام ته وحي راوليږله چې دې عابد ته ووايه :

إِنَّکَ لَمْ تَرْضَ بِقَضَائِيْ وَحَقَرْتَ عَبْدِيْ فَإِنِّيْ قَدْ جَعَلْتُکَ مَلْعُوْنًا مِنْ أَهْلِ النَّارِ . وَبَدَّلْتُ مَنَازِلَکَ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الَّذِيْ لَهُ فِي النَّارِ . وَأَعْطَيْتُ مَنَازِلَکَ فِي الْجَنَّةِ لِعَبْدِيْ . وَمَنَازِلَهُ فِي النَّارِ لَکَ . (۱)

بيشکه ته زما په قضا (او فيصله) باندې راضي نه شوی ، او زما د بنده سپکاوې دې وکړو ، لهذا ته مې اوس ملعون او د جهنميانو نه اوګرځولی ، او خپلې درجې دې د جهنم په درجو بدلې کړی ، او ستا د جنت درجې مې خپل دې بنده (ملعون) له ورکړی ، او د هغه د دوزخ واله ځای مې ستا د پاره مقرر کړو .

د صدقې په وجه عذاب دفع کيدل

ابو الليث ثمرقندي رحمه الله په خپل سَند سره يوه واقعه رانقل کړی ، چې حضرت عيسى عليه السلام په يو کلي تيريده ، په دې کلي کې يو دُهوبي وُ (کوم به چې جامې وينځلی او رنګ کولی به يې) ، د دې کلي خلقو حضرت عيسى عليه السلام ته شکايت وکړو ، چې دا دُهوبي زمونږ جامې اُوشلوي او بيا يې د ځان سره حِصارې کړي وي ، نو ته د الله جل جلاله نه دا دُعا اوغواړه چې الله جل جلاله دې دوباره د خپلو جامو د پَنډ سره نه راواپس کوي (بلکه هملته يې تباه کړي)، حضرت عيسى عليه السلام دا دُعا وکړه :

اَللّٰهُمَّ لَا تردّهُ بِرزمَتِهِ . اې الله ! ته دا دُهوبي د خپل پنډ سره روغ مه راواپس کوی .

کله چې دا دُهوبي د مخکې په شان د جامو د پنډ سره غره ته لاړو ، په پنډ کې ورسره درې دوډۍ (روټۍ) هم وی ، نو هلته په غره کې يو عابِد اوسيده ، هغه ده ته راغی ، سلام يې ورباندې واچول ، او ورته وې ويل :

---

(۱) تنبيه الغافلين ص ۱۳۸ باب فضل الصدقة طبع دار الفکر بيروت .

که ډوډۍ درسره وي نو یا خو یې راباندې اُوخوره ، او یا یې راته اُوښايه چې زه یې اوګورم او بُوي یې کړم ، ځکه د ډیر وخت نه ما هيڅ شی نه دې خوړلی .

نو دهوبي هغه ته یوه ډوډۍ ورکړه ، هغه عابد ورته دا دُعا وکړه :

يَا قَصَّارُ ! غَفَرَ اللهُ لَكَ ذَنْبَكَ وَطَهَّرَ قَلْبَكَ .

اې دهوبي ! الله تعالی دې ستا ګناهونه معاف کړي ، او ستا زړه دې صفا کړي .

ددې دُعا په اَوریدو سره دهوبي دویمه ډوډۍ هم ورکړه ، نو عابد ورته دا دُعا وکړه :

يَا قَصَّارُ ! غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ .

اې دهوبي ! الله تعالی دې ستا مخکيني او روستوني ټول ګناهونه معاف کړي .

دهوبي ددې دُعا په اوريدو سره ورته دريمه ډوډۍ هم ورکړه ، نو عابد ورته دا دعا وکړه

يَا قَصَّارُ ! بَنَى اللهُ لَكَ قَصْرًا فِي الْجَنَّةِ .

اې دُهوبي ! الله تعالی دې تاله ددې په عوض کې په جنت کې بنګله جوړه کړي .

کله چې مابنام شو نو دُهوبي هماغه شان روغ رَمټ د غر نه واپس راغی ، د کلي خلق حضرت عيسی عليه السلام ته یا راغله او ورته وې ويل : اې عيسی ﷺ ! دا دهوبي خو یا ژوندې راغی . حضرت عيسی ﷺ دا دهوبي را اُوغوښت ، کله چې راغی نو ورته وې ويل :

يَا قَصَّارُ ! أَخْبِرْنِي بِمَا عَمِلْتَ الْيَوْمَ ؟ اې دهوبي تا چې نن کوم عمل کړی هغه راته بيان کړه

هغه ورته ووېل : ددې غره نه يو عابد راغی ، هغه د ما نه ډوډۍ اوغوښته ، ما ورته درې ډوډۍ ورکړی ، هغه ماته د هرې ډوډۍ په عوض کې ځانله ځانله دُعا وکړه .

عيسی ﷺ ورته ووېل : ته دا خپل پَنډ ماله راکړه چې زه یې اوګورم .

کله چې دهوبي ورله خپل پنډ ورکړو ، او حضرت عيسی ﷺ کلاؤ کړو نو په هغې کې یې تک تور مار وليده چې د اُوسپنې پېزوان ورته په خُوله کې اچول شوي وُ .

حضرت عيسی ﷺ دې مار ته آواز وکړو ، هغه ورته ووېل :

لَبَّيْكَ يَا نَبِيَّ اللهِ . اې د الله پيغمبره زه حاضر يم ، څه حکم دی ؟

ده ورته وويل : اَلَسْتَ قَدْ بُعِثْتَ اِلٰى هٰذَا ؟ آيا ته په دې فلانکي سړي نه وې مقرر شوی ؟

مار ورته وويل : نَعَمْ . وَلٰكِنْ جَاءَهُ سيارٌ مِنْ تِلْكَ الْجِبَالِ فَاسْتَطْعَمَهُ . فَبِكُلِّ رَغِيْفٍ أَطْعَمَهُ دَعَا لَهُ بِدَعْوَةٍ . وَمَلَكٌ قَائِمٌ يَقُوْلُ آمِيْن . فَبَعَثَ اللهُ تَعَالٰى إِلَيَّ مَلَكًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ فَأَلْجَمَنِيْ بِلِجَامٍ مِنْ حَدِيْدٍ .

هو ، زه الله ﷻ په ده مقرر کړې ووم ، خو ده ته يو عابد راغلو ، هغه ورنه ډوډۍ اوغوښته، ده ورته درې (۳) ډوډۍ ورکړې ، هغه ورته د هرې ډوډۍ په عوض کې دُعاګانې وکړې ، يوه فرښته ولاړه وه هغې دده په دُعاګانو آمين وويل ، نو الله تعالى راته داسې فرښته راوليږله چې هغې ماته د اُوسپنې پيزوان په خُوله کې راواچول (چې د هغې په وجه زه اوس دې سړي ته ضَرَر نه شم رسولی) .

حضرت عيسى عليه السلام دې دُهوبي ته وويل :

يَا قَصَّارُ اِسْتَأْنِفِ الْعَمَلَ فَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ بِبَرَكَةِ صَدَقَتِكَ عَلَيْهِ . (۱)

اې دهوبي ! ته خپل دا عمل جاري اوساته ، ځکه الله ﷻ تاته په دې عابد باندې دصدقې کولو په وجه ټول ګناهونه معاف کړه .

د صدقې په وجه د جهنم نه خلاصې

علامه ابن جوزي رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې چې حضرت عائشې رضی الله عنها يوه وينځه واخيسته ، نو حضرت جبريل عليه السلام راغی او رسول الله ﷺ ته يې وويل :

أَخْرِجْ هٰذِهِ الْجَارِيَةَ مِنْ بَيْتِكَ فَإِنَّهَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ .

ته دا وينځه د خپل کور نه اُوباسه ځکه دا جهنمي ده .

نو حضرت عائشې رضی الله عنها دا وينځه د کور نه اُوويسته ، خو د ويستلو په وخت يې څه قجورې هم ورکړې ، دې وينځې نيمه قجوره اُوخوړه ، او نيمه يې په لاره کې يو فقير ته په صدقه کې ورکړه . حضرت جبرائيل عليه السلام دوباره تشريف راوړو ، او وې ويل :

(۱) تنبيه الغافلين ص ۱۵۰ باب ما لدفع الصدقة عن صاحبها طبع دار الفكر بيروت .

اې محمد ﷺ ! الله تعالى تاسو ته دا حکم کوي چې دا وينځه واپس راوله ، بيشکه الله تعالى هغه د جهنم د اُور نه آزاده کړه ځکه دې نيمه قجوره صدقه کړې وه . (۱)

د صدقې نه ورکولو سزا

يوه ورځ حضرت عائشه رضى الله عنها ناسته وه ، په دې کې يوه ښځه راغله چې لاسونه يې په لستوڼي کې پټ کړي وو ، حضرت عائشې رضى الله عنها ورنه پوښتنه وکړه :

مَا لَكِ لَا تُخْرِجِيْنَ يَدَكِ مِنْ كُمِّكِ ؟ ته ولې خپل لاسونه د لستوڼي نه نه راأُوباسې ؟

هغې ورته وويل : اې ام المومنين ! ددې پوښتنه رانه مه کوه . دې ورته وويل : ته به خامخا ماته ددې بيان کوې . نو هغې ورته وويل :

اې ام المومنين ! زما مور او پلار وو ، پلار به مې صدقه ډېره خوښوله ، او د مور مې د صدقې سره سخت بُغض لرلو ، ما چيرته په ټول عُمر کې خپله مور په صدقه ورکولو نه وه ليدلې ، البته صرف يو ځل يې د غوښې يوه ټکړه صدقه کړې وه ، او څه زړې جامې يې صدقه کړې وې .

کله چې دوی دواړه وفات شو نو ما دوی په خوب کې وليده ، ګويا چې قيامت قائم شوی دی ، ما خپله مور وليده چې زړه کېړه ورسره وه ، خپل عورت يې پرې پټ کړی وُ ، او د غوښې يوه ټکړه يې په لاس کې نيولې وه ، څټله يې ، او د سختې تندې د لاسه يې چغې سورې وهلې . او خپل پلار مې د تالاب په غاړه وليده چې اُوبه يې ورنه څکلې ، دا ځکه چې زما د پلار به اُوبه صدقه کول ډير خوښ وُ ، نو ما د اُوبو يوه پيالې راواخيسته ، او مور ته مې اُوبه ورکړې ، په دې کې په ما باندې د بره نه آواز اوشو :

(۱) اِشْتَرَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا جَارِيَةً فَنَزَلَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! أَخْرِجْ هٰذِهِ الْجَارِيَةَ مِنْ بَيْتِكَ فَإِنَّهَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ . فَأَخْرَجَتْهَا عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَدَفَعَتْ إِلَيْهَا شَيْئًا مِنَ التَّمْرِ . فَأَكَلَتِ الْجَارِيَةُ نِصْفَ تَمْرَةٍ ، وَدَفَعَتِ النِّصْفَ إِلَى فَقِيْرٍ رَأَتْهُ فِي الطَّرِيْقِ . فَجَاءَ جِبْرِيْلُ وَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ﷺ ! إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَأْمُرُكَ أَنْ تَرُدَّ الْجَارِيَةَ . فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى أَعْتَقَهَا مِنَ النَّارِ . لِأَنَّهَا تَصَدَّقَتْ بِنِصْفِ تَمْرَةٍ . اخرجه ابن الجوزي في كتاب العاجريات في الاسئلة والجوابات ، نزهة المجالس ج۲ ص ۳ باب فضل الصدقة وفعل المعروف .

أَلا مَنْ سَقَاهَا شلت يَدُهُ. خبر دار، چا چې دې ښځې ته اُوبه ورکړې نو لاسونه دې يې شل شي.

کله چې زه د خوب نه راپاڅيدم نو لاسونه مې شل شوي وو. (۱)

د يو سخي سړي بل کس ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکول

اصمعي وايي چې زه به يو سخي سړي ته اکثره ورتلم، يوه ورځ چې ورغلم نو په دروازه کې يې پهره دار ولاړ وُ، چې هغه زه دننه تللو ته پرې نه خودم، او راته وې ويل:

اې اصمعي! قسَم په الله، هغه زه په دروازه باندې ځکه اُودرولې يم، چې د هغه سره په دې وخت کې هيڅ شی نشته چې صدقه يې کړي، بلکه ټول مال يې صدقه کړی دی.

اصمعي وايي چې ما په يو کاغذ باندې دا وليکل:

" کله چې د يو سخي په دروازه باندې پهره دار مقرر شي نو بيا په سخي او بخيل کې هيڅ فرق نشته "

دا کاغذ مې پهره دار ته ورکړو چې دا هغه ته ويسه، هغه چې دا کاغذ وې ورو، څه وخت پس پهره دار راووت، د کاغذ په شا باندې ليکلي وو:

" کله چې د سخي سره مال نه وي نو بيا د قرض دارو نه د بچ کيدو د پاره پهره دار اُودرولې شي "

او ددې کاغذ سره هغه د پنځه سوه (۵۰۰) دينارو يوه تيلۍ هم ورکړې وه.

(۱) و روي عن عائشةَ رضي الله عنها أنّها كانتْ جالسةً ذات يومٍ إذ جاءتْها امرأةٌ سترت يدها في كمّها. فقالت لها عائشةُ مالكِ لاتخرجين يدكِ من كمّكِ؟ قالتْ: لا تسألني يا أمّ المؤمنين! قالت عائشةُ رضي الله تعالى عنها: لا بدّ لكِ أنْ تخبريْني؟ فقالت: يا أمّ المؤمنين! إنّه كان لي أبوانِ. فكان أبي يحبّ الصدقةَ. وأمّا أمّي فكانتْ تبغض الصّدقةَ. فلم أرها تصدّقتْ بشيءٍ إلّا قطعة شحم وثوبًا خلقًا. فلمّا ماتا رأيتُ في المنامِ كأنّ القيامةَ قد قامتْ. ورأيتُ أمّي قائمةً بين الخلق. والخلقة موضوعةٌ على عورتها. ورأيتُ الشحمةَ بيدها. وهي تلحسها وتنادي: واعطشاه. ورأيتُ أبي على شفير الحوضِ وهو يسقي الماء ولم يكن عند أبي صدقة أحبّ إليه من سقيه الماء. فأخذتُ قدحًا من ماءٍ فسقيتُ أمّي. فنودي من فوقٍ " ألا من سقاها شلت يده " فاستيقظتُ وقد شلت يدي. تنبيه الغافلين ص ۱۵۱ باب ما تدفع الصدقة عن صاحبها.

ما چې دده غُربت او دې سخا ته اوکته، نو د ځان سره مې وويل: قسَم په الله، زه به د دې حالت خبر ضرور امير المؤمنين ته ورکوم.

کله چې زه امير المومنين ته ورغلم، نو هغه چې زه وليدم، پوښتنه يې رانه وکړه:

اصمعي! د کوم ځای نه راغلی؟ ما ورته وويل: د فلاني ځای نه راغلم، هلته يو کس وُ، هغه په عِلم او مال دواړو سره زما ښه ميلمستيا وکړه.

بيا مې دا کاغذ او د دينارو دا تيلۍ دواړه امير المومنين ته ورښکاره کړه. کله چې هغه دا تيلۍ وليده، نو د ليدلو سره متصل يې د مخ رنګ بدل شو، او وې ويل: په دې تيلۍ باندې خو زما د بيت المال مُهر لږيدلې دی، دا تيلۍ چې تا ته چا درکړې وي هغه کس ما ته ضرور راحاضر کړه.

ما ورته وويل: اې اميرالمومنين! په الله قسَم، ما ته حياء راځي چې زه د هغه پسې قاصِد وليږم او هغه په ويره کې واچوم.

نو اميرالمومنين يو نزدې کس ته وويل چې ته د هغه پسې ورشه، او ورته ووايه چې بغير د څه يَرې او تکليف نه د اميرالمومنين په خدمت کې حاضر شه.

کله چې دا کس د اميرالمومنين دربار ته راحاضر کړې شو، نو امير المومنين ورنه پوښتنه وکړه:

آيا ته هغه کس نه يې چې په فلانکي علاقه باندې زمونږ جلوس تيريده نو ته ما ته رامخې ته شوی او د خپل غُربت شکايت دې راته وکړو، نو ما درله د دينارو دا تيلۍ درکړه؟

حالانکه تا خو دا اصمعي ته ورکړی (نو چې تا ته د دينارو ضرورت نه وُ نو بيا دې د ما نه ولې اخيسته؟)

ده ورته وويل: اې امير المؤمنين! قسَم په الله، چې تا ته ما د کوم فقر او غُربت په باره کې خبره کړې وه هغه دروغ نه ده، او زه يقيني سخت محتاج يم، خو چې کله تا ماله دا تيلۍ راکړه، او زه کور ته راغلم، نو زما دروازې ته اصمعي راغی، نو ما ته حياء راغله چې يو ضرورت مند زما د دروازې نه خالي لاس لاړ شي، او ما دا غوښته چې لکه څرنګ تاسو زه خالي لاس را اونه ليږلم نو دغه شان زه هم څوک خالي لاس اونه ليږم، نو ځکه مې دا تيلۍ اصمعي ته صدقه کړه.

اميرالمومنين چې دا خبره واوريده نو ډير خوشحاله شو ، دده ډير تعريف يې وکړو ، او ورته وې ويل : اوس وخت په عربو کې د تا نه بل زيات سخي سړې ما نه دې ليدلی . او بيا يې حکم وکړو چې ده ته زر (۱۰۰۰) ديناره نور ورکړئ چې د يې پرې خپل حوائج پوره کړي ، او دا يې د خپلو مقربو کسانو نه او گرځول .

په صدقه کې بهترين مال ورکول د ثواب ذريعه ده

محمد بن فضل رحمه الله وايي چې يو أعرابي ؤ ، ډيرې گډې او چيلۍ ورسره وې خو ده به صدقه ډيره کمه ورکوله ، يو ځل ده د چيلۍ يو کمزوري بچې په صدقه کې ورکړو ، بيگاه له يې خُوب وليده چې دا ټولې گډې او چيلۍ ورباندې راغونډې شوې او دې په ښکرونو باندې وهي خو دې کمزوري د چيلي بچي به دده حفاظت کولو او دا نورې گډې او چيلۍ به يې ورنه شړلی ، کله چې د خُوب نه راپيدار شو نو د ځان سره يې وويل :

قسَم په الله ، اوس به زه ډيرې گډې او چيلۍ ددې کمزوري بچي سره يو ځای کړم (يعنی نورې به هم ښه اعلی گډې چيلۍ صدقه کړم) نو ده به بيا ددې نه روستو هر شی صدقه کول او په صدقه کې به يې بهترين مال ورکولو . (۱)

حلال مال په بهترين ځای کې خرچ کيږي

کله چې د يو سړي مال حلال وي نو دا په بهترين ځای کې خرچ کيږي ، او مستحقينو ته په خپله رسيږي ، ددې په باره کې درته يوه بهترينه واقعه بيانوم :

شيخ علي متقي عارف بالله رحمه الله فرمايي : چې يو نيک سړي به حلال کاروبار کولو ، او د هغه دا معمول ؤ چې څه به يې اوگټل نو هغه به يې په درې (۳) حصو تقسيم کړه ، يوه حصه به يې صدقه کړه ، دويمه به يې په خپل ضرورياتو کې اولږوله ، او دريمه به يې په تجارت کې خرچ کړه . يوه ورځ ده له يو مالدار کس راغی او ورته وې ويل : اې شيخ ! زه غواړم چې څه مال د الله ﷻ په لاره کې خرچ کړم نو ما ته څوک مستحق اوښايه چې هغه ته يې ورکړم .

شيخ ورته وويل : اول حلال مال پيدا کړه ، بيا چې هغه ته د الله ﷻ په لاره کې خرچ کوی نو هغه به په خپله مستحقينو ته رسي او په بهترين ځای کې به مصرف کيږي .

(۱) تنبيه الغافلين ص ۱۵۱ باب ما تدفع الصدقة عن صاحبها طبع دارالفكر بيروت .

دې دُنيا دار سړي دا خبره په مبالغه باندې حمَل کړه (او هسې فضول خبره ورته معلومه شوه)، نو دې شيخ ورته وويل: بنه ده، ته لاړ شه، او تا ته چې څوک د صدقې ډير مستحق معلوميږي او ستا زړه پرې اوسوزي نو هغه ته د خپل مال نه څه صدقه ورکړه.

کله چې دا سړې روان شو نو په لاره کې ورته يو کس په مخه ورغی چې په ظاهره ډير زيات غريب معلوميده او په خپه باندې ګډ هم ؤ، ده چې دا وليده نو زړه کې يې وويل: چې دا کس خو ډير زيات غريب، مستحق او معذور دی نو خپل مال يې هغه ته صدقه کړو. په صبا باندې دا مالدار کس په لاره تيريده چې هماغه پرونې فقير په يو ځای کې د بل ملګري سره ولاړ دی او هغه ته خپله واقعه داسې بيانوي چې: "پرون په ما باندې يو مالدار سړي د غريب ګمان وکړو. او څه صدقه يې راته راکړه، ما هغه روپۍ په شراب نوشۍ او بدکارۍ کې خرچ کړې".

دې مالدار چې دا خبره واوريده نو سخت خفه شو، دې شيخ ته راغی او هغه ته يې ټوله واقعه بيان کړه.

شيخ چې دا واقعه واوريده نو هغه ورله خپل يو درهم ورکړو، او ورته وې ويل چې کله ته د دې ځای نه اوځې نو تا ته چې اول هر څوک په مخه درشي نو هغه ته دا درهم صدقه ورکړه.

کله چې دا مالدار سړې دده نه راووت، نو په لاره کې ورته اول داسې کس په مخه ورغی چې په ظاهره باندې بنه مالدار معلوميده، ځکه صفا کپړې يې اچولې وې، په لاس کې ورسره څه وو، د ظاهري شکل نه بهترين او شريف سړې معلوميده، نو دې مالدار کس اول دا سوچ وکړو چې ده ته څنګه دا درهم ورکړم؟ دا خو په ظاهره مالدار معلوميږي او مستحق نه دی. خو چونکه شيخ ورته حکم کړې ؤ چې اولني کس ته به دا درهم ورکوی نو ځکه يې همده ته دا درهم ورکړو

کله چې هغه سړي دا درهم واخيست نو دوباره شا ته روان شو او يو زوړ کنډر ته داخل شو، هلته يې څه او غورځول، او په هغه اخوا طرف د کنډر نه اووت. دا مالدار سړې هم دده پسې شا ته ورغی، چې وې کتل نو په کنډر کې يوه مړه کونتره پرته وه. دا د هغه سړي پسې په منډه ورغی، او قسَم يې ورته ورکړو چې صحيح حال به راته وايې چې ته څوک يې؟ ستا اِقتصادي حالات څنګه دي؟ او په دې مړه کونتره دې څه کول؟

هغه ورته وويل: زه يو غريب سړې يم، د څه بيمارۍ په وجه مزدوري نه شم کولی، زما واړه واړه بچي دي، په کور کې د خوراک د پاره هيڅ شی هم نه ؤ، د چا نه سوال هم نشم کولی، ما د خپلو بچو ولږه کتل نشوه برداشت کولی، د ډيرې پريشانۍ په حالت کې د کور نه راووتلم چې د

بچو د پاره د خوراک څه راپیدا کړم ، سرګردانه ګرځیدم ، هیڅ شی په لاس رانغی ، زما بچي چونکه د ډيرې ولږې په وجه په اضطراري حالت کې وو نو ما دا مړه کونتره راواخیسته چې دا به ورله ویسم ، ځکه هغوی مجبور دي ، د خوراک بل څه نشته . کله چې الله تعالی ستا په ذریعه ماته دا درهم راکړو نو ما په هغه کنډر کې واپس هغه مړه کونتره او غورځوله ، ځکه په دې درهم به ورله اوس د خوراک څه واخلم .

کله چې دې مالدار سړي دا خبرې واوریدې نو سترګې یې وغړیدې ، او د شیخ خبره ورته رایاده شوه چې هغه خو ربښتیا ویلي وو چې " کله مال حلال وي نو دا په خپله په صحیح ځای کې مصرف کیږي او خپل مستحق ته رسیږي " (۱)

لهذا انسان ته په کار دي چې اول خپل کارو بار حلال کړي ، په حلاله طريقه مال او ګټي نو بيا به الله ﷻ ده ته په بهترینو ځایونو کې د لږولو توفیق ورکوي ، او مستحقینو ته به رسیږي . په حدیث کې هم راځي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

لَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ . (۲) الله تعالی صرف حلال مال قبلوي .

د صدقې په وجه کافر ته ایمان نصیبه کیدل

عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي چې زه يو کال حج ته لاړم ، هلته مې طواف وکړو ، د طواف نه روستو اُوده شوم ، په خوب کې مې د رسول الله ﷺ سره ملاقات اوشو ، دوی راته وفرمایل:

إِذَا رَجَعْتَ إِلَى بَغْدَادٍ فَادْخُلْ فِيْ مَحَلَّةِ كَذَا وَاطْلُبْ بَهْرَامَ الْمَجُوْسِيْ وَاقْرَأْ عَلَيْهِ مِنِّيْ السَّلَامَ وَقُلْ لَهُ " إِنَّ اللهَ تَعَالَى عَنْكَ رَاضٍ " . کله چې ته بغداد ته واپس لاړ شی نو فلانی محلې ته داخل شه ، او بهرام مجوسي پیدا کړه (کله چې د هغه سره ملاؤ شی نو) په هغه باندې زما سلام ووایه ، او دا ورته ووایه چې الله تعالی د تا نه راضي دی .

عبدالله بن مبارک وايي چې زه راپاڅیدم نو " لا حول ولاقوة إلا بالله العلي العظيم " مې وویل ، او دا مې د ځان سره وویل : کیدې شي چې دا شیطاني خُوب وي (ځکه په مجوسي باند د

(۱) مظاهر حق شرح مشكوة ج۳ باب فضل الصدقة في ضمن الفصل الاول حديث ۱ .

(۲) رواه البخاري ۲ / ۱۳۴ ، ۹ / ۱۵۴ ، واحمد ۲ / ۳۳۱ ، والبيهقي ۴ / ۱۷۷ ، مشكوة باب فضل الصدقة الفصل الاول حديث ۱ .

نبي عليه السلام سلام ويل راته نا آشنا معلوميده).

نو ما اُودس وکړو ، د خانه کعبې طواف مې بيا وکړو ، کله چې اُوده شوم نو بيا مې هم همداسې خُوب وليده ، حتى چې درې پيرې مې دا خُوب وليده . (زه پوهه شوم چې دا خُوب ريښتينې دى) . کله چې حج پوره شو نوزه بغداد ته لاړم ، هلته مې د بهرام مجوسي کور پيدا کړو ، کله چې کورته ورغلم ، نو يو سپين ګيرې سړې ناست ؤ ، ما ورنه پوښتنه وکړه :

أَأَنْتَ بَهْرَامُ الْمَجُوسِيُّ ؟ آيا ته بهرام مجوسي يى ؟ هغه راته وويل : هو . (زه يم) .

ما ورته وويل : هَلْ لَكَ عِنْدَاللهِ خَيْرٌ ؟ آيا تا د الله ﷻ د رضا د پاره څه خَير کار کړى ؟ هغه راته وويل : آو ، خلقو ته مې په سُود باندې روپۍ ورکړي دا زما په نزد ښه کار دى .

ما ورته وويل : دا خو په اِسلام کې حرام دي . خو آيا ددې نه علاوه بل څه ښه کار دې کړى ؟ هغه راته وويل : آو ، زما څلور زامن دي او څلور لوراني مې دي ما ددې لورانو واده ددې خپلو زامنو سره کړى . عبدالله بن مبارک ورته وويل : دا خو هم په اِسلام کې حرام دي . خو آيا ددينه علاوه دې چيرته بل کار د خَير کړى ؟ هغه راته وويل : آو ، کله مې چې د خپلو لورانو واده د خپلو زامنو سره کولو نو په هغې کې مې مجوسيانو له وليمه کړې وه . ما ورته وويل : دا خو هم په اسلام کې حرام دي . خو چيرته بل ښه کار دې کړى ؟ هغه راته وويل : آو ، زما يوه لُور وه چې ډيره زياته ښائسته وه ، ما په معاشره کې ددې د پاره مناسب کس پيدا نه کړو چې ددې غوندې ښُکلې وي نو ما هغه لُور ځان ته په نکاح کړه ، او په هغه شپه مې د زرو (۱۰۰۰) نه زياتو مجوسيانو له وَليمه کړې وه .

عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته وويل : دا کار خو هم په اِسلام کې حرام دى . خو ددې نه علاوه چيرته بل کار دې د نيکۍ کړى ؟ هغه راته وويل : آو .

زه يوه شپه په خپل کور کې ملاست ووم ، چې د بهرنه يوه ښځه راغله ، څه اَندازه چې زما کورته راغله نو دوباره واپس شوه ، بيا به راغله او بيا به واپس شوه ، دغه شان درې پيرې راغله او واپس شوه ، آخر دا چې په څلورمه پيره واپس لاړه ، بيا رانغله . ما د ځان سره وويل : کيدې شي دا د غلو د پاره څوک جاسوسه وي ، نو زه ورپسې پَټ شاته وَر روان شوم ، کله چې دا ښځه خپل کورته ننوته ، نو زه ورپسې ورننوتم ، (نو دا يوه غريبه کُنډه وه ، صرف څلور لوراني يې وى ، کله چې لُورانو يې دا مور خالي لاس اُوليده نو ورته وې ويل :

يَا أُمَّاه ! هَلْ جِئْتَ لَنَا بِشَيْءٍ ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَبْقَ لَنَا طَاقَةٌ وَصَبْرٌ عَلَى الْجُوْعِ .

اې مورې ! تا زمونږ د پاره د خوراک څه راوړه ؟ ځکه زمونږ خو ډېرې ولږې د لاسه نور هيڅ طاقت نشته ، او نه نور په ولږه صبر کولې شو . (ځکه د ډېرو ورځو مو هيڅ نه دي خوړلي) .

کله يې چې مور د ګورانو دا خبرې واورېدې نو په سترګو کې يې اوښکې راغلې ، او ورته وې ويل : اې ګورانو ما ته ستاسو د ولږې پته وه ، ددې د پاره زه د مجوسي کور ته ورغلم چې د هغه نه به تاسو د پاره د خوراک څه اوغواړم ، خو : إِسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّيْ أَنْ أَسْأَلَ شَيْئًا مِنْ أَحَدٍ دُوْنَهُ ، وَأَطْلُبَ حَاجَةً مِنْ عَدُوِّ اللهِ تَعَالَى وَهُوَ مَجُوْسِيٌّ . ماته د خپل رب الله رب العزت نه حياء راتله چې زه د هغه نه علاوه د بل چا نه څه اوغواړم او بيا د الله ﷻ د دُشمن مجوسي نه څه اوغواړم . (نو ځکه مې د مجوسي نه هيڅ اونه غوښته او واپس راغلم) .

بهرام مجوسي عبدالله بن مبارک ته وويل : کله چې ما ددې ښځې دا د غيرت نه ډکې خبرې واورېدې (او ددې ګورانې ولږه يې راته معلومه شوه) نو زه خپل کور ته راغلم او په يو غټ لوخي کې مې هر قِسمه خوراک واچول ، او هغوی ته مې ور وړو ، کله چې هغوی دا خوراک وليده نو ډېرې خوشحاله شوی . عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته وويل :

هُوَ هٰذَا الْخَيْرُ ، وَلَکَ الْبَشَارَةُ . (د تا نه چې ما پوښتنه کوله چې تا چيرته د خَير کار کړی ؟ نو) هغه د خَير کار همدا دی ، او تا ته ددې په باره کې زيرې در اَوروم .

عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي چې ما بيا ورته د هغه خُوب زيرې ورکړو کوم چې ما په مکه معظمه کې ليدلې ؤ ، او ټول خُوب مې ورته بيان کړو .

بهرام مجوسي چې کله دا خبرې واورېدې نو دومره اَثرېې ورباندې وکړو چې په هماغه ځای کې يې کلمه شهادت " أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد ان محمدا عبده ورسوله " ووېله ، او مسلمان شو .... عبدالله بن مبارک رحمه الله به خلقو ته ويل :

يَا عِبَادَ اللهِ ! اِسْتَعْمِلُوْا السَّخَاوَةَ مَعَ خَلْقِ اللهِ تَعَالَى فَإِنَّهُ يَنْقُلُ الْأَعْدَاءَ إِلَى دَرَجَةِ الْأَحِبَّاءِ ... اې د الله ﷻ بندګانو ! د الله ﷻ په مخلوقاتو باندې سخاوت کوئ ، ځکه دسخاوت په وجه د الله ﷻ دُشمنان د دُوستانو مرتبې ته رسي . " (۱)

(۱) درة الناصحين ص ۹۶ مجلس من سورة الانعام من جاء بالحسنة فله عشرة امثالها ، نزهة المجالس ج ۱ ص ۲۸۷ باب الكرم والفتوة ورد السلام .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾. البقرة آيت ۲۷۴ .

د خَیر په کارونو کې د خرچ کولو اَهمیت او د سخاوت فضیلت

تاَلیف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د خير په کارونو کې د خرچ کولو اهميت

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَآءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ . وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : قَالَ اللهُ تَعَالٰى : أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . (۲)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

قدرمنو مسلمانانو ورونو ! اسلام د عدل او انصاف مذهب دی ، په دې کې د هر چا د حقوقو لحاظ ساتل شوی ، بيا خاصکر د غريبې طبقې خلقو ، فقيرانو ، مسکينانو او حاجتمندو سره د احسان کولو خوډير اَجر بيان شوی . او د خير په کارونو کې د خرچ کولو دومره ترغيب او فضايل راغلي چې انسان دا ګمان کوي چې ګني مال د جمع کولو شی نه دی، بلکه صرف د خير په کارونو کې د خرچ کولو د پاره دی .

او شريعت هم دا غواړي چې مال دې د قارون غوندې پروت نه وي چې څوک ورنه فائده نه اَخلي ، بلکه دا دې ګردش کوي ، او د مال د فرضي حقوقو ادا کولو سره سره دې نور د خير په کارونو کې هم خرچ کړی شي .

(۱) البقرة آيت ۲۷۴ .

(۲) رواه البخاري في التوحيد ۲۵۶ و باب قوله " وكان عرشه على الماء " جز ٦ ص ۷۳ حديث ۴٦۸۴ و حديث ۷۴۹٦، و رواه مسلم ۳٦ (۹۹۳) ، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك الفصل الاول حديث ۴ . وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ قَالَ لِيْ : أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . مسلم بابُ الحثِّ على النفقة وتبشيرِ المنفق بالخَلَف . ۳۷ (۹۹۳) .

خرچ کوونکې متقيان او کامياب دي

د سورة بقرې په ابتدائي آيتونو کې الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿ الٓمٓ . ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ . الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه: الٓمٓ . دا (قرآن کريم) هغه کتاب دی چې په دې کې هيڅ شک و شبهه نشته، هدايت دی د پرهيزګارانو د پاره، (پرهيزګاران هغه خلق دي) څوک چې په غيب باندې ايمان لري، لمونځ قائموي، او مونږ چې ورته څه ورکړي د هغې نه خرچ کوي...

د داسې خلقو باره کې الله ﷻ بيا فرمايي:

﴿ أُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه: همدغه خلق (په چا کې چې دا مخکينې صفات موجود وي) د خپل رب د طرفه په هدايت باندې دي، او همدغه خلق کاميابي موندونکي دي.

فايده: په دې آيت کې د متّقينو د صفتونو په بيان کې اول د ايمان بالغيب ذکر وکړې شو، بيا ورپسې د اِقامتِ صلوة، او بيا د الله ﷻ په لاره کې د خرچ کولو ذکر وکړې شو.

وجه داده چې د ايمان اَهميت خو ټولو ته معلوم دی چې دا د ټولو ښو عملونو د قبليدو د پاره شرط دی. بيا د ښو عملونو شمير خو چونکه اُوږد دی، خو په دې آيت کې صرف د دوه (۲) عملونو ذکر شوی: چې يو لمونځ، او بل د مال خرچ کول دي.

ځکه په دې کې ديته اِشاره ده چې په انسان باندې څه شی هم فرض يا واجب دی نو د هغې تعلق يا خو به ده د ذات او بدن سره وی، او يا به ده د مال سره وي.

نو په بدني عباداتو کې د ټولو نه اَهم عبادت لمونځ دی، او مالي عبادتونه ټول د اِنفاق په لفظ کې داخل دي. ګويا په حقيقت کې په دې آيت کې د ايمان نه روستو ټول عبادات او

---

(۱) البقرة آيت ۱ تا ۳.

(۲) البقرة آيت ۵.

عملونه ذكر شوي . نو ځكه په اعمالو كې صرف د لمونځ او د مال خرچ كولو ذكر وكړې شو . (۱)

خرچ كوونكي كامل مومنان دي

په سورة أنفال كې الله رب العزت د كامِل مومنانو څه صفات ذكر كړي په هغې كې يو صفت د مومنانو دا هم ذكر دى چې د خير په كارونو كې خرچ كوي . الله ﷻ فرمايي :

﴿ اَلَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ . أُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجَاتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴾ . (۲)

ترجمه : (مومنان هغه دي) څوک چې لمونځ قائموي او مونږ چې ورته کوم رزق ورکړى دوى د هغې نه خرچ كوي ، همدا خلق په رېښتيني مومنان دي ، د دوى د پاره د خپل رب سره اُوچتې درجې دي ، ښښنه ده ، او روزي د عزت ده .

د خرچ كوونكو د پاره اَجر

۱ . الله رب العزت فرمايي :

﴿ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : څوک چې خپل مالونه د شپې او ورځې ، په پټه او ښكاره خرچ كوي نو هغوى لره ثواب دى د هغوى د رب په نزد ، او نه به په دوى څه يَره وي ، او نه به غمجن وي .

۲ . بل ځاى الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللهِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ . لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُم مِّنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴾ . (۴)

(۱) معارف القرآن البقرة آيت ۳ ، برواليت الايمان ص ۴۴ .

(۲) الانفال آيت ۳ ، ۴ .

(۳) البقرة آيت ۲۷۴ .

(۴) سورة فاطر آيت ۲۹ ، ۳۰ .

ترجمه : بيشکه څوک چې د الله ﷻ دکتاب تلاوت کوي ، لمونځ قائموي ، او مونږ چې ورته څه ورکړي د هغې نه په پټه او ښکاره خرچ (او خيراتونه) کوي نو دوی د داسې تجارت اُميد وار دي چې هغه هيڅ کله تاوان نه کوي (او هيڅ کله نه بربادېږي) . (دا ځکه کوي) د دې دپاره چې الله تعالی دوی ته د دوی (د خپل عمل) اَجرونه پوره پوره ورکړي ، او د خپل فضل نه ورته نور هم زيات ورکړي ، بيشکه الله ﷻ بخونکې او قدردان دی .

٣ . په سورة بقره کې الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴾ . (١)

ترجمه : او څه چې تاسو خرچ کوئ د مال نه نو (په دُنيا او آخرت کې به د دې بدل او ثواب) پوره پوره درکړې شي ، او په تاسو به ظلم نشي کولی .

د خرچ کوونکو دپاره جنت

الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴾ . (٢)

ترجمه : او چا چې د خپل رب د خوشحالولو دپاره صبر وکړو ، لمونځ يې قائم کړو ، مونږ چې ورته څه ورکړي د هغې نه يې په پټه او ښکاره خرچ وکړو ، او د نيکيو په ذريعه بَدي دفع کوي (يعنی د بدی په مقابله کې ښيګړه کوي) نو همدا هغه خلق دي د کومو د پاره چې کور د آخرت (يعنی جنت) دی .

د خرچ کولو ترغيب

که د رسول الله ﷺ په احاديثو مبارکهٔ باندې نظر واچولې شي نو د مال جمع کولو په نسبت په صحيح ځايونو کې د مال خرچ کولو او صدقه کولو ترغيب زيات راغلې دی ، دغه

(١) البقرة آيت ٢٧٢ .

(٢) الرعد ايت ٢٢ .

وجه دا ده چې که د احاديثو هر کتاب را واخلئ نو په هغې کې به د مال جمع کولو په نسبت د الله ﷻ د رضا د پاره د خرڅ کولو تعليم وترغيب په مختلفو عنواناتو سره ورکړې شوې وي .

۱. د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

قَالَ اللهُ تَعَالٰى : أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . (۱)

(حديث قدسي دی) الله تعالى فرمايي : اې د آدم اولاده ! (ځما په لاره کې خپل مال) خرڅ کوه نو زه به په تا باندې خرڅ کوم (يعنى څه چې تا خرڅ کړه زه به تا ته په دُنيا او آخرت کې د دينه زيات درکړم) .

همدا خبره په قرآن کريم کې هم ذکر ده ، الله تعالى فرمايي :

﴿وَمَآ أَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ...﴾ . (۲)

ترجمه : څه چې تاسو د الله ﷻ د رضا د پاره خرڅ کوئ نو الله تعالى به تاسو ته د هغې بدله درکوي .

۲. حضرت قَيس بن سَلَع انصاري رضي الله عنه فرمايي :

انَّ إِخْوَتَهُ شَكَوْهُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا إِنَّهُ يُبَذِّرُ مَالَهُ وَيَنْبَسِطُ فِيْهِ . قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ اٰخُذُ نَصِيْبِيْ مِنَ الثَّمَرَةِ فَأُنْفِقُهُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَعَلٰى مَنْ صَحِبَنِيْ . فَضَرَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ وَقَالَ : " أَنْفِقْ يُنْفِقِ اللهُ عَلَيْكَ " ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ خَرَجْتُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَمَعِيَ رَاحِلَةٌ وَأَنَا أَكْثَرُ أَهْلِ بَيْتِيْ الْيَوْمَ وَأَيْسَرُهُ . (۳)

---

(۱) رواه البخاري في التوحيد ۲۵٦ و باب قوله : وكان عرشه على الماء حديث ۴٦۸۴ و حديث ۷۴۹٦، ومسلم ۳٦ (۹۹۳)، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساک الفصل الاول حديث ۴ . وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ قَالَ لِيْ : أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ . مسلم باب الحث على النفقة وتبشير المنفق بالخلف. ۳۷ (۹۹۳)

(۲) سورة سبا آيت ۳۹ .

(۳) رواه الهيثمي في المجمع ۳ / ۱۲۸ ، والمنذري في الترغيب ۲ / ۵۰ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۵۴ ثواب الانفاق في وجوه الخير ...

زما ورونو رسول الله ﷺ ته زما شکايت وکړو چې " دې په مال کې اِسراف کوي، او په فراخ دِلۍ سره يې خرچ کوي " نو ما عرض وکړو : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! زه د قجورو خپله حصه (د دوی نه) واخلم، او بيا يې د الله ﷻ په لاره کې او په خپلو ملګرو باندې خرچ کوم، نو نبي عليه السلام زما په سينه باندې راس رابنکود، او راته وې فرمايل :

" أَنْفِقْ يُنْفِقِ اللهُ عَلَيْكَ " ته د الله ﷻ په لاره کې خرچ کوه نو الله ﷻ به په تا هم خرچ کوي. نبي عليه السلام درې (۳) کرته دا اِرشاد اوفرمايه.

ددې نه پس زه د الله ﷻ په لاره کې اُووتم، د ماسره خپله سورلي وه، او نن زه په خپله کورنۍ کې د ډير مال خاوند يم، او په دوی کې ډير مالداريم.

فايده : دا برکت د خرچ کولو او صدقې ورکولو دی چې الله ﷻ ورته بهترينه بدله ورکړه).

۳. د مسلم شريف حديث دی، پيغمبر عليه السلام فرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ إِنْ تَبْذُلَ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ وَإِنْ تُمْسِكْهُ شَرٌّ لَكَ . وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ . وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى . (۱)

اې د آدم اولاده ! کوم مال چې ستا د ضرورت او حاجت نه زيات وي هغه (د الله ﷻ د رضا د پاره) خرچ کول ستا د پاره (په دُنيا او آخرت کې) بهتر دي، او که دا نه خرچ کوی نو دا ستا د پاره بَد دي، او بقدرِ کفايت مال جمع کولو کې په تا باندې ملامتيا نشته (يعنی که دومره مال د ځان سره ساتی چې ستا د ژوند د بقاء او غذا ضرورت پرې پوره کيږي نو دا خير دی)، او د خرچ کولو په سلسله کې شروع د خپل بال بچ نه کوه (يعنی د چا نفقه چې په تا واجب ده اول په هغوی خرچ کوه، او چې کله د دوی نه پاتې شی نو بيا په نورو فقيرانو خرچ کوه).

(۱) رواه مسلم في الزكاة ۹۷ ، والترمذي الحديث ۲۳۲۳ ، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساک الفصل الاول حديث ۵، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۵۴ .

۴. په يوه موقع رسول الله ﷺ حضرت أسماء رضی الله عنها ته وفرمايل:

أَنْفِقِيْ وَلَاتُحْصِيْ فَيُحْصِي اللهُ عَلَيْكِ، وَلَا تُوْعِيْ فَيُوْعِيَ اللهُ عَلَيْكِ. إِرْضَخِيْ مَاسْتَطَعْتِ (۱)

ترجمه: (چيرته چې په مال خرچ کولو سره الله تعالی راضي کيږي نو هلته) خپل مال خرچ کوه، او دا شمير مه کوه چې څومره خرچ کړم؟ او څه خرچ کړم؟ ګني الله تعالی به هم ستا په باره کې شمير کوي (يعنی ستا د مال برکت به ختم کړي، او تا ته به يې هم محدود او معدود درکوي. يا دا چې د قيامت په ورځ به درسره ددې محاسبه کوي). او کوم مال چې ستا د ضرورت نه زياتي وي هغه د حاجتمند و نه منع کولو سره مه ږده ګني الله تعالی به ستا په حق کې هم خپل زائد عطاء او بخشش منع کړي، او د تا نه چې څومره کيدې شي د الله تعالی په لاره کې خرچ کوه.

۵. نبي عليه السلام فرمايي:

لَا حَسَدَ إِلَّا فِيْ إِثْنَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُوْمُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ. (۲)

که چيرته حسَد جائز وی نو د دوه (۲) کسانو سره به جائزۇ (يعنی سيالي صرف د دوه کسانو سره په کار ده، او که ديو کس سره غِبطه کولې شي نو په دې دوه (۲) صفتونو کې ورسره غبطه مناسب ده (۳)): يو هغه کس چې هغه ته الله تعالی قرآن کريم ورکړې وي او هغه د شپې او ورځې د هغې تلاوت کوي (او عمل پرې کوي)، او دويم هغه کس چې هغه ته الله ﷻ مال ورکړې وي او دې دا مال د شپې او ورځې په ساعتونو کې خرچ کوي.

(۱) رواه البخاري ومسلم، معارف الحديث ج۴ ص ۳۲۶.

(۲) رواه البخاري في الاعتصام ۱۸۳، ومسلم في صلوة المسافرين ۲۶۸، وابن ماجه الحديث ۴۲۰۸، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص۱۵۳. / په يو روايت کې دا سې الفاظ دي: نبي عليه السلام فرمايي: لَاحَسَدَ إِلَّا فِيْ إِثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَسَلَّطَهُ عَلٰى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ. وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ حِكْمَةً فَهُوَ يَقْضِيْ بِهَا وَيُعَلِّمُهَا. متفق عليه، رياض الصالحين باب فضل الغني الشاكر .... ۵۶۷.

(۳) وَمَعْنَاهُ: يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يُغْبَطَ أَحَدٌ إِلَّا عَلٰى إِحْدٰى هَاتَيْنِ الْخَصْلَتَيْنِ. رياض الصالحين ج۱ باب الكرم والجود ۵۴۱. اَلْحَسَدُ يُطْلَقُ وَ يُرَادُ بِهِ الْغِبْطَةُ، وَهُوَ تَمَنِّيْ مِثْل مَا لِلْمَحْسُوْدِ. فَإِنْ تَمَنّٰى زَوَالَ تِلْكَ النِّعْمَةِ كَانَ حَسَدًا مُحَرَّمًا. المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص۱۵۳ (۶۳۹).

خرچ کوونکو ته د فرښتو دُعا، او بخیل ته خیرې

د بخاري او مسلم شریف حدیث دی، رسول الله ﷺ فرمایي:

مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ أَحَدُهُمَا: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُوْلُ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. (۱)

په هره ورځ د سهر په وخت کې دوه (۲) فرښتې راکوزیږي، او په هغې کې یوه فرښته (د سخي د پاره) دا دُعا کوي: یا الله! څوک چې (د خیر په کارونو کې) خرچ کوي هغه ته دده بَدله ورکړه (یعنی په دُنیا کې یې مال زیات کړه، او آخرت کې ورته دده ثواب ورکړه. (۲))، او بله فرښته دا وایي: ای الله! څوک چې بُخل کوي د هغه مال هلاک کړه.

۴. په یو روایت کې دا حدیث داسې ذکر دی، نبي علیه السلام فرمایي:

إِنَّ مَلَكًا بِبَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَقُوْلُ: مَنْ يُقْرِضِ الْيَوْمَ يُجْزَ غَدًا. وَمَلَكٌ بِبَابٍ آخَرَ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا. وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. (۳)

بیشکه د جنت په دروازو کې په یوه دروازه باندې یوه فرښته دا اعلان کوي: څوک چې نن قرض ورکړي (یعنی دالله ﷻ په لاره کې مال خرچ کړي) نو سبا (د قیامت په ورځ) به

---

(۱) رواه البخاري ج ۲ ص ۱۱۵ حدیث ۱۴۴۲ باب قول الله تعالی فاما من اعطی واتقی...، ومسلم ج ۲ ص ۷۰۰ حدیث ۱۰۱۰ باب فی المنفق والممسک / وفي رواية: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: مَا طَلَعَتْ شَمْسٌ قَطُّ إِلَّا (بَعَثَ) بِجَنْبَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ: اَللّٰهُمَّ مَنْ أَنْفَقَ فَأَعْقِبْهُ خَلَفًا. وَمَنْ أَمْسَكَ فَأَعْقِبْهُ تَلَفًا. رواه احمد وابن حبان والحاكم، وقال صحيح الاسناد، قال في مجمع الزوائد (۱۰ ۲۵۵)، رواه احمد والطبراني فی الکبیر والاوسط، ورواه المنذري فی الترغیب ۴ ۱۱۸.

(۲) خَلَفًا: ای عِوَضًا عَظِيْمًا. وَهُوَ الْعِوَضُ الصَّالِحُ. أَوْ عِوَضًا فِي الدُّنْيَا وَبَدَلًا فِي الْعُقْبٰى. لقوله تعالی: ﴿وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِيْنَ. سورة السبا آیت ۳۹﴾. قال الحافظ: أَمَّا الْخَلَفُ فَإِبْهَامُهُ أَوْلٰى. لِيَتَنَاوَلَ الْمَالَ وَالثَّوَابَ وَغَيْرَهَا. فتح الملهم ج۵ ص ۷۵.

(۳) رواه البخاري ومسلم وابن حبان، الترغیب والترهیب ج۱ (۱/ ۶۳۵). وفي رواية: إِنَّ مَلَكًا بِبَابٍ مِنْ أَبْوَابِ السَّمَاءِ يَقُوْلُ: مَنْ يُقْرِضِ الْيَوْمَ يُجْزَ غَدًا. وَمَلَكٌ بِبَابٍ آخَرَ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا. وَأَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. رواه الطبراني وابن حبان، ورواه احمد ۲ / ۳۰۵، والسیوطي فی الدر ۱ /۳۱۳، والهندي فی الکنز ۱۹۱۱۹.

ددې بدله ورکړې شي ، او يوه فرښته په بله دروازه باندې دا دُعا کوي : يا الله ! خرچ کوونکي ته ددې ښه بدله ورکړې ، او منع کوونکي (بخيل) ته بَربادي ورکړې (يعنی د هغه مال بې برکته او ضائع کړې).

د سخاوت فضيلت

۱. امام بيهقي رحمه الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو حديثِ مبارکه ذکر کړی کوم چې صاحب د مشکوة هم رانقل کړی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اَلسخَاءُ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ فَمَنْ كَانَ سَخِيًّا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتَّى يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ . وَالشُّحُّ شَجَرَةٌ فِي النَّارِ فَمَنْ كَانَ شَحِيْحًا أَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْهَا فَلَمْ يَتْرُكْهُ الْغُصْنُ حَتَّى يُدْخِلَهُ النَّارَ . (۱)

سخا په جنت کې يوه اُونه ده ، څوک چې سخي وي هغه به د هغې څانگې اونيسي ، نو هغه څانگه به دې تر هغه وخته پورې نه پرېږدي تر څو پورې چې يې جنت ته داخل نه کړي . او بُخل په دوزخ کې يوه اُونه ده پس څوک چې بخيل وي هغه ددې اُونې څانگې اونيسي نو دغه څانگې به دې تر هغه وخته پورې نه پرېږدي تر څو پورې يې چې په دوزخ کې داخل نه کړي

فايده : په دې حديث کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د سخاوت تشبيه د يوې اُونې سره ورکړې ، يعنی لکه څرنگ چې د يوې غټې اُونې ډيرې څانگې وي نو دغه رنگې سخاوت هم يو عظيم وصف دی او ددې ډير قِسمونه او شاخونه دي ، نو څوک چې کوم قِسم اونيسي او په هغه لاره کې خپل مال خرچ کوي نو په دې سره به دې جنت ته داخليږي .

۲. نبي عليه السلام فرمايي :

خُلُقَانِ يُحِبُّهُمَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . وَخُلُقَانِ يُبْغِضُهُمَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . فَأَمَّا اللَّذَانِ يُحِبُّهُمَا اللهُ تَعَالٰى فَحُسْنُ الْخُلُقِ وَالسَّخَاءُ . وَأَمَّا اللَّذَانِ يُبْغِضُهُمَا اللهُ فَسُوْءُ الْخُلُقِ وَالْبُخْلُ . وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا إِسْتَعْمَلَهُ فِيْ قَضَاءِ حَوَائِجِ النَّاسِ . (۲)

(۱) رواهما البيهقي في شعب الايمان ، مشکوة باب الانفاق و کراهية الامساک حديث ۲۸ .

(۲) شعب الايمان ۷/۴۳۶ ، احياء العلوم ج۳ ص ۳۲۶ .

دوه (۲) خويُونه (او صفتونه) الله ﷻ ډير خوښوي، او دوه (۲) خويُونه د الله ﷻ ناخوښه دي، پس کوم دوه خويُونه چې الله ﷻ ته خوښ دي هغه سخاوت او خُوش اَخلاقي ده، او نا خوښه عادتونه بَد اخلاقي او بُخل (کنجوسي) دی. پس کله چې الله ﷻ د يو بنده د خير اِراده وکړي نو هغه د خلقو په ضرورتونو پوره کولو کې اُولږوي.

سخي سره الله ﷻ محبت کوي

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ جَوَادٌ يُحِبُّ الْجَوَادَ، وَيُحِبُّ مَعَالِيَ الْأَخْلَاقِ وَيَكْرَهُ سَفَاسِفَهَا. (۱)

بيشکه الله تعالى سخي دی او سخاوت خوښوي، او اُوچت (بهترين) اخلاق خوښوي او بې کاره رَدي اخلاق بَد ګڼي.

په عابِد بخيل باندې د جاهِل سخي فضيلت

د ترمذي شريف حديث دی، نبي عليه السلام فرمايي:

اَلسَّخِيُّ قَرِيْبٌ مِنَ اللهِ، قَرِيْبٌ مِنَ الْجَنَّةِ. قَرِيْبٌ مِنَ النَّاسِ. بَعِيْدٌ مِنَ النَّارِ. وَالْبَخِيْلُ بَعِيْدٌ مِنَ اللهِ. بَعِيْدٌ مِنَ الْجَنَّةِ. بَعِيْدٌ مِنَ النَّاسِ. قَرِيْبٌ مِنَ النَّارِ. وَالْجَاهِلُ السَّخِيُّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ عَابِدٍ بَخِيْلٍ. (۲)

سخي سړی د الله ﷻ رحمت ته نزدې دی، جنت ته نزدې دی، خلقو ته نزدې دی (يعنی ټول خلق ورسره محبت کوي)، او د اُور نه لرې دی. او بخيل (کوم چې واجب حقوق هم نه ادا کوي) د الله ﷻ د رحمت نه لرې دی، د خلقو نه لرې دی، او اُور (د جهنم) ته نزدې دی. بيشکه جاهل سخي الله ﷻ ته د عابِد بخيل په نسبت ډير محبوب دی (يعنی هغه جاهل

(۱) ذکره ابن ابي شيبة (۲۶۶۱۷)، نزهة الناظرين کتاب مدح السخاء والايثار.. ص ۵۰۱.

(۲) رواه الترمذي ج۳ ص ۴۰۷ حديث ۱۹۶۱، مشکوة باب الانفاق وکراهية الامساک الفصل الثاني حديث ۱۱.

سخي چې فرائض ادا کوي خو دنوافلو پابندي نه کوي دا الله ﷻ ته د هغه عابد بخيل نه ډير خوښ دی کوم چې د فرائضو سره سره ډير نوافل هم ادا کوي).

د سخاوت اهميت

۱. نبي عليه السلام فرمايي چې حضرت جبريل عليه السلام فرمايي:

قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ هٰذَا دِيْنٌ ارْتَضَيْتُهُ لِنَفْسِيْ وَلَايُصْلِحُهُ إِلَّا السَّخَاءُ وَحُسْنُ الْخُلُقِ فَأَكْرِمُوْهُ بِهِمَا مَا اسْتَطَعْتُمْ.(۱)

الله رب العزت فرمايي: بيشکه دا دين ما د ځان د پاره خوښ کړې دی او ددې اِصلاح صرف په سخاوت او ښو اخلاقو سره کيږي، نو ستاسو چې څومره وَس کيږي هماغومره په دې دوه صفتونو سره دد ې دين اکرام وکړئ. (يعنی دا دوه صفتونه په ځان کې پيدا کړئ).

۲. د رسول الله ﷺ نه په يوه موقع پوښتنه اوشوه:

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ په عملونو کې کوم عمل ډير بهتر دی؟

پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ وَحُسْنُ الْخُلُقِ.

صبر، سخاوت او ښه اَخلاق.(۲)

۳. دترمذي شريف حديث دی، د نبي عليه السلام نه چا پوښتنه وکړه: اې د الله ﷻ رسوله ﷺ! کله چې تاسو د دُنيا نه لاړ شی نوبيا زمونږ د پاره د زمکې مخ (يعنی ژوند) بهتر دی، او که د زمکې خيټه (يعنی مرګ) بهتر دی؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل:

إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارُكُمْ وَأَغْنِيَاءُكُمْ أَسْخِيَاءُكُمْ وَأُمُوْرُكُمْ شُوْرٰى بَيْنَكُمْ فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَّكُمْ مِنْ بَطْنِهَا، وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارُكُمْ وَأَغْنِيَاءُكُمْ بُخَلَاءُكُمْ وَأُمُوْرُكُمْ إِلٰى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَّكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا.(۳)

---

(۱) ذکره الهيثمي في مجمع الزوايد (۸/۲۰)، واخرجه الدار قطني في المستجاد، احياء العلوم ج۳ ص۳۲۶.

(۲) رواه البيهقي في الزهد واسناده صحيح

(۳) تنبيه الغافلين ص۱۴۸ باب فضل الصدقة طبع دارالفکر بيروت.

کله چې ستاسو اميران په تاسو کې بهترين خلق وي، مالدار مو سخيان وي او کارونه مو په مشوره وي نو بيا د زمکې مخ (يعنی ژوند) ستاسو د پاره د زمکې د خيټې (مرګ) نه بهتر دی. او که ستاسو اميران په تاسو کې بدترين خلق وي، مالدار مو بخيلان وي، او کارونه مو خپلو ښځو ته سپارلي وي نو بيا د زمکې خيټه (مرګ) ستاسو دپاره د زمکې د شا (يعنی ژوند) نه ډيره بهتره ده.

۴. حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمايي: په دُنيا کې د خلقو سرداران سخيان خلق دي، او په آخرت کې د خلقو سرداران متقيان دي. (۱)

۵. حسن بصري رحمه الله وايي چې ما دسخاوت په صفت باندې غور وکړو نو ما ته ددې اصل دا معلوم شو چې سخي سړی په الله ﷻ دا ښه ګمان لري چې الله ﷻ د خپلو وعدو خلاف وَرزي نه کوي، ځکه الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ...﴾. (۲) ترجمه: څه چې تاسو د الله ﷻ د رضا د پاره خرچ کوی نو الله تعالی به تاسو ته د هغې بدله درکوي.

او د بُخل او کنجوسۍ اصل راته دا معلوم شو چې بخيل سړی نَعُوذُ بِالله په الله ﷻ باندې بَدګماني لري چې ګني الله ﷻ خپله وعده نه پوره کوي. (۳)

د سخي په وفات کيدو د زمکې او حفظه فرښتو دُعا

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه فرمايي:

إِذَا مَاتَ السَّخِيُّ قَالَتِ الأَرْضُ وَالْحَفَظَةُ: رَبِّ تَجَاوَزْ عَنْ عَبْدِكَ فِي الدُّنْيَا بِسَخَائِهِ. وَإِذَا مَاتَ الْبَخِيلُ قَالَتْ: اَللَّهُمَّ احْجُبْ هٰذَا الْعَبْدَ عَنِ الْجَنَّةِ كَمَا حَجَبَ عِبَادَكَ عَمَّا جَعَلْتَ فِي يَدَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا. (۴)

---

(۱) الترغيب والترهيب لليافعي ۸۴.

(۲) سورة سبا آيت ۳۹.

(۳) الترغيب والترهيب لليافعي رحمه الله ۸۵.

(۴) نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول النبي الكريم ﷺ ج٦ ص ۲۲۵۵ السخاء.

کله چې سخي سړی وفات شي نو زمکه او حفظه فرښتې الله رب العزت ته دا عرض کوي: اې ربه! دې بنده ته په دُنیا کې دده دسخاوت په وجه معافي وکړه، (او دده ګناهونه معاف کړه). او چې کله بخیل سړی مړ شي نو دوی الله ﷻ ته عرض کوي: اې الله ﷻ! دابخیل د جنت نه داسې لرې اُوساته لکه څرنګ چې ده ستا بندګان لرې ساتلي وو د هغه مال و دولت او دُنیا نه کومه چې دده سره په لاس کې وه (یعنی لکه څرنګ چې ده په خپل مال باندې بُخل کولو او چاله یې نه ورکوله، نو اې الله ﷻ اوس دې هم د جنت نه لرې اُوساته).

د سخاوت په وجه جنت ته داخلیدل

۱. الله تعالی فرمایي:

﴿وَسَارِعُوٓا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ۔ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ (۱)

ترجمه: او تاسو منډه اُووهئ بخښې د خپل رب طرف ته (یعنی هغه اَعمالو طرفته وړاندې والې او جَلتي وکړئ کوم چې د انسان د مغفرت او بخښې سبب ګرځي)، او د هغه جنت طرف ته منډه اُووهئ چې د هغې پلنوالې دآسمانونو او زمکې برابر دی، دا جنت تیار کړې شوې دی د مُتّقیانو (پرهیزګارانو) د پاره، (متقیان هغه خلق دي) څوک چې خپل مالونه په خوشحالۍ او سختۍ دواړو حالتونو کې خرچ کوي، غصه زغمي، او د خلقو قصور معاف کوي، او الله تعالی (داسې) نیکو کار خلق خوښوي.

۲. حضرت علي رضی الله عنه فرمایي:

رُبَّمَا دَخَلَ السَّخِيُّ بِسَخَائِهِ الْجَنَّةَ. (۲)

ډیر کرته سخي سړی د خپلې سخا په وجه جنت ته داخلیږي.

۳. نبي علیه السلام فرمایي:

(۱) سورة آل عمران آیت ۱۳۳، ۱۳۴.

(۲) الاداب الشرعیة ۳/ ۳۱۲، نضرة النعیم في مکارم اخلاق الرسول الکریم صلی الله علیه وسلم ج٦ ص ۲۲۵۴ السخاء.

إِنَّ بُدَلَاءَ أُمَّتِيْ لَمْ يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِصَلٰوةٍ وَلَا صِيَامٍ وَلٰكِنْ دَخَلُوْهَا بِسَخَاءِ الْأَنْفُسِ وَسَلَامَةِ الصَّدْرِ وَالنُّصْحِ لِلْمُسْلِمِيْنَ . (۱)

زما دامت اَبدال (نيکان خلق) جنت ته په ډيرو لمونځونو او روژو نه دي داخل شوي بلکه د زړونو په صفايي او د سخا په وجه جنت ته داخل شوي .

۴ . امام غزالي رحمه الله په " احياءُ العلوم " کې ليکلي : کله چې د انسان سره مال ودولت نه وي نو په کار ده چې انسان صبر وکړي او د حرص نه ځان اوساتي . او که دانسان سره مال وي نو بيا په کار ده چې انسان د سخاوت نه کار واخلي ، په بهترين ځايونو کې يې خرچ کړي ، شُوميتا او بُخل نه ځان اوساتي ، او سخاوت وکړي ، ځکه سخا کول دانبياء کرامو اَخلاق دي او دا د کاميابۍ د اصولو نه يو اَهم اَصل دی . (۲)

د سخاوت اِجمالي فوايد :

۱ . سخاوت د انبياء کرامو او سلفو صالحينو طريقه او عادت دی .

۲ . د سخي سړي په وفات کيدو باندې زمکه او حفظه فرښتې دده د پاره د مغفرت اوبخنې دُعاګانې غواړي . ۳ . سخي سړی په دُنيا او آخرت دواړو کې محمود وي .

۴ . سخاوت کول د دُنيا نه په بې رغبتۍ او د آخرت سره په محبت دلالت کوي .

۵ . د سخي په مال او اولاد کې الله رب العزت برکت اچوي .

۶ . سخاوت کول د کامِل ايمان علامه ده .

۷ . د سخي د پاره د ډيرو اجرونو او جنت وعده شوی .

۸ . سخي سره الله رب العزت محبت کوي .

۹ . سخي سړی د جهنم نه لرې او جنت ته نزدې وي .

۱۰ . سخي سړي ته فرښتې په هره ورځ د برکت دُعا کوي او محبت ورسره کوي .

---

(۱) اخرجه ابونعيم في حلية الاولياء (۱ ۲۸) ، شعب الايمان ۷ ۴۳۹ ، نزهة الناظرين ص ۵۰۲ .

(۲) اِعْلَمْ أَنَّ الْمَالَ إِذَا كَانَ مَفْقُوْدًا فَيَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ حَالُ الْعَبْدِ الْقَنَاعَةَ ، وَقِلَّةَ الْحِرْصِ . وَإِنْ كَانَ مَوْجُوْدًا فَيَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ حَالُهُ الْإِيْثَارَ ، وَاصْطِنَاعَ الْمَعْرُوْفِ ، وَالتَّبَاعُدَ عَنِ الشُّحِّ وَالْبُخْلِ . فَإِنَّ السَّخَاءَ مِنْ أَخْلَاقِ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ . وَهُوَ أَصْلٌ مِنْ أُصُوْلِ النَّجَاةِ . احياء علوم الدين ۳ / ۲۴۳ ، نضرة النعيم ج۶ ص ۲۲۵۷ .

د بُخل مذمت او د دينه د بچ کيدو تاکيد

بُخل او شومتيا داسې بدترين او خراب صفت دی چې دا د انسان د تباهۍ سبب ګرځي ، ځکه بخيل سړې اکثر فرضي زکوة او نور مالي حقوق هم نه اداء کوي چې دا دانسان د هلاکت او تباهۍ ذريعه ده . دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې د بُخل نه د بچ کيدو تاکيد راغلی ، او هغه انسان کامياب ګڼل شوی څوک چې د بُخل نه بچ شو .

۱ . الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى . وَكَذَّبَ بِالْحُسْنٰى . فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرٰى . وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدّٰى ﴾ . (۱)

ترجمه : او چا چې بُخل وکړو ، بې پرواه شو ، او د ښکلي احکاماتو تکذيب يې وکړو نو ډير زر به مونږ دوی د سختۍ په طرف روان کړو ، او کله چې دا (کس) کندې ته اوغورځيږي (يعنی وفات شي) نو دده مال به د ده هيڅ په کار رانه شي .

۲ . بل ځای الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُوْقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او څوک چې د شومتيا د نفس نه بچ شي نو همدغه خلق کامياب دي .

۳ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلٰى أَنْ سَفَكُوْا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوْا مَحَارِمَهُمْ . (۳)

تاسو د بُخل نه ځان او ساتئ ، ځکه بُخل د تاسو نه مخکې خلق هلاک کړي ، دوی يې دېته جوړ کړه چې د بُخل په وجه هغوی د يو بل وينې توی کړی او حرام يې حلال وګڼل (ځکه بخيل سړې د چا هيڅ خبر ګيري نه کوي ، او نه ورسره تعلقات ساتي چې دده آخري نتيجه

---

(۱) سورة الليل آيت ۸ - ۱۱ .

(۲) سورة التغابن آيت ۱۶ .

(۳) رواه مسلم . مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك حديث ۷ . .

دُشمني شي ، او د دُشمنۍ په وجه به يا خُون رِيزي كوي ، حرام مال او حرامې خبرې به يا حلالې گڼي).

۴ . حضرت اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها فرمايي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : لَا تُوْكِيْ فَيُوْكَأُ عَلَيْكِ .

ذخيره مه كوه (يعنې تيلۍ خُوله مه بندوه ، بلكه فراخه خرچ او صدقه وركوه) ، ورنه په تا به هم د تيلۍ خُوله بنده كړې شي (يعنې په تا به هم د الله ﷻ د طرفه فراخه نعمتونه بند كړې شي).

په يو روايت كې داسې الفاظ دي ، نبي عليه السلام ورته فرمايي :

أَنْفِقِيْ . أَوِ انْفَحِيْ . أَوِ انْضَحِيْ ، وَلَا تُحْصِيْ فَيُحْصِيَ اللهُ عَلَيْكِ ، وَلَا تُوْعِيْ فَيُوْعِيَ اللهُ عَلَيْكِ . (۱)

(اې اَسماء !) ته ښه خرچ كوه او حساب مه كوه ، ورنه الله ﷻ به هم يا تاته په حساب دركوي ، او د فقيرانو نه په منع كولو سره مال مه جمع كوه ، ورنه الله ﷻ به هم د تا نه خپل نعمتونه منع كړي . (۲)

بُخل بَد ترين صفت دى

۱ . د ترمذي شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُؤْمِنٍ : اَلْبُخْلُ وَسُوْءُ الْخُلُقِ . (۳)

دوه خصلتونه (او خُويونه) داسې دي چې دا په (كامِل) مومِن كې نه جمع كيږي : يو بُخل ، او دويم بَد اخلاقي .

---

(۱) رواه البخاري ج۳ ص ۱۵۸ حديث ۲۵۹۱ باب هبة المراة لغير زوجها وعتقها ... ومسلم ج۲ ص ۷۱۳ حديث ۱۰۲۹ ، وابوداؤد ، الترغيب والترهيب ج ۲ ص ۲۷ الترغيب في الانفاق في وجوه الخير كرما ...

(۲) وَقَوْلُهُ : " لَاتُوْكِيْ " قَالَ الْخِطَابِيْ : لَاتَدَّخِرِيْ . وَالْإِيْكَاءُ : شَدّ رأْسِ الوعاء بِالوكاءِ . وَهو الرِّباطُ الَّذِيْ يربط به . يَقول : لَا تَمْنَعِيْ مَا فِيْ يدكِ فتنقطع مادة بركة الرّزق عنكِ . الترغيب والترهيب جز ۲ ص ۲۷ .

(۳) رواه الترمذي ، مشكوة باب الانفاق وكراهية الامساك الفصل الثاني حديث ۱۴ .

۲ . د ابوداوُد شریف حدیث دی ، نبي علیه السلام فرمایي :

شَرُّ مَا فِي الرَّجُلِ شُحٌّ هَالِعٌ وَجُبْنٌ خَالِعٌ . (۱)

په انسان کې چې کوم بَدترین صفتونه دي په هغې کې د ټولو نه بدتر دوه (۲) صفتونه دي : یو اِنتهایي درجې بُخل ، او دویم اِنتهایي درجې بُزدلي (او نامَردي) .

بخیل به جنت ته نه داخلیږي

د ترمذي شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌّ ، وَلَا بَخِيْلٌ ، وَلَا مَنَّانٌ . (۲)

جنت ته به نه مکّار سړي داخلیږي ، نه بخیل ، او نه هغه کس چې د اِحسان کولو نه روستو په خلقو اِحسان زباتوي .

فایده : یعنی څوک چې دومره بخیل وي چې د بخل په وجه د مال فرضي حقوق نه اداء کوي نو دا کس به اِبتداءً جنت ته نه داخلیږي ، بلکه اول به په جهنم کې ددې بُخل او کنجُوسی سزا څکي .

په بُخل کولو کې د انسان خپل نقصان دی

کله چې یو انسان بُخل او شُومتیا کوي یعنی نه خو د مال فرضي حقوق اداء کوي ، او نه نور د خَیر په کارونو کې خپل مال خرچ کوي نو ددې نقصان انسان ته په خپله رسي ، او دا په حقیقت کې انسان د خپل ځان سره بُخل کوي ، یعنی خپل ځان د دائمي نعمتونو او نفعو نه محرومه کوي . الله رب العزت فرمایي :

﴿ هَا أَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِي سَبِيْلِ اللهِ . فَمِنْكُمْ مَنْ يَبْخَلُ . وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ . وَاللهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ... ﴾ . (۳)

---

(۱) رواه ابوداؤد ، مشکوة باب الانفاق وکراهیة الامساک الفصل الثاني حدیث ۱٦ .

(۲) رواه الترمذي ، مشکوة باب الانفاق وکراهیة الامساک الفصل الثاني حدیث ۱۵

(۳) سورة محمد آیت ۳۸ .

ترجمه : واورئ ، تاسو خو هغه خلق يئ چې کله تاسو ر۹اُوبللې شی چې د الله ﷻ په لاره کې خرج وکړئ ، پس ځنې له تاسو نه هغه خلق دي چې بُخل (شُومتيا) کوي ، او څوک چې بُخل کوي نو بيشکه هغه د خپل ځان سره بُخل کوي ، او الله تعالی غني دی او تاسو محتاج يی .

د بُخل کوونکي مثال

د خَير په کارونو کې دبُخل کولو مثال داسې دی لکه يو حکيم مريض ته څه نُسخه وليکي، او ورته ووايي چې : په دې نُسخه باندې سل روپۍ خرچه راځي ، ته دا سل روپۍ خرچ کړه او ځان له پرې دوايي واخله ، ځکه په دې کې ستا فايده ده . او دا مريض ووايي : زه خو سل روپۍ نه خرچ کوم . نو حکيم ورته ووايي : وروه ! ته چې سل روپۍ نه خرچ کوی او بُخل کوی نو په دې کې خو ستا نقصان دی ، د خپل ځان سره بُخل کوی ، زما خو په کې هيڅ نقصان نشته .

دغه شان الله ﷻ او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم هم مسلمانانو ته د زکوة او نورو د خَير په کارونو کې د مال خرچ ورکولو ترغيب ورکړی ، او دايې ورته هم واضحه کړی چې څوک بُخل کوي نو د خپل ځان سره بُخل کوي ، يعنی خپل ځان د اَبدي نعمتونو او فوايدو نه محرومه کوي . (۱)

(۱) خطبات حکيم الامت ج۸ ص ۳۸۸ .

....

د خپل ځان په نسبت نورو ته ترجيح وركول

په صحابه كرامو كې د ايثار صفت په كامله طريقې سره موجود ؤ ، او ايثار ديته وايي چې د يو سړي خوراک ، څكاک يا مال او دولت ته سخت ضرورت وي خو دی يا هم د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح وركړي ، او دا ايثار د سخاوت اعلى قسم دی .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ . (١)

ترجمه : او دوی نورو ته په خپل ځان باندې ترجيح وركوي اګر په دوی باندې په خپله وږه (او سختي) وي ، او څوک چې د خپل نفس د شومتيا (او حرص) نه بچ اُوساتلې شو نو همدغه خلق كامياب دي .

شانِ نزول : د يو انصاري صحابي د ايثار واقعه

ددې آيت شانِ نزول امام بخاري رحمه الله داسې ذكر كړی :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَبَعَثَ إِلَى نِسَائِهِ . فَقُلْنَ : مَا مَعَنَا إِلَّا الْمَاءُ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " مَنْ يَضُمُّ أَوْ يُضِيفُ هٰذَا ؟ " فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ : أَنَا . فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى امْرَأَتِهِ . فَقَالَ : أَكْرِمِي ضَيْفَ رَسُولِ اللهِ ﷺ . فَقَالَتْ : مَا عِنْدَنَا إِلَّا قُوتُ صِبْيَانِي . فَقَالَ : هَيِّئِي طَعَامَكِ . وَأَصْبِحِي سِرَاجَكِ وَنَوِّمِي صِبْيَانَكِ إِذَا أَرَادُوا عَشَاءً . فَهَيَّأَتْ طَعَامَهَا . وَأَصْبَحَتْ سِرَاجَهَا . وَنَوَّمَتْ صِبْيَانَهَا . ثُمَّ قَامَتْ كَأَنَّهَا تُصْلِحُ سِرَاجَهَا فَأَطْفَأَتْهُ . فَجَعَلَا يُرِيَانِهِ أَنَّهُمَا يَأْكُلَانِ . فَبَاتَا طَاوِيَيْنِ . فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ : " ضَحِكَ اللهُ اللَّيْلَةَ . أَوْ عَجِبَ مِنْ فِعَالِكُمَا " فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾ . (٢)

---

(١) سورة الحشر آيت ٩ .

(٢) صحيح البخاري باب قول الله : ﴿ ويؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة ﴾ جز ٥ ص ٣٤ حديث ٣٧٩٨ .

حضرت ابوهريرة رضى الله عنه فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته يو کس راغی (د دوی ميلمه شو) ، پيغمبر عليه السلام خپلو بيبيانو کره د خوراک د پاره جواب وروليږل ، د هغوی ټولو د طرفه دا جواب راغی چې مونږ سره خو د اُوبو نه علاوه بل هيڅ شی نشته ، نبي عليه السلام په مجلس کې ناستو صحابه کرامو ته وفرمايل : نن شپه به ددې ميلمه ميلمستيا څوک وکړي ؟ د انصارو يو کس پاڅيد ، او وې ويل : زه به يې ميلمستيا وکړم ، د ځان سره يې کورته بوتلو ، خپلې بي بي ته يې وويل : د نبي عليه السلام ددې ميلمه اِکرام وکړه ، هغې ورته وويل : د مونږ سره خو صرف دومره خوراک دی چې اِيله د ماشومانو به اُوشي (ددينه زيات نشته) ، دې صحابي ورته وويل : ته خوراک تيار کړه ، ډيوه اُولږوه ، او چې کله د ډوډۍ وخت شي نو ماشومان په څه طريقه اُوده کړه . نو دې خوراک تيار کړو ، ډيوه يې بَله کړه ، خپل ماشومان يې اُوده کړه ، بيا د ډيوې د صحيح کول په بهَانه پاڅيده نو ډيوه يې مړه کړه ، دې ښځې او خاوند ميلمه ته په دې تياره کې دا خوده چې ګني مونږ هم درسره خوراک کوو (حالانکه دوی ورسره هسې ناست وو ، خوراک يې ورسره نه کولو ، ددې دپاره چې دا ميلمه موړ شي) ، نو دوی دواړه اُوږي اُوده شو . کله چې سهر دا صحابي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل: بيګاه شپه ستاسو د دې کار نه الله ﷻ ډير زيات خوشحاله شو ، او الله ﷻ دا آيت نازل کړو: ترجمه : او دوی نورو ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکوي اګر که په دوی باندې په خپله وَلږه (او سختي) وي . (۱)

---

(۱) په مسلم شريف کې دا واقعه په دې الفاظو ذکر ده : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : إِنِّي مَجْهُوْدٌ . فَأَرْسَلَ إِلَى بَعْضِ نِسَائِهِ . فَقَالَتْ : وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِيْ إِلَّا مَاءٌ . ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُخْرَى . فَقَالَتْ مِثْلَ ذٰلِكَ . حَتّٰى قُلْنَ كُلُّهُنَّ مِثْلَ ذٰلِكَ : لَا . وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِيْ إِلَّا مَاءٌ . فَقَالَ: " مَنْ يُضِيْفُ هٰذَا اللَّيْلَةَ . رَحِمَهُ اللهُ ؟ " فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ . فَقَالَ : أَنَا يَارَسُوْلَ اللهِ . فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى رَحْلِهِ . فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ : هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ ؟ قَالَتْ : لَا . إِلَّا قُوْتَ صِبْيَانِيْ . قَالَ : فَعَلِّلِيْهِمْ بِشَيْءٍ . فَإِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا فَأَطْفِئِي السِّرَاجَ وَأَرِيْهِ أَنَّا نَأْكُلُ . فَإِذَا أَهْوَى لِيَأْكُلَ فَقُوْمِيْ إِلَى السِّرَاجِ حَتّٰى تُطْفِئِيْهِ . قَالَ : فَقَعَدُوْا وَأَكَلَ الضَّيْفُ . فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : قَدْ عَجِبَ اللهُ مِنْ صَنِيْعِكُمَا بِضَيْفِكُمَا اللَّيْلَةَ . البخاري ، الفتح ۷ (۳۷۹۸) ، ومسلم ج۳ ص ۱۶۲۴ حديث ۲۰۵۴ واللفظ له . نضرة النعيم ج۴ ص ۱۵۱۰ الجود .

فايده : اِسلام مسلمانانو ته په هره موقع باندې د اِيثار او همدردۍ حکم کوي ، دغه وجه ده چې په اِسلامي تاريخ کې د اِيثار او همدردۍ داسې نا آشنا او د عبرک نه ډک واقعات ملاويږي چې تر قيامته پورې د انسانانو د پاره يو لوي عبرت دی . ددې په باره کې درته يو څو بهترين او معتمد واقعات نقل کوم :

۱. د شهادت په وخت د صحابه کرامو د اِيثار يو نایاب مثال

امام غزالي رحمه الله په ''احياء العلوم'' کې نقل کړي : يو صحابي فرمايي چې د يرموک په جهاد کې زه د خپل تره ځوي په تلاش کې اُووتم ، او د ما سره څه اندازه اُوبه هم وې ، ما د ځان سره وويل : که چيرته هغه ته د اُوبو څکلو ضرورت وي نو اُوبه به ورباندې اُوڅکم ، او په مخ به ورله څه واچوم ، (ځکه زخمي ته د اُوبو سخت ضرورت وي) . ناڅاپه ما هغه په يو ځای کې په داسې حالت کې پروت وليده چې زخمي شوې ؤ ، او د زنکدن آخري حالت يې ؤ ، ما ورته وويل : اُوبه درباندې اُوڅکم ؟ هغه راته په اِشاره وويل : هو ، (اُوبه راوړه) . کله چې ما هغه له اُوبه وروړې ، نو د هغه سره يو بل کس نزدې پروت ؤ ، هغه هم زخمي شوې ؤ ، د هغه هم د زنکدن آخري حالت ؤ ، هغه يو آه وکړو . کله چې زما د تره ځوي د هغه آواز واوريده نو ما ته يې اِشاره وکړه چې اُوبه هغه له ويسه . کله چې زه هغه ته ورغلم نو هغه هشام بن العاص رضي الله عنه ؤ ، ما هغه ته وويل : اُوبه درباندې اُوڅکم ؟ په دې کې يو دريم کس هم زخمي ؤ ، د هغه هم د شهادت آخري وخت ؤ ، هغه هم يو آه وکړو ، کله چې هشام رضي الله عنه د هغه دا آواز واوريده نو ما ته يې اِشاره وکړه چې اُوبه هغه له ويسه ، کله چې ما دې دريم کس له اُوبه ورورې نو هغه وفات شوې ؤ ، کله چې واپس هشام بن العاص رضي الله عنه ته راغلم نو دې هم وفات شوې ؤ ، او کله چې زه خپل د تره ځوي ته راغلم نو هغه هم وفات شوې ؤ . (۱)

---

(۱) قَالَ حُذَيفةُ العدوي : إنطلقتُ يومَ اليَرْمُوكِ أَطْلُبُ ابن عمّي لي ، ومَعِيَ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ ، وَأَنَا أقولُ : إنْ كَانَ بِهِ رمق سَقَيْتُهُ ومسحتُ به وجهه . فَإِذَا أنَا به فَقُلْتُ : أَسْقِيك ؟ فَأَشار إليّ أنْ نعم ، فإذا رجلٌ يقولُ : آه ... فأشارَ ابنُ عمّي إليّ أنْ انطلق به إليه . فجئتُه فإذا هو هشامُ بنُ العاص فقلتُ : أسقيك ؟ فَسَمِعَ به آخر ، فقال : آه ... فأشار هشامُ انطلق به إليه . فجئتُه . فإذا هو قد مات . فرجعتُ إلى هشام فإذا هو قد مَاتَ . فرجعتُ إلى ابن عمّي فإذا هو قد مَاتَ . رحمة الله عليهم أجمعين . احياء العلوم ج۳ ص ۳۲۶ كتاب ذم البخل و ذم حب المال بيان الايثار وفضله ، حيوة الصحابة .

فايده : ديته ايثار او همدردي وايي چې د مرګ په وخت يې هم د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح ورکړه. الله ﷻ دې په مونږ کې هم داسې د ايثار او قربانۍ جذبه پيدا کړي. آمين

۲. د چيلۍ سَر په اووه (۷) کورونو ګرځيدل

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمايي :

أُهْدِيَ لِرَجُلٍ رَأْسُ شَاةٍ، فَقَالَ: إِنَّ أَخِي وَعِيَالَهُ أَحْوَجُ مِنَّا إِلَى هٰذَا، فَبَعَثَ بِهِ إِلَيْهِ، فَلَمْ يَزَلْ يَبْعَثُ بِهِ وَاحِدٌ إِلَى آخَرَ حَتَّى رَجَعَتْ إِلَى الأَوَّلِ بَعْدَ سَبْعَةٍ. (۱)

يو صحابي ته چا د چيلۍ سَر په هديه کې ورکړو ، هغه د ځان سره وويل چې زما فلانی مسلمان ورور او د هغه بچي زما په نسبت د دې سَر ډير محتاج دي نو ده هغه ته وليږلو ، هغه هم دا ګمان وکړو چې زما په نسبت دا بل کس ډير محتاج دی نو هغه ته يې وليږل ، دغه شان به هر صحابي بل کره ليږلو ، او د خپل ځان په نسبت به يې بل ته ترجيح ورکوله ، تر دې پورې چې د اووه (۷) کورونو نه روستو دا سَر هماغه اول صحابي کره واپس راغی ، (يعنی هغه آخري کس هم په دې اول کس باندې دا ګمان کړې ؤ چې دا د مانه ډير محتاج دی نو ده ته يې راوليږل).

فايده : دا د صحابه کرامو سخاوت او اِخلاص دی چې په خپله به يې ورته ډير ضرورت ؤ خو بيا به يې هم بل ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکوله.

۳. د حضرت عائشې رضي الله عنها اِيثار

امام مالک رحمه الله نقل کړي چې حضرت عائشې رضی الله عنها ته يو مسکين راغی ، او سوال يې ورنه وکړو ، حالانکه د حضرت عائشې رضی الله عنه روژه وه او د دې په کور کې صرف يوه ډوډۍ (چپاتې) وه (د دې نه علاوه ورسره بل هيڅ شی د خوراک نه ؤ).

دې خپلې وينځې ته وويل : أَعْطِيهِ إِيَّاهُ. دا ډوډۍ دې فقير له ورکړه.

---

(۱) اخرجه ابن جرير كذا في الكنز، احياء العلوم ج۳ ص ۳۴۵ ، تنبيه الغافلين ، الفتح ۷/ ۱۲۰ ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ج۸ ص ۳۲۳۲ .

هغې ورته وويل : د تاسره خو ددينه علاوه بل داسې شی نشته چې ته په هغې روژه ماته کړې (صرف همدا يوه روټۍ ده ، نو دا څنګه دې فقير له ورکړم ؟)

حضرت عائشې رضی الله عنها ورته بيا وفرمايل : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ. دا ډوډۍ دې فقير له ورکړه. نو دې وينځې هغه مسکين ته دا ډوډۍ ورکړه.

کله چې ماښام شو نو يو کور واله يا يو سړي دې ته هديه راوليږله چې د چيلۍ پخ شوې غوښه او روټۍ وغيره وو. دا وينځه وايي چې زه حضرت عائشې رضی الله عنها راأوغوښتم او راته وې ويل :

كُلِيْ مِنْ هٰذَا . هٰذَا خَيْرٌ مِنْ قُرْصِكِ. (۱)

دا أوخوره ، دا ستا د ککوري (چپاتي روټۍ) نه ډير بهتر دی.

۴. د امامِ واقدي رحمه الله ايثار

خطيب بغدادي رحمه الله په خپل مشهور کتاب "تاريخ بغداد" کې د امام واقدي رحمه الله په حالاتو کې يوه واقعه رانقل کړی :

امامِ واقدي رحمه الله وايي چې يو کرت په ما باندې سخت غُربت او مالي مشکلات راغله ، په کور کې هيڅ شی نهٔ ؤ ، بي بي راته وويل : اختر راروان دی مونږ خو به په وَلږه او تنده باندې صبر وکړو خودا ماشومان بچي مو صبر نشي کولی ، بل دا چې په اختر کې به نور د ګاونډ ماشومان نوې جامې اغوندي خوراکونه به کوي ، که چيرته زمونږ د ماشومانو همدا زړې شليدلې جامې وي او د خوراک هم څه نه وي نو صبر به اونه کړې شي ، نو ته د چا نه څه روپۍ قرض راواخله چې دې ماشومانو له پرې څه راوړو.

(۱) رَوَى مَالِكٌ ـ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى ـ عَنْ مَوْلَاةٍ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ مِسْكِيْنًا سَأَلَ عَائِشَةَ وَهِيَ صَائِمَةٌ وَلَيْسَ فِيْ بَيْتِهَا إِلَّا رَغِيْفٌ . فَقَالَتْ لِمَوْلَاةٍ لَهَا : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ . فَقَالَتْ : لَيْسَ لَكِ مَا تُفْطِرِيْنَ عَلَيْهِ . فَقَالَتْ : أَعْطِيْهِ إِيَّاهُ . فَفَعَلْتُ . فَلَمَّا أَمْسَيْنَا أَهْدَى لَهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَوْ إِنْسَانٌ ـ مَا كَانَ يُهْدِيْ لَهَا ـ شَاةً وَكَفَنَهَا فَدَعَتْنِيْ عَائِشَةُ . فَقَالَتْ : كُلِيْ مِنْ هٰذَا . هٰذَا خَيْرٌ مِنْ قُرْصِكِ. اخرجه مالک فی الموطاء ج ۲ ص ۹۹۷ حديث ٥ ، جامع الاصول لابن الاثير (٦/ ۴٥۲) ، نضرة النعيم ج ٦ ص ۲۲٥٥ السخاء.

امام واقدي وايي چې زما دوه دوستان وو ، يو تاجر دوست ، او بل هاشمي دوست ، زمونږ د درې واړو سره په خپل مينځ کې پخه دوستانه وه .

نو زه دې تاجِر دوست ته ورغلم چې قرض ورنه واخلم ، کله چې هغه زه وليدم نو راباندې پوهه شو ، کورته لاړو ، د دولس سوه (۱۲۰۰) درهمو يوه تيلۍ يې را اُوويسته ، او ماله يې راکړه.

کله چې زه کور ته راغلم ، او څنګه کيناستم ، نو زما هغه هاشمي دوست ماله راغی ، د هغه په کور کې هم حَد درجه غُربت او فقيري وه ، هغه هم د مانه د قرض غوښتلو د پاره راغی ، زه کورته راغلم د خپلې بي بي سره مې مشوره وکړه چې په ده باندې هم سخت تکليف دی نيم درهم به ده ته ورکړو او دا نيم به مونږ اِستعمال کړو نو د دواړو کار به روان شي .

بي بي راته وويل : دا خو عجيبه خبره ده ، کله چې ته يو عام دوست ته ورغلی نو هغه د تاسره دومره عظيمه همدردي وکړه چې دولس سوه درهم يې درکړه ، نو ته اوس دده سره څنګه دا نيموی ؟ بلکه بهترين اِخلاص دادی چې ته ده ته دا غونډه تيلۍ يعنی ټول درهم ورکړی ، خير ، مونږ به صبر وکړو خو ته ده ته دا ټول درهم ورکړه . امام واقدي رحمه الله وايي چې ما دې هاشمي ملګري ته دا تيلۍ هماغه شان روغه ورکړه چې لا تر اُوسه مې کلاؤ کړې هم نه وه .

کله چې دا هاشمي ملګرې خپل کورته لاړ ، نو دې طرف ته زما دې تاجِر ملګري سره هم نور هيڅ شی نه ؤ ، بلکه صرف همدا دولس سوه درهم ورسره وو او هغه يې هم ماته راکړي وو ، نو دې تاجِر ملګري سوچ وکړو چې اختر راروان دی زه به ددې هاشمي دوست نه يو څو درهمه قرض واخلم چې دا اخترورباندې تير کړو . کله چې دې د هاشمي دوست کورته ورغی ، او د هغه نه يې څه قرض درهم اوغوښت نو هغه ورته هماغه د درهمو تيلۍ رااُوويسته کومه يې چې ما نه وړې وه ، (چونکه ماته خو دا تيلۍ دې تاجر دوست راکړې وه) نو کله چې دې تاجر دوست خپله تيلۍ د هغه سره وليده نو ډير حيران شو ، واپس راغی او د مانه يې پوښتنه وکړه ، ما ورته ټوله قصه وکړه (چې کله ما د تا نه دا درهم راوړه نو ماته دا هاشمي ملګرې راغی نو ما هغه ته دا درهم ورکړه) ، په دې سره خبره راښکاره شوه ، چې هريو کس بل ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکړه .

کله چې ددې د اِخلاص نه ډکې واقعې خبر وزیر خالد ته ورسیده نو هغه لس زره دیناره راوړه، او امام واقدي ته یې وویل: په دې کې دوه زره دیناره ستا شو، دوه زره ستا د تاجر دوست شو، دوه زره ستا د هاشمي دوست شو، او څلور زره دیناره ستا د بي بي شو، ځکه هغه په ټولو کې زیاته قابلِ قدر او د عزت لائقه ده، ځکه هغې باوجود د سختۍ نه واقدي ته ویلي وو چې ټول درهم هاشمي دوست ته ورکړه، مونږ به ګزاره وکړو.(۱)

۵. د یو غلام اِیثار

ابن قدامه رحمه الله وایي چې عبدالله بن جعفر د خپلې زمکې د لیدلو د پاره ووت، په لاره کې یې د یو قوم په باغ باندې تیریدل اوشو، دې په دې باغ کې د دَمې د پاره کیناست، په باغ کې یو حبشي غلام ؤ، کار یې کولو، په دې وخت کې دې غلام ته خپل روزمره خوراک راغی، کله چې غلام روټۍ ته کیناست نو ناڅاپه دې باغ ته یو سپې رانـنوت، او د غلام مخامخ کیناست، غلام دې سپي ته یوه روټۍ وَرواچوله، سپي هغه اُوخوړه، بیا یې دویمه ورواچوله او بیا یې دریمه ورواچوله، تر دې چې ټوله روټۍ ختمه شوه، سپي درې واړه روټۍ اُوخوړې او لاړ.

عبدالله بن جعفر دې غلام ته کته، پوښتنه یې ورنه وکړه: تاته په غونډه ورځ کې څومره خوراک راځي؟ هغه ورته وویل: داتا چې کومه روټۍ ولیده دا زما د ټولې ورځې خوراک ؤ، ده ورته په حیرانتیا سره وویل: نو بیا خو تا ټوله سپي ته واچوله، دا ولې؟ هغه ورته وویل: خبره داده چې په دې علاقه کې سپي نشته، دا سپې چیرته د لرې علاقې نه د وګړې د وجې د خوراک پسې راغلی ؤ، نو زه دا نه خوښوم چې زه دې موړ یم او دا سپې دې وږی وي، نو ځکه مې ټوله روټۍ دې سپي ته واچوله.

عبدالله بن جعفر ورنه پوښتنه وکړه: ته به نن څه اُوخورې؟ د تاسره خو نور هیڅ شی نشته. هغه ورته وویل: ولږه به برداشت کړم.

عبدالله بن جعفر (د ځان سره) وویل: خلق ما د ډیر سخاوت په وجه ملامته کوي خو دا حبشي غلام د ما نه هم ډیر سخي دی. ده ته ددې غلام دا ایثار او همدردي دومره خوښه

(۱) تاریخ بغداد ج۳ ص ۲، کتابونو کې درسګاه ص ۸۵، وهکذا في نزهة الناظرین في الاخبار والآثار المرویة عن الانبیاء والصالحین ص ۵۰۵ الباب الثالث في مدح الایثار.

شوه چې دې لاړو ، د غلام د مالک نه يې دا باغ او دا غلام دواړه واخيست ، غلام يې آزاد کړو ، او دا باغ يې هم ده ته هبه کړو .

(غلام دده شکريه اداء کړه ، دُعاګانې يې ورته وکړې ، او هغه هم دا باغ صدقه کړو ، او ددې ځای نه لاړو) . (۱)

٦ . د فقيرانو د يو جَماعت اِيثار

امام غزالي رحمه الله نقل کړي چې ابوالحسن انطاکي رحمه الله وايي چې ماته څه د پاسه ديرش (۳۰) فقيران راجمع شو ، کوم چې د ''ريّ'' علاقې سره نزدې په يو کلي کې وو ، د دوی سره دومره ډوډۍ نه وې چې ټولو په مړه خيټه خوړلې وی ، نو دوی خپلې ټولې روټۍ راجمع کړې ، ماتې ماتې يې کړې ، په دسترخوان يې خوَرې کړې ، ټول په دسترخوان د خوراک دپاره کيناسته ، او ډيوه يې مړه کړه .

کله چې د دسترخوان نه پاڅيده نو وې کته چې ډوډۍ هماغه شان په دسترخوان باندې پرتې وی ، هيچا هم ورنه هيڅ نه وو خوړلي ، ځکه په دوی کې هر کس بل ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکوله ، او دا يې غوښته چې زما په ځای يې دا بل ملګرې اوخوري . (۲)

---

(۱) قَالَ ابْنُ قُدَامَةَ رَحِمَهُ اللهُ : خَرَجَ عَبْدُاللهِ بْنُ جَعْفَرٍ إِلَى ضَيْعَةٍ لَهُ . فَنَزَلَ عَلَى نَخْلٍ لِقَوْمٍ فِيهَا غُلَامٌ أَسْوَدُ يَعْمَلُ فِيهَا . إِذْ أَتَى الْغُلَامَ بِقُوْتِهِ . فَدَخَلَ الْحَائِطَ كَلْبٌ . وَدَنَا مِنَ الْغُلَامِ . فَرَمَى إِلَيْهِ قُرْصًا فَأَكَلَهُ . ثُمَّ رَمَى إِلَيْهِ قُرْصًا آخر فَأَكَلَهُ . ثُمَّ رَمَى إِلَيْهِ ثَالِثًا فَأَكَلَهُ . وَعَبْدُاللهِ يَنْظُرُ إِلَيْهِ . فَقَالَ : يَا غُلَامُ ! كَمْ قُوْتُكَ كُلَّ يَوْمٍ ؟ قَالَ : مَا رَأَيْتَ . قَالَ : فَلِمَ آثَرْتَ بِهِ هَذَا الْكَلْبَ ؟ قَالَ : إِنَّ أَرْضَنَا مَا هِيَ بِأَرْضِ كِلَابٍ . وَأَظُنُّ أَنَّ هَذَا الْكَلْبَ قَدْ جَاءَ مِنْ مَسَافَةٍ بَعِيدَةٍ جَائِعًا فَكَرِهْتُ رَدَّهُ (وَأَنْ أشبعَ وهو جائعٌ) . قَالَ : فَمَا أَنْتَ صَانِعٌ الْيَوْمَ ؟ قَالَ : أَطْوِي يَوْمِيْ هٰذَا . فَقَالَ : عَبْدُاللهِ بْنُ جَعْفَرٍ : أُلَامُ عَلَى السَّخَاءِ وَإِنَّ هٰذَا الْغُلَامَ لَأَسْخَى مِنِّيْ . فَاشْتَرَى الْحَائِطَ وَالْغُلَامَ وَمَا فِيْهِ مِنَ الْآلَاتِ . فَأَعْتَقَ الْغُلَامَ وَوَهَبَهُ لَهُ . المنتقى من مكارم الاخلاق للخرالطي ص ۳۰٦ ، نضرة النعيم ج٦ ص ۲۲۵۷ السخاء . احياء العلوم ج۳ ص ۳۲۵ کتاب ذم البخل و ذم حب المال .

(۲) وَعَنْ أَبِي الْحَسَنِ الْأَنطاكي : أَنَّهُ اِجْتَمَعَ عِنْدَهُ نِيفٌ وَثَلَاثُوْنَ نَفْسًا — وَكَانُوْا فِي قَرْيَةٍ بِقُرْبِ الرَّيِّ — وَلَهُمْ أَرْغِفَةٌ مَعْدُوْدَةٌ لَمْ تشبعْ جَمِيْعَهُمْ . فَكَسَرُوا الرُّغْفَانَ وَأَطْفَأُوْا السِّرَاجَ وَجَلَسُوْا لِلطَّعَامِ . فَلَمَّا رفع فَإِذَا الطَّعَامُ بِحَالِهِ وَلَمْ يَأْكُلْ أَحَدٌ مِنْهُ شَيْئًا . إِيْثَارًا لِصَاحِبِهِ عَلَى نَفْسِهِ . احياء العلوم ج۳ ص ۳۲۵ کتاب ذم البخل و ذم حب المال . وهکذا في نضرة النعيم ج٦ ص ۲۲۵۷ السخاء .

۷ . د بشر بن الحارث په مُستعار لباس کې وفات کيدل

د بشر بن الحارث په باره کې راځي چې دې د مرض الموت په حالت کې وُ ، يو فقير ورته راغی ، خپل حاجت يې ورته بيان کړو ، دده سره بل هيڅ شی نه وُ نو خپل قميص يې راوويست ، دې فقير ته يې ورکړو ، او په خپله يې د بل چا نه قميص اُوغوښت ، هغه يې راغوست ، او په همدې مُستعار قميص کې وفات شو .(۱)

(۱) وَقَالَ عَبَّاسُ ابْنُ دهقانٍ : مَا خَرَجَ أَحَدٌ مِنَ الدُّنْيَا كَمَا دَخَلَهَا إِلَّا بِشْرُ بْنُ الحَارِثِ فَإِنَّهُ أَتَاهُ رَجُلٌ فِي مَرَضِهِ فَشَكَاهُ إِلَيْهِ الحَاجَةَ فَنَزَعَ قَمِيْصَهُ وَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ . وَاسْتَعَارَ ثَوْبًا فَمَاتَ فِيْهِ . احياء العلوم ج۳ ص ۲۴۶ كتاب ذمّ البخل وذمّ حبّ المال .

په سخاوت او صدقې ورکولو سره د انبياء کرامو او نيکانو خلقو تابعداري راځي

د صدقې او سخاوت يوه فايده دا هم ده چې په دې سره د انبياء کرامو او نيکانو خلقو تابعداري راځي ، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې څنګه اُمت ته د صدقې ورکولو ترغيب ورکړی نو دغه شان يې په خپله هم صدقه ورکوله ، او د فقيرانو ، مسکينانو او ضرورت مندو حاجتونه يې پوره کول .

دغه رنګې د صحابه کرامو حالت هم وُ چې په هره موقع د مالي امداد ضرورت پيدا شوی نو دوی په اخلاص سره هلته خپل مال لږولی ، او د پوره سخاوت نه يې کار اخيستی .

راځم چې د سردارِ دوجهان محمد رسولُ الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د صحابه کرامو څه نمونه په دې باب کې ستاسو د وړاندې ذکر کړم :

د رسول الله ﷺ سخاوت او صدقه :

۱ . د بخاري او مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي :

مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ : لَا . (۱)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه چې کله هم سوال شوی نو ده نه دی رَد کړی (او هيچا ته يې د نامراده کولو دپاره " لَا " نه ده ويلی) .

۲ . د بخاري شريف حديث دی ، نبي عليه السلام فرمايي :

لَوْ كَانَ لِيْ مِثْلُ أُحُدٍ ذَهَبًا لَسَرَّنِيْ أَنْ لَا يَمُرَّ عَلَيَّ ثَلَاثُ لَيَالٍ وَعِنْدِيْ مِنْهُ شَيْءٌ إِلَّا شَيْءٌ أَرْصُدُهُ لِدَيْنٍ . (۲)

که چيرته د ما سره د اُحد غر برابر سره زَر وی نو زما دا خوښه ده چې د درې (۳) شپو تيريدو نه مخکې مخکې زه دا ټول صدقه کړم ، او د ما سره د دينه هيڅ شی باقي پاتې نه

(۱) البخاري ، الفتح ۱۰ (۶۰۳۴) ، ومسلم (۲۳۱۱) واللفظ له ، احمد (۳ / ۳۰۷) ، نضرة النّعيم ج۴ ص۱۵۰۸ الجود .

شي، البته دومره مال راسره پاتې شي چې زه هغه د قرض اداء کولو د پاره کېږدم (يعنی چې په هغې قرض اداء کړم).

فايده: په دې حديث کې رسول الله ﷺ وفرمايل: که د ما سره د اُحد د غره په مقدار سره زَر وي نو زما دا خوښه ده چې په درې (۳) ورځو کې دننه دننه دا ټول صدقه کړم، او هيڅ شی د ځان سره پرې نه ږدم، البته دومره د ځان سره پرېږدم چې خپل قرض پرې خلاص کړم، ځکه قرض اداء کول د صدقې نه مخکې دي.

۳. د مسلم شريف حديث دی، حضرت انس رضی الله عنه فرمايي:

مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْإِسْلَامِ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ، وَلَقَدْ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَأَعْطَاهُ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ، فَرَجَعَ إِلَى قَوْمِهِ، فَقَالَ: يَا قَوْمِ! أَسْلِمُوْا فَإِنَّ مُحَمَّدًا يُعْطِيْ عَطَاءً مَنْ لَا يَخْشَى الْفَقْرَ. (۱)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه چې کله هم د اسلام په نوم (يعنی په اِسلام کې د داخليدو او په دې باندې د مضبوط پاتې کيدو په نوم) څه سوال شوی نو هغه سائِل ته به يې ورکړه کوله، يو کس ورته راغلو نو نبي عليه السلام ورته د دوه غرونو په مينځ کې ګډې ورکړې (يعنی دومره ګډې او چيلۍ يې ورکړې چې د دوه غرونو په مينځ کې وادي يې ډکوله)، کله چې دا کس خپل قوم ته واپس لاړ نو هغوی ته يې ووېل: اې زما قومه! اِسلام راوړئ، ځکه محمد صلی الله عليه وسلم دومره ورکړه کوي چې د غريبۍ نه نه وېرېږي.

په يو روايت کې دا هم دي چې بعضې وخت به يو سړی د نبي عليه السلام په خدمت کې صرف د دُنيا حاصلولو د پاره راغی ليکن (د رسول الله ﷺ د صُحبت او ښه تربيت په وجه به) د ماښام نه مخکې مخکې به دده په زړه کې ايمان داسې مضبوط شوې وُ چې د حضور صلی الله عليه وسلم دين به دده په نظر کې د دُنيا او د دُنيا د ټولو شيانو نه ډېر محبوب او خوږ وُ. (۲)

(۱) رواه مسلم، رياض الصالحين باب الكرم والجود والانفاق في وجوه الخير ... حديث ۵۵۰.

(۲) اخرجه احمد.

۴. **يو صحابي ته څادر ورکول** : د بخاري شريف حديث دی چې يوې زَنانه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ګل کړې بهترين څادر راوړو ، او ورته وې ويل : اې د الله ﷻ رسوله ﷺ ! ما دا څادر په خپلو لاسونو جوړ کړی چې تاسو ته يې درکړم (او تاسو يې استعمال کړی) نبي عليه السلام دا څادر قبول کړو ځکه د پيغمبر عليه السلام ورته ضرورت هم ؤ ، صحابه کرام فرمايي چې نبي عليه السلام مونږ ته راووت ، او د دې څادر نه يې اِزار (لنګ) وهلې ؤ ، په صحابه کرامو کې يو کس ورته وويل : اې د الله رسوله ! دا څومره بهترين څادر دی دا ماته راکړئ ، نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ډيره ښه ده . رسول الله صلی الله عليه وسلم په مجلس کې څه وخت ناست ؤ بيا يې د ننه تشريف وې وړو ، بل لنګ يې واچول ، دا څادر يې راټول کړو او دې صحابي ته يې راوليږل . نورو صحابه کرامو دې صحابي ته وويل : تا دا ښه کار اونه کړو ، ځکه د نبي عليه السلام دې څادر ته ضرورت ؤ ، هغه اغوستې ؤ ، او تا ورنه اُوغوښت ، حالانکه تا ته معلومه ده چې رسول الله ﷺ سوال کوونکې تَش نه واپس کوي .

هغه ورته وويل : زما دې په الله ﷻ قسَم وي چې ما دا څادر ورنه د دې د پاره نه دې غوښتی چې ګني زه يې واغوندم ، بلکه دا مې ورنه د دې د پاره اوغوښت چې کله زه وفات شم نو دا به زما کفن شي . حضرت سهل رضي الله عنه فرمايي چې يقيني کله دا صحابي وفات شو نو په همدغه څادر کې کفن ورکړې شو . (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي حَازِمٍ قَالَ : سَمِعْتُ سَهْلَ ابْنَ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : جَاءَتِ امْرَأَةٌ بِبُرْدَةٍ ، ــ قَالَ : أَتَدْرُوْنَ مَا الْبُرْدَةُ ؟ فَقِيْلَ لَهُ : نَعَمْ هِيَ الشَّمْلَةُ مَنْسُوْجٌ فِيْ حَاشِيَتِهَا ــ قَالَتْ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ نَسَجْتُ هٰذِهٖ بِيَدِيْ أَكْسُوْكَهَا . فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَاجًا إِلَيْهَا . فَخَرَجَ إِلَيْنَا وَإِنَّهَا إِزَارُهُ . فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! اُكْسُنِيْهَا . فَقَالَ : نَعَمْ . فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَجْلِسِ . ثُمَّ رَجَعَ . فَطَوَاهَا ثُمَّ أَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ . فَقَالَ لَهُ الْقَوْمُ : مَا أَحْسَنْتَ ، سَأَلْتَهَا إِيَّاهُ . لَقَدْ عَلِمْتَ أَنَّهُ لَا يَرُدُّ سَائِلًا . فَقَالَ الرَّجُلُ : وَاللهِ مَا سَأَلْتُهُ إِلَّا لِتَكُوْنَ كَفَنِيْ يَوْمَ أَمُوْتُ . قَالَ سَهْلٌ : فَكَانَتْ كَفَنَهُ . بخاري جز ۳ ص ۶۱ حديث ۲۰۹۳ ، و جز ۲ ص ۷۸ حديث ۱۲۷۷ ، و جز ۸ ص ۱۴ حديث ۶۰۳۶ ، و جز ۷ ص ۱۴۶ حديث ۵۸۱ .

۵ . په رواياتو کې راځي : چې يو کرت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته نوي زره (۹۰۰۰۰) درهم راوړې شو ، په پُوزکي (چټايي) باندې کېښودې شو ، رسول الله صلى الله عليه وسلم په فقيرانو باندې ددې تقسيمول شروع کړه ، هر سائل او محتاج ته يې ورکړه ، تر دې چې ټول يې په فقيرانو تقسيم کړه ، او ورنه فارغه شو . (۱)

۶ . **د سوال کوونکي د پاره قرض اخيستل** : حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې يو کس د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه سوال وکړو ، دوی ورته وفرمايل :

په دې وخت کې خو د ما سره هيڅ شی نشته ، ليکن ته زما په ذمه داری باندې څه شی واخله ، کله چې ماسره وسعت اوشو (يعنی ما له څه ګوتو ته راشي) نو زه به يې اداء کړم .

ددې جواب په اَوريدو سره حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل :

اې د الله جل جلاله رسوله صلى الله عليه وسلم ! تاسو خو دې کس له موقع ورکړه ، حالانکه تاسو خو الله جل جلاله د قدرت نه زيات نه يی مکلف کړي .

د حضرت عمر رضي الله عنه دا خبره نبي عليه السلام ته خوښه نه شوه . بيا يو انصاري کس حاضر شو او عرض يې وکړو : اې د الله رسوله ! تاسو خرچ کوئ او د عرش د مالِک (الله جل جلاله) نه د کمي اَنديښنه مه کوئ . د اَنصاري د خبرې په اَوريدو نبي عليه السلام مُسکې شو او په مخ مبارک يې خوشحالي خورَه شوه ، او وې وفرمايل :

ماته د همدې حکم شوی . (۲)

۷ . **د اِيثار په وجه د نبي عليه السلام فضيلت** : امام غزالي رحمه الله ذکر کړي : حضرت سهل بن عبدالله تستري رحمه الله فرمايي چې حضرت موسى عليه السلام الله رب العزت ته عرض وکړو : اې الله ! ماته د محمد صلى الله عليه وسلم او دده د اُمت بعضې درجې اُوښايه . الله جل جلاله ورته وفرمايل :

---

(۱) ويروى أنه صلى الله عليه وسلم حملت إليه تسعون ألف درهم فوضعت على حصير . ثم قام إليها يقسمها فما رد سائلاً حتى فرغ منها ... نزهة الناظرين ص ۲۰۰ كتاب الصدقة .

(۲) مكارم الاخلاق ص ۲۵۴ .

ته به ددې درجو د مشاهدې قدرت اونه لرې، ليکن زه به درته د هغه دعظيمو مرتبو نه يوه عظيمه مرتبه اوښايم چې د هغې مرتبې په وجه ما دوى ته په تاسو او ټولو مخلوقاتو باندې فضيلت ورکړى.

نو د حضرت موسى عليه السلام د وړاندې د آسمانونو د ملکوت پَردې لرې کړې شوى، نو دوى د نبي عليه السلام د هغې مرتبې مشاهده وکړه کومه چې د دوى د الله ﷻ سره د قُرب او نزديکت وه. حضرت موسى عليه السلام عرض وکړو:

اې الله ﷻ! محمد صلى الله عليه وسلم دې عزت او مرتبې ته څنګه رسيدلى؟ الله ﷻ وفرمايل: د داسې يو صفت په وجه کوم چې ما دده سره خاص کړى او هغه اِيثار دى.

بيا الله ﷻ وفرمايل: که چيرته يو کس په ټول عُمر کې يو ځل هم اِيثار وکړي نو ماته حياء راځي چې زه دده سره حساب و کتاب وکړم. بلکه جنت ته به يې داخلوم، چيرته چې دده خوښه وي په کې اوسيږي به. (۱)

۸. د بخاري شريف حديث دى، حضرت جُبير بن مُطعِم رضي الله عنه فرمايي: يوه ورځ زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره روان ووم، او د دوى سره صحابه کرام وو چې د غزوه حُنين نه واپس راتله، نو د باندې څه کسان وربورې اُونختل او سوال يې ترې نه کولو، تر دې چې نبي عليه السلام يې د کِيکر اُونې سره په نزدې اُودريدو باندې مجبوره کړو، او څادر يې ورنه راښکلو، پيغمبر عليه السلام اُودريد، او دوى ته يې وويل:

أَعْطُوْنِيْ رِدَائِيْ، لَوْكَانَ لِيْ عَدَدَ هٰذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ، ثُمَّ لَا تَجِدُوْنِيْ بَخِيْلًا وَلَا كَذُوْبًا وَلَا جَبَانًا.

---

(۱) قَالَ سهلُ بْنُ عبدالله التستري: قال موسى عليه السلام: يا ربِّ! أَرِنِيْ بَعْضَ درجاتِ محمدٍ صلى الله عليه وسلم وأُمّتِه. فقال: يا موسى! إنك لنْ تُطيق ذلك. ولكنْ أُريك منزلة من منازله جليلة عظيمة فَضَّلْتُهُ بها عليك وعلى جميعِ خَلْقِيْ. قال: فكشف له عن ملكوت السموات. فَنَظَرَ إلى منزلة كادت تتلف نفسه من أنوارها وقربها من الله تعالى. فقال: يا ربّ! بماذا بلغت به إلى هذه الكرامة؟ قال: بِخُلقٍ اختصصته به من بينهم. وَهُوَ الإِيْثَارُ. يا موسى! لا يَأْتِيْنِيْ أحدٌ منهم قد عمل به وقتًا من عُمره إلّا اِسْتَحْيَيْتُ مِنْ محَاسَبَتِهِ. وبوّأته من جنّتي حيثُ يَشَآءُ. احياء العلوم ج۳ ص ۲۴۵ كتاب ذم البخل و ذم حب المال.

ماله زما څادر راکړئ، که چیرته د ما سره د دې کیکر د اُونو په مقدار څاروي وی نو ما به په تاسو تقسیم کړي وی، او تاسو به زه بخیل، دروغجن او بُزدِله نه وی موندلی. (۱)

د صحابه کرامو سخاوت :

د سخاوت صفت په صحابه کرامو کې هم په کامله طریقه موجود ؤ، دغه وجه ده چې په کومه موقع به د مالي اِمداد ضرورت راغی نو هلته به صحابه کرامو د پوره اِخلاص او سخاوت نه کار اخیستو، او خپل مال به یې هلته خرچ کولو. ددې یو څو نمونې ستاسو د وړاندې ذکر کوم:

۱. دوفات په وخت په حضرت علي ﷺ باندې د سخاوت په وجه قرضه

ابو جعفر وایي: اګر چې د حضرت علي ﷺ د وفات په وخت د دوی سالانه آمدن یو لک (۱۰۰۰۰۰) درهم ته رسیدلې ؤ خو لیکن د دوی د شهادت په ورځ په ده باندې اویا زره (۷۰۰۰۰) درهمه قرضه وه. ما د خلقو نه پوښتنه وکړه چې آخر په ده باندې دومره ډیره قرضه د څه شي په وجه راغلې وه؟ هغوی راته وویل:

د دوی هغه دوستان او خپلوان چې د هغوی په غنیمت کې باقاعده حصه مقرر نه وه نو هغوی به ده له راتله، د ده نه به یې سوال کولو، نو ده به هغوی ته ورکړه کوله. (نو ځکه وریاندې دومره ډیر قرض جمع شوې ؤ).

د دوی د وفات نه روستو حضرت حسن رضي الله عنه دده جائیداد وغیره خرڅ کړه، او قرض یې پرې خلاص کړو، او هر کال به یې د حضرت علي ﷺ د طرفه سل (۱۰۰) غلامان آزادول.

---

(۱) عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ﷺ قَالَ: بَيْنَمَا أَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ النَّاسُ مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ. فَعَلِقَتِ النَّاسُ يَسْأَلُونَهُ حَتَّى اضْطَرُّوهُ إِلَى سَمُرَةٍ، فَخَطِفَتْ رِدَاءَهُ. فَوَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أَعْطُونِي رِدَائِي. لَوْ كَانَ لِي عَدَدَ هَذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ. ثُمَّ لَا تَجِدُونِي بَخِيلًا وَلَا كَذُوبًا وَلَا جَبَانًا. بخاري ج۲ ص ۲۲ حديث ۲۸۲۱ باب الشجاعة في الحرب والجبن. نضرة النعيم ج ۸ ص ۳۲۳۲ الكرم، رياض الصالحين باب الكرم والجود (۵۲۲).

د حضرت حسن ﷺ د وفات نه روستو حضرت حسین ﷺ دغه سُنت ژوندي اُوساتل.

کله چې حضرت حسین ﷺ شهید شو نو بیا روستو دغه سنت ژوندي پاتې نه شو. (۱)

۲. د حضرت عُبیده بن جراح ﷺ او حضرت معاذ بن جبل ﷺ سخاوت

علامه مُنذري رحمه الله په " الترغیب والترهیب " کې نقل کړي چې: حضرت عمر ﷺ څلور سوه دیناره په تیلۍ کې واچول، او غلام له یې ورکړه چې دا حضرت عُبیده بن جراح ﷺ له ویسه، کله چې یې هغه ته ورکړې نو بیا (د یو څه کار په بَهانه) په هغه کور کې څه لږ وخت حصار شه، ځان په څه کار مشغول کړه، او ګوره چې هغه دې دینارو سره څه کوي؟

غلام چې دا تیلۍ وې وړه، هغه ته یې ورکړه، او ورته وې ویل: امیرالمؤمنین وایي چې دا دینار په خپل ضرورت کې خرچ کړه.

حضرت عبیده بن جراح ﷺ وفرمایل: الله ﷻ دې په امیرالمؤمنین رحم وکړي او د خپل رحمت سره دې ملاؤ کړي. بیا یې خپله وینځه راأُوغوښته او ورته وې ویل: دا اووه (۷) دیناره فلانکي له ورکړه، دا پنځه (۵) فلانکي له، او دا پنځه فلانکي له ورکړه. تر دې چې ټول دینار یې ختم کړه. غلام حضرت عمر ﷺ ته واپس راغی، او د ټولې واقعې خبر یې ورکړو.

حضرت عمر ﷺ همدغسې تیلۍ د حضرت معاذ بن جبل ﷺ د پاره هم تیاره کړې وه، غلام ته یې وویل: دا حضرت معاذ بن جبل ﷺ له ویسه، دهغه سره (په څه بهانه) لږ حصار شه، او ګوره چې هغه په دې دینارو باندې څه کوي؟ کله چې غلام هغه ته د دینارو دا تیلۍ ورکړه او ورته وې ویل: امیرالمؤمنین حضرت عمر ﷺ تاسو ته دا تیلۍ رالیږلې ده، او هغه وایي چې تاسو دا په خپل ضرورت کې خرچ کړئ. هغه وویل: الله ﷻ دې په امیرالمؤمنین رحم وکړي او د خپل رحمت سره دې ملاؤ کړي.

(۱) مکارم الاخلاق ص ۲۷۰.

بیا یې خپله وینځه راوغوښته، او ورته وې ویل: دومره دیناره فلانکي کره ویسه، ومره فلانکي کره ویسه، او دومره د فلانکي کره ویسه. په دې کې د حضرت معاذ بن جبل ﷺ بي بي راغله، او وې ویل: قسم په الله ﷻ مونږ خو په خپله هم مسکینان یو، مونږ ته هم څه راکړه. په تیلۍ کې د دوه (۲) دینارو نه علاوه نور څه نه وو پاتی هغه یې دې ته وَرواچول (چې دا واخله).

غلام حضرت عمر ﷺ ته راغی، او ټوله واقعه یې ورته بیان کړه، حضرت عمر ﷺ چې دا واوریده نو ډیر خوشحاله شو او وې ویل: إِنَّهُمْ إِخْوَةٌ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ. (۱)

یشکه دا صحابه (حضرت ابوعبیده بن جراح ﷺ، حضرت معاذ بن جبل ﷺ او نور صحابه) په خپل مینځ کې وروڼه دي، د ټولو صفات یو شان دي. یعنی په ټولو کې سخاوت او ایثار شته دی.

۳. د حضرت جابر ﷺ سخاوت

حضرت جابر رضي الله عنه په مالدارو صحابه کرامو کې ؤ، د ده بي بي وایي چې یوه ورځ دوی کور ته تشریف راوړو نو غمجن او خفه معلومیده، ما ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه نن خفه معلومیږي؟ ده راته وویل:

---

(۱) وَعَنْ مَالِكِ الدَّارِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَخَذَ أَرْبَعَ مِائَةِ دِينَارٍ فَجَعَلَهَا فِي صُرَّةٍ. فَقَالَ لِلْغُلَامِ: إِذْهَبْ بِهَا إِلَى عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ. ثُمَّ تَلَهَّ فِي الْبَيْتِ سَاعَةً حَتَّى تَنْظُرَ مَا يَصْنَعُ. فَذَهَبَ بِهَا الْغُلَامُ إِلَيْهِ. فَقَالَ: يَقُولُ لَكَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ: إِجْعَلْ هٰذِهِ فِي بَعْضِ حَاجَتِكَ. فَقَالَ: وَصَلَهُ اللهُ وَرَحِمَهُ. ثُمَّ قَالَ: تَعَالَيْ يَا جَارِيَةُ! إِذْهَبِي بِهٰذِهِ السَّبْعَةِ إِلَى فُلَانٍ، وَبِهٰذِهِ الْخَمْسَةِ إِلَى فُلَانٍ، وَبِهٰذِهِ الْخَمْسَةِ إِلَى فُلَانٍ حَتَّى أَنْفَذَهَا. وَرَجَعَ الْغُلَامُ إِلَى عُمَرَ. فَأَخْبَرَهُ. فَوَجَدَهُ قَدْ أَعَدَّ مِثْلَهَا لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. فَقَالَ: إِذْهَبْ بِهَا إِلَى مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. وَتَلَهَّ فِي الْبَيْتِ حَتَّى تَنْظُرَ مَا يَصْنَعُ. فَذَهَبَ بِهَا إِلَيْهِ. فَقَالَ: يَقُولُ لَكَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ: اِجْعَلْ هٰذِهِ فِي بَعْضِ حَاجَتِكَ. فَقَالَ: رَحِمَهُ اللهُ وَوَصَلَهُ. تَعَالَيْ يَا جَارِيَةُ! إِذْهَبِي إِلَى بَيْتِ فُلَانٍ بِكَذَا. إِذْهَبِي إِلَى بَيْتِ فُلَانٍ بِكَذَا. إِذْهَبِي إِلَى بَيْتِ فُلَانٍ بِكَذَا. فَاطَّلَعَتِ امْرَأَةُ مُعَاذٍ وَقَالَتْ: نَحْنُ وَاللهِ مَسَاكِينُ فَأَعْطِنَا. فَلَمْ يَبْقَ فِي الْخِرْقَةِ إِلَّا دِينَارَانِ. فَدَحَى بِهِمَا إِلَيْهَا. وَرَجَعَ الْغُلَامُ إِلَى عُمَرَ فَأَخْبَرَهُ فَسُرَّ بِذٰلِكَ. فَقَالَ: إِنَّهُمْ إِخْوَةٌ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ. رواه الطبراني في الكبير، الترغيب والترهيب جز ۲ ص ۲۸ الترغيب في الانفاق في وجوه الخير كرما ... (۱۶/ ۶۴۶).

زما په خزانه کې مال و دولت ډېر جمع شوی چې د هغې په وجه مې په زړه باندې بوج دی، نو ځکه خفه يم.

دده بي بي هم صحابيه وه هغې ورته وويل: د خفگان هيڅ خبره نشته، بلکه دا ټول درهم په غريبانانو باندې تقسيم کړه. (نو دا بوج به درنه سپک شي).

ده هم خپل خزانچي راوغوښت او حکم يې ورته وکړو، چې دا مال ودولت ټول په غريبانو، يتيمانو او کونډو باندې تقسيم کړه.

نو ټوله شپه د مدينې منورې په کوڅو کې دا روپۍ تقسيمولې شوی. کله چې سهر حساب ولړولې شو نو په ټوله شپه کې شپږلکه (۶۰۰۰۰۰) روپۍ تقسيم شوې وی.

سهر چې کله حضرت جابر ﷺ کورته راغی نو ډېر زيات خوشحاله او تروتازه ؤ، د بي بي شکريه يې اداء کړه، او ورته وې ويل: تا خو ماته ډېر بهترين تدبير اوخود چې په هغې سره زما د زړه بوج سپک شو. (۱)

٤. د حضرت زبير بن عوام ﷺ سخاوت

د حضرت زبير بن عوام ﷺ په باره کې نقل دي چې دده زر (۱۰۰۰) غلامان وو، چې ده له به يې مال گټلو، ماښام به چې دې ټولو غلامانو څومره مال گټلې ؤ هغه به يې حضرت زبير بن عوام ﷺ ته ورکړو نو ده به دا ټول مال و دولت په هماغه شپه باندې په فقيرانو تقسيم کړو، يو درهم به يې هم کورته نه وړو. په هره ورځ دده دا معمول ؤ. (۲)

۵. د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما سخاوت

۱. امام غزالي رحمه الله ذکر کړي: کله چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د بصرې حاکم ؤ نو ده ته د بصرې څه قاريان راجمع شو او ورته وې ويل: زمونږ په گاونډ کې يو عابد او سړی چې ډېرې نفلي روژې نيسي، او ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کوي، مونږ چې دده دې عبادت ته اوگورو نو په مونږ کې هر يو کس دا تمنٰی کوي چې مونږ هم دده په شان

(۱) خطبات طيب.

(۲) اخرجه ابونعيم فی الحلية، والبيهقي.

عبادت گزار شو . هغه د خپلې لور نکاح د خپل وراره سره کړې ده خو د غُربت د وجې ورسره اوس دومره څه نشته چې خپلې لور له پرې جهيز (د واده ضروري اَسباب) برابر کړي .

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما چې دا واوريده نو دوی يې د لاس نه اونيوه ، خپل کور ته يې بوتله ، يو صندوق يې کلاوُ کړو ، د هغې څه يې (د درهمو او اَشرفو) شپږ تيلي را وويستې، او دوی ته يې ووېل : دا واخلئ او هغه عابد ته يې ورکړئ .

بيا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دوی ته ووېل : مونږ ددې عابد سره انصاف اونه کړو ، ځکه کهٔ دا مال تاسو هغه ته ورکړې نو هغه به د جهيز په اخيستلو مشغوله شي چې ددې په وجه به ورنه لمونځ ، روژې او عبادت پاتې شي ، راځئ چې مونږ ورله دا اَسباب په خپله برابر کړو ، ځکه ددې دُنيا دومره حيثيت نه دی چې ددې په وجه د يو مومن نه عبادت پاتې شي .

بل دا چې په مونږ کې خو هم څه تکبّر نشته چې گَني مونږ د اولياءُالله خدمت نه کوو . راځئ چې ټول ورشو ، د واده ضروري اَسباب به ورله مونږ په خپله واخلو ، او هغه ته به يې حواله کړو چې هغه پرې د عبادت نه هم اونه ووځي .

نو دوی ټول روان شو ، د واده اَسباب يې ورله واخيست ، او هغه ته يې حواله کړو . (۱)

۲ . حضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه چې کله بصرې ته تشريف راوړو نو د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ميلمه شو ، ده ورته خپل کور خالي کړو او ورته وې ويل :

څنگه معامله چې تاسو د هجرت په موقع د نبي عليه السلام سره کړې وه نن به زه هم هماغه شان معامله د تاسو سره وکړم ، (نو ابن عباس رضي الله عنهما ورته خپل ټول کور خالي کړو) ، بيا يې ورنه پوښتنه وکړه چې په تاسو باندې څومره قرضه ده ؟

---

(۱) وَاجْتَمَعَ قُرَّاءُ الْبَصْرَةِ إِلَى ابنِ عبّاسٍ رضي الله عنهما وهو عَامِلٌ بِالْبَصْرَةِ . فَقَالُوا : لَنَا جَارٌ صوّامٌ قوّامٌ يَتَمَنّى كلُّ واحدٍ مِنّا أَنْ يَكُونَ مِثْلَه . وقَدْ زَوَّجَ إبنَتَه من ابن أخيه وهو فقيرٌ وليس عنده ما يجهزها به . فقام عبدُاللهِ بْنُ عبّاسٍ فَأَخَذَ بأيديهِمْ وأدخلها داره . وفتَحَ صُنْدُوقًا فَأَخْرَجَ منه سِتَّ بدرٍ . فقال : إحْمَلُوا . فَحَمَلُوا . فقالَ ابنُ عبّاسٍ : مَا أَنْصَفْنَاهُ أعطيناهُ مَا يشغلهُ عن قِيَامِهِ وَصِيَامِهِ . إِرْجِعُوا بِنَا نَكُنْ أَعْوَانَهُ عَلَى تَجْهِيزِهَا فَلَيْسَ لِلدُّنْيَا مِنَ الْقَدْرِ مَا يشغلُ مُؤْمِنًا عَنْ عِبَادَةِ رَبِّه . وَمَا بِنَا مِنَ الكبْرِ مَا لَا نَخْدِمُ أَوْلِيَاءَ اللهِ تَعَالى . فَفَعَلَ وَفَعَلُوا . احياء العلوم ج۳ ص ۳۳۲ كتاب ذم البخل وذم حب المال حكايات الاسخياء .

ابو ايوب انصاري ﷺ ورته وفرمايل : شل زره (۲۰۰۰۰) . نو ده ورله څلويښت زره (۴۰۰۰۰) ورکړی ، او ورسره يې شل (۲۰) غلامان هم ورکړه ، او دا يې ورته هم وويل : چې په دې کور کې څه اَسباب دی هغه هم ټول ستا شو . (۱)

٦ . د حضرت حسن ، حضرت حُسين او حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنهم سخاوت :

ابوالحسن مدائني رحمه الله وايي چې حضرت حسن ﷺ حضرت حُسين ﷺ او حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ د حج کولو د پاره په سفر روان شو ، په لاره کې ورنه د سامان واله اُوښ جدا شو ، نو اُولږه او تَنده ورته ولږيده ، په يوه خيمه باندې د دوی تيريدل اوشو چې په هغې کې يوه بوډۍ ځانله ناسته وه ، دوی ورته وويل : د څکلو د پاره درسره څه شته ؟ هغې ورته ورته وويل : آو ، شته دی . نو دوی د خپلو سوَرلو نه راښکته شو ، د هغې سره په خيمه کې صرف يوه کمزورې چيلۍ وه ، بوډۍ هغې ته اِشاره وکړه چې دا ځانله راولَوشئ ، او شُوده يې لږ لږ اُوڅکئ ، دوی ددې چيلۍ نه شوده را اُولوَشل او وې څکل . دوی بيا د بوډۍ نه پوښتنه وکړه : د خوراک درسره څه شته ؟ (چې مونږ يې اوخورو) ، هغې ورته وويل : نور خو څه نشته خو صرف همدغه چيلۍ ده ، که په تاسو کې څوک دا حلاله (ذبح) کړي نو زه به يې درله پخه کړم .

نو په دوی کې يو کس دا چيلۍ حلاله کړه ، بوډۍ دا ورله پخه کړه ، دوی خوراک وکړو ، څه وخت آرام يې وکړو ، کله چې موسم ښه شو نو روان شو ، خو د تللو په وخت يې دې بوډۍ ته وويل : مونږ د قريشو څه کسان يو ، د حج په اِراده روان يو ، کله چې د حج نه روغ مدينې منورې ته راواپس شو نو ته بيا مونږ له راشه ، مونږ به د تاسره ښه سلوک وکړو (او ددې اِحسان به ښه بَدله درکړو) .

بيا دوی په سفر روان شو ، کله چې ماښام ددې بوډۍ خاوند راغی نو دې ورته د ميلمنو د راتلو او د چيلۍ د ذبح کيدو قصه وکړه ، نو خاوند يې غصه شو ، او ورته وې ويل : هلاکه

(۱) مكارم الاخلاق ص ۲۷۹ .

شی تا زما چیلی دا سې خلقو ته حلاله کړی چې تا پېژندل هم نه (چې دا څوک وو ؟) او بیا وایی چې د قریشو څه کسان وو (اوس څه پته لږې چې دا څوک وو ؟) .

څه موده پس په دې ښځه او خاوند باندې ډیر زیات غُربت راغی ، د ډیر غربت د لاسه د مزدورۍ د پاره مدینې منورې ته دواړه لاړه ، دوی به هلته د اُوښانو پچې وغیره راټولولی ، هغه به یې خرڅولی او په هغې به یې ګزاره کوله .

یوه ورځ دا بوډۍ د مدینې منورې په یوه کوڅه کې تیریدله ، حضرت حَسن ﷛ د خپل کور په دروازه کې ناست ؤ ، کله یې چې دا بوډۍ ولیده نو وې پیژنده ، حالانکه دې بوډۍ حضرت حسن ﷛ نه پیژنده . ده خپل غلام ورپسې ور ولیږل ، کله چې هغه بوډۍ راغله ، حضرت حسن ﷛ ورته وفرمایل : اې د الله ﷻ بندې ! آیا تا زه اونه پیژندم ؟ هغې ورته وویل : نه ، (ما اُونه پیژندی) ، ده ورته وویل : زه خو هغه کس یم چې په فلانۍ ورځ ستا میلمه ووم (ستا د چیلۍ شوده مو څکلي او ستا چیلۍ مو خوړلې وه) ، بوډۍ ورته وویل : زما مور او پلار دې په تا قربان وي آیا ته هماغه کس یې ؟ ده ورته وویل : آو (زه هماغه کس یم) . بیا حضرت حسن ﷛ حکم وکړو چې دې له زر (۱۰۰۰) چیلۍ په قیمت باندې واخلۍ (چې ورله وریې کړو) ، نو زر (۱۰۰۰) چیلۍ یې ورله واخیستی ، او ورسره یې زر (۱۰۰۰) دیناره نغَد هم ورکړه .

بیا یې ددې بوډۍ سره خپل غلام ولیږل چې دا حضرت حُسین ﷛ له ورولـه ، (هغه به هم ورسره څه اِمداد وکړي) . کله چې بوډۍ هلته ورغله ، نو حضرت حسین ﷛ ورنه پوښتنه وکړه : زما ورور درسره څومره اِمداد وکړو ؟ دې ورته وویل : زر چیلۍ او زر نقد دیناره یې راکړه ، نو ده هم حکم وکړو چې زما د طرفه هم دې بوډۍ ته زر (۱۰۰۰) چیلۍ او زر نغد دیناره ورکړئ . بیا یې خپل غلام ورسره ولیږل چې دا بوډۍ حضرت عبدالله بن جعفر ﷛ له بوځه (چې هغه هم ورسره څه اِحسان وکړي) ، کله چې بوډۍ حضرت عبدالله بن جعفر ﷛ له ورغله ، هغه ورنه پوښتنه وکړه : حضرت حسن ﷛ او حضرت حسین ﷛ درسره

څومره امداد وکړو ؟ دې ورته وويل : دواړو راله دوه زره (۲۰۰۰) چيلۍ او دوه زره (۲۰۰۰) ديناره راکړه ، نو ده هم ورته دوه زره چيلۍ او دوه زره ديناره ورکړه او ورته وې ويل که چيرته ته ماته اول راغلې وی نو ما به درله دومره چيلۍ او ديناره درکړي وی چې هغوی به بيا د هغې په مقدار ورکړه باندې ستړې شوي وی (يعنی ما به درله ډيرې زياتې چيلۍ او ديناره درکړي وی) .

نو بوډۍ د ځان سره څلور زره (۴۰۰۰) چيلۍ او څلور زره (۴۰۰۰) نغد ديناره واخيست، او خپل خاوند ته ورغله (هغه ته يې وويل : دا د هغه کمزورې چيلۍ بدله ده چې ما په ميلمنو باندې خوړلې وه) . (۱)

۷. د حضرت سعيد بن العاص ﷺ سخاوت

حضرت سعيد بن العاص ﷺ ته يو کس راغی او سوال يې ورنه وکړو ، ده ورله يو لک (۱۰۰۰۰۰) درهمه ورکړه ، نو هغه سائِل وژړل ، ده ورنه پوښتنه وکړه : ولې دې اوژړل ؟ (آيا

(۱) وقال ابو الحسن المدائني : خرج الحسنُ والحسينُ وعبدُالله بنُ جعفرٍ رضي الله عنهم حجاجًا . فَفَاتَهُمْ أَثقالهم . فجاعوا وعطشوا . فمرّوا بعجوزٍ في خباء لها . فقالوا : هَلْ مِنْ شَرَابٍ ؟ فقالت : نعم . فَأَنَاخُوا إليها وليس لها إلا شويهة في كسر الخيمة فقالت : احلبوها وامتذقوا لَبَنَهَا . فَفَعَلُوا ذلك . ثمّ قالوا لها : هَلْ مِنْ طَعَامٍ ؟ قالتْ : لَا . إلّا هذه الشاة فَلْيَذْبَحْهَا أَحَدُكُمْ حتى أهيّء لكم ما تأكلونَ . فقام إليها أحدُهم وذَبَحَهَا وكشطها ثم هيأتْ لهم طعامًا فأكلوا وأقاموا حتّى أبردوا . فلمّا إِرتَحَلُوْا قالوا لها : نَحْنُ نَفَرٌ مِنْ قُرَيْشٍ نُرِيْدُ هَذَا الْوَجْهَ . فإذا رَجَعْنَا سالمينَ فأَلمِيْ بِنَا فَإِنَّا صَانِعون بِكِ خَيْرًا . ثُمَّ ارتَحَلُوْا وأَقْبَلَ زوجُها فأخبرَتْهُ بِخَبَرِ القومِ والشاةِ . فَغَضِبَ الرّجلُ وقال : وَيْلَكِ تَذْبَحِيْنَ شَاتِيْ لِقَوْمٍ لاتعرِفِيْنَهُمْ . ثمّ تَقُوْلِيْنَ : نَفَرٌ مِن قُرَيْشٍ ؟ قال : ثمّ بعدَ مدّةٍ ألجأتْهُمَا الحاجةُ إلى دخولِ المدينة . فدَخَلاها وجَعَلا ينقلان البعر إليها ويبيعانه ويتعيشان بثمنه . فمرّت العجوزُ بِبَعْضِ سُككِ المدينةِ . فإذا الحسنُ بنُ عليّ ﷺ جَالِسٌ على باب داره . فعرف العجوزَ وهي له منكرةٌ . فَبَعَثَ غلامَه فدَعَا بالعجوز وقال لها : يا أَمَةَ اللهِ ! أَتَعْرِفِيْنِيْ ؟ قَالَتْ : لَا . قال : أنا ضيفُكِ يومَ كذا ويومَ كذا . فقالتِ العجوزُ : بِأبِي أَنْتَ وأُمّي أنت هو ؟ قال : نعم . ثمّ أَمَرَ الحسنُ فَاشتروا لها من شِيَاهِ الصّدقة ألف شاة . وأَمَرَ لها معها بِألفِ دينارٍ . وبَعَثَ بِها مع غلامه الى الحُسين . فقال لها الحسين : بِكَمْ وَصلكِ أخِيْ ؟ قالتْ : بألف شاةٍ وألفِ دينارٍ . فأمرَ لها الحسينُ أيضا بمثل ذلك . ثمّ بعث بها مع غلامه إلى عبدِالله بن جعفر فقال لها : بِكَمْ وصلكِ الحسن والحُسين ؟ قالتْ : بألفي شاة وألفي دينار . فأمرَ لها عبدُالله بألفي شاة وألفي دينارٍ . وقال لها : لَوْ بَدَأْتِ بِيْ لَأَتْعبتهُمَا . فرَجَعَتِ العجوزُ إلى زوجِها بأربعة آلاف شاةٍ وأربعة آلاف دينار .
احياء العلوم ج ۳ ص ۳۲۳ كتاب ذم البخل وذم حب المال .

دا درهمه کم دي ؟) هغه ورته وویل : (ددې د وجې مې نه دي ژړلي چې دا درهم کم دي بلکه) ددې د وجې ژاړم چې زمکه به ستا غوندې (کريمُ النّفس ، سخي او بلند همته) کس هم اُوخوري . حضرت سعيد بن العاص ﷺ چې دا خبره واوريده نو حکم يې وکړو چې ده ته يو لک درهمه نور ورکړئ . (نو سوالګري ته يې په لږ وخت کې دوه لکه درهمه ورکړه) (۱)

۸. د حضرت سعيد بن زيد ﷺ سخاوت

حضرت سعيد بن زيد ﷺ ته يو کس راغی او د الله ﷻ په نوم يې ورنه سوال وکړو ، نو هغه خپل غلام ته حکم وکړو چې ده ته پنځه سوه (۵۰۰) ورکړه . غلام ورنه پوښتنه وکړه : جناب ! پنځه سوه درهم ورکړم او که پنځه سوه ديناره ؟ حضرت سعيد ﷺ ورته وويل : زما اِراده خو د درهمو د ورکولو وه خو کله چې تا د سائِل په مخکې د دينارو ذکر وکړو نو اوس پنځه سوه ديناره ورکړه .

ددې خبرې په اوريدو سره سائِل په ژړا شو ، حضرت سعيد بن زيد ﷺ ورنه پوښتنه وکړه : ولې ژاړې ؟ هغه ورته وويل : اې زما سرداره ! ما دا سوچ کولو چې ستاسو په شان کريمُ النّفس او سخي انسان سره به زمکه د خپل دننه څه عمل کوي ؟ (۲)

۹. د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ سخاوت

حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ هغه صحابي دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته د خَير او په مال کې د برکت دُعا کړې وه ، دغه وجه وه چې دې په صحابه کرامو کې ډير مالدار وُ ، او دده تجارتي کاروبار به ورځ په ورځ ترقي کوله .

خو ددې سره سره چې کله هم د مالي اِمداد ضرورت راغلی نو دوی په کې پوره اخلاص کړی . يو دوه (۲) نمونې ستاسو د وړاندې ذکر کوم :

---

(۱) وَقَامَ رَجُلٌ إِلَى سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ ﷺ فَسَأَلَهُ فَأَمَرَ لَهُ بِمِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ فَبَكَى . فَقَالَ لَهُ سَعِيْدٌ : مَا يُبْكِيْكَ ؟ قَالَ : أَبْكِيْ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ مِثْلَكَ . فَأَمَرَ لَهُ بِمِائَةِ أَلْفٍ أُخْرٰى . احياء العلوم ج ۳ ص ۳۲۶ کتاب ذم البخل وذم حب المال .

(۲) الترغيب والترهيب لليافعي ص ۸۸ .

۱ . حضرت زهري رحمه الله وايي چې حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ د نبي عليه السلام په زمانه کې خپل نيم مال څلور زره (۴۰۰۰) درهمه د الله ﷻ په لاره کې صدقه کړه ، بيا يې څلويښت زره (۴۰۰۰۰) درهمه صدقه کړه ، بيا يې څلويښت زره ديناره صدقه کړه ، بيا يې پنځه سوه (۵۰۰) آسونه د الله ﷻ په لاره جهاد کې ورکړه ، او بيا يې دوه نيم زره (۲۵۰۰) أوښان د الله ﷻ په لاره کې ورکړه . ده زيات مال د تجارت په ذريعه کټلې وُ . (۱)

۲ . يو ځل د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ تجارتي قافله د شام نه مديني منورې ته راورسيده ، دا قافله په اووه سوه (۷۰۰) أوښانو مشتمله وه ، او په دې أوښانو باندې د خوراک او نور د ضرورت سامانونه بار وو ، دا قافله چې څنګه مديني منورې ته راورسيده نو په مدينه منوره کې هر طرف ته شور او کړنګا جوړه شوه ، حضرت عائشې رضی الله عنها چې دا شور واوريد نو پوښتنه يې وکړه :

مَاهَٰذِهِ الرَّجَّةُ ؟ داشور څه شی دی ؟

خلقو ورته وويل : دا د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ د اووه سوه (۷۰۰) أوښانو تجارتي قافله د شام نه راورسيده چې د خوراک او نور د ضرورت آسباب وربانديې بار دی .

حضرت عائشې رضی الله عنها وفرمايل :

بَارَكَ اللهُ لَهُ فِيمَا أَعْطَاهُ فِي الدُّنْيَا وَلَثَوَابُ الْآخِرَةِ أَعْظَمُ . فَلَقَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : يَدْخُلُ عَبْدُالرَّحْمٰنِ بْن عَوْفٍ اَلْجَنَّةَ حَبْوًا .

الله تعالی چې په دُنيا کې ده له څه ورکړي په هغې کې دې ورله برکت واچوي ، او يقينًا د آخرت ثواب ډير زيات دی . ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه آوريدلي دي چې عبدالرحمن بن عوف به د خوشحالۍ نه جنت ته په ګونډو ځي .

د أوښانو د کيناستلو نه مخکې مخکې د حضرت عائشې رضي الله عنها د خُلې نه وتلي دا الفاظ حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ ته ورسيده ، او د جنت تللو زيرې ورته واورولې شو

(۱) اخرجه ابونعيم في الحلية .

دې خوشخبرۍ اَوريدو سره هغه فورًا د حضرت عائشې رضی الله عنها په خدمت کې حاضر شو او ورته وې ويل :

يَا أُمَّه ! أَ أَنْتَ سَمِعْتَ ذٰلِكَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟

اې مورې ! آيا تاسو په خپله زما د پاره د جنت دا کلمات د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژبې مبارکې نه اَوريدلي دي ؟

حضرت عائشې رضي الله عنها ورته وفرمايل : نَعَمْ . آو (ما اَوريدلي دي) .

دې اَوريدو سره هغه ډير خوشحاله شو ، او وې ويل : اې ام المؤمنين ! زه به په ولاړه جنت ته د داخليدو کوشش وکړم ، زه تاسو گواه کوم چې زه دا ټوله قافله ، سره د کيجاوُ او کتو ، او سره د ټول هغه سامان کوم چې په دې باندې بار دی دا ټول د الله ﷻ په لاره کې صدقه کوم . (نو دا اُووه سوه (۷۰۰) اُوښان سره د سامان يې ټول په فقيرانو باندې صدقه کړه) . (۱)

کله چې حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د حضرت عائشې رضي الله عنها د خُولې مبارکې نه دجنت دا زيرې واوريد ، کوم چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دده باره کې اَورولی وُ ، نو ددې ورځې نه روستو يې د الله ﷻ په لاره کې خرچ کولو طرف ته نور هم ډير په شوق او جذبې سره متوجه شو ، يو کرت يې څلويښت زره (۴۰۰۰۰) درهم صدقه کړه ، بيا يې دوه (۲) اَوقيې سره زَر خيرات کړه ، بيا يې د الله ﷻ په لاره کې مجاهدينو ته سل (۱۰۰) آسونه ، او د نورو مجاهدينو د پاره يو نيم زر (۱۵۰۰) د عربي نسل اُوښان برابر کړه .

او چې کله دده د وفات وخت رانزدې شو نو د خپلو غلامانو او وينځو نه يې يو لوي تعداد د غلامۍ نه آزاد کړه ، او په دې وخت کې چې څومره بدري صحابه کرام ژوندي وو هغوی ټولو لره يې د څلور څلور سوه (۴۰۰) دينارو وصيت وکړو ، چې تقريبًا په دې وخت

(۱) مُزَوَّر من حيوة الصحابة حالات حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ، وهکذا ذکره ابونعيم فی الحلية .

کې سل (۱۰۰) بدري صحابه کرام ژوندي وو ، دغه رنګې د امّهاتُ المؤمنين هرې يوې د پاره يې د ډېر لوي مقدار رقم وصيت وکړو . (۱)

۱۰. د حضرت حَسن ﷺ سخاوت

امام غزالي رحمه الله ليکلي چې يو کس حضرت حسن ﷺ ته راغی ، خپل حاجت يې ورته بيان کړو ، او مدد يې ورنه اوغوښت . ده ورته ووېل : تا چې د ما نه کوم سوال وکړو ددې په ما باندې ډېر لوي حق دی ، او زما په نزد چې ته د کوم مدد مستحق يې او ستا د شان سره څومره مدد مناسب دی هغه ډېر زيات په کار دی ، خو ليکن زه د هغې ورکولو نه عاجز يم ، ځکه د الله ﷻ په لاره کې چې يو انسان هر څومره ډېر مال خرچ کوي هغه کم دی .

زما په مِلک کې چې څومره سَرمايه ده هغه ستا د حق اداء کولو د پاره کافي نه ده ، البته که چيرته ته ديته تيار يې چې د ماسره څومره سَرمايه موجود ده هغه ته په خوشحالۍ سره قبوله کړې او ما دې ته مجبوره نه کړې چې زه ستا د شان لائق او مناسب مال چيرته د بل ځای نه پيدا کړم نو زه هم ديته تيار يم (چې دا تاله درکړم ، او دا به ستا د ما سره ډېر اِحسان وي)

سائِل ورته ووېل : اې د رسول الله ﷺ نمسيه ! تاسو چې ماته څه راکړئ زه به هغه قبول کړم ، په دې به شکر ګزار يم ، او که چيرته تاسو د ورکولو نه اِنکار وکړئ نو زه به تاسو معذوره اوګڼم .

نو حضرت حسن ﷺ خپل خزانچي راووغوښت او ورته وې ويل : ته حساب وکړه چې په دې وخت کې د مونږ سره څومره مال دی ، هغه چې حساب وکړو نو په درې لکه درهمو کې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) درهمه پاتي وو هغه يې راوړه ، ده ورنه پوښتنه وکړه چې هغه پنځه سوه (۵۰۰) ديناره خو هم دمونږ سره وو هغه څه شو ؟ خزانچي هغه هم راوړه .

حضرت حسن ﷺ دا ټول درهم او دينار دې فقير له ورکړه او ورته وې ويل : اوس لاړ شه ، څوک مزدور راوله چې دا درسره د خپل کوره پورې ويسي ، فقير چې کله مزدور

---

(۱) صُوَرٌ مِن حيوة الصحابة حالات حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه .

راوست نو حضرت حسن ﷺ دي فقير له خپل څادر هم ورکړو او ورته وي ويل چې دا به دي مزدور له په مزدورۍ کې ورکړې.

د حضرت حسن ﷺ غلامانو ده ته وويل: قسم په الله، د مونږ سره خو يو درهم هم پاتې نه شو. دوی ورته وفرمايل: أَرْجُوا أَنْ يَكُوْنَ لِيْ عِنْدَ اللهِ أَجْرٌ عَظِيْمٌ.

زما د الله ﷻ نه دا قوي اميد دی چې زما د پاره به ددې عمل په عوض کې د الله ﷻ سره ډير لوي اجر و ثواب وي. (۱)

فايده: ديته اعلى درجه سخاوت وايي چې ټوله سرمايه يې فقير ته ورکړه، ځان ته يې هيڅ هم پرې نه خود خو ييا ورسره هم زړه کې دا يَره وه چې ما د فقير د شان مناسب څه ورنه کړه.

۱۱. د حضرت حُسين ﷺ سخاوت

يو کس خپله واقعه بيانوي چې ما شل (۲۰) يا ديرش (۳۰) اُوښان د ځان سره مديني منورې ته بوتله چې د خلقو نه قجورې اوغوارم، نو خلقو ماته وويل چې عمرو بن عثمان او حضرت حُسين بن علي رضي الله عنهما دواړه په خپلو خپلو باغونو کې ناست دي، ورشه، د هغوی نه قجورې اُوغواړه، هغوی به يې درله درکړي.

نو زه د ټولو نه مخکې حضرت عمرو بن عثمان ﷺ ته ورغلم د هغه نه مې قجورې اوغوښتې، هغه راله دوه (۲) اُوښان د قجورو نه بار کړه.

---

(۱) سَأل رجلٌ الحسنَ بنَ عليّ رضي الله عنهما حاجةً فقال له: يا هٰذا حقُّ سؤالك إيّاي يعظم لديّ ومعرفتي بما يجب لك تكبر عليّ. ويدي تعجز عن نيلك بما أنت أهله، والكثيرُ في ذاتِ الله تعالى قليلٌ. وما في ملكي وفاء لشكرك. فإن قبلتَ الميسور ورفعتَ عني مؤنة الاحتمال والاهتمام لما أتكلفه من واجب حقك فعلت. فقال: يا ابن رسول الله أقبل وأشكر العطية، وأعذر على المنع. فدعا الحسن بوكيله وجعل يحاسبه على نفقاته حتى استقصاها فقال: هات الفضل من الثلاث مائة ألف درهم. فأحضر خمسين ألفا. قال: فما فعلتَ بالخمس مائة دينار؟ قال: هي عندي. قال: أحضرها. فأحضرها فَدَفَعَ الدنانير والدراهم إلى الرجل وقال: هات من يحملها لك. فأتاه بحمالين فدفع إليه الحسنُ رداءَه لكراء الحمالين. فقال له مواليه: والله ما عندنا درهمٌ. قال: أَرْجُوا أَنْ يَكُوْنَ لِيْ عِنْدَ اللهِ أَجْرٌ عَظِيْمٌ.
احياء العلوم ج۳ ص ۲۳۲ کتاب ذم البخل وذم حب المال.

بیا راله چا مشوره راکړه چې اوس حضرت حُسین بن علي رضي الله عنهما ته ورشه هغه هم په باغ کې ناست دی ، کله چې زه باغ ته ورننوتم ، ما چونکه هغه نه پيژنده ، په باغ کې مې یو کس ولیده چې په زمکه ناست دی او د هغه نه ګیر چاپیره غلامان ناست دي ، په مینځ کې یوه غټه پیاله ایښې وه په هغې کې غټه روټۍ او غوښه وه ، هغه ټولو په شریکه خوړله ، ما ورباندې سلام واچول ، زړه کې مې دا سوچ کولو چې شاید دا کس به ماته هیڅ هم رانه کړي.

به هر حال حضرت حُسین ﷺ زه رااُوغوښتم ، او ځان سره یې روټۍ ته کینولم . بیا د اُوبو یو وړوکي نهر ته لاړ ، اُوبه یې ترې اُوڅکلې ، لاسونه یې اُووینځل ، او بیا یې ماته وویل : ته څنګه راغلی ؟ ما ورته وویل : ما څه اُوښان راوستي دي چې تاسو ماته دا اُوښان په قجورو بار واپس کړئ (یعنی دومره ډیرې خیراتي قجورې راکړئ چې دا ټول اُوښان ورنه بار شي).

حضرت حُسین ﷺ راته وویل : لاړ شه اُوښان دې راوله ، نو زه لاړم اُوښان مې راوست. بیا یې راته وویل : دې پورې د قجورو ډیري ته ورشه ، او څومره قجورې چې ورنه وړې شي هغومره د ځان سره ویسه . دغه سائل وایي چې ما ټولې اُوښې د قجورو نه بار کړی ، راروان شوم او په زړه کې مې دا سوچ کولو چې یقیني دا اعلی درجه سخاوت دی . (۱)

۱۲. د درې (۳) صحابه کرامو رضي الله عنهم سخاوت

هثیم بن عدي رحمه الله وايي چې د درې (۳) کسانو په بیتُ الله کې په دې خبره اِختلاف پیدا شو چې په دې وخت کې د ټولو نه ډیر سخي څوک دی ؟ یو کس وویل : ډیر سخي حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ دی ، دویم کس وویل : ډیر سخي قیس بن سعد ﷺ دی ، او دریم وویل : عرابه اوسي ﷺ ډیر سخي دی .

خبره اُوږده شوه ، هر کس به په خپل حق کې دلایل بیانول ، تر دې چې آوازونه اُوچت شوا او څه خلق هم راجمع شو ، په دې کې یو کس ورته وویل : پدې کې د اختلاف ضرورت نشته ، بلکه هر کس دې لاړ شي او دې چې د چا په باره کې د ډیر سخي کیدو دعوی لري د هغه نه دې

(۱) مکارم الاخلاق ص ۲۷۵ .

څه اُغواړي ، هغه چې ورله څه ورکړي هغه دې دلته راوړي ، نو بيا به معلومه شي چې ډير سخي څوک دی .

په دې کې يو کس حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ ته ورغی ، او هغه ته يې وويل : اې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تره ځويه ! زه مسافر يم ، د سفر اَسباب راسره ختم شوي دي، لهذا د ماسره څه اِمداد وکړه .

حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ په دې وخت کې په يو بهترين اَس باندې سور ؤ ، چيرته د تللو اِراده يې کړې وه ، دې کس چې څنګه ورته دا خبره وکړه نو هغه متّصِل د اَس نه رابښکته شو ، او ده ته يې وويل : دا اَس واخله ، په دې باندې سُور شه ، اوس دا ستا دی ، د دې سره يوه تيلۍ هم ده ، په دې کې چې څه دي هغه ټول ستا شو ، او په دې کې يوه ټُوره هم ده خو داتوره معمولي مه ګڼه ځکه دا د حضرت علي ﷺ توره ده ، دا توره هم ستا شوه .

کله چې دا کس په دې اَس باندې دلته بيتُ الله ته راغی او دا تيلۍ يې کلاؤ کړه نو په دې کې څلور زره (۴۰۰۰) ديناره ، او د وريښمو څادرونه وو ، دغه رنګې د حضرت علي ﷺ ټُوره په کې هم وه .

دا دويم کس د حضرت قيس بن سعد ﷺ کورته ورغی ، هغه په خپله اُوده ؤ ، د هغه وينځه راووته ، وينځې ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه راغلی يې ؟ ده ورته وويل : زه مسافر يم ، د سفر توخه راسره ختمه شوې ده نو څه اِمداد راسره وکړه .

وينځې ورته وويل : د دې معمولي ضرورت د پاره حضرت قيس بن سعد ﷺ د خُوب نه راپاڅول په کار نه دي ، ته دا تيلۍ واخله ، په دې کې اووه سوه (۷۰۰) ديناره دي ، په دې وخت کې د حضرت قيس ﷺ په کور صرف همدا موجود دي ، بل دا چې د دې کور سره په دې نزدې حَويلۍ کې اُوښان تړلي دي ته ورشه او په هغې کې ځانله يو بهترين اُوښ خوښ کړه ، او يو غلام هم د ځان سره د خدمت د پاره بوځه ، دا ټول ستا شو . دې کس دا ټول هر څه د ځان سره راوړه ، او خپلو ملګرو ته راغی .

كله چې حضرت قيس ﷺ د خُوب نه راپاڅيد ، وينځې ورته ټوله قيصه بيان كړه نو هغه ورته وويل : بهتره دا وه چې تا زه راپاڅولې وى ، مابه په خپله د هغه حاجت پوره كړې وى ، ځكه معلومه نه ده چې تا هغه ته څه وركړي دي آيا په هغې به د هغه حاجت پوره شوې وي او كه نه ؟ خو بيا هم تا ښه كار كړى ، ددې ښه ګار په بدله كې ما ته آزاده كړې .

دا دريم كس حضرت عرابه اوسي رضي الله عنه ته ورغى ، د لمانځه وخت ؤ ، حضرت عرابه اوسي ﷺ ډير كمزورې شوې ؤ او د سترګو نظريې هم ختم شوې ؤ ، د دوه غلامانو په اُوږو باندې يې لاسونه اچولي وو ، او جُمات ته د لمانځه د پاره په قلاره قلاره روان ؤ .

دې كس ورته وويل : اې عرابه اوسي ﷺ ! زما خبره به واورې ؟ هغه ورته وويل :آو ، اووايه څه ويل غواړې ؟ ده ورته وويل : زه مسافِريم ، د سفر توخه راسره ختمه شوې نو كه څه امداد راسره وكړې .

حضرت عرابه اوسي ﷺ دواړه لاسوه د غلامانو د اُولي نه راديخوا كړه ، د دواړو لاسونو نه يې يو تَس اُوويست ، او وې ويل : عرابه خو خپل ټول مال د الله ﷻ په لاره كې خرچ كړى ، صرف همدا دوه غلامان راسره پاتې دي . دا دواړه ستا شو ، د ځان سره يې بوځه

دې كس ورته وويل : جناب ! داسې كله كيدې شي ؟ ته خو په خپله هم ډير ضرورت مند يې ، زه دا غلامان د ځان سره نه بوځم . هغه راته وويل : واوره ، دا دواړه غلامان اوس ستا دي كه ستا خوښه وي نو آزاد يې كړه ، او كه خوښه دې وي نو د ځان سره يې بوځه .

ددې نه پس حضرت عرابه اوسي ﷺ په دواړو لاسونو باندې ديوال اُونيوه ، او د ديوال نيولو په مدد سره ډير په تكليف سره جُمات طرف ته روان شو .

كله چې دې كس دا دوه غلامان د ځان سره راروان كړه ، او نورو ملګرو ته راورسيده .

درې (۳) واړه ملګري سره يو ځاى شو ، هر يو كس خپله خپله واقعه بيان كړه ، او څه يې چې د ځان سره راوړي وو د هغې تذكره يې هم وكړه ، نو د درې واړو صحابه كرامو ډير تعريف اوشو چې هر يو كس ډير زيات سخي دى ، بيا خاصكر حضرت عرابه اوسي رضي الله عنه كوم چې د ډيرې تنګسيا باوجود هم خپل ټول مال (دواړه غلامان) صدقه كړه ، او په خپله د ديوال نيولو په واسطه جُمات ته روان شو .

خلاصه :

دنبي کريم صلى الله عليه وسلم او دصحابه کرامو د سخاوت او اِيثار دا يو څو واقعات مې ستاسو د وړاندې د نمونې دپاره ذکر کړه اګر داسې په زرهاؤ واقعات شته ، ددې واقعاتو مقصد دا دی چې انسان ددې نه عبرت واخلي ، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو تابعداري وکړي ، په خپلو مالونو کې دفرضي حقوقو سره سره د نفلي صدقاتو خيال هم اوساتي ، د فقيرانو ، مسکينانو او ضرورتمندو حوائج پوره کړي ، د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح ورکړي ، خپل مال په داسې ځايونو کې خرچ کړي چې د آخرت ذخيره او د انسان د درجو اُوچتولو ذريعه جوړه شي .

دُعا : الله تبارک و تعالى دې په مونږ کې هم دغه د سخاوت ، اِيثار ، همدردۍ او اِخلاص صفت پيدا کړي چې په خپلو مالونو کې د حقوق الله او حقوق العبادو لحاظ اوساتو ، خپل مالونه د خَير په کارونو کې خرچ کړو ، د ضرورتمندو او فقيرانو حاجتونه پوره کړو . او الله تعالى دې زمونږ د زړونو نه د بُخل ، او کنجُوسۍ صفت ، او د مال محبت لرې کړي .

آمِين يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

د سخاوت په باره کې نور بهترين واقعات:

د سخاوت په باره کې درته يو څو نور بهترين معتمد واقعات نقل کوم، که موقع او وخت زيات وي نو مقررين حضرات ددينه هم استفاده کولی شي.

۱. د حضرت زين العابدين علي بن حُسين رحمه الله سخاوت

۱. حضرت امام زين العابدين علي بن حُسين رحمه الله به په خپله مَلا پورې د ډوډو (روټو) تيلۍ تړلې وه او د شپې به يې د مدينې منورې په فقيرانو باندې تقسيمولې، کله چې دې وفات شو نو بيا خلقو ته معلومه شوه چې دوی به د مدينې منورې د سلو (۱۰۰) کورونو کفالت کولو.

حضرت جرير رحمه الله وايي چې د وفات نه روستو خلقو دده په مَلا باندې هغه نشانات وليده کوم د روټۍ تيلۍ ګرځولو په وجه جوړ شوي وو.

۲. د محمد بن اسحاق رحمه الله نه نقل دي چې په مدينه منوره کې داسې خلق هم اُوسيده چې هغوی ته دا هم معلومه نه وه چې مونږ ته په هره شپه دا خوراک څوک راوړي؟ خو چې کله حضرت زين العابدين علي بن حُسين رحمه الله وفات شو نو بيا چونکه هغوی د شپې خوراک وَر وړونکې کس اونه مونده نو ځکه ورته معلومه شوه چې دا په هره شپه به مونږ له حضرت زين العابدين رحمه الله خوراک راوړو. (۱)

۲. د بنو هاشمو سخاوت

حُميد بن هلال رحمه الله وايي چې د بنو هاشم او بنو اُميّه دوه کسانو په خپل مينځ کې بحث پيدا شو، يو ويل چې زما خاندان ډير سخي دی، او دې بل ويل: زما خاندان ډير سخي دی. بالآخر فيصله په دې اوشوه چې هر کس دې د خپل خپل خاندان نه سوال وکړي، نو په خپله به معلومه شي چې څوک ډير سخيان دي.

اُموي کس د خپل قوم د لسو کسانو نه څه اُوغوښت هغوی ټولو ورله په شريکه يو لک (۱۰۰۰۰۰) روپۍ ورکړې. کله چې دا هاشمي د خپل خاندان واله خلقو کې عبيدالله بن عباس ته ورغی نو هغه ورله يواځې يو لک (۱۰۰۰۰) روپۍ ورکړې، بيا حضرت حسن بن علي رضي الله عنهما ته ورغی نو هغه ورنه پوښتنه وکړه: د مانه مخکې زما په قوم کې بل چا له ورغلې وې؟ ده ورته

---

(۱) حلية الاولياء.

وويل : آو ، عبيد الله بن عباس له ورغلې ووم ، هغه راله يو لک روپۍ راکړې ، نو حضرت حسن بن علي ﷺ ورله يو لک او ديرش زره (۱۳۰۰۰۰) روپۍ ورکړې .

بيا دا کس حضرت حُسين بن علي ﷺ ته ورغی ، هغه ورنه پوښتنه وکړه : ماته د راتګ نه مخکې زما په قوم کې ته بل چاته ورغلې وې ؟ ده ورته ووېل : آو ، ستاسو ورور حضرت حسن بن علي ﷺ ته ورغلې ووم هغه راته يو لک او ديرش زره روپۍ راکړې ، ده ورته ووېل : که چيرته ته اول ماته راغلې وې نو ما به درته ډيرې زياتې درکړې وې خو چونکه زه د خپل سيّد (ورور) په ورکړه باندې زيادت نه شم کولی ، نو حضرت حُسين ﷺ هم ورته يو لک او ديرش زره روپۍ ورکړې . نو دې هاشمي صرف د درې کسانو نه درې لکه او شپيته زره روپۍ راوړې ، او هغه اموي د لسو کسانو نه يو لک روپۍ راوړې وې .

کله چې دا دواړه سره يو ځای شو او هر يو خپل راوړې روپۍ اُوخودې نو هاشمي په خپله دعوی کې غالب راغی . بيا فيصله دا اُوشوه چې هر کس دې خپل قوم واله ته دا روپۍ واپس کړي ، نو اموي چې کله خپل قوم واله ته روپۍ وَر وړې او واقعه يې ورته بيان کړه نو هغوی ورنه روپۍ واپس واخيستې . او کله چې هاشمي کس دا روپۍ دې خپل قوم له وَر وړې او واقعه يې ورته بيان کړه نو هغوی واپس د روپو اخيستلو نه اِنکار وکړو او وې ويل :

لَمْ نَكُنْ لِنَأْخُذَ شَيْئًا قَدْ أَعْطَيْنَاهُ . مونږ چې کوم مال چاته ورکړو هغه واپس نه اَخلو . (۱)

---

(۱) قَالَ حُمَيْدُ بْنُ هِلَالٍ رَحِمَهُ اللهُ تَفَاخَرَ رَجُلَانِ مِنْ قُرَيْشٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِي هَاشِمٍ وَرَجُلٌ مِنْ بَنِي أُمَيَّةَ . فَقَالَ هٰذَا : قَوْمِي أَسْخٰى مِنْ قَوْمِكَ . وَقَالَ هٰذَا : قَوْمِي أَسْخٰى مِنْ قَوْمِكَ . قَالَ : سَلْ فِي قَوْمِكَ حَتّٰى أَسْئَلَ فِي قَوْمِي . فَافْتَرَقَا عَلٰى ذٰلِكَ . فَسَأَلَ الْأُمَوِيُّ عَشَرَةً مِنْ قَوْمِهِ فَأَعْطَوْهُ مِائَةَ أَلْفٍ . فَجَاءَ الْهَاشِمِيُّ إِلٰى عُبَيْدِ اللهِ بْنِ الْعَبَّاسِ فَأَعْطَاهُ مِائَةَ أَلْفٍ . ثُمَّ أَتَى الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ . فَسَأَلَهُ هَلْ أَتَيْتَ أَحَدًا مِنْ قَوْمِي ؟ قَالَ : نَعَمْ عُبَيْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ فَأَعْطَانِي مِائَةَ أَلْفٍ . فَأَعْطَاهُ الْحَسَنُ مِائَةَ أَلْفٍ وَثَلَاثِينَ أَلْفًا . ثُمَّ أَتَى الْحُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ فَسَأَلَهُ : هَلْ أَتَيْتَ أَحَدًا قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِي ؟ قَالَ : نَعَمْ أَخَاكَ الْحَسَنَ فَأَعْطَانِي مِائَةَ أَلْفٍ وَثَلَاثِينَ أَلْفًا . قَالَ : لَوْ أَتَيْتَنِي قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَهُ لَأَعْطَيْتُكَ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلٰكِنْ لَمْ أَكُنْ لِأَزِيْدَ عَلٰى سَيِّدِي فَجَاءَ الْأُمَوِيُّ وَالْهَاشِمِيُّ بِمَا مَعَهُمَا . فَفَخَرَ الْهَاشِمِيُّ الْأُمَوِيَّ . فَرَجَعَ الْأُمَوِيُّ إِلٰى قَوْمِهِ فَأَخْبَرَهُمُ الْخَبَرَ وَرَدَّ عَلَيْهِمُ الْمَالَ فَقَبِلُوْهُ . وَرَجَعَ الْهَاشِمِيُّ إِلٰى قَوْمِهِ فَأَخْبَرَهُمُ الْخَبَرَ ، وَرَدَّ عَلَيْهِمُ الْمَالَ . فَأَبَوْا أَنْ يَقْبَلُوْهُ ، وَقَالُوْا : لَمْ نَكُنْ لِنَأْخُذَ شَيْئًا قَدْ أَعْطَيْنَاهُ . مكارم الاخلاق لابن ابى الدنيا ص ۱۱۶ ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج۶ ص ۲۲۵۷

فايده: دا د نبي عليه السلام د خاندان بنوهاشمو اعلی درجه سخاوت دی.

۳. د شعبه رحمه الله سخاوت:

امام غزالي رحمه الله ذکر کړي: د شعبه رحمه الله په باره کې نقل دي چې ده ته يو فقير راغی، څه يې ورنه اوغوښت، دده سره په دې وخت کې هيڅ شی نه وُ چې دې فقير ته يې ورکړې وی، نو کورته لاړ، د چَت نه يې يو لرګې راوويست، او دې فقير ته يې ورکړو. ددې د پاره چې دا فقير همداسې خالي لاس لاړ نه شي، او بيا يې عُذر هم پيش کړو چې ته خفه نه شې ما ستا ضرورت پوره نه کړې شو. (۱)

۴. د حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله سخاوت

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله به چې کله هم " رقه " ښار ته لاړو نو د هغه علاقې يو ځوان به دده ملاقات له راتلو او د مسائلو پوښتنې به يې ورنه کولی، يو کرت چې دې د " رقه " ښار ته راغی نو هغه ځوان ورله ملاقات له رانغی، ده د خلقو نه پوښتنه وکړه چې دلته يو ځوان وُ کله به چې زه دې ښار ته راغلم نو هغه به زما ملاقات له راتلو، اوس خو ما هغه اونه ليدو، هغه څه شو؟ خلقو ورته وويل: په هغه باندې د يو کس لس زره (۱۰۰۰۰) ديناره قرضه جمع شوی، دده سره څه نشته نو هغه دې نيولی دی او په جيل (محبَس) کې اوس بَندي دی.

عبدالله بن مبارک رحمه الله چې دا خبره واوريده نو ډير خفه شو، د خلقو نه ددې قرض خواه د کور معلومات وکړو، کله چې ورته خلقو د قرض خواه کور اُوخود نو دې هلته ورغی او هغه ته يې وويل: زمونږ يو دوست دی ستا په هغه باندې لس زره ديناره قرضه ده او تا هغه په جيل کې اچولې دی، نو زه تاته د هغه قرضه درکوم خو په يو شرط باندې چې " ته به د ماسره دا کلکه وعده او قسَم کوی چې ترڅو پورې زه ژوندې يم ته به هغه ته دا راز نه ښکاره کوی چې ستا قرضه چا اداء کړی ". دې قرض خواه کلکه وعده او قسَم وکړو، نو ده ورله لس زره ديناره ورکړه، او ورته وې ويل چې اوس ورشه هغه د جيل نه راخلاص کړه.

---

(۱) وروي أنّ شعبةَ جاءه سائلٌ وليس عنده شيءٌ. فَنَزَعَ خَشَبَةً مِن سقفِ بَيْتِهِ فَأَعطاهُ ثُمّ اعتذر إليه. احياء العلوم ج ۳ ص ۲۴۶.

دا قرض خواه جيل ته لاړو او هغه ته يې وويل : ستا قرضه ما ته يو چا راکړې نو ته اوس آزاد يې .

کله چې دا ځوان د جيل نه راووت ، نو د خلقو نه خبر شو چې دې ښار ته حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله راغلی ؤ خو لږ وخت شي چې دوباره لاړو ، دا ځوان په منډه منډه د دوی پسې راروان شو ، په لاره کې يې رالاندې کړو ، ملاقات يې ورسره وکړو . عبدالله بن مبارک رحمه الله ورنه پوښتنه وکړه : دا سې خبر شوم چې تاسو په جيل کې وی ؟ ده ورته وويل : آو ، د يو کس رابانديې لس زره ديناره قرضه وه ، زما د اداء کولو قدرت نه ؤ ، نو په جيل کې يې اچولې ووم ، اوس الله ﷻ رحم وکړو ، يو غيبي فرښته يې راوليږله ، زما قرض خواه ته يې دا ټوله قرضه ورکړه ، هغه معلوم هم نه شو چې څوک ؤ ؟ زه دا دې اوس د جيل نه راخلاص شوم . عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته وويل : اوس د الله تعالی شکريه اداء کوه ، د هغه عبادت کوه ، زه به تاسو ته دُعا کوم ، تاسو ما ته دُعا کوی . بيا ورنه عبدالله بن مبارک رحمه الله رخصت شو .

دغه ځوان وايي چې ما ته په ټول عُمر کې دا پته نه لږيده چې زما دا قرضه چا اداء کړی ، ځکه عبدالله بن مبارک رحمه الله دې قرض خواه ته قسَم ورکړې ؤ چې زما په ژوند به چا ته دا راز نه ښکاره کوی . کله چې عبدالله بن مبارک رحمه الله وفات شو نو بيا هغه قرض خواه دې ځوان ته وويل : چې ستا قرضه ما ته عبدالله بن مبارک رحمه الله راکړې وه . (۱)

فايده : دیته اعلی درجه سخاوت وايي چې دومره ډيره قرضه يې ورخلاصه کړه ، او خپل نوم ښکاره کول يې هم نه غوښته .

۵. د عبدالله بن عامر رحمه الله سخاوت

۱ . عبدالله بن عامر رحمه الله يو کور د خالد بن عقبه رحمه الله نه په اويازره يا اتيا زره (۸۰۰۰۰) درهمه واخيست ، کله چې شپه شوه نو د خالد د کور نه د ژړا آواز راتلو ، ده د خپلې بي بي نه پوښتنه وکړه چې دا د ژړا آواز ولې راځي ؟ هغې ورته وويل : د خالد بن عقبه کور واله د کور خرڅولو په غم کې ژاړي . عبدالله بن عامر رحمه الله چې دا خبره واوريده نو

(۱) تاريخ بغداد .

خپل غلام يې ورو ليږل ، چې ورشه ، هغوی ته و وايه چې دا ټول درهم هم ستاسو شو ، او کور هم ستاسو شو . (۱)

۲ . عبدالله بن عامر بن کُريز رحمه الله يو کرت د جُمات نه راووت او کورته ځان له روان وُ (غالبًا چې دا شپه وه) ، په لاره کې د بني ثقيف د قبيلې يو ځوان هلک ورسره ملګرې شو ، او ورسره روان وُ ، عبدالله بن عامر ورنه پوښتنه وکړه : ستا څه ضرورت دی که څنګه د ماسره روان يې ؟ هغه هلک ورته وويل : زما هيڅ ضرورت نشته خو چونکه ته مې اُوليدی چې يوائې روان وی نو ما د ځان سره وويل : هسې نه چې تاته په لاره کې څه تکليف اورسي نو زه به ستا مدد وکړم ، او تکليف نه به تاسو اوساتم ، نو صرف ستاسو د حفاظت د پاره تاسو سره روان يم .

ده چې دا خبره واوريده نو دا ځوان يې د لاس نه اونيوه او د ځان سره يې کورته بوتلو ، هلته يې ورته زر (۱۰۰۰) ديناره انعام ورکړو ، او ورته وې ويل : ستا مشرانو تاته ډير بهترين اَدب درخُودلی (او ستا يې بهترين تربيت کړی ، چې د دومره بهترينو اخلاقو خاوند يې) . (۲)

۶ . د وفات نه روستو سخاوت کول

امام غزالي رحمه الله ليکلي دي چې د عربو څه خلق د يو سخي د قبر زيارت له راغله ، دوی چونکه د ډير لرې نه سفر راکړې وُ ، نو همدلته د قبر سره يې شپه راغله ، په دې خلقو کې يو کس د شپې خُوب وليد ، په خُوب کې ورته دا د قبر واله سخي کس وايي :

آيا ته د ماسره دا سپيا شُورب اُوښ په يو بهترين اَس باندې بدلوی ؟ چې زه په دې اُوښ باندې ددې راغلي ميلمنو ميلمستيا وکړم ، او تاته به ددې په عوض کې بهترين اَس ملاو

(۱) شعب الايمان ۷ / ۴۳۷ .

(۲) خَرَجَ عبدُالله بنُ عامر بن كُريز مِنَ المسجد يُريدُ منزله وهو وَحْدَهُ ، فقام إليه غلامٌ من ثقيف فمشى إلى جانبه فَقَال له عبدُالله : أَلَكَ حاجةٌ يا غلامُ ؟ قال : صلاحك وفلاحك ، رأيتك تَمْشِي وحدَك فقلتُ أَقِيكَ بِنَفْسِي وأعوذُ بالله إنْ طارَ بجناحك مكروهٌ . فأخذَ عبدُالله بيده ومشى معه إلى منزله ، ثمّ دَعَا بألفِ دينارٍ فَدَفَعَهَا إلى الغلام وقال: استنفق هذا فَنِعْمَ مَا أدبك أهلك . احياء العلوم ج۳ ص ۴۳۳ .

شي . ده ورته وويل : آو ، دا اُوښ ستا شو ، کله چې د دوی په مينځ کې سره دا تبادله اوشوه نو دغه د قبر واله کس راپاڅيد او دا اُوښ يې په خوب کې حلال کړو .

دغه خوب ليدونکې کس وايي چې کله زه د خوب نه راويدار شوم نو يقيني زما د اُوښ د مرۍ نه وينې رواني وې . نو زه په جلتۍ ور پاڅيدم او هغه مې حلال کړو ، بيا مې ددې غوښه په موجوده ټولو مسافرو باندې تقسيم کړه .

کله چې په صبا باندې مونږ ددې ځای نه روان شو ، او څه اندازه سفر مو وکړو ، نو څه کسان راته په مخه راغله ، په اسونو باندې سواره وو ، هغوی د مونږ نه پوښتنه وکړه : آيا په تاسو کې د فلاني نوم واله کس شته ؟ ددې کس نوم يې واخيست چا چې اُوښ حلال کړې وُ . خلقو ورته وويل : آو ، دا دی . په هغوی کې يو کس ورته وويل :

تا خو د فلاني قبر واله مړي سره څه تبادله نه ده کړې ؟ او په هغه باندې خو دې څه نه دي خرڅ کړي ؟ ده ورته وويل : آو . ما د هغه سره اُوښ په آس باندې بدل کړی ، خو زمونږ دا معامله په خُوب کې وه .

نو په هغوی کې يو کس وويل : زه د هغه ځوي يم ، دا د هغه آس دی ، هغه اوس وفات شوی ، هغه ماته په خُوب کې وويل : که ته زما ځوي يې نو دا آس فلاني سړي ته ورکړه ، او ستا نوم يې راته واخيست . (نو ده ورنه دا آس واخيست ، او په سفر روان شو) . (۱)

(۱) وحكي أنّ قومًا مِنَ العرب جاؤُوا إلى قبرِ بَعْضِ أَسخياءِهِمْ لِلزّيارةِ . فَنَزَلُوا عند قبره وبَاتُوا عنده . وقد كانُوا جاؤُوا من سفرٍ بعيدٍ . فرأى رجلٌ منهم في النّوم صاحبَ القبرِ . وهو يقولُ لهُ : هَلْ لَكَ أَنْ تبادلَ بعيرَكَ بنَجِيْبِيْ ؟ وكان السّخيُّ الميّتُ قد خَلَفَ نَجِيْبًا مَعْرُوْفًا به . ولهذا الرّجل بعيرٌ سمينٌ . فقال له في النّوم : نعم . فبَاعَهُ في النّوم بعيرَه بنَجِيْبِهِ . فلمّا وَقَعَ بينهما العقدُ عمد هذا الرجلُ إلى بعيره فَنَحَرَهُ في النّوم . فَانْتَبَهَ الرّجلُ من نَوْمِه فإذا الدّمُ يثج من نحر بعيرِه . فقام الرّجلُ فنحرَه وقسمَ لحمَه فطبخُوه وَقَضَوا حاجتَهم منه . ثمّ رَحَلُوْا وسَارُوْا . فلمّا كانَ اليومُ الثّاني وهو في الطريقِ استقبلهم ركبٌ . فقال رجلٌ مِنْهُمْ : مَنْ فُلَانُ ابْنُ فُلَانٍ مِنْكُمْ ؟ ـ باسم ذلك الرجل ـ فقال : أنا . فقال له : هَلْ بِعْتَ مِنْ فُلَانِ ابْنِ فُلَانٍ شَيْئًا ؟ وَذَكَرَ الميّت صاحبَ القبر . قال : نعم بِعْتُ بَعِيْرِيْ بِنَجِيْبِهِ فِي النّوم . فقال : خُذْ هَذَا نَجِيْبُهُ . ثمّ قال : هو أبي وقد رَأَيْتُهُ فِي النَّوْمِ وهو يقولُ : إِنْ كُنْتَ إِبْنِيْ فَادْفَعْ نَجِيْبِيْ إلى فُلَانِ ابْنِ فُلَانٍ وَسَمَّاهُ . احياء العلوم ج۳ ص ۳۳۲ .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ آل عمران آيت

په مخلوقاتو کې د الله جل جلاله د قُدرت نخې

تَالِيف :

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُ العلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی مردان

﴿ نوټ ﴾

دا آینده موضوع " **په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې** " که چیرته په داسې ځای کې بیان شي چیرته چې تعلیم یافته او پوهه خلق زیات وي (لکه علماء ، طلباء ، ډاکټران ، انجینران ، سائنسدانان او نور پوهه خلق) نو فایده به یې بیا زیاته وي ، ځکه صرف په همدې یوه موضوع باندې څه سائنسي ، طِبّي او ډاکټري رنګ غالِب دی .
وجه داده چې په دې موضوع کې په مخلوقاتو کې او خاصکر د انسان په بدن کې د الله ﷻ د قدرت عجیبه نخې بیان شوي ، چې د پوهه خلقو دِماغ ورته زر رسیدګي کوي .
اګر چې د عامو خلقو د وراندې بیانول هم فایده لري خو ډیره فایده یې د تعلیم یافته خلقو د وړاندې په بیانولو کې ده .
لهذا مقررین حضرات دې د ځای او موقعې مناسب ځانته ددې موادو نه انتخاب وکړي .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

په مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ. الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾(۱)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿وَفِي الْأَرْضِ اٰيَاتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ. وَفِيْ أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُوْنَ﴾.(۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د الله تعالی په مخلوقاتو کې غور او فکر کول، په دې کې د الله ﷻ د قدرت نخې کتل او ددینه عبرت حاصلول هم یو اعلی عبادت دی، ځکه چې څوک د الله تعالی په دې عجیبه مخلوقاتو کې تدبّر او تفکّر کوي او د الله تعالی دې کاملې کاریګرۍ ته ګوري نو په دې سره دده ایمان او یقین نور هم مضبوطیږي، په زړه کې یې د الله تعالی عظمت او معرفت پیداکیږي، او په خپله په دې نتیجه رسي چې دا ټول هر څه الله ﷻ عبث نه دي پیدا کړي، بلکه ددې په پیدا کولو کې یې بې شماره حکمتونه ایښي، چې یو غټ حکمت په کې دا هم دی چې ددې مخلوقاتو نه د خالق

---

(۱) آل عمران آیت ۱۹۰ و ۱۹۱.

(۲) الذّاریات آیت ۲۰، ۲۱.

په موجود والي باندې دليل اُونيوې شي ، ځکه د دې کائناتو ذره ذره د الله ﷻ په وجود ، وحدانيت او قدرت باندې دلالت کوي .

بل دا چې دا ټول هر څه د انسان د خدمت د پاره پيدا دي او انسان صرف د الله رب العزت د عبادت د پاره پيدا دی ، او همدا د انسان د ژوند مقصد هم دی .

دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې ځای په ځای بندګانو ته د کائناتو په هر شي کې د تفکّر او تدبّر کولو دعوت ورکړې شوی ، او دا د عقلمند انسان اعلی صفت ګرځول شوی ، دغه وجه ده چې په قرآن کريم کې څه د پاسه اووه نيم سوه (۷۵۰) آيتونه داسې دي چې په هغې کې د الله د قدرت اظهار شوی .

اول آيت : الله ﷻ فرمايي :

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ . الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللهَ قِيَامًا وَّقُعُودًا وَّعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ (۱)

ترجمه : بيشکه د آسمانونو او زمکې په پيدا کولو ، او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې خامخا نښې (د قدرت ، او دلايل د توحيد) دي د خاوندانو د عقل د پاره . (او دا عقل مند هغه خلق دي) کوم چې په ولاړه ، په ناسته او په اړخونو (يعنی په هر حالت کې) الله تعالی يادوي ، او د آسمانونو او زمکې په پيدا ښت کې فکر کوي (او دا وايي چې) اې زمونږه ربه ! تا دا (مخلوقات) عبث نه دي پيدا کړي (بلکه په دې کې دې ډير حکمتونه ايښي) ته (د هر عيب نه) پاک يې ، پس ته مونږه د اُور د عذاب نه اوساته .

د آيت شانِ نزول

ددې آيت په شانِ نزول کې علامه ابن حبان په خپل صحيح او علامه ابن عساکر په خپل تاريخ کې نقل کړي چې حضرت عطاء بن ابي رباح رحمه الله حضرت عائشې رضی الله عنها ته ورغې او ورته وې ويل :

---

(۱) آل عمران آيت ۱۹۰ ، ۱۹۱ .

تا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حالاتو کې کوم شی زیات عجیبه لیدلې وي هغه راته بیان کړه. حضرت عائشې رضی الله عنها ورته وویل:

تاسو د هغوی د کوم شان باره کې پوښتنه کوئ؟ ځکه د هغوی خو هر یو شان عجیبه ؤ، البته زه به درته یوه واقعه بیان کړم، هغه دا چې یو ځل رسول الله ﷺ زما خواته تشریف راوړو، بیا یې راته وفرمایل: اجازت راکړه چې د خپل پروردګار عبادت وکړم، د بسترې نه پاڅیده، اودس یې وکړو، بیا د لمونځ د پاره اودریده، او په ولاړه یې دومره اوژړل چې اوښکې مبارکې یې په سینه را اوبهیدی، بیا یې رکوع وکړه په هغې کې یې هم اوژړل، چې سجده یې وکړه نو په هغې کې یې هم همدغه شان اوژړل، چې سر یې راپورته کړو نو همداسې مسلسل یې ژړل تر دې پورې چې صبا شو.

حضرت بلال ﷺ راغلو او رسول الله ﷺ ته یې د لمونځ اِطلاع ورکړه. حضرت بلال ﷺ وايي چې ما عرض وکړو: تاسو ولې دومره ژاړئ؟ الله تعالی خو ستاسو وړاندیني او روستني ټول لغزشونه معاف کړي. هغوی ﷺ راته وفرمایل:

آیا زه شکر ګزار بنده جوړ نه شم؟ او په شکریه کې ژړا او فریاد اونه کړم؟ حالانکه الله تعالی نن شپه په ما باندې دا آیتِ مبارکه نازل کړی:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ..... ﴾ (۱)

بیا یې وفرمایل: وَيْلٌ لِّمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيهَا. لویه تباهي (هلاکت) دی هغه چا له چې دا آیتونه یې اولوست، او په دې کې یې غور اونه کړو. (۲)

---

(۱) آل عمران آیت ۱۹۰ و ۱۹۱.

(۲) معارف القرآن سورة آل عمران آیت ۱۹۰، وهکذا في نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۰۲. علامه قرطبي رحمه الله د دې آیت شانِ نزول داسې بیان کړی: لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يُصَلِّي. فَأَتَاهُ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلٰوةِ. فَرَآهُ يَبْكِي فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَتَبْكِي وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ. فَقَالَ: يَا بِلَالُ! أَفَلَا أَكُونَ عَبْدًا شَكُورًا. وَلَقَدْ أَنْزَلَ اللهُ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ آيَةً "إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ..." ثُمَّ قَالَ: وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيهَا. أخرجه ابن حبان ۶۲۰ من حديث عائشة، وقال الأرناؤط: اسناده قوي على شرط مسلم، تفسير قرطبي ج۴ ص ۳۰۰ سورة آل عمران آیت ۱۹۰.

فایده : په دې آیت الله ﷻ د عقلمندو نښه دا هم اوخوده چې " وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ " دوی د آسمانونو او زمکې په پیدا وښت کې فکر کوي .

بل ځای همدا تفکّر کول صفت د متقینو خودلې شوی ، الله تعالی فرمايي :

﴿وَفِي الْأَرْضِ اٰيَاتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ﴾ . (۱)

ترجمه : او په زمکه کې د يقين کوونکو دپاره ډيرې نخې دي .

تفسير مظهري واله وايي چې د مُوْقِنِيْن نه مراد همدغه متقيان دي .

په کائناتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې

په کائناتو کې چې د الله ﷻ د قدرت او وحدانيت کومې نخې دي هغه خو ډيرې زياتې دي هغه ټولې راجمع کول خو د هيچا د وَس خبره نه ده ، البته زه به درته يو څو غټې نخې اجمالي بيان کړم .

که چيرته انسان سوچ وکړي نو په زمکه کې دا مختلف قِسمه فصلونه ، ميوې ، اُونې .

بيا د هر يو رنګ جدا ، بُوی جدا ، خاصيت جدا او اَثر جدا .

بيا په دې زمکه دا نهرونه ، کوهيان ، چينې ، غرونه ، غارونه او زر (۱۰۰۰) قسمه د زمکې ، د هوا ، او اُوبو ځانله ځانله مخلوقات (۲) .

بيا په دې کې د هر يو ځانله ځانله قِسمونه ، ځانله ځانله حالات ، خوراک او فوايد .

بيا په مخ د زمکه د مختلفو قبيلو او مختلفو علاقو انسانان چې د هر يو رنګ د بل نه جدا ، ژبه يې جدا ، اخلاق يې جدا ، او عادات يې جدا .

بيا دا وسيع او اُوچت آسمانونه کوم چې بغير د ستنو ولاړ دي .

---

(۱) الذاريات آيت ۲۰ ، ۲۱ .

(۲) قَالَ عُمَرُ ﷺ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : إِنَّ اللهَ خَلَقَ اَلْفَ اُمَّةٍ سِتُّ مِائَةٍ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ ، وَأَرْبَعُ مِائَةٍ فِي الْبَرِّ . اخرجه البيهقي في شعب الايمان ، مشكوة شريف ص ۲۷۲ ، نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٦١٥

بيا په دې کې دا عظيم نمر چې ددې غټ والې د زمکې نه يو سل او شپيته (۱۶۰) چنده زيات دی.

بيا په دې کې سپوږمۍ او بې شماره ستوري چې ورو کې ستوري په کې د زمکې نه يو په اته (۸) چنده غټ دی.

بيا د نمر سپوږمۍ او ستورو دا محکم نظام چې د زرګونو کلونو نه راپه ديخوا په ټاکلي وخت سره روان دي، نه خرابيږي، نه ...يږي، او نه يې د څه مرمّت کولو ته ضرورت شته، بلکه يو سيکنډ هم مخکې روستو کيږي نه.

بيا د زمکې او آسمان په مينځ کې دا چليدونکې هواګانې، بارانونه، او ددې دا مخصوص نظام. بيا د زمکې په خيټه کې دا مختلف قسمه معدنيات.

نو که چيرته انسان په دې کې غور او فکر وکړي نو په هر يو شي کې به د الله ﷻ د قدرت او حکمت دومره نخې اوګوري چې د هغې شميرل به مشکل شي، او دا به د الله تعالى د معرفت سبب وګرځي کوم چې مستقل عبادت دی. څکه خو يو شاعر وايي:

برګِ درختانِ سبز در نظرِ هوشيار • هر ورقے دفتريست معرفتِ کردګار

د هوښيار سړي په نظر کې د شنو اُونو هره پاڼه د الله ﷻ د معرفت يو عظيم دفتر دی.

(چې هره پاڼه د الله ﷻ په وجود، او دهغه په قدرتونو دلالت کوي)

دويم آيت: الله ﷻ فرمايي:

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ أَنْزَلَ اللهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ وَّتَصْرِيْفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ لَاٰيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴾.(۱)

ترجمه: بيشکه د آسمانونو او زمکې په پيدا کولو کې، او په تلو راتلو (يا ګوېيدو او وړو کې کيدو) د شپې او ورځې کې، او په هغه کشتۍ کې چې په درياب کې روانه وي د خلقو د فايدې شيان وړي راوړي، او په هغه اُوبو کې چې الله تعالى د آسمان نه نازلې کړې،

(۱) البقرة آيت ۱۶۴.

بيا يې په دې اوبو سره مړه (يعنې اوچه) ځمکه ژوندۍ کړه، او په دې ځمکه کې يې هر قسمه ځناور خواره کړه، او د هواګانو په ګرځولو کې، او په هغه وريځو کې چې د آسمان او ځمکې په مينځ کې زوړندې ولاړې دي (يعنې د الله ﷻ د حکم تابعدارې دي) په دې ټولو شيانو کې د عقل مندو خلقو د پاره نخې (د قدرتِ کامله او دلائل د توحيد) دي.

فائده : په دې آيت کريمه کې هم انسان ته په ګير چاپيره کائناتو کې د غور و فکر دعوت ورکړې شوی، او د الله ﷻ په وحدانيت، د هغه په قدرتِ کامله کيدو باندې دا سې دلايل بيان شوي چې په دې کې فکر کولو سره انسان ته دا په خپله واضحه کيږي چې د دې ټول نظام خالق او چلوونکې دا سې عليم و خبير او حکيم ذات دی چې د هغه هيڅ مِثل نشته.

دغه وجه ده چې قرآن کريم موقع په موقع انسان ته په مخلوقاتو کې د غور و فکر کولو دعوت ورکړی، ځکه په مخلوقاتو کې په تفکّر او تدبّر کولو سره د انسان ايمان کامل کيږي او په زړه کې يې د الله ﷻ عظمت پيدا کيږي.

دريم آيت : الله رب العزت فرمايي :

﴿ أَوَلَمْ يَنظُرُوا فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ وَأَنْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴾. (۱)

ترجمه : آيا دوی نظر (غور و فکر) اونه کړو په حکومت (بادشاهۍ او اِنتظام) د آسمانونو او ځمکې کې، او څه چې الله ﷻ پيدا کړي دي د هر څيز نه. او (ديته يې هم فکر نه دې کړی) دا چې شايد د دوی نيټه رانږدې شوې وي، (پس کله چې د قرآن کريم غوندې اَثر لرونکي کلام سره د دوی فکر نه راپورته کيږي) نو د قرآن نه پس به دوی په بله کومه خبره ايمان راوړي؟

فايده : په دې آيت کې هم انسان ته د الله ﷻ په مخلوقاتو کې د فکر کولو بلنه ورکړې شوې چې که د معمولي عقل خاوند هم د الله ﷻ دې عجيبه کاريګرۍ ته نظر وکړي نو په هر

(۱) الاعراف آيت ۱۸۵.

شي کې به ورته د الله ﷻ د قدرتِ کامله کيدو ننداره ښکاره شي، او که د ژوَر نظر خاوند په دې مخلوقاتو کې سوچ و فکر وکړي نو په ذره ذره کې به ورته د الله ﷻ قدرتونه په نظر راشي، او د جهان ذره ذره به دربِ العزت ثنا خوان، تسبيح ويونکې او حمد ويونکې او مومې چې په دې سره د انسان د ايمان وخوالي، او په زړه کې د الله ﷻ دعظمت يو فطري تقاضا جوړه شي. (۱)

لکه يو شاعر وايي:

هر گياهے که از زمين رويد ❊ وحده لاشريک له گويد

هره گياه چې د زمکې نه راټوکيږي نو هغه "وحده لاشريک له" وايي.

(۱) معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ . ددينه علاوه هم نور ډير آيتونه شته چې په هغې کې انسان ته د الله ﷻ په مخلوقاتو کې د غور او فکر کولو دعوت ورکړې شوی لکه: ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَابَّةٍ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَاءُ قَدِيرٌ . سورة الشورى آيت ۲۹ .﴾ . ﴿أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ . سورة ق آيت ۶﴾ ، ﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ . وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ . وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ . وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ . الغاشية آيت ۱۷ تر ۱۹﴾ . ﴿أَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا . رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاهَا . وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا . وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا . أَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعَاهَا . وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا . مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ . النازعات آيت ۲۷ تر ۳۳﴾ . ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ . وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَٰلِكَ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ . سورة فاطر آيت ۲۷ ، ۲۸﴾ . ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ . ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَأَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . سورة الحج آيت ۵ ، ۶﴾ . ﴿مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ . بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ . سورة الرحمن آيت ۱۹ ، ۲۰﴾ . ﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا . إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا . سورة الدهر آيت ۱ ، ۲﴾ . ددينه علاوه نور هم ډير آيتونه شته چې په دې ټولو کې انسان ته د الله ﷻ په مخلوقاتو کې د تفکر او تدبر کولو دعوت ورکړې شوی.

په مخلوقاتو کې غور او فکر کول

په قرآن کريم کې د عقلمندو خلقو يوه نښه دا هم خودلې شوې چې: ''وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ'' دوی د آسمانونو او زمکې په پيداوښت کې فکر کوي.

د فکر تعريف: د فکر لفظي معنی ده غور کول، او د يو شي حقيقت ته د رسيدو کوشش کول.

د الله ﷻ په ذات کې تفکُر نه دې په کار

خو دا فکر او تدبّر د الله ﷻ په مخلوقاتو کې په کار دی چې په دې سره د الله ﷻ په وحدانيت او قدرت باندې د انسان يقين پوخ شي، او د الله ﷻ عظمت يې په زړه کې پيدا شي. ليکن دا فکر د الله ﷻ په ذات او صفاتو کې نه دې په کار، ځکه د الله ﷻ د ذات او صفاتو معلومول د انسان د عقل نه ډيره لوره خبره ده.

دغه وجه ده چې که هر څومره د الله ﷻ په ذات او صفاتو کې فکر او سوچ وکړې شي نو نتيجه يې بغير د حيرانتيا نه بل هيڅ نه راأوځي.

بل دا چې بعضې وخت ناقِصُ العقل انسان لره د الله ﷻ په ذات او صفاتو کې زيات سوچ او فکر کول د ګمراهۍ سبب جوړيږي، ځکه د دې حقيقت ته رسيدل د انسان د رَسايي او قدرت نه ډيره لرې خبره ده.

په احاديثو مبارکهٔ کې هم د الله ﷻ په ذات کې د فکر کولو نه منع راغلې، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمايي چې څه خلقو د الله ﷻ په ذات کې فکر کولو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

تَفَكَّرُوْا فِيْ خَلْقِ اللهِ وَلَاتَفَكَّرُوْا فِي اللهِ فَإِنَّكُمْ لَنْ تقدرُوْا قدره . (۱)

تاسو د الله ﷻ په پيدا وښت (مخلوقاتو) کې فکر کوئ، او د دالله ﷻ په ذات کې فکر مه کوئ ځکه تاسو د هغه اندازه معلومولو باندې قادِر نه يئ . (۲)

دغه وجه ده چې د الله ﷻ د ذات او صفاتو په مسئله کې لويو لويو ماهرينو فلسفيانو او د معرفت خاوندانو بالاخر دا نصيحت کړی چې :

نه هر جا ئے مرکب توان داختن * که جا ها سپر بايد انداختن . (۳)

په هر ځای کې څوک آسونه نشي زغلولی، ځکه په ډيرو ځايونو کې ډال غورځول په کار دي .

په مخلوقاتو کې تفکّر کول عبادت دی

کله چې په دې کائناتو کې د الله ﷻ په قدرتونو او حکمتونو کې سوچ کولې شي نو دا د الله ﷻ د معرفت او پيژندګلو ذريعه ګرځي چې دا هم لوي عبادت دی .

حسن بصري رحمه الله وايي :

تَفَكُّرُ سَاعَةٍ خَيْرٌ مِّنْ قِيَامِ لَيْلَةٍ . (۴)

---

(۱) ذكره الزبيدي في الاتحاف (۱۰/ ۱۶۲) و (۶/ ۵۳۶)، نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۰۲ .

(۲) قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په خپل تفسير کې د څه تحقيق نه پس ليکي : قلت ورد في الحديث تفكروا في كل شيء ولاتفكروا في ذات الله تعالى فإن بين السماء السابعة الى كرسيه سبعة آلاف نور وهو فوق ذلك . رواه ابوالشيخ في العظمة عن ابن عباس . وعنه بلفظ تفكروا في الخلق ولاتفكروا في الخالق فإنكم لاتقدرون قدره . وعن أبي ذر نحوه بلفظ تفكروا في خلق الله ولاتفكروا في الله فتهلكوا . وروي ابونعيم في الحلية عن ابن عباس تفكروا في خلق الله ولاتفكروا في الله ... فهذه الاحاديث تدل على المنع عن التفكر في مرتبة الذات واقتصاره في مراتب الافعال والصفات والاسماء . تفسير مظهري ج ۲ ص ۱۹۹ سورة آل عمران آيت ۱۹۱ .

(۳) معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ .

(۴) تفسير ابن كثير، معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ ، نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۰۳ كتاب التفكر .

د قدرت په نخو نخانو کې يو ساعت فکر کول د ټولې شپې د عبادت نه ډير بهتر دی .
او حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله هم دې غور او فکر ته غوره عبادت ويلې دی. (۱)

په مخلوقاتو کې د تفکر کولو نور فوايد

حضرت حسن بن عامر وايي : ما د ډيرو صحابه کرامو نه اوريدلي چې ټولو به دا فرمايل : د ايمان نُور او رڼا تفکر دی .

سفيان بن عيينه رحمه الله وايي : غور او فکر يو نُور دی چې ستا په زړه کې داخليږي . (۲)

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

الفكرة تذهب الغفلة وتحدث للقلب الخشية كما يحدث الماء للزرع النبات . (۳)

په مخلوقاتو کې فکر کول غفلت ختموي ، او په زړه کې (داسې) خشيت (او يَره) پيدا کوي لکه څرنګې چې اُوبه فصل رازرغونوي .

وهب بن منبه رحمه الله وايي : کله چې څوک په مخلوقاتو کې ډير ډير غور او فکر کوي نو هغه به په حقيقت پوهه شي ، او څوک چې په حقيقت پوهه شو نو هغه ته صحيح علم حاصل شو ، او چاته چې صحيح علم حاصل شو هغه به خامخا په دې عمل هم کوي . (۴)

بشر حافي رحمه الله وايي :

لَوْ تَفَكَّرَ النَّاسُ فِيْ عَظَمَةِ اللهِ لَمَا عَصَوْهُ . (۵)

که چيرته خلقو د الله ﷻ په لويۍ کې تفکر کولې نو دده نافرماني به يې نه وه کړې .

---

(۱) ابن كثير ، معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ .

(۲) معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ .

(۳) تفسير ابن كثير ، معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ ، نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۰۳ كتاب التفكر .

(۴) تفسير ابن كثير ، معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ .

(۵) نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۰۳ كتاب التفكر ، معارف القرآن سورة آل عمران آيت ۱۹۱ .

د عالم ذره ذره د الله ﷻ په وجود او قدرتونو دلالت کوي

محترمو ! ددې عالم ذره ذره د الله ﷻ د وجود ، د هغه د قدرتونو او معرفت یو عظیم مَظهر او یو لوي باب دی ، ځکه که چیر ته مونږ د دُنیا یو مصنوع اوګورو نو زمونږ ذهن خامخا د هغې صانِع طرفته ځي ، داسې کیدې نشي چې یو شی په خپله باندې اتو میتک بغیر د صانِع نه جوړ شي . لکه مولانا روم وایي :

هیچ چیزے خود بخود چیزے نه شد * هیچ آهن خود بخود تیغے نه شد

هیڅ شی په خپله نه موجودیږي ، او د هیڅ اُوسپنې نه پخپله تُوره نه جوړیږي (بلکه ددې د پاره د لوهار ضرورت دی) .

نو که چیرته یو آبادي بغیر د ګلګار نه نشي جوړیدي ، یو دُکان بغیر د دُکاندار نه نشي چلیدی ، یو موټر بغیر د ډرائیور نه نشي چلیدی نو بیا دا دومره وسیع کائنات بغیر د صانِع او جوړوونکي نه څنګه پیدا شو ؟ بیا د نمر او سپوږمۍ ، د ورځې او شپې ، اُوري او ژمي دا محکم او منظّم نظام بغیر د چلوونکي نه څنګه چلیږي ؟

بلکه ددې د پاره خامخا یو خالِق ، قادِر او حکیم ذات په کار دی چې ددې نګراني کوي او هغه ذات الله ﷻ دی .

ځکه خو یو سالِک وایي :

اَلْبَعْرَةُ تَدُلُّ عَلَى الْبَعِيْرِ ، وَآثَارُ الْأَقْدَامِ عَلَى الْمَسِيْرِ فَالسَّمَآءُ ذَاتُ أَبْرَاجٍ وَالْأَرْضُ ذَاتُ فِجَاجٍ كَيْفَ لَاتَدُلَّانِ عَلَى اللَّطِيْفِ الْخَبِيْرِ .

کله چې یوه پچه په دې باندې دلالت کوي چې په دې لاره باندې اُوښ تللی ، او د قدمونو نخې په دې باندې دلالت کوي چې په دې لاره څوک تلونکې تللی نو بیا دا د برجونو واله آسمانونه او دا د فراخه اُوږدو لارو واله زمکه به څنګه په لطیف او خبیر ذات باندې دلالت نه کوي ؟ (بلکه خامخا به یې کوي) .

د الله ﷻ په وجود او د هغه په قدرت باندې یو څو دلایل

که انسان سوچ وکړي نو په مخلوقاتو کې قدم په قدم داسې دلائل موجود دي چې هغه د الله ﷻ په وجود ، معرفت ، وحدانیت او د هغه په عظیمو قدرتونو باندې دلالت کوي . د هغه وجود د هیڅ دلیل محتاج نه دی بلکه د هر انسان په زړه کې فطرتًا دا خبره شته چې هغه د الله ﷻ په وجود او قدرتونو باندې پخپله اقرار وکړي .

خو بیا هم ددې په باره کې درته د ائمه اربعهٔ یو څو دلائل ذکر کوم :

د امام ابو حنیفه رحمه الله او یو دَهري مناظره

د اموي خلیفه ''مهدي'' په دربار کې یو دهري دا اعلان وکړو چې زه د الله ﷻ وجود نه منم ، دا جهان په خپله پیدا شوی ، او که څوک د ماسره ددې په باره کې بحث او مناظره کول غواړي نو زه دادې حاضریم .

امام ابو حنیفه رحمه الله په دې وخت کې یو لوي عالِم ؤ ، مهدي ده پسې یو کس ور ولیږلو چې زما دربار ته ددې دهري د چپ کولو او مناظرې د پاره راشه ، امام صاحب دې کس ته وویل : چې ته ځه ، زه درپسې درځم ، آستازې دربار ته واپس راغلو ، او دوی ته یې د امام صاحب د راتلو خبر ورکړو ، خلقو ټولو انتظار کولو ، چونکه په بغداد کې د دریاې دَجله په یو طرف باندې شاهي محلات وو ، او بل طرف ته ددې ښار آبادي وه ، امام صاحب په دې ښار کې اوسیده ، ده دربار ته په تللو کې قصدًا تاخیر وکړو ، په دربار کې ټولو خلقو انتظار کولو ، او دَهري هم په خوشحالۍ سره د خپلې کامیابۍ دعوی کوله (چې ما درته نه ویل چې زه په حقه یم ، او دا جهان په خپله پیدا شوی ، ددې څوک خالِق نشته) .

تر دې چې امام صاحب د شپې ناوخته دربار ته راغلو ، بادشاه او نورو حاضرینو یې ډیر تعظیم وکړو ، خلیفه مهدي ورنه پوښتنه وکړه : امام صاحب ! څنګه ناوخته راغلې ؟ ده ورته وویل : د ما سره خو عجیبه واقعه اوشوه ، هغه دا چې : کله زه دربار ته د راتلو په غرض راروان شوم ، او د دریاب غاړې ته راورسیدم نو کشتۍ نه وه ، زه حیران شوم چې اوس به په کومه طریقه پورې وځم ، په دې کې ناڅاپه د دریاب نه تختې په خپله راووتې ، هغه په خپل

مینځ کې سره يو ځای شوی ، میخونه پرې ټک وهلې شو ، کشتۍ ترې جوړه شوه ، او زما طرفته راروانه شوه ، د ماسره نزدې اودريده ، ګويا دا ما خيجول غواړي ، زه په کې کيناستم ، دا کشتۍ په خپله راروانه شوه ، ددې محل سره اودريده ، زه ترينه راکوز شوم ، بيا هغه کشتۍ غائبه شوه . زه اوس په دې سوچ کې پروت يم ، چې دا څه قصه وه ؟ نو ددې د وجې ناوخته راورسيدم .

دهري وويل : امام صاحب ! دا خو تا صريح دروغ وويل ، او د ماشومانو خبرې دې وکړې ، دا څنګه کيدې شي چې تختې دې سره پخپله يو ځای شي ، په دې دې ميخونه پخپله ټک وهلې شي ، کشتۍ دې ترې جوړه شي ، بيا دې په خپله راروانه شي او تا دې د دريار سره کوز کړي ، آخر ددې دپاره څوک جوړوونکې او چلوونکې په کار دی ، ځکه بغير د جوړوونکي او چلوونکي نه دا د سره ممکن نه ده .

امام صاحب ورته جواب ورکړو : چې کله يوه وړه کشتۍ بغير د جوړوونکي نه نشي جوړيدی ، او بغير دچلوونکي نه نشي چليدی ، نو بيا دا دومره لوي کائنات چې په دې کې بې شماره مخلوقات دي ، نمر دی ، سپوږمۍ ده ، ستوري دي ، انسانان دي ، پيريان دي ، ځناور دي ، آسمانونه دي او زمکه ده ، آيا دا ټول په خپله پيدا شو ؟ آيا دا بغير د يو چلوونکي نه چليدې شي ؟ هيڅکله نه ، بلکه ددې د پاره خامخا يو خالِق او ددې نظام چلوونکې شته او هغه د الله ﷻ ذات دی . نو د ماشومانو خبرې ته کوی او که زه ؟

دې اوريدو سره دَهري مغلوبه (پَړ) شو ، او مناظره هم ختمه شوه .

د امام شافعي رحمه الله د يو زنديق سره خبرې

يو زنديق د امام شافعي رحمه الله سره مخامخ شو ، ورته وې ويل : اې شافعي ! د تاسره د الله ﷻ په وجود او قدرت باندې څه دليل دی ؟ ده ورته وويل : د تُوت پاڼه . زنديق ورته وويل : دا څنګه ؟ ده ورته وويل :

ګوره ، ددې پاڼې رنګ يو دی ، خوند يې يو دی او بُوی يې يو دی ، خو که چيرته دا پاڼه د وريښمو چينجې او خوري نو پاسته وريښم ورنه جوړيږي ، که د شهدو مچۍ يې او خوري نو

صفا شهد ورنه جوړېږي ، که هوسۍ یې اوخوري نو خُوشبودار مشک ورنه جوړېږي او که چیلۍ یې اوخوري نو بدبوداري پچې ورنه جوړېږي .

اوس په حیواناتو کې دننه دا صلاحیتونه پیدا کول خو ددې پاڼې کمال نه دی ، ځکه پاڼه خو صرف یو کار کولې شي . معلومه شوه چې ددینه پورته یو خالِقُ الکائنات شته چې هغه د رب العالمین ذات دی . نو هغه زندیق حیران شو . (۱)

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه : تا ته څنګه معلومه شوه چې الله ﷻ موجود دی ، دا عالَم یې پیدا کړی او د لوي قدرت مالک دی ؟ ده ورته ووېل : ما په دُنیا کې د سپینو زرو یو محل اوکته چې په هغې کې هیڅ قِسمه سوري او دروازه نشته ، بیا په هغې کې دننه د سرو زرو محل دی ، په هغې کې هم هیڅ قِسمه سوري نشته ، دې دواړو محلونو ته نه څوک دننه ورتلې شي ، او نه د دننه نه څوک بهر راتلې شي ، ما اوکته چې یو څو ورځې پس ناڅاپه دا محل اُوچاؤد ، او ددینه یو ژوندې حیوان راووت ، او د تجربه کار حیواناتو په شان کار کول یې شروع کړه ، زه پوهه شوم چې ضرور داسې یو ذات شته چې هغه په دې محل کې ددننه دا حیوان جوړ کړو ، دده تربیت یې وکړو ، او ده ته یې تعلیم ورکړو او هغه ذات ربُّ العالمین دی .

خلقو ورته ووېل : حضرت ! دا محل چیرته دی ؟ ده ورته ووېل : دا هګۍ (انډا) ده ، چې دا د سپینو زرو محل دی ، دننه زیړ په کې د سرو زرو محل دی ، شل (۲۰) ورځې پس چې کله دا هګۍ ماته شوه نو چرګوړې ورنه راووت ، فوراً یې د زړو چرګانو په شان خوراک

(۱) التقى زنديقٌ بالامام الشافعي يومًا فقال له : ياشافعيُّ ! ما الدّليلُ على وجود الله ؟ فقال الشافعي : ورقةُ التّوت . فقال الزنديق : كيف ذلك ؟ قال الشافعي : انظر إليها . أليس لونُها واحدًا ؟ وطعمها واحدًا ؟ وريحها واحدًا ؟ قال الزنديقُ : بلى . فقال الشافعي : تأكلها دودة القز فتُخرج حريرًا ناعمًا . وتأكلها النحلة فتخرج عسلًا صافيًا . وتأكلها الظباء فتخرج مسكًا طيبًا . وتأكلها الحيوانات فتخرج بعرًا منتنًا . مَنِ الّذِيْ أوجد هذه المصانع في تلك الحيوانات ؟ إنّه الله خالقُ البريّات : ﴿ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ . البقرة آيت ۲۵۸ ﴾ . الطريق الى الجنة ص ۳۵۵ .

شروع کړو ، ماته پته ولږېده چې په دې بَندهٔ هګۍ کې دې چرګوړي ته تعليم ورکول صرف د الله ﷻ کار دی . (بل دا چې چرګه په هګو باندې د ناستې پابند کول ، په هګۍ کې دننه د بچي جوړول ، هغه ته خوراک ورکول ، او بيا چرګې ته د بچي جوړېدو وخت معلومول چې په هماغه وخت هګۍ ماته کړي کله چې بچې جوړ شوې وي ، دا ټول د ربُّ العالمين الهامي خبرې دي چې ددې خالق الله ﷻ دی .

د امام مالک رحمه الله نه پوښتنه

د امام مالک رحمه الله نه چا د الله ﷻ د ثبوت او قدرتونو په باره کې پوښتنه وکړه ، ده ورته ووېل : د هر انسان په شکل ، عُمر ، اَخلاقو او آواز کې فرق کول ، او بيا د دوی د ژوند اسباب او ضروريات برابرول صرف او صرف د خالقِ کائنات کار دی ، دا د بل هيچا د وَس خبره نه ده .

بل دا چې که سرې سوچ وکړي نو په غونډهٔ دُنيا کې په يوهٔ گنهټه کې تقريبًا شپږويشت زره (۲۶۰۰۰) کسان پيدا کيږي ، او اتلس زره (۱۸۰۰۰) کسان وفات کيږي ، ګويا په شپه ورځ کې په ټوله دُنيا کې شپږنيم لکه (۶۵۰۰۰۰) خلق پيدا کيږي ، ددې نه علاوه نور بې شماره مخلوقات دي ، دې ټولو ته رزق ورکول او د ژوند اسباب ورته برابرول ، بيا ددې دومره ډيرو انسانانو په شکلونو ، رنګونو او آوازونو کې فرق کول دا صرف د الله رب العزت کار دی .

د هر شي په پيدا کولو کې خامخا څه حکمت شته .

الله ﷻ حکيم ذات دی ، په مخ د زمکه يې چې څومره شيان پيدا کړي په دې هر شي کې د الله ﷻ ډير حکمتونه پټ دي اګر چې په ظاهره باندې مونږ ته په دې کې هيڅ حکمت او مصلحت په نظر نه راځي خو په حقيقت کې په دې کې ډيرې فائدې او حکمتونه شته ، لکه په دې زهريله شيانو (مار ، لړم ، مچۍ وغيره) کې يوه فائده دا هم ده چې په هوا کې کوم زهريله اثرات وي کوم چې د انسان د وجود د پاره نقصاني وي هغه دا زهريله شيان راکاږي چې په دې سره هوا صفا شي .

د ګونګټ په پيدا کولو کې حکمت

امام قزويني رحمه الله وايي، چې يو سړي ګونګټ وليد (کوم ته چې په عربي کې خنفساء وايي)، ده وويل:

ما ذا يريد الله من خلق هذه؟ لاحسن شکلها ولاطيب رائحتها.

الله ﷻ دا ولې پيدا کول؟ نه خو يې څه ښکلې شکل دی، او نه يې څه خوشبويي شته.

نو الله ﷻ يې په وجود کې يوه داسې دانه راوخيجوله چې ټول طبيبان د هغې د علاج نه سترې شو، علاج يې ورله نه کولو. آخر دا چې داسړې مايوسه شو، او په کور کې پروت ؤ، يوه ورځ يې بهر په کوڅه کې د يو حکيم آواز واوريد، ده خلقو ته وويل چې ورشئ، دا حکيم ماله راولئ چې زما علاج وکړي، خلقو ورته وويل: لوي لوي حکيمان ستا د علاج نه سترې شو، دې به ستا څه علاج وکړي، خو ده ورته وويل: ورشئ خامخا يې راولې.

کله چې هغه حکيم راغی، او هغه دا زخم اوکته نو وې ويل: لاړ شئ، ما له يو ګونګټ راپيدا کړئ زما په کار دی. ناستو خلقو چې دا خبره واوريده نو وې خندل، او دا يې هسې عبث اوګڼله، دې مريض چې څنګه د ګونګټ نوم واوريده نو هغه مخکينی خبره ورته رايادہ شوه کومه چې ده کړې وه.

دې مريض ناستو خلکو ته وويل: دا حکيم چې څه وايي هغه اومنئ، او لاړ شئ ګونګټ ورله راپيدا کړئ، کله يې چې ورله ګونګټ راوړو، حکيم هغه مړ کړو، بيا يې اوسيزلو، او هغه ايره يې په دې دانه باندې واچوله، څه لږ وخت پس دده دا دانه او زخم ښه شو.

بيا دې مريض خلقو ته وويل چې ما مخکې يوه خبره کړې وه چې د ګونګټ په پيدا کولو کې څه حکمت دی؟ دا الله ﷻ ولې پيدا کول؟

نو الله ﷻ د هغې سزا ماته راکړه، او دا يې راته اُوخوده چې کوم شی زما په نزد بالکل بې کاره او بې فائدې معلوميده هماغه زما د زخم د پاره بهترينه دَوا وه.(۱)

---

(۱) نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۱۵ کتاب التفکر.

دا ټول کائنات د انسان د فائدې د پاره پيدا دي

په ټولو مخلوقاتو کې الله ﷻ انسان په بهترين شکل و صورت پيدا کړی ، لکه الله تعالی فرمايي :

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْٓ أَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه مونږ انسان په ډير ښايسته شکل پيدا کړی .

بيا يې انسان ته په ټولو مخلوقاتو باندې عزت او شرافت ورکړی ، لکه الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴾ . (۲)

ترجمه : او بيشکه مونږ د (حضرت) آدم (عليه السلام) اولاد ته عزت ورکړو ، او مونږ دوی په اُوچه او سمندر کې سواره کړل (په څاروو او کِشتو باندې) ، او مونږ دوی ته د پاکيزه څيزونو نه روزي ورکړه ، او مونږ دوی ته فضيلت ورکړو په ډيرو هغه مخلوقاتو باندې کوم چې مونږ پيدا کړي دي ، په ښکار فضيلت ورکولو سره .

او بيا الله رب العزت دا ټول کائنات د انسان دفائدې دپاره پيدا کړل ، لکه الله ﷻ فرمايي :

﴿ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ... ﴾ . (۳)

ترجمه : آيا تاسو اونه ليده چې الله تعالی ستاسو د پاره په کار اُولږول (يعنی ستاسو په خدمت باندې يې ولږول ټول هر) څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکه کې دي ، او الله تعالی په تاسو باندې خپل ښکاره او پټ نعمتونه پوره کړل .

---

(۱) التين آيت ۴ .

(۲) سورة بني اسرائيل آيت ۷۰ .

(۳) سورة لقمان آيت ۲۰ .

د انسان مقصدِ حيات : کله چې دا ثابته شوه چې دا دومره لوي نظام الله ﷻ د انسان د فائدې د پاره پيدا کړی ، نو اوس سوال دا دی چې انسان د څه مقصد د پاره پيدا دی ؟

نو ددې جواب قرآن کريم په خپله بيان کړی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ . (۱)

ترجمه : او ما نه دي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر صرف ددې د پاره چې دوی زما عبادت وکړي .

نو د انسان مقصدِ حيات هم معلوم شو چې هغه د الله ﷻ عبادت کول دي .

بيا الله تبارک وتعالی دداسې عبادت ګزار او نيکو اعمالو کوونکو بندګانو سره په دُنيا او آخرت کې د حياتِ طيّبه (اطمينان او سکون واله ژوند) وعده هم کړی ، لکه الله تعالی فرمايي :

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : چا چې نيک عمل وکړو ، که هغه سړی وي او که ښځه ، خو چې هغه مومن وي ، نو مونږ به خامخا ده ته (په دُنيا کې) پاکيزه ژوند ورکړو ، او خامخا به مونږ دوی ته (په آخرت کې) د هغه نيکو کارونو په عوض کې اجر ورکړو کوم چې به دوی (په دُنيا کې) کول

د انسان په بدن کې د الله ﷻ د قدرت نخې

په ټولو مخلوقاتو کې الله ﷻ انسان په ډير ښائسته ، عجيبه او حيرانوونکي شکل و صورت باندې پيدا کړی . که چيرته انسان په دې خپل پنځه يا شپږ فټه بدن کې سوچ وکړي نو ده ته به په دې کې هم د الله ﷻ د کامل قدرت عجيبه نخې ښکاره شي ، او په هر اندام کې به د الله ﷻ د حکمت دفتر پيا مومي ، ځکه په ټول جهان کې چې د الله ﷻ د قدرت څومره نخې دي هغه ټولې الله رب العزت د انسان په دې وړوکي بدن کې را جمع کړي .

(۱) الذاريات آيت ۵۶ .

(۲) النحل آيت ۹۷ .

ددې د وجې نه انسان ته عالَمِ اصغر (وړوکې جهان) ويلې شي . يعنی په دې دُنيا (عالَمِ اکبر) کښې چې الله ﷻ څومره شيان پيدا کړي هغه ټول يې د انسان په دې وړوکي بدن (عالَمِ اصغر) کښې هم پيدا کړي . (۱)

الله تعالى فرمايي : ﴿ وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوقِنِينَ . وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او په زمکه کښې د يقين کوونکو دپاره ډيرې نخې دي ، او په خپله ستاسو په ځانونو کښې هم (ډيرې نخې دي) ، نو آيا تاسو دا په غور سره نه ګورئ ؟ (او تاسو ته نه ښکاري ؟) .

بل ځاى الله ﷻ فرمايي :

﴿ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ... ﴾ . (۳)

ترجمه : ډير زر به مونږ دوی ته د خپل قدرت نخې په خواوُ شا دُنيا ، او د دوی په نفسونو کښې هم اوښايو ، تر دې پورې چې دوی ته دا واضحه شي چې دا (کتاب) حق دی .

---

(۱) ونقل الامام فخر الدين الرازي في كتاب أسرار التنزيل ولطائف التأويل عن أبي جعفر الباقر عليه السلام أنه قال : كلّ ما خَلَقَ الله في العالم الأكبر فانظر في العالم الأصغر تجده ، وذالك لأنه خَلَقَ في العالم الأكبر شمسًا وقمرًا ونجومًا وخلق في العالم الأصغر الروح . لأنّ الروحَ تضيء الجسد كما أنّ الشمس إذا غربت صار العالم مظلمًا . والعقلُ كالقمر فكما أنّ القمر يستمد النّور من الشمس فكذلك العقل يستمد النّور من الرّوح ، وكما أنّ القمر يزيد ضوؤه تارة وينقص تارة فكذلك العقل . وأما النّجوم الخمسة السيارة فنظيرها في البدن الحواس . ونظير الجبال عظامك . ونظير البحار العروق الكبار . وكما أنه يحصل من البحار حيتان مضطربة فكذلك ترى في بحر فمك لسانًا مضطربًا بذكر الحكمة . وفي بحر مقلتك ترى حدقتك مضطربة بمطالعة العبر . وكما انك ترى في بعض أجزاء الأرض نباتا وفي بعضها ليس كذلك . فكذلك ترى في بعض أجزائك شعرا وفي بعضها ليس كذلك . نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين كتاب التفكر ص ۶۰۹ . ﴿ نوټ : د انسان په بدن کښې د غونډو کائناتو نمونه موجود يده و په باره کښې تفصيلي او بهترين بحث حکيم الاسلام قاري محمد طيب رحمه الله په خپلو مواعظو " خطبات حکيم الاسلام ج ۸ " کښې کړی چې شايقين حضرات يې هلته کتې شي ﴾ .

(۲) الذاريات آيت ۲۰ ، ۲۱ .

(۳) حم السجده آيت ۵۳ .

په انساني ژوند باندې نظر اچول

که چیرته انسان د اول نه نیولی تر د مرګه پورې حالاتو باندې غور وکړي نو ده ته به په هره مرحله کې د الله ﷻ د کامل قدرت کرشمه ښکاره شي :

چې څنګه انساني نطفه د مختلفو علاقو د غذاګانو نه خلاصه جوړه شوه ، بیا د مور په رحم کې ځای ورکړې شو ، بیا ترې علقه (چکه وینه) جوړه شوه ، بیا د هغې نه مضغه (د غوښې ټکړه) جوړه شوه ، بیا په هغې کې ساه واچولې شوه ، بیا د معلوم وخت نه پس دُنیا ته راوستې شو ، بیا په قلاره قلاره تربیت نه پس د یو بې عِلمه او بې شعوره بچي نه عقلمند او هوښیار انسان جوړ کړې شو ، بیا د ټولو انسانانو شکلونه او صورتونه مختلف جوړ کړې شو ، د دوی اخلاق او عادتونه مختلف جوړ کړې شو ، بیا که د انسان هر یو اندام او په هغې کې کار کوونکو باریکو مشینونو ته نظر وکړې شي نو انساني عقل حیران پاتې شي ،

څکه که چیرته انسان د یو فولادي سپرنګونو نه یو شی جوړ کړي نو هغه هم او یا یا اتیا کاله پس سُولیږي او خرابیږي حالانکه د الله ﷻ دې کاملې کاریګرۍ ته ګوره چې په اویا یا اتیا کاله په کار کولو سره د انسان د لاس څرمن او د ګوتو هغه کرخې هم نه سولیږي .

دغه وجه ده چې د ټولې دُنیا سائنس دانان او ډاکټران په دې متفق دي چې د انسان هر اندام چې د کوم مقصد د پاره په کوم شکل و صورت پیدا شوی ، او بیا په کوم ځای کې فِټ شوی نو د دې مقصد د پاره د دینه د بهترین شکل او بهترین ځای تصوّر نشي کیدی .

مثلاً غوږونه ، سترګې ، پوزه او دماغ چې په کوم شکل پیدا شوي ، بیا په کوم ځای کې لږېدلي نو د دې اندامونو د پاره د دینه بهترین بل شکل او بهترین بل ځای نه وُ .

پس کله چې انسان د الله ﷻ په دې قدرتونو باندې سوچ کوي او د عبرت په نظر سره ورته اوګوري نو په دې سره د ده په زړه کې د الله ﷻ عظمت او لويي پیدا کیږي ، الله ﷻ طرف ته متوجه کیږي ، ایمان یې مضبوطیږي ، او بیا د الله ﷻ هر حکم منلو ته په خوشحالۍ تیار وي .

(نوټ : د انسان د بدن په هر اندام کې د الله ﷻ د قدرتونو او حِکمتونو تفصیلي بیان روستو په صفحه ۳۲۱ راروان دی) .

د مور په خېټه کې د ماشوم مختلفې مرحلې

کله چې ماشوم د مور په خېټه کې وي او په ده باندې کومې مرحلې تيرېږي هغه مرحلې قرآن مجيد بيان کړي .

۱ . الله تعالى فرمايي :

﴿يَآ أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا﴾ . (۱)

ترجمه : اې خلقو ! که چيرته تاسو د دوباره ژوندي کيدو په حقله په شک کې يئ نو (لږ فکر وکړئ چې) بيشکه مونږ تاسو (اول) د خاورې نه پيدا کړي ، بيا د نطفې (يو څاڅکي د اُوبو) نه ، بيا د وينې د ټوټې نه ، بيا د غوښې د ټوټې نه چې (څنې) مکمله وي او (څنې) نامکمله وي . (۲) (دا انسان مو په دې ترتيب سره ځکه جوړ کړو) ددې د پاره چې مونږ ستاسو مخې ته (خپل) قدرت واضحه کړو ، او مونږ چې د کومې نطفې باره کې اوغواړو هغه د يوې ټاکلې مودې پورې (د مور) په رحِمونو کې ايساروو (او کومه چې حصارول نه غواړو هغه همداسې رااوغورځيږي) ، بيا مونږ تاسو ماشوم (جوړ کړو او د مور د خيټې نه مو) رااوباسو ، بيا تاسو د خپلې ځوانۍ زور ته اورسئ ، او څنې په تاسو کې داسې دي څوک چې (د ځوانۍ نه مخکې) مړه شي ، او څنې له تاسو نه هغه څوک دي چې (د

---

(۱) الحج آيت ۵ . همدغه شان مضمون په سورة مومن کې هم راغلی ، الله تعالى فرمايي : ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ . المومن آيت ٦٧ .

(۲) د احاديثو نه د مُخَلَّقَةٍ او غَيْرِ مُخَلَّقَةٍ تفسير داسې معلوميږي چې د کومې نطفې نه د انسان پيدا کول مقدّر وي هغه مخلّقه ده ، او د کومې نه چې د انسان پيدا کيدل مقدّر نه وي بلکه د هغې ضائع کيدل او غورځيدل مقدّر وي هغه غير مخلقه ده ، او څنې مفسرين يې دا تفسير کوي چې د کوم ماشوم مکمل پيدا کول مقصود وي يعنې اندامونه يې صحيح او سالم وي نو هغه مخلقه ده ، او چې اندامونه يې نيمګړي وي ، يا قد ، رنګ وغيره يې خپل مينځ کې بې سمونه وي هغه غير مخلقه ده . قرطبي ، معارف القرآن الحج آيت ۵ .

بوداتوب) غورزيدلي (بيکاره) عُمر ته اورسيږي ، (ددې اثر يا دا وي) چې په يو څيز باندې د پوهيدلو نه پس بې پوهه پاتې نه شي (لکه څرنګې چې د اکثرو بوډاګانو حالت دی چې کله ورته يوه خبره وکړې شي نو يا بيا د هغې پوهښتنه کوي) .

۲ . په دې آيت کې چې د ماشوم کومې مختلفې درجې بيان شوي دي د هغې تفصيل د بخاري شريف په يو حديث کې داسې راغلی ، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي :

حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ : إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ مَلَكًا فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعٍ : بِرِزْقِهِ ، وَأَجَلِهِ وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ . (۱)

مونږ ته رسول الله ﷺ اوفرمايل چې هغوی صادق او مصدوق دی (يعنی رښتيا ويونکې دی او رښتيا ګڼلې شي) ، چې تر څلويښتو ورځو پورې د انسان ماده د مور په رحم کې جمع پرته وي ، بيا څلويښت ورځې پس ترې چکه وينه جوړه شي ، بيا په څلويښتو ورځو کې د هغې نه غوښه جوړه شي ، بيا الله ﷻ يوه فرښته وراوليږي ، او دده باره کې (د مور په خېټه کې) د څلورو خبرو فيصله وکړې شي : دده د رزق متعلق ، دده د عمر متعلق ، او چې دا بدبخت دی ، او که نيک بخت .

د آيت تحقيق

په پاس ذکر شوي آيت کې الله رب العزت فرمايي :

﴿ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ بيشکه ما تاسو اول د خاورې نه پيدا کړي يئ . (۲)

(۱) صحيح . اخرجه البخاري ۵۶۹۴ ، کتاب القدر باب فی القدر حديث ۱۵۰۷ ، ومسلم ۲۶۴۵ من حديث ابن مسعود . والنظر شرح هذا الحديث في فتح الباري ۱۱/ ۴۷۷ وما بعد ، ومسلم للنووي ۱۶/ ۱۹۱ .

(۲) دا خبره په نورو آيتونو کې هم الله ﷻ بيان کړی ، الله تعالی فرمايي : ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴾ سورة الروم آيت ۱۱ ، ﴿ وَاللهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ﴾ سورة فاطر آيت ۱۱ ، ﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ﴾ سورة مومن آيت ۶۷ ، ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ سورة حجر آيت ۲۶ ، ﴿ خَلَقَ الْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَالْفَخَّارِ ﴾ سورة رحمن آيت ۱۴

(يعنی نطفه چې د کومې غذا نه پيدا شوی هغه غذا د خاورې نه پيدا شوی ، يا دا چې زمونږ اصل حضرت آدم عليه السلام د خاورې نه پيدا شوی (۱))

بيا فرمايي : ﴿ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ﴾ بيا د نطفې (يو څاڅکي د اُوبو (۲)) نه (کومه نطفه چې د غذا نه پيدا شوی) .

﴿ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ﴾ بيا د چَکه وينې نه (دا چې کله نطفه ټينګه او سُور رنګې شي) .

﴿ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ ﴾ بيا د غوښې د ټوټې نه (دا چې کله دغه چکه وينه سخته شي) .

بيا په دې مضغه کې هډوکي جوړولې شي ، او هغې ته بيا غوښه وراغوستولې شي . دا خبره الله ﷻ په سورة مومنون کې داسې بيانوي :

﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِّنْ طِيْنٍ . ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ . ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : بيشکه مونږ انسان د خټې د خُلاصې (جَوهر) نه پيدا کړو ، بيا مونږ دا نطفه (څاڅکې د اُوبو) په محفوظه قرارګاه (د مور په رحم) کې جوړه کړه (او هلته مو محفوظه اوساتله) ، بيا مونږ ددې نطفې نه چکه وينه (يوه ټوټه د وينې) جوړه کړه ، بيا مونږ ددې چَکه وينې نه د غوښې بوټۍ جوړه کړه ، بيا مونږ ددې بوټۍ د وينې نه (څنې برخه) هډوکي جوړ کړه ، بيا مونږ دې هډوکو ته غوښه وروا غوسته (يعنی په هډوکو مو غوښه پيدا کړه ، او بيا مو په کې رُوح واچول) بيامونږ ورنه يو نوې (ژوندې ساه دار) مخلوق جوړ کړو (کوم

---

(۱) تفسير كبير ج۸ ص ٦٢ سورة طه آيت ٥٥ .

(۲) په نورو آيتونو کې دا خبره الله ﷻ داسې بيان کړی : ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا . الفرقان آيت ٥۴ ﴾ ، ﴿ فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ . خُلِقَ مِنْ مَّاءٍ دَافِقٍ . يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ . الطارق ٥ تا ٧ ﴾ . ﴿ وَاللهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِّنْ مَّاءٍ . النور آيت ۴٥ ﴾

(۳) المومنون آيت ۱۲ تا ۱۴ .

چې د مخکيني حالاتو نه مکمل بدل دی) ، پس مبارک دی هغه الله ﷻ چې د ټولو نه ښه جوړوونکې دی .

فايده : په دې آيت کې د الله ﷻ د کامل قدرت ، او د انسان په پيدا کولو کې د الله ﷻ د کاريګرۍ خاص نَنداره بيان شوې ، او د انسان د پيدائش اووه (۷) دَورونه بيان شوي چې د ټولو نه اول ﴿سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ﴾ ، دويم : نطفه ، دريم علقه ، څلورم : مضغه ، پنځم : عظام (هډوکي) ، شپږم : په هډوکو باندې غوښه خيجوَل ، او اووم : په هغه ماشوم کې روح پُوک وهل او يو ژوندې انسان ورنه جوړول . (۱)

په ميږې کې د الله ﷻ د قدرت ننداره

که چيرته انسان دې کمزورې ميږې ته او ګورې چې ده ته د خوراک په جمع کولو ، ذخيره کولو او محفوظ کولو کې څومره زيرکتيا او حيلې ورکړې شوې نو انسان د الله ﷻ قدرتونو ته حيران پاتې شي .

علامه ابن قيم رحمه الله په ميږې کې د الله ﷻ د قدرت څه عجائب ذکر کړي : چې کله ميږې د رزق په تلاش پسې او ځي ، او په يو ځای کې يې پيدا کړي نو دوی يې خپلې سوړې ته راوړل شروع کړي ، بيا دوی دوه (۲) ډلې شي : يوه ډله يې راوړي او بله ورپسې ځي ، بالکل په قطار باندې سيده روان وي ، د يو بل سره نه ګډ وَډ کيږي ، بلکه داسې معلوميږي لکه دوه تک تور تارونه چې نيغ پراته وي ، کله چې خوراک دروند وي او يو ميږې يې نشي راوړی نو ټول ورته راجمع شي او په شريکه يې راوړي .

بيا دې هوښيارتيا ته اوګوره چې کله د غنم يا بله دانه خپلې سوړې ته راوړي نو دا يَره ورسره وي چې هسې نه دا راززغونه شي ، نو دوی هغه په مينځ دوه ځايه کړي ، او که بيا يې هم د زرغونيدو خطره وي نو هغه څلور ځايه کړي ، بيا کله چې په سوړه کې څه نمي وي يا د بهر نه څه لوندوالې ورته راشي او په سوړه کې د خوراک د خرابيدو يَره وي نو ميږې دا خوراک نمر ته راأوباسي چې اُوچ شي . دغه وجه ده چې اکثر غرمه کې د ميږو سوړې مخې ته

---

(۱) معارف القرآن سورة المؤمنون آيت ۱۲ .

ډيرې ماتې ماتې داني پرتې وي ، بيا څه لږ وخت پس ميږو واپس هغه خپلې سوړې ته ننويستي وي .

بلکه دا چې ميږي خپله سوړه په داسې اوچت ځای کې جوړوي چې د سيلاب اُوبه ورباندې نه راځي .

د ميږو د هوښيارتيا دپاره دا کافي ده چې په قرآن مجيد کې الله ﷻ د يو ميږي قول نقل کړی ، کله چې ، ده د حضرت سليمان عليه السلام او دده لښکر وليده نو نورو ميږو ته يې نصيحت کولو :

﴿يَآ أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ . (۱)

ترجمه : اې ميږو ! تاسو خپلو کورونو ته ننوځئ ، هسې نه چې حضرت سليمان ﷺ او دده لښکر مو چخنړي نه کړي ، حالانکه دوی به خبر هم نه وي .

په دې يو نصيحت کې ميږي د کلام لس (۱۰) اقسام جمع کړه :

نداء ، تنبيه ، تسميه ، امر ، نص ، تحذير ، تخصيص ، تفهيم ، تعميم او إعتذار . (۲)

چونکه دا مختصر نصيحت د کلام په لسو (۱۰) انواعو مشتمل ؤ نو ځکه حضرت سليمان عليه السلام په دې تعجب وکړو ، وې خندل ، او د الله ﷻ نه يې د نعمتونو د شکريې توفيق اوغوښتو .

---

(۱) سورة النمل آيت ۱۸ .

(۲) فتكلمتْ بعشرة أنواع من الخطاب في هذه النصيحة ، النداء والتنبيه . والتسمية والأمر ، والنص ، والتحذير ، والتخصيص ، والتفهيم ، والتعميم ، والاعتذار . فاشتملتْ نصيحتها مع الاختصار على هذه الأنواع العشرة . ولذلك أعجب سليمان قولها وتبسم ضاحكًا منه وسأل الله أن يوزعه شكر نعمته عليه لما سمع كلامه . الطريق الى الجنة ص ۳۲۸

. علامه ابن قيم رحمه الله د ميږي د دې کلام باره کې ليکي : فاستفتحت خطابها بالنداء الذي يسمعه مَن خاطبته ، ثم أتت بالاسم المبهم ، ثم أتبعته بما يثبته من اسم الجنس إرادة للعموم ، ثم أمرتهم بأن يدخلوا مساكنهم فيتحصنون من العسكر ، ثم أخبرت عن سبب هذا الدخول وهو خشية أن يصيبهم مَعرّةُ الجيش ، فيحطمهم سليمان و جنوده . ثم اعتذرت عن نبي الله وجنوده بأنهم لايشعرون بذلك ، وهذا أعجب الهداية . الطريق الى الجنة ص ۳۰۵ عجائب صنع الله في النمل .

فایده : مفتي شفیع رحمه الله په معارف القرآن کې ذکر کړي چې د حضرت سلیمان علیه السلام د واقعې نه ثابتیږي چې مارغان، ځناور او ټول حیوانات هم څه ناڅه عقل او شعور لري، خو دومره کامل نه دی چې د شریعت له مخې پرې مکلف شي، البته پیریان او انسانان مکلف دي، ځکه چې د دوی عقل او شعور کامل دی. (۱)

میږې په ټولو حیواناتو کې ډیر زیات حریص دی، دې ټول اُوړې د رزق په پیدا کولو کې مصروفه وي، او دومره سخت مشقت برداشت کوي چې د خپل ځان په نسبت دیرش (۳۰) چنده درُوند پیتې راکاږي، او خپلې سوړې ته یې وړي، دا ددې د پاره چې په ژمي کې دا بیا استعمال کړي، ځکه په ژمي کې بارانونه وي، او دوی ته کار کول مشکل وي.

واقعه

د میږي د حرص اندازه ددینه لږولې شي چې کله حضرت سلیمان علیه السلام ددې میږو خوراک جمع کول او حرص ولیده نو یو میږې یې رااوغوښتو، پوښتنه یې ورنه وکړه چې هر میږې په کال کې څومره خوراک کوي؟

میږي ورته وویل: د غنمو درې (۳) دانې. سلیمان علیه السلام حکم وکړو چې دا میږې په یوه شیشه کې واچوئ، او د غنمو درې دانې ورسره هم واچوئ، او یو کال یې په دې شیشه کې بند اوساتئ.

یو کال روستو حضرت سلیمان علیه السلام دا شیشه کلاؤ کړه نو یوه نیمه دانه غنم بچ پاتې وو. سلیمان علیه السلام د میږي نه پوښتنه وکړه: تا خو ویل: زمونږ خوراک په کال کې درې دانې د غنمو دی، تا خو یوه نیمه دانه خوړلی، دا ولی؟

میږي ورته وویل: چې کله ته ما ولیدی چې د خلقو په خدمت کې مصروفه وی، او ما د خپل باقي عمر حساب وکړو نو هغه د کال نه زیات پاتې ؤ، نو ما ویل چې هسې نه ستا د مصروفیت په وجه د تا نه هیر شم، او زما خوراک خلاص شي نو بیا خو زما د مرګ خطره وه، نو ما یوه نیمه دانه اُو خوړه، او یوه نیمه مې ځانله ذخیره کړه چې دا به آینده کال او خورم،

(۱) معارف القرآن سورة النمل آیت ۱۸.

سلیمان ﷺ چې دا واوریده نو دده د حرص نه یې ډیر تعجب وکړو . دا هم د الله ﷻ عجیبه راهنمایي ده میږي ته .

د میږو دپاره د شاتو مچو غوندې څوک مشر او رئیس نه وي ، بلکه د دوی د پاره د رزق تلاش کولو د پاره یو رائد وي ، کله چې هغه څه شی پیدا کړي نو دا نور میږیان ورباندې خبر کړي ، دوی په جمع ورشي او په شریکه هغه شی راوړي ، هیڅ میږی ورنه په لاره کې په پټه خوراک نه کوي .

میږیان دروغ او دهوکه نه خوښوي

د میږو په فطرت کې دا خبره ده چې دروغ او دهوکه نه خوښوي ، که په کوم میږي باندې دروغ ثابت شي نو سخته سزا ورکوي .

واقعه :

یو کس د خپلو سترګو لیدلې حال بیانوي چې زه په یو ځای کې ناست ووم چې یو میږي د خپلې سوړې نه راووت ، او په یو ځای کې یې د ملخ خپه ولیده ، سوړې ته یې رابنکوده خو نه یې شوه وړلی ، خپه یې پریښوده او لاړو ، نور میږي یې هم د ځان سره راوسته .

دا کس وايي چې د نورو میږو رارسیدو نه مخکې ما دا خپه ورنه راپورته کړه ، کله چې ټول میږي راغله او تاؤ راتاؤ شو هیڅ یې اونه لیده ، نو نور میږي ورنه واپس لاړه ، خو همدا مخکیني میږي دلته تاویده راتاویده (ځکه دده یقین ؤ چې دلته د ملخ خپه پرته وه) .

دا کس وايي ما ورته دا خپه واپس واچوله ، ده بیا سوړې ته رابنکله خو نه یې شوه وړلی ، بیا لاړ ، او نور میږي یې د ځان سره راروان کړه چې په شریکه یې ویسي ، خو د دوی د راتلو نه مخکې مخکې ما دا خپه بیا راپورته کړه ، میږي چې راغله ، وګرځیده رااوګرځیده خو هیڅ یې بیانه موندله ، واپس لاړه ، هماغه زړو میږي پاتې شو ، ما ده ته بیا هغه خپه واچوله ، هغه چې ولیده نو بیا د نورو میږو پسې لاړو ، کله چې هغوی ټول بیا راغله ، نو ما هماغه شان خپه ورنه راپورته کړه ، په دې ځل میږو ته پته ولږیده چې دا میږي دروغ وايي او دهوکه کوي نو ټول میږي دده نه ګیر چاپیره تاؤ راتاؤ شو ، دې یې په مینځ کې ګیر کړو ، او ټوټې ټوټې یې کړو ، بیا ورنه واپس لاړ .

دا کس وايي چې ما دا واقعه خپل يو استاذ ته بيان کړه ، هغه راته وويل : (تاخو يو زياتې کړې ، بل دا چې) الله ﷻ د ميږو په فطرت کې دا خبره اچولې چې دروغ او دهوکه بده ګڼي ، نو ځکه هغوی دې ميږي ته سخته سزا ورکړه ، اګر چې دا ميږې په حقه وَ ، خو دهوکه ددې سري د طرفه وه چې ده ورنه د ملخ دا خپه رااُوچتوله . (۱)

د ميږي د پوهې اندازه ددېنه هم لږي چې کله يو مار مړ شي ، او ميږې يې اُوخوري نو ده ته سخته تنده ولږي ، خو دې بيا هم اُوبه نه څکي ، ځکه د زهرو پسې روستو اُوبه څکل جسم ته نقصان ورکوي .

د بيزوګانو حَد جاري کول

ددې ميږي د واقعې پورې د بيزوګانو (شادوګانو) يوه واقعه هم رايادہ شوه چې لکه څرنګ چې ميږيان دروغ بد ګڼي دغه شان بيزوګان هم زِنا بده ګڼي .

ددې باره کې درته د بخاري شريف او تهذيبُ الکمال نه يوه واقعه نقل کوم ، کومه چې د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ نه مخکې واقع شوې وه .

عيسی بن حطّان وايي چې زه د کوفې جُمات ته داخل شوم ، هلته مې عمرو بن ميمون الأُودي وليده چې ناست دی او نور خلق هم ورسره دي ، په دې کې يو کس ورته وويل :

اې عمروبن ميمون ! مونږ ته داسې يوه عجيبه خبره بيان کړه کومه چې تا د جاهليت په دوران کې ليدلې وي ، نو ده ورته وويل : زه يو کرت په يمن کې ووم ، هلته په فصلونو کې مې دير بيزوګان وليده چې راجمع شوي وو ، بيا مې يو نر او ښځه بيزو وليده چې دواړه څملاست ، دې ښځې بيزو خپل لاس ددې نر بيز د څټ لاندې کړو ، او دواړه اُوده شو .

په دې کې يو بل نر بيز راغی ، او دا ښځه بيزو يې معمولي په لاس اُوسکوندله ، او اِشاره يې ورته وکړه ، دې بيزو خپل لاس د هغه نر بيز نه په قلاره راوويست ، او ددې بيز سره روانه شوه ، څه اندازه لږې لاړه ، هلته دواړو خپل جنسي خواهش پوره کړو .

دا بيزو واپس په قلاره قلاره راغله او د هغه خپل نر بيز سره څملاسته ، چې کله يې د هغه د څټ لاندې خپل لاس واپس وردننه کولو نو هغه وربانديې راويخ شو ، حيران شو ، شک يې

پیدا شو ، ددې بیزو شاته حصه یې بُوې کړه ، وربانديې پوهه شو ، نور بیزوګان ورته راجمع شو ، دې نر بیز دې ښځې بیزو ته بار بار اشاره کوله ، نور بیزوګان هم پوهه شو ، هغوی په منډه لاړه ، او څه وخت پس یې هماغه مخکینې بیز راوست ، کوم چې دې بیزو سره بَدفِعلي کړې وه .

عمروبن میمون وایي چې ما پیژنده چې هماغه بیزیې راوست . بیا دې بیزوګانو دا دواړه یو شګلنې علاقې ته بوتله ، هلته یې کنده ورله اوکنیسته او دواړه یې په کې اُودرول (خپې یې ورله په شګه کې ګیرې کړی) ، او تر هغې وخته پورې یې په کاڼو ویشته چې ترڅو یې دواړه مړه کړه (نو بیا ورنه واپس راغله) . عمروبن میمون وایي :

وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ الرَّجْمَ قَبْلَ أَنْ يَبْعَثَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

قسَم په الله ﷻ ، ما د نبي علیه السلام د بعثت نه مخکې رجَم (سنګسار کول) لیدلی . د بخاري شریف په روایت کې ورسره دا هم دي چې عمروبن میمون هم ورسره په رجم کولو کې شریک شو (او ده هم په کاڼو باندې دغه بیزوګان اوویشته) . (۱)

شوده (پی) ورکوونکو څاروو کې د قدرت نخې

په انساني غِذا کې د شُودو (پیو) نه علاوه بله بهترینه غذا نشته ، ځکه الله ﷻ دا د هر انسان او اکثرو حیواناتو د پاره وړومبۍ غذا جوړه کړی ، چې دمور د سینې نه ورته ملاویږي .

دغه وجه ده چې رسول الله ﷺ فرمایلي : تاسو د خوراک نه پس دا دُعا کوئ :

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ . وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ .

اې الله ! زمونږ د پاره په دې کې برکت واچوی ، او په آینده کې راته ددینه بهترین خوراک راکړی .

او د شُودو څکلو نه روستو نبي ﷺ دا دُعا خودلی :

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ . وَزِدْنَا فِيْهِ .

(۱) الطريق الى الجنة ص ۳۶۷ .

اي الله! زمونږ د پاره په دي کي برکت واچوی، او نور هم زيات را کړی.

دلته په شودو کې د بهتر والي سوال او نه شو، بلکه د زيادت سوال اوشو، دا ځکه چې د شودو نه بله بهترینه غذا نشته، او دا شوده د حیواناتو نه حاصلیږي.

انسان حيران شي چې د غوا، میښې، چیلۍ وغیره په خیټه کې خو سوټې هم وي، وینه هم وي، بیا د هغې د مینځ نه صفا شوده راوتل، چې په هغې کې د سوټې خوند او وینې هیڅ رنګ نشته، دا ټول د رب العالمین کاریګري او قدرتونه دي.

الله رب العزت په خپله فرمايي:

﴿ وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ ﴾. (۱)

ترجمه: بيشكه ستاسو د پاره په څاروو کې (لوي) عبرت دی، مونږ په تاسو باندې څکوو هغه څه چې د څاروو په خیټو کې دي، کوم چې د سوټې او وینې په مینځ کې خالصه شوده دي، مزیداره (خوند ورکوونکي) دي څکونکي د پاره (او په آسانه سره په حلق کې تیریږي).

د سوټې او وینې د مینځ نه د صفا شودو راوتلو مطلب حضرت عبدالله بن عباس رضی ﷺ دا بیان کړی: چې کله څاروي ګیاه او خوري نو دده معده دا ګیاه پخه کړي، نو ښکته یې سوټه شي، مینځ کې شوده شي او پورته طرف یې وینه شي. بیا الله ﷻ جِګر (اینه) په دې باندې مقرر کړی هغه ورنه وینه جدا کړي رګونو ته یې أوسپاري، شوده غُلانځې ته راولیږي، او سوټې په معده کې پاتې شي (چې د څاروي په شاته لاره راووځي). (۲)

مفسرینو نور مطلبونه هم بیان کړي چې د شودو دا رګ د سوټو او وینې په مینځ کې دی.

---

(۱) النحل آیت ٦٦.

(۲) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ﷺ: إِنَّ الدَّابَّةَ تَأْكُلُ الْعَلَفَ فَإِذَا اسْتَقَرَّ فِي كَرِشِهَا طبخته. فكان اسفله فرثًا. واوسطه لبنًا. وأعلاه دمًا. والكبدُ مُسَلَّطٌ على هذه الأصناف. فتقسم الدّم و تميّزه. و تجريه في العروق. وتجري اللّبن في الضرع. ويبقى الفرث كما هو في الكرش. قرطبي ج۱۰ ص ۱۱۰ النحل آیت ٦٦.

په سورة مومنون کې الله رب العزت انسان دې حيرانوونکي قدرت طرفته متوجه کړی :

﴿ وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ. وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه ستاسو د پاره په چارپيانو کې عبرت دی ، مونږ څکوو په تاسو باندې د هغه شودو (پيو) نه کوم چې د دوی په خيټو کې دي ، او ستاسو د پاره په دوی کې نورې ډيرې فايدې هم شته (چې د دوی ويښته ، وړی ، څرمن او د بدن هره حصه ستاسو په کار راځي) ، او ځني له دې نه تاسو خوری هم ، او په دې څاروا او کِشتو باندې تاسو سوَرولې هم شی (يعنی په څاروو سوريکی هم ، او بار پرې هم وړئ ، او دا کار تاسو د کِشتی نه هم اخلی) .

د شڼدو په مچۍ کې د الله ﷻ دقدرت نخې

د انسانانو نه علاوه په نورو ټولو حيواناتو کې د شهدو مچۍ غوندې هوښيار او زيرکه بل هيڅ شی نشته ، ځکه داد ښکلي انتظام ، مضبوطو قوانينو او ضابطو په وجه يو خاص امتيازي شان لري .

انسان چې ددې وړوکي مخلوق دې عجيبه نظام ته اوګوري کوم چې د انساني سياست او حکمرانۍ په اصولو باندې چليږي نو بالکل حيران پاتې شي .

دغه وجه ده چې قرآن کريم د نورو ټولو حيواناتو په باره کې د ګلي قانون په طريقه داسې وويل : ﴿ أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ . (۲)

ترجمه : الله ﷻ هر شي ته دده وجود (جوړښت) ورکړی ، بيا يې ورته لاره اوخوده .

او د شهدو د مچۍ په باره کې يې په خاص طور وفرمايل :

﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا ... ﴾ . (۳)

---

(۱) المومنون آيت ۲۱ ، ۲۲ .

(۲) سورة طه آيت ۵۰ .

(۳) النحل آيت ٦۸ .

ترجمه : او ستا رب د شاتو مچو ته دا الهام وکړو (یعنی په زړه کې یې ورته دا خبره واچوله) چې ته ځان له کورونه جوړوه په غرونو کې ...

چې په دې کې دې خبرې طرفته اشاره ده چې دا د شعور او پوهې په اعتبار سره یو خاص شان لري .

چې ددې مچو ځنې احوال ستاسو دوړاندې ذکر کوم :

د دوی دانظم او نسق چې برابر دی نو دا ځکه چې ددې مچو ټول اختیارات د یوې غټې مچۍ سره وي چې هغې ته " ملکه " وایي ، دا د نورو مچو په نسبت غټه وي ، نورې ټولې مچۍ ددې حکم په سر سترګو مني ، دده هیڅ مخالفت نه کوي ، که چیرته دویم سردار راپیدا شي نو دوی هغه ختم کړي ، ځکه چې مشران دوه شي نو بیا بې اتفاقي پیدا کیږي ، هغه اتفاق او اتحاد بیا ختمیږي ، نو ځکه د دویم سردار اجازت نه ورکوي ، البته که چیرته دې ظلم او فساد شروع کړي نو بیا یې په شریکه وژني .

دا ملکه په درې هفتو کې د شپږو زرو نه تر د دولس زرو پورې هګۍ اچوي ، او خپلو ماتحتو مچو لره یې په مختلفو کارونو مقرر کړي وي :

ځنې په څوکیدارۍ مقرر وي چې بهرنۍ پردۍ مچۍ دننه نه راپریږدي ، ځنې د هګو حفاظت کوي ، ځنې په کې د وړو بچو پالنه کوي ، ځنې په کې د ګلکارۍ او انجینرۍ کار کوي ، ځنې په کې مُوم جمع کوي او ګِلکارانو ته یې سپاري چې کورونه ورنه جوړوي ، او دا کورونه مسدّس (شپږ ګوتیز) جوړوي ، په داسې مهارت یې جوړ کړې وي چې که هر طرف یې ناپ کړې شي نو دویښته په مقدار فرق په کې نه وي ، په دې کې د شاتو د حفاظت دپاره ځانله ځای وي .

او ځنې چې په ګلونو او میوو باندې کیني د هغې نه په داسې طریقې سره رَس (جوهَر) په ځله راکاږي چې د سائنسي مشینونو په ذریعه هم هغه شان نشي حاصلیدی ، بیا ددېنه په خیټه کې شهد جوړوي چې دا ددې مچۍ او ددې د بچو خوراکه ده ، او زمونږ د پاره خوَندناک خوراک ، غذا ، او د هرې بیمارۍ نه شِفاء ده .

د شهدو خاصه داده چې دا نه په خپله خرابیږي ، او په کوم شي کې چې دا ګډ شي هغه شی هم خرابیدو ته نه پریږدي .

بيا دا مچۍ د ځان سره صرف د شهدو ماده نه راوړي ، بلکه په خپلو خپو کې مُوم هم راوړي چې په هغې کې بيا شهد محفوظ ساتي ، ځکه د شهدو د حفاظت د پاره دمُوم نه علاوه بل بهترين شی نشته.

بيا دا د صفائي دومره لحاظ ساتي چې که چيرته يوه مچۍ بهر په يو گنده شي باندې کيني او بيا راشي نو څوکيداره مچۍ يې دننه نه پرېږدي ، بهر يې حصاره کړي وي ، بيا ملکه يې اووژني . (۱)

الله رب العزت په قرآن مجيد کې د شاتو د مچۍ او هغې ته د اِلهامي هداياتو متعلق فرمايي :

﴿ وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ . ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا . يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او ستا رب د شاتو مچو ته دا اِلهام وکړو (يعنې په زړه کې يې ورته دا خبره واچوله) چې ته ځان له کورونه جوړوه په غرونو کې ، په اُونو کې ، او په هغه اُوچتو عمارتونو (چوپالونو او څپرونو) کې چې خلق يې ځان له جوړوي .

بيا هر قسمه ميوې خوره (يعنې د هغې نه رس راچوپه) ، بيا د خپل رب په آسانو لارو باندې (خپل کورته واپس) ځه ، ددې شاتو مچو د خيټې نه د څکلو شی (شات) راووځي ، چې (د مختلف ميوو او موسمونو د تبديلۍ په وجه) ددې شاتو رنگونه مختلف وي ، په دې کې د خلقو دپاره (د مرضونو نه) شِفاء ده ، بيشکه په دې کې نښه ده (په قدرتونو د الله ﷻ باندې) د هغه خلقو د پاره چې فکر کوي .

فايده : ددې آيت په آخر کې الله ﷻ د خپلو قدرتونو بيانولو نه پس انسان ته په دې باندې د غور او فکر کولو بلنه ورکوي چې که انسان په دې باندې سوچ وکړي چې داسې مچۍ چې هغه سراسري د زهرو نه ډکه ده د هغې په خيټه کې اعلی شهد پيدا کول چې هغه

(۱) معارف القرآن النحل آيت ۶۸ ، ۹۶ .

(۲) النحل آيت ۶۸ ، ۶۹ .

بهترين خوراک او د ټولو بيمارو علاج دی دا صرف او صرف د دا سې رب کار دی چې هغه د بې مثله قدرتونو او حکمتونو مالک دی. (۱)

(نوټ: د شهدو مچۍ په باره کې نور عجائبات او د الله ﷻ قدرتونه د دې موضوع په آخر کې په صفحه ۳۱۷ کې ذکر دي هلته يې اوګوره. ابوالشمس).

د " أور أورکي " په وجود کې د الله ﷻ قدرتونه

که چيرته انسان د " أور أورکي " (أوربلکي، کوم چې يو قسم حشره ده او د شپې رڼا کوي) په پيدائش باندې غور وکړي نو حيران به پاتې شي چې څومره بنائسته رڼا د وجود نه خارجوي، سائنس دانانو د ډيرې زمانې نه مسلسل په دې باندې تحقيق وکړو چې د " أور أورکي " په شان رڼا پيدا کړي خو د ډير تحقيق باوجود يې د دې نقل تيار نه کړو.

ډيره د حيرانتيا خبره داده چې دا " أور أورکي " د جسم نه کومه رڼا پيدا کوي د دې سره يې په وجود کې څه کمې هم نه راځي، او نه د دې رڼا په وجه ده ته څه نقصان رسي.

حالانکه که مونږ دا نورې رڼاګانې اوګورو نو د رڼا په وجه ګرمائش هم پيدا کيږي، لکه د بجلۍ ليټ څه وخت پس ګرم شي، دا ځکه چې " أور أورکي " کومه رڼا پيدا کوي هغه يخه ده، او دا نورې رڼاګانې ګرمې دي.

بل دا چې د دې رڼا په سلو کې سل فيصده خالصه رڼا ده، هيڅ ګرمايش په کې نشته، او دا نورې رڼاګانې په دې کې لس (۱۰) فيصده رڼا وي او باقي نوي (۹۰) فيصده په کې ګرمايش وي.

دا رڼا د دې " أور أورکي " دپاره د رابطې ذريعه هم وي، د بنائست ذريعه هم وي، او د خپل دشمن نه د حفاظت ذريعه هم ده، ځکه د دې رڼا په وجه ډير حيوانات دا نه خوري، هغوی ته پته ده چې د " أور أورکي " خوند صحيح نه دی. د دې نه علاوه نور ډير زيات حکمتونه په کې هم شته.

---

(۱) معارف القرآن النحل آيت ۶۸، ۶۹.

همدغه شان په سمندري مخلوقاتو کښې هم ډير داسې حيوانات شته چې هغوی هم دا رڼا پيدا کوي ، خو د هريو د رڼا پيدا کولو طريقه جدا ده ، داستعمال ځای او وخت يې جدا دی ، او رڼا يې جدا ده .

خلاصه دا چې په يو ژوندي جسم کښې رڼا پيدا کول اتفاقي نشي کيدی ، بلکه دا د خالقِ کائنات د تخليق کامله نمونه ده ، او د رب العالمين په قدرت او حکمت باندې ښکاره ثبوت دی .

د ښېلو ليدلو سترګو حال

په اُوړي کښې به چې ما (ابوالشمس) کله د شپې د ډاډ لاندې کتاب مطالعه کولو نو اکثر به داسې وړوکي نري ميږيان په کتاب باندې راغورځيده ، يوه شپه په کتاب باندې يو ډير زيات وړوکې نرې شی رااُوغورځيده ، چې صرف په سترګو ليدې شو ، په پانه روان وُ ، ما ورته مخې ته ګُته کيښوده ، هغه د ګُتې نه اَخوا طرف روان شو ، بيا مې اَخوا ورته ګوته کيښوده هغه بل طرف روان شو .

ما د ځان سره سوچ کولو چې ددې شي به سترګې ، غوږونه ، پوزه ، سَر او خپې خامخا وي ځکه د ګُتې نه اَخوا روان شو ، په ګُته نه راختو ، او دايې ضررناک شی ګڼلو .

بيا خامخا به الله ﷻ ده ته رزق هم ورکوي ، بيا د فُضله شيانو خارجولو د پاره به ځه لاره هم وي ، چې کله دا شيان شته نو ددې د پاره خيټه ، کولمې ، رګونه او هډوکي وغيره هم په کار دي . دې سوچ کولو سره انسان بالکل حيران پاتې شي چې دومره وړوکې شی او په دې کښې هره پُرزه موجوديدل ، او بيا دا د يو خاص مقصد دپاره پيدا کول ، دا صرف او صرف د داسې خالق او ربّ العالمين کار دی چې په هر شي باندې قادِر او خبردار دی ، او په هيڅ شي کښې د هغه مِثل نشته . يقيني چې بې اختياره دانسان د خُلې نه دا خبره را ووځي :

﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ .

ضائع شوې اندام دوباره پیداکېدل

د الله ﷻ په قدرتونو کې یوه عجیبه حیرانوونکې خبره دا هم ده چې د بعضې حیواناتو څه اندام ضائع شي نو دوباره بیا هم د دې په ځای بل اندام پیدا کیږي ، لکه د زمکې چینجې چې په مینځ دوه ځایه کټ کړې شي نو هر طرف یې بیا هم دا باقي حصه پوره کیږي .

په دې حیواناتو کې څه نور اقسام دي (چې په عربۍ کې ورته " جمبیري "او کابوریا وایي) کله چې د دوی یوه خپه ضائع شي نو د دې په ځای یې بله خپه راکیږي . (۱)

یو قسم سپین برګ مار دی چې کله دا د لکۍ نه اونیوې شي ، او دده د وژلو خطره وي نو په زور کولو سره دده نه لکۍ جدا شي ، دې ځان خلاص کړي ، بیا د دې په ځای باندې یې بله لکۍ راکیږي .

علماء لیکي چې سمندري یو حیوان دی چې په عربۍ کې ورته " هیدرا " وایي ، که دا حیوان دوه یا درې ځایه کټ شي نو څه وخت پس هره حصه بیا راپوره کیږي ،او د هرې حصې نه مستقل همدغه شان حیوان جوړ شي . (۲)

که چیرته د انسان څه حصه په بلېډ (پَتري) یا چاړې سره غوڅه شي ، یا هډوکې یې مات شي نو هم د علاج کولو نه روستو دا زخم او دا هډوکې دوباره جوړیږي .

د بعضې حیواناتو حواس د انسان نه تیزوي

د بعضې حیواناتو حواس الله ﷻ د انسان نه تیز پیدا کړي ، او په دې کې هم د الله ﷻ ډیر حکمتونه او رازونه دي :

لکه د انسان قوّتِ سامعه (د آوریدو قوت) په څه لږه اندازه کې کار کوي ، او د ګوني (بعضې خلق ورته شِیني هم وایي کوم چې د څارو وپورې شاته نختې وي دده) قوتِ شامه د څلویښت (۴۰) میله پورې کار کوي ، یعنی څلویښت میله لرې معمولي آواز هم اوري . دغه وجه ده چې پخوا به کله غلو قافلې لوټ کولې نو د ځان سره به یې ګونې واخیست ، او

(۱) التدبر في آیات الله وعجائب خلقه ص ۲۹۷

(۲) الطریق الی الجنة ص ۲۹۶

لاره کې به يې پرېښود ، نو چې دې به په کوم طرف روان شو غله به پوهه شو چې د دې طرفه قافله را روانه ده ، نو دوی به په هماغه طرف روان شو ، او قافله به يې لوټ کړه .

اوس که چيرته انسان هم د ومره لرې فاصله کې آواز اوريدې شوی نو هيڅ کله به دې د شور د لاسه اُوده شوې نه وی ، ځکه د بازار او لرې ځايونو شور به يې ټول اوريده .

د انسان قوّتِ شامه (د بُويولو قوت) هم په څه محدوده فاصله کې کار کوي ، خو ميږي ته په درې (۳) ميله کې د يو شي بُوی ورځي .

نو که چيرته اوس انسان هم د لرې لرې نه بُوی محسوسولی نو په هيڅ ځای کې به مطمئن نه شو کيناستی ، ځکه د لرې لرې ډيرانونو او ګندګيو بُوی به يې محسوسولی .

دغه شان د انسان قوّتِ باصِره (د ليدلو قوت) په څه خاصه فاصله کې کار کوي ، او ټپوس د لس (۱۰) ميله بَره نه لاندې مرداره او بل شی ګوري .

همدارنګې د انسان نظر په تياره کې کار نه کوي او د پيشو او ميږې نظر په تياره کې هم کار کوي .

اوس که چيرته د انسان نظر ډير زيات تيز وی ، او باريک باريک شيان يې هم کتی ، نو بيا به ورته په دُنيا کې ژوند تيرول ډير ګران وو ، ځکه په هر شي کې به ورته جراثيم ښکاره کيده ، او ژوند به يې تريخ وی .

خلاصه دا چې کوم مخلوق الله ﷻ په کوم صفت او شکل پيدا کړی په دې کې د الله ﷻ ډير حکمتونه او رازونه دي ، او د هغه مخلوق په همدې کې فايده ده .

په حيواناتو کې د الله ﷻ د قدرت ننداري

الله ﷻ د کائناتو هر شی پيدا کړی ، او بيا يې هغه ته د ژوند تيرولو تَکويني راهنمائي هم کړی ، اګر چې د انسانانو او پيريانو غوندې اِدراک او شعور ورسره نشته خو بيا هم الله ﷻ يو خاص قِسم اِدراک او شعور ورکړی چې په هغې سره د خپل ځان د پاره خوراک او د اوسيدو ځای برابروي ، د دې تذکره په قرآن مجيد کې داسې ده :

چې کله فرعون د حضرت موسی عليه السلام نه پوښتنه وکړه : چې ستا رب څوک دی ؟

نو ده جواب ورکړو :

﴿رَبُّنَا الَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ﴾ .(۱)

ترجمه : زمونږ رب هغه دی چا چې هر شي ته دده وجود (پيداوښت) ورکړی ، بيا يې ورته لاره اوښوده (ديته تکويني هدايت وايي په کوم سره چې ځان له خوراک او د اوسيدو ځای برابروي) .

که چيرته انسان په دې مختلف قسمه حيواناتو باندې نظر واچوي چې په هر حيوان کې د الله ﷻ د معرفت او قدرت عجيبه عجيبه نندارې دي ، او چې الله ﷻ دوی ته د خپل ځان او د خپلو بچو د حفاظت ، او په قسما قسم حيلو سره د رزق طلب کولو فطرتًا کوم تدبيرونه ورکړي نو انسان بالکل حيران پاتې شي ، بلکه ډيرو انسانانو د حيواناتو نه داسې کارونه زده کړي چې هغه د دوی په روزمره ژوند کې په کار راځي .

لکه د نمونې د پاره درته ديو څو حيواناتو تذکره کوم :

هُدهُد په زمکه کې پټ شی ګوري

د هُد هُد په سترګو کې الله ﷻ دا قوت اچولی چې دا د زمکې لاندې يو شی ګوري ، ځکه دده د سترګو شعاع د زمکې د طبقاتو نه تيرېږي ، دير کرت هُد هُد په يو ځای کې کيني ، په خپله ټونګه باندې هغه ځای رااوکني او د لاندې نه چينجي رااُوباسي ، او وې خوري ، حالانکه دا چينجي انسان نه ګوري خو هُدهُد د لرې نه لاندې په زمکه کې ليدو .

دغه وجه ده چې هُدهُد به حضرت سليمان عليه السلام له د زمکې لاندې اُوبه تلاش کولی ، چې دلته اُوبه شته او که نشته ؟

د کونترې د هګو حفاظت

کله چې کونتره په هګو باندې ناسته وي نو هغه دا هګې څه وخت پس اړوي راوړي ، ددې د پاره چې ددې هګې دواړه اړخونه اُوشا ربلې شي .

---

(۱) سورة طه آيت ۵۰ .

بل دا چې، که چیرته دا هګۍ همیشه په همدې یو اړخ باندې پاتې شي نو دا خرابیږي ، نو ځکه يې دواړه طرفونه اړوي راړوي .

چرګه

دغه رنګې چرګه چې کله په هګو باندې ناسته وي ، او دې ته اندازه اولږي چې اوس به بچي تیار شوي وي نو صرف هغه هګۍ په ټونګه د بچي راویستلو د پاره وهي چې کومه خرابه شوې نه وي ، ځکه خرابه هګۍ په ټونګه نه وهي . او بیا هګۍ په داسې ځای باندې ږدي چې، بچي ته په راوتلو کې تکلیف نه وي .

بیا په دې هګۍ کې د الله ﷻ دې عظیم قدرت ته ګوره چې په دې کې د ننه څه زیړ وي او څه سپینې اوبه وي ، نو په دې کې د بعضې حصې نه دا بچې جوړیږي ، او بعضې د همدې بچي د پاره خوراک وي ، ځکه د هګۍ نه تر د راوتو پورې خو د بهر نه دې بچي ته غذا نشي وررسولی ، بلکه د هم دغه د ننه حصې نه بچې هم جوړیږي ، او دده د راوتو پورې د همدې نه دده د پاره غذا هم وي . سبحان الله .

چرګ نورو ته په ځپل ځان باندې ترجیح ورکوي

چرګ چې کله په زمکه باندې دانه یا بل د خوراک شی بیامومي نو دې اګر چې ډیر اوږې وي خو بیا هم دې دا دانه نه خوري ، بلکه چغې جوړې کړي او نورې چرګې ورته را اوبلي ، کله چې یوه چرګه ورته راورسي ، نو دې دا دانه هغې ته پریږدي او په خپله يې او نه خوري ، دغه وجه ده چې کله چرګ ته ډیرې دانې کیښودې شي نو که دلته نورې چرګې نه وي خو دې بیا هم دا دانې په خپو باندې اخوا دیخوا اوشیندي ، ځکه فطرتًا دده طبعیت کې سخاوت پرته دی ، او نورو ته په ځپل ځان باندې ترجیح ورکوي .

د مرغانو همت

مرغان همیشه د پاره سهر وختي د رزق په تلاش کې اوځي ، نزدې او لرې هر ځای ته ځي ، نه ستړي کیږي ، او نه د زمکې ، هوا او نورو مصیبتونو نه یریږي .

د ګونګټ همت نه بائيلل

ګونګټ چې کله په ديوال يا اوچت ځای باندې خيجي نو رااوغور ځيږي، دې يا او خيجي او يا رااوغور ځيږي، بار بار خيجي او راغورځي، خو خپل همت د لاسه نه ورکوي ،آخر دا چې په خپل کار کې کامياب شي او بره اوخيجي.

د رزق طلب کولو دپاره د حيواناتو حيلې

کله چې انسان د حيواناتو دې بې عقلۍ ته اوګوري چې عقل او پوهه هم ورسره پوره نشته، او بل طرفته د رزق طلب کولو دپاره د دوی مختلفو حيلو او دهوکه بازۍ ته اوګوري نو انسان حيران پاتې شي.

پته اولږيده چې دا ټول د خالق کائنات کاريګري ده چې فطرتاً يې په دوی کې دا تدبيرونه اچولي. ددې يو څو نمونې ستاسو دوړاندې ذکر کوم:

د غنې حيله

غنه چې کله ځان له د ښکار د پاره جال جوړوي نو دا په دې کې يو طرف ته پټه شي، يا ددې په بره طرف کې يو تار بوځي، او دا په خپله د هغې تار سره نختې وي، کله چې په دې کې چيرته مچ يا ماشې اونخلي نو دا وړاندې راخبره شي، په منډه ورله راشي او هغه ښکار کړي. (۱)

د مچ پړانګ حيله

په دې غنو کې يو قسم دی چې مچ پړانګ ورته وايي، کوم چې مچان رانيسي (په عربۍ کې ورته لُبب يا سبع الذباب وايي).

کله چې دا اوګوري چې يو مچ ده طرف ته راروان دی نو دې ځان داسې خاموشه کړي ګويا چې دې مړ دی، مچ وړاندې هم داګمان وکړي چې ګني دا يا مړ دی او يا مکمل غافل دی، خو چې مچ ورته رانږدې شي، او دې پوهه شي چې اوس يې په يو ټوپ سره نيولی شم،

(۱) مفتاح دارالسعادة ۱/ ۲۸۱، الطريق الى الجنة ص ۳۷۰، کتاب الاذکياء، لطائف علميه ص ۳۶۶.

نو ناڅاپه په هغه باندې د زمري غونډې ورټوپ کړي ، ښه مضبوط يې اونيسي ، تر هغې پورې يې ټينګ نيولې وي چې کله يې حرکت ختم شي نو بيا يې پرېږدي ، او د خپل ضرورت مطابق خوراک ورنه وکړي . (١)

د لومبړې حيله

١ . د لومبړې په باره کې راځي چې کله دا سخته اُوږې شي او د خوراک څه ورته نه ملاوېږي نو ځان اُوپړسوي ، او په صحراء کې ځان داسې اُوغرځوي ګويا چې دا يوه مرداره ده ، کله چې مرغان ورته راجمع شي نو دا هيڅ حرکت نه کوي ، او نه ساه اخلي ، مرغان پرې ګمان وکړي چې ګني دا مړه ده ، نو هغوی ورباندې کيني ، او په ټونګو باندې يې وهي ، چې ناڅاپه دا ورباندې ورټوپ کړي او څه مرغان اونيسي او وې خوري .

٢ . د لومبړې باره کې دا واقعه ډيره مشهوره ده چې يو کرت دا ډيره اُوږې شوه نو داسې يوې جزيرې ته راغله چې هلته ډيرې مرغۍ وی ، دې څه حيله وکړه چې دا مرغۍ اونيسي خو کامیابه نه شوه ، آخر دا چې لاړه ، او څه اندازه اُوچه ګياه يې راوړه ، او چيرته چې اُوبه وی د هغې سره يې څنګ کې واچوله ، مرغانو چې اول دا ګياه وليده نو هغوی ورنه اوېريده او اُوتختيده ، کله چې مرغانو ته پته ولږيده چې دا خو اُوچه ګياه ده نو هغوی به بيا زړه وَرتله راتله ، آخر دا چې دا لومبړه ورته په دې ګياه کې پټه شوه ، کله چې مرغان د اُوبو د پاره راغله نو دې ورباندې ورټوپ کړه ، او څه يې په کې اونيوه ، او وې خواړه .

٣ . د لومبړې په باره کې مشهوره ده چې يو سړي سفر کولو ، دوه (٢) چرګې ورسره وی ، لومبړه ورته پټه شوه ، او ناڅاپه يې د شاطرفه ورباندې ورټوپ کړه او يوه چرګه يې ورنه اوتختوله ، او لرې يې اوخوړه .

بيا لومبړې د دې بلې چرګې حاصلولو د پاره حيله جوړه کړه ، نو ډير لرې يې ځان راښکاره کړو ، چې په خوله کې د چرګې په شان شی نيولې وُ ، هلته يې اوغورځول او نوره لاړه .

---

(١) کتاب الاذکياء ، لطائف علميه ص ٣٦٦ .

دې سرې دا ګمان وکړو چې ګنې دا هغه چرګه ده کومه یې چې د ما نه تختولې وه ، نو ده دلته دا دویمه چرګه کېښوده ، او په منډه باندې د هغې پسې ورغی ، لومبړه د شا د طرفه ورباندې راتاؤ شوه او دا دویمه چرګه یې هم ورنه اوتختوله .

۴ . همدغه شان واقعه د امام شافعي رحمه الله نه هم نقل ده ، دې وايي چې یو کرت مونږ د یمن سفر کولو ، ماښام ته نزدې په یو ځای کې کيناستو ، د خوراک د پاره مو دستر خوان خور کړو ، په دستر خوان مو دوه (۲) پَخ شوې وريتې چرګې د خوراک دپاره کېښودې ، په دې کې د ماښام آذان اوشو ، مونږ دسترخوان همداسې کلاؤ پرېښود ، او لمانځه ته اودريدو ، په دې کې ناڅاپه لومبړه راغله او دا یوه پخ شوې چرګه یې ورنه اوتختوله او لاړه ، کله چې مونږ لمونځ وکړو ، او دا معامله مو ولیده نو سخت خفه شو ، په دې کې ناڅاپه دا لومبړه لرې راښکاره شوه په خُله یې ورسره د چرګې په شان شی وُ ، هغه یې هلته واچول او لاړه ، مونږ ګمان وکړو چې ګنې هغه پخ شوې چرګه یې واپس راوړه نو مونږ ورمنډه کړه ، چې راوایې خلو ، کله چې مونږ هلته ورغلو نو لومبړه په دې بل طرف راتاؤ شوه او د دسترخوان نه یې هغه بله پخ شوې چرګه هم اوتختوله ، بیا چې مونږ په کوم شي باندې د چرګې ګمان کړې وُ هلته چې ورغلو نو هغه د قجورو پوستکي وو چې د چرګې په شکل یې راغونډ کړي وو .

د ښکاري سپي حیله

۱. علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب " کتاب الاذکیاء " کې نقل کړي چې ښکاري سپې کله هوسۍ اوګوري نو دې په کې د لرې نه روغه او ناروغه ، نر او ښځه پیژني ، خو دا سپې د نرې هوسۍ پسې منډه وهي ، اګر چې ده ته پته لږې چې د نرې هوسۍ ټوپونه او منډه د ښځې هوسۍ نه ډیره تیزه ده ، خو دې بیا هم د دې نرې هوسې د نیولو کوشش کوي ، دا ځکه چې دې سپي ته معلومه ده چې کله دوی منډه وهي نو د یرې د وجې نه ورته تشې متیازې ډیرې زر ورځي (او دا خبره په هر حیوان کې شته چې کله ورباندې یَره راشي نو تشې متیازې ورله ورشي) .

او دا نره هوسۍ د ډيرې تيزې منډې په وجه په روانه کې تشې متيازې نشي کولی، نو د څه لږې منډې نه پس ددې تشې متيازې بندې شي، چې ددې په وجه ددې په منډه کې کمزوري راشي، او سپې يې راونيسي.

او ښځه هوسۍ اگر چې د نر په نسبت تيزه منډه نه وهي خو بيا هم د هغې منډه تر آخره پورې شان جاري وي، ځکه که هغې ته تشې متيازې ورشي نو په روانه روانه کې يې په آسانۍ سره کولې شي، نو سپې يې په آسانه نشي نيولی. (۱)

۲. بل دا چې کله په غرونو کې واوره اوشي نو دا سپې گوري چې کوم ځای واوره کمه وي او ويلې شوې وي نو دې پوهه شي چې ددې ځای لاندې د سَوُو (خرگوش) سوړه ده، نو دې هغه ځای راأوکني، او سوَه ښکار کړي. دا ځکه چې سپي ته پته ده چې د سَوو د ساگانو د گرمايش په وجه واوره ويلې کيږي، نو چيرته چې واوره کمه وي او ويلې شوې وي نو دې پوهه شي چې دلته لاندې د سوو سوړه ده. (۲)

د مار حيله

په حيوة الحيوان کې ليکلي دي چې يو قِسم مار دی، کله چې دې وږې شي، او د خوراک د پاره ورته څه نه ملاويږي، نو دې د غرمې په وخت کې په يو فراخه ميدان کې په خپلې لکۍ باندې أودريږي، خُله آسمان طرفته تاؤ کړي او ځان داسې جوړ کړي چې د لرې نه يو لرگې يا يو ښاخ معلوميږي، بعضې مرغۍ په دې باندې د لرگي گمان وکړي، او پرې کيني، نو د کيناستلو سره متصل دا مار هغه مرغۍ اونيسي او وې خوري. (۳)

د مږې حيله

علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي چې کله په يو لوخي کې غوړي وي، او مږه هغه غوړي څکل شروع کړي نو چې کله دا غوړي کم شي او دا مږه بيا هغې ته نشي ور رسيدی، نو دا مږه ددې غوړو څکلو د پاره دا حيله جوړه کړي چې دا په خُله کې مسلسل أوبه راوړي او په

(۱) كتاب الاذكياء، لطائف علميه ص ۳۶۲.

(۲) كتاب الاذكياء، لطائف علميه ص ۳۶۲.

(۳) كتاب الاذكياء، لطائف علميه ص ۳۶۷

دې لوخي کې يې اچوي ، چې په دې سره دا غوري پوره راشي او اوبه ښکته لاندې شي . (ځکه د اوبو دروندوالې د غوړو په نسبت ډير دی) ، بيا دا مږه دا غوړي او ځغلي .(۱)

د مرغانو حيلې

۱ . " شيکره " يوه مرغۍ ده چې کله دا د شمشتۍ ښکار کوي نو شمشتۍ ورته ځان داسې بې حِسه او مړ کړي ګويا چې يو کاڼړي پروت دی ، او س چونکه د دې ښکار کول مشکل شي ، نو دا مرغۍ دا شمشتۍ په خپلو پنجو کې اونيسي ، او پاس په هوا کې يې اوچته کړي ، او د هغه ځای نه يې په يو غټ کاڼي يا غَرباندې راأوغورځوي ، چې په دې سره شمشتۍ ټوټې ټوټې شي ، بيا دا شمشتۍ هغه أوخوري . دا د ربّ العالمين د رزق ورکولو او قدرت عجيبه ننداره ده .

۲ . په هګۍ شاربَلو کې د مرغانو مختلف عادتونه وي ، خو د شُتر مُرغ دا عادت دی چې دې خپلې هګۍ په درې (۳) تقسيمه کړي ، يو ځای په شګو کې خَښې کړي ، بل ځای نمر ته واچوي ، او باقي شاربَل شروع کړي .

کله چې د دې هګو نه بچي راأوځي نو په نمريې چې کومې هګۍ پريخې وې شُتر مُرغ د هغې نه نرۍ ماده راأوباسي او په خپلو بچو باندې يې څکي ، کله چې بچي څه نا څه طاقت مند شي نو په شګه کې يې چې کومې هګۍ خښې کړې وې هغه راأوباسي ، ماتې يې کړي ، بيا دې ته چې کوم مچان ، ماشي او چينجي راجمع شي نو دا شتر مرغ دا شيان رانيسي او دې بچو ته يې د خوراک د پاره ورکوي .

کله يې چې دا بچي نور هم هوښيار شي نو بيا په خپلو مځلو کې ځان له په خپله خوراک پيدا کوي .

د رنګ بدلوونکي حيوان " حرباء " (ګربوڼي) حيله

امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب " الحکمة في مخلوقات الله تعالى " کې ذکر کړي چې د حرباء (دا يو قِسم کربوني دی چې په عربۍ ورته حرباء وايي) پيدائش هم په څه عجيبه طريقې سره شوی ، دې چونکه سست حرکته پيدا شوی ، د ښکار د پاره غټ ټوپ

(۱) شفاء العليل ۱ / ۲۰۰ ، الطريق الى الجنة ص ۳٦٦ .

نشي وهلی ، نو په ظاهره ده ته خوراک پیدا کول مشکل وو ، خو الله ﷻ ده ته داسې صلاحیت ورکړی چې خپل رنګ په مختلفو رنګونو سره بدلولې شي .

نو چې د اُونې څنګه رنګ وي دې هماغه شان خپل رنګ جوړ کړي ، او د اُونې سره داسې پیوست اُونخلي ګویا چې دا یو بې ساه شی دی ، چپ چاپ ناست وي ، هیڅوک دا نشي معلومولی ، بیا یې ده ته داسې سترګې ورکړې چې بغیر دده د بدن د خوزیدو نه څلور واړه طرفه لیدل کولې شي ، او داسې ژبه یې ورکړې چې د درې (۳) لویشتو پورې لرې شی ځانته د ژبې په ذریعه راکاږي .

نو چې کله ددې سره نزدې مچ ، پتنګ یا بل شی تیریږي نو د بجلۍ د پړق په شان یې په تیزۍ سره په ژبه را اُونیسي ، او وې خوري ، بیا واپس غلې شي ، او داسې معلومیږي چې لکه ددې اُونې خپل پوستکې (پَټ) وي .

نو دې په دې طریقې سره ځانته خپل خوراک حاصلوي ، خو چې کله یو خطرناک شی اوګوري چې ده ته نقصان رسوي نو دا خپل رنګ او شکل دومره بَد رنګ کړي چې د هغه نیوونکي شي ورنه نفرت پیدا شي ، او دا پریږدي .(۱)

ډیره عجیبه خبره داده چې که چیرته دده د وجود سره د سور رنګ یو شی اولږي ، نو په سیکنډونو کې دننه دننه دده غونډ رنګ تک سور شي ، او که شین یا تور یا سپین هر قسم رنګ ورسره اولږي نو متصل دده رنګ هماغه شان شي .

او که چیرته ددې حیوان د لکۍ سره سور شی کیښودې شي ، د خیټې سره یې سپین شی کیښودې شي ، او د سر سره یې شین شی کیښودې شي نو د هماغه مخامخ اندام رنګ د همدې شیانو په شان شي .(۲)

(۱) الحکمة في مخلوقات الله تعالی ص ۱۴۲ .

(۲) که چیرته یو کس ددې حیوان دا عجیبه حیرانوونکې ننداره په خپلو سترګو کتل غواړي نو په انټرنټ باندې هم ددې ویډیو د "حرباء" په نوم شته ، او د فیس بک ابوالشمس عفي عنه په نوم آئیډي کې هم دا او څه نورې ویډیو ګانې شته ، کومې چې د الله ﷻ په عظیمو قدرتونو دلالت کوي ، شایقین یې کتلې شي .
ابوالشمس عفي عنه . فون نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

د ماشي او هاتي مقايسه

ماشي ته دا معلومه ده چې زما خوراک وينه ده ، نو چې کله دې د خوراک د تلاش پسې راووځي ، او يو حيوان يا انسان اوګوري نو ده ته پته لږي چې د دوی د څرمن لاندې زما خوراک دی نو دې خپل خرتم په څرمن کې دننه ننباسي او وينه ورنه راکاږي.[1]

امام رازي رحمه الله د ماشي په وجود کې د الله ﷻ د قدرتونو تذکره کړی ، کومه چې څه اندازه امام غزالي رحمه الله هم ذکر کړی :

چې خلق هاتي ته اوګوري نو دده دې غټ والي ته حيران پاتې شي ، حالانکه دا وړوکې ماشې هم د هاتي نه څه کم او حيرانوونکې نه دی ، ځکه د هاتي څلور خپې ، يو خرتم او يوه لکۍ ده ، او د ماشي هر څه د هاتي نه زيات دي ځکه د ماشي شپږ خپې ، يو خرتم ، يوه لکۍ او څلور وزرې وي ، خو ددې وړوکوالي باوجود بيا هم الله ﷻ دا ماشې په هاتي غوندې غټ او زمري غوندې قوي حيواناتو باندې مسلط کړې وي ، هغوی چيچي او هيڅ ځان ورنه نشي خلاصولی.

بيا د ماشي خرتم د هاتي د خرتم په نسبت ډير وړوکې او نازکه دی ، او باوجود ددې نه چې د ماشي غاخونه هم نشته خو بيا هم خپل خرتم د هاتي او ميښې په کلکه څرمن کې ننَباسي ، او د هغې نه وينه څکي ، ځکه الله ﷻ د ماشي د خرتم په سَر کې څه زهر پيدا کړي ، نو دا ماشې چې په څرمن کيني نو هغه زهر په دې څرمن باندې واچوي ، چې په دې سره دا څرمن په سيکنډونو کې دومره نرمه شي چې ماشې په کې خپل خرتم ننَباسي ، او وينه ورنه راکاږي.

بل په دې زهرو کې دا فائده ده چې په دې سره دې دا وينه په آسانه طريقې سره هضمولې شي. بيا دده حواس الله ﷻ په داسې طريقې سره پيدا کړي چې د انسان د حواسو نه تيز دي ، ځکه دده ستر کې د شپې هم کار کوي ، د لرې ځای نه ورته د مرداري او انسان بُوي ورځي ، د لاس په معمولي حرکت هم پوهيږي.

---

(۱) کتاب الاذکياء ، لطائف علميه ص ۳٦۸ .

دغه وجه ده چې د لاس په معمولي حرکت په وجه په تیزۍ سره خپل خرتم د څرمن نه راأوباسي، او أوتختي.

دا ټول د رب العالمین عجیبه عجیبه قدرتونه دي. (۱)

د پیشو حیله

پیشو چې کله پاس په چت باندې مږه اوګوري نو دا خو هلته ورپسې نشي ورختی. نو دا د لاندې نه خپل سَر مسلسل تاووي راتاووي، مږه چې دې پیشو ته څه لږ وخت اوګوري نو په دې باندې ... ر ګرځي، حیرانه او بې هوښه شي، لاندې راأوغورځیږي او پیشو يې ښکار کړي. (۲)

د میږي حیله

کله چې یو کس څه خوږ شی د میږیانو نه ساتي نو اکثر يې په یو لوخي کې واچوي، او په أوبو کې يې کیدي، د دې دپاره چې د هر طرف نه میږي نشي ورتللی.

کله چې میږې د دې شي بُوی محسوس کړي او هر طرف ته د ورتللو کوشش وکړي خو د أوبو په وجه کامیاب نشي، نو دا میږې په دیوال اوخیجي، او په چت راروان شي، کله چې دې لوخي ته رابرابر شي نو د هغه ځای نه ځان راأوغورځوي، او په لوخي کې د ننه خوراک ته ځان ورأورسوي. (۳)

د زمري د ښکار طریقه

زمرې چې کله حمله کوي نو اول ورته ښه مضبوطه منصوبه جوړوي، ډير کرته دې نهه نهه ګنټې دې د ښکار نیولو دپاره منصوبه جوړوي، چې کله ورته سل فیصده یقین اوشي چې اوس رانه دا ښکار نشي بچ کیدی نو بیا ورباندې حمله وکړي، او کوشش دا کوي چې خپل ځان زخمي نه کړي.

---

(۱) نزهة الناظرين فى الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ۶۱۲، الحكمة في مخلوقات الله تعالى.

(۲) كتاب الاذكياء، لطائف علميه ص ۳۶۸.

(۳) الطريق الى الجنة ص ۳۰۸.

دغه وجه ده چې کله په يو ځای کې ډيرې غرځنۍ غواګانې يا ميښې وي نو دې تر هغه وخته پورې پرې حمله نه کوي چې تر څو يې ورنه يوه راجدا کړې نه وي .

کله چې ښکار وړوکې وي نو دې يې په آسانه نيسي ، خو که يو ځاروې غټ او مضبوط وي نو زمرې د هغه په شاه باندې ورټوپ کړي ، او په خپلو ژامبو سره ټينګه د هغه مرۍ اونيسي ، ددې د پاره چې دده ساه بنده شي ، او دماغو ته اکسيجن تلل بند شي .

بيا زمري ته پته وي چې دومره وخت د يو حيوان ساه بنده شي نو هغه مړ کيږي ، کله چې حيوان مړ شي نو بيا د هغه په خوراک شروع وکړي .

د " زرافې " څټ چونکه ډير اوچت وي ، زمرې که ورټوپ کړي نو بيا هم د هغې څټ ته نشي رسيدی ، اوس چې زمرې ددې ښکار کول غواړي نو الله ﷻ زمري ته فطرتًا دا حيله خودلې چې دا زمرې ددې زرافې شاته پټ پټ روان وي ، چې کله داسې د کندو کپرو واله علاقه راشي چيرته چې منډه نشي وهلی نو زمرې د زرافې پسې ورمنډه کړي ، هغه چې دا اوګوري نو د يَرې نه تيزه منډه وکړي ، نو په دې کندو کپرو سخته علاقه کې خو منډه نشي وهلی نو زرافه آخر راوَلويږي ، زمرې ورټوپ کړي او د مرۍ نه يې اونيسي ، ساه ورله بنده کړي ، کله چې مړه شي نو بيا يې اوخوري .

د حيواناتو د خپل ځان د حفاظت تدبيرونه

هر حيوان ته فطرتًا الله ﷻ داسې حيلې او تدبيرونه خودلي چې د هغې په وجه د د شمن نه د خپل ځان حفاظت کوي ، لکه د نمونې د پاره درته د يو څو حيواناتو تذکره کوم ، چې په هر حيوان کې درته د الله تعالی دا عظيم قدرتونه په نظر راشي .

ليوه په يوه سترګه خوب کوي

علامه ابن جوزي رحمه الله ليکلي چې ليوه کله اُوده کيږي نو د ډير احتياط د وجې يې يوه سترګه پټه کړې وي او دويمه يې غړولې وي ، بيا چې کله د يوې سترګې خوب يې پوره شي نو هغه بيا اوغړوي او دا بله پټه کړي .

(يعنی ليوه د خُوب په شروع کې د ډير احتياط د وجې داسې کوي اګر چې خوب وربانديې غلبه وکړي نو بيا يې دواړه سترګې پټې کړې وي) .

عرب د ليوه متعلق يوه محاوره استعمالوي چې " اَحْذَرُ مِنْ ذِئْبٍ " د ليوه نه زيات محتاط دغه رنګې يو شاعر د ليوه باره کې وايي :

يَنَامُ بِإِحْدَى مُقْلَتَيْهِ وَيَتَّقِيْ ❁ بِأُخْرَى الْمَنَايَا فَهُوَ يَقْظَانُ نَائِمٌ

ترجمه : ليوه په يوه سترګه اُوده کيږي ، او په بله سترګه د مرګ (او دشمن) نه ځان ساتي، نو دي په يو وخت ويخ هم وي ، او اُوده هم وي . (۱)

د لومبړې حيلې

د لومبړې د خپل ځان د حفاظت ، د حيلو او چلونو دومره واقعات دي چې د هغې په اوريدو انسان حيران پاتې شي ، بلکه ډير هوښياران خلق ددې په حيلو باندې د پوهې نه عاجزه دي .

۱ . لومبړه چې ځانله په زمکه کې غار جوړوي نو په هغې کې دوه (۲) لارې پريږدي ، يوه د تلو راتلو دپاره ، او بله د خطرې په وخت د تختيدو د پاره .

خو ددې سره سره دې ځانته د زمکې څه حصه د دننه طرفه نرمه کړي هم وي ، دا ددې دپاره چې که چيرته څوک ددې دواړو لارو نه ددې تلاش شروع کړي نو دا په دغه نرمه زمکه کې سر وهلو سره بهر اووځي ، او ځان خلاص کړي .

دا د قدرت فطري تعليم دی چې په ليدو سره يې عقلمند حيران پاتې کيږي .

۲ . يوه پيره يو ليوه د لومبړې بچي اوخواړه ، لومبړې چې دا وليده نو ډيره خفه شوه ، او ليوه ته يې څه حيله جوړه کړه ، چې په يو ځای کې د همدې ليوه بچي هم وو ، او ورسره نزدې يو غټ دوغل ؤ (چې خلقو د درندګانو د ښکار د پاره جوړ کړې ؤ) .

نو دې لومبړې دې دوغل ته ورټوپ کړه ، بيا يې ځان له په کې دومره سورې اُوويست چې صرف دا پرې وتې شوه . بيا دا لومبړه راغله او د ليوه بچي يې مړه کړه ، او ورسره څنګ کې يې کيناسته ، او د ليوه د راتلو انتظار يې کولو .

---

(۱) الطريق الی الجنة ص ۲۹۲ ، کتاب الاذکياء ، لطائف علميه ص ۳۶۳ .

کله چې لیوه راغی او خپل بچي یې مړه ولیده ، او یو طرف ته دا لومبړه هم ناسته وه ، لیوه پوهه شو چې دا کار دې لومبړې کړی ، نو د لومبړې د نیولو پسې یې رامنډه کړه ، لومبړه مخکې وه او دا ورپسې ؤ ، تر دې چې دې لومبړې دې دوغل ته ورټوپ کړه ، د شاته نه لیوه هم ورپسې ورټوپ کړه ، لومبړه ورته په هغه سوري باندې اخوا اُووته ، لیوه په کې حیران پاتې شو ، نه خو ددې دوغل نه وتې شو ، او نه په هغه سوري وتې شو .

کله چې خلق راغله او په دې دوغل کې یې لیوه ولیده نو هغوی دې مړ کړو . نو لومبړې د لیوه بچي هم مړه کړه ، او لیوه یې هم په خلقو مړ کړو .

۳ . په لومبړه کې چې کله ډیرې وَرګې (براغیث) اوشي نو دا په خُله کې د ځان سره وړی اونیسي ، او اُوبو ته راشي ، په اُوبو کې لږه ورښکته شي ، تر دې پورې چې ټولې ورګې دې وړی ته وراوخیجي ، نو دا لومبړه بیا دا وړی په اُوبو کې وراوغورځوي ، او د اُوبو نه پاکه صفا د ورګو نه راووځي .

میږې

علامه ابن قیم رحمه الله ذکر کړي چې یو لوهار د څه مقصد د پاره د اُوسپنې غټه کړی ګرمه کړه ، بیا یې په زمکه واچوله چې یخه شي ، اتفاقي ددې کړی په مینځ کې میږې ګیر شو ، دې به چې هر طرف ته تللو نو د اُوسپنې هغه ګرمائش به یې محسوسولو .

آخر دا چې دا ددې کړی په بالکل مینځ کې اودریده ، او تر هغه وخته پورې ولاړ ؤ چې کله دا کړی یخه شوه نو بیا ورنه اووت . (۱)

غرځنې هوسی

هوسۍ چې کله خپلې جالې ته ننوځي نو دا په شا طرف روانه وي (یعنی خپلې سوړې ته په شا شا روانه وي او اول خپلې شاته خپې سوړې ته داخلوي) . دا ددې د پاره چې په سترګو باندې بهر د خطرې شی اوګوري ، چې هسې نه ځوک تکلیف راته راورسوي . (۲)

(۱) شفاء العلیل لابن قیم رحمه الله ص ۱۰۲ .

(۲) کتاب الاذکیاء ، لطائف علمیه ص ۳۶۸ .

ځنګلي منګک (يربوع)

يو قسم ځنګلي منګک دی (کوم ته چې په عربۍ کې يربوع وايي) دې چې کله ځان له سُوره جوړوي نو په اوچت ځای کې يې جوړوي، ددې د پاره چې د اُوبو او د خلقو د قدمونو نه محفوظه وي.

بيا يې ځانته په دې سوره کې هر طرف ته ډيرې دروازې پريښې وي، بعضې يې د تلو راتلو ته پريښي وي، په بعضو کې بهر ګوري، بعضې د خاورې راويشتلو د پاره وي، او بعضې يې د خپل ځان د حفاظت د پاره پريښي وي خو په دې دروازو کې يې د زمکې د سَر او ددې دروازو په مينځ کې څه فاصله خاوره پريښې وي (يعنی هر طرف ته ښکاره سورې نه وي، بلکه څه نا څه خاوره بره پاتې وي).

کله چې دا څه خطره محسوسه کړي نو په آسانه سره هغه دروازه ځان ته په منډه کلاؤ کړي او پرې اووځي.(۱)

باره سنګا (غَرڅه)

کله چې د باره سِنګا ښکرونه اوغورځيږي نو په ظاهره ددې اَسلحه او د حفاظت شی ختم شي، نو دا بيا څه وخت پټه شي او بهر نه ګرځي، بلکه په خپل غار کې وي.

نو تر څو چې ددې ښکرونه پوره کيږي نو دومره وخت کې ددې په وجود کې وازګه هم زياته شوې وي، او څربه شي، چې ددې په وجه بيا منډه نشي وهلی.

نو دا ددې غټ والي ختمولو د پاره په نمر کې ډيره ګرځي راګرځي، کله چې ددې دا زياتي غوښه ختمه شي او منډې ته جوړه شي نو بيا بهر راووځي.

اپاسم

۱. په جنوبي افريقه کې يو حيوان دی چې اَپاسم (opossum) ورته وايي، په جسم کې د پيشو هومره دی، او لکۍ يې د منګک په شان ده. کله چې په دې باندې بل شی حمله کول

---

(۱) کتاب الاذکياء، لطائف علميه ص ۳٦۷.

اوغواړي نو دا د خپل ځان د حفاظت په خاطر ځان بې هوشه او مړ کړي، ددې د پاره چې هغه دشمن حیوان وربانديې د مړ ګمان وکړي.

ځکه بعضې ځيروونکي حيوانات مرداره نه خوري، نو ځکه دې ځان مړ کړي. بيا شل یا پنځه ويشت مِنټه پس دې د سترګو په کونج کې اوګوري چې څه خطرناک شی خو نشته، چې کله يې يقين راشي چې څه نشته نو راپاځي او منډه کړي، او اُوني ته اوخيجي.

دې کې چې کوم ښځه حیوان دی هغه په کال کې دوه پیرې بچي زيږوي، او په هره پیره کې اتلس (۱۸) بچي زيږوي، ددې ښځې په خیټه کې د تیلۍ (ګوتۍ) په شان ځای وي، دا په هغې کې تر د سلو (۱۰۰) ورځو پورې خپل بچي ساتي. (۱)

۲. ددې نه علاوه نور ډير داسې واړه واړه حيوانات او حشرات شته چې څوک ورله معمولي ګوتې یا بل شی وَروړي نو ځان مکمل مړ کړي، او د کاڼي غوندې ځان بې حِسه کړي، څه وخت پس چې کله خطر ختم شي نو راپاځي، او روان شي. دوی دا کار ځکه کوي چې ښکار کوونکې ورباندې د مړ ګمان وکړي او پرې يې يږدي.

زمرې

۱. زمرې چې کله دا محسوسه کړي چې هسې نه څوک زما ددې قدمونو د نښو په وجه د ماپسې شاته راشي او زما ځای معلوم کړي نو هغه په تللو تللو کې په لکۍ باندې د خپلو قدمونو نخې ورانوي، ددې دپاره چې هسې نه څوک ددې قدمونو د نښو په وجه راپسې راشي او نقصان رااُو نه رسوي.

۲. زمرې د ځنګل بادشاه وي، دې چې چیرته اوسيږي نو دده د پاره يوه خاصه علاقه وي چې په هغې کې دننه د بل پرَدي نَر زمري د اوسيدو ګنجائش نه وي، البته ښځه زمرۍ ورسره اوسيږي.

زمرې چې په کومه خاص علاقه کې اوسيږي نو دې د هغې حدود او بونډرۍ په داسې طريقې سره جوړوي چې په روانه روانه کې ځای په ځای لږې لږې تشې متيازې کوي، نو ددې تشو متيازو نه يو خاص قسم بُوی ځي چې نور حيوانات اوزمري يې محسوسوي، کله

(۱) عجائبات عالَم ص ۲۵۸.

چې د بلې علاقې زمري دلته رااورسي نو دا بوی محسوس کړي، پته ورته ولږي چې دلته د بل زمري د علاقې حدود شروع شو، نو که چیرته دې ورداخل شي نو هغه زمري ورباندې حمله کوي، اوس چې څوک یې ختم کړو نو ددې بل حکومت په دې علاقه شروع شي.

مرغۍ

۱. بعضې ښکاریان وايي چې کله مونږ یوه مرغۍ په دیوال اوګورو چې ناسته ده، نومونږ هسې هغې ته په لاس باندې د ویشتلو اشاره وکړو (یعنی په لاس کې مو کاڼړی نه وي خو هسې د ویشتلو اشاره ورته وکړو) نو دا مرغۍ نه آلوځي.

دیر کرته په زمکه څه کاڼړي نه وي او مونږ زمکې ته لاس ښکته کړو او هغې ته دا ښایو چې ګني کاڼي راخلم خو دامرغۍ بیا هم نه آلوځي.

او که چیرته په زمکه یقیني کاڼړي پروت وي او مونږ ددې کاڼي د راخیستو اراده وکړو، او لاس ورښکته کړو، نو د کاڼي د راخیستو نه مخکې مخکې دامرغۍ والوځي. (۱)

۲. په بعضو علاقو کې یو بوټې کیږي هغې ته سُنبل وايي، او د هغې جَرړو ته چُوبِ چیني وايي، داجرړې د زخم د پاره ډیرې مفیدې دي، او د حکیمانو سره هم پیدا کیږي، کله چې دا ځنګلي مرغۍ زخمي شي نو ددې بوټي جرړې رااوباسي او د خپل زخم سره یې اُولږوي چې په دې سره ددې زخم جوړ شي.

دیر ښکاریان وايي چې مونږ دا چوب چیني د بعضو مرغو په جالو کې هم لیدلی چې د خپل زخم د پاره یې راوړې وي.

مکرمچه

کله چې د مګرمچه په غاښونو کې د غوښې نښَتو په وجه چینجي اوشي، او دهٔ ته تکلیف ورکوي نو دا د اُوبو نه راووځي، او په اُوچ ځای کې ځان داسې جوړ کړي لکه مړ. خُله یې وازه کړې وي، مرغۍ ورباندې دا ګمان وکړي چې ګني دا مړ دی، نو مرغۍ دده په غاښونو کې ځان له چینجي راټولوي.

(۱) کتاب الاذکیاء، لطائف علمیه ص ۳۶۵.

کله چې مګرمچه ته پته ولږي چې غابنونه مې د چينجو نه صفا شو نو ناڅاپه خُله رابنده کړي، او هغه موجوده مرغۍ هم اوخوري.

مګرمچه د اوبو په حيواناتو کې بدترين شی دی چې ډير خطرناک دی، په هر حيوان باندې زره وَر ورځي او خوري يې، البته سمندري سپې ددې سخت دشمن دی، او ددې نه مګرمچه ويريږي هم، نو دا سمندري سپې ورسره دا حيله وکړي چې ځان په خَټه کې اولړي، او مګرمچه چې کله اوده کيږي نو خُله يې وازه کړې وي، نو دا سپې ناڅاپه په دې خُله کې ورننوځي، او ددننه کولمې يې اوشلوي، چې په دې سره مګرمچه مړ شي، بيا سپې ددې مګرمچه خيټه اوشلوي او د هغې نه رااوځي. سبحان الله

د حيواناتو د خپلو بچو د حفاظت د پاره تدبيرونه

هر حيوان ته الله ﷻ د خپلو بچو د حفاظت فطري تعليم ورکړې وي، ددې يو څو نمونې ستاسو د وړاندې بيانوم چې په اوريدو سره يې د انسان په زړه کې د الله ﷻ معرفت پيدا کيږي، ايمان يې مضبوطيږي او الله ﷻ طرف ته متوجه کيږي.

د مؤنث هاتي په اوبو کې لنګيدل

کله چې د مؤنث هاتي (هاتنې) د لنګوال (يعنې بچي زيږولو) وخت رانزدې شي نو دا اوبو له لاړ شي، او هلته په اوبو کې لنګيږي.

دا ځکه چې په ټولو حيواناتو کې واحد حيوان مؤنث هاتي دی چې دې په ولاړه لنګيږي، وجه دا ده چې ددې مفاصل د نورو حيواناتو په نسبت بدل دي.

هاتي خو چونکه لوړ وي، نو اوس که چيرته په ولاړه ددې بچې اوشي نو ددې سره دا يَره وي چې هسې نه بچې په زمکه راغورځيدو سره مړ شي، يا خراب شي، نو ځکه دا د لنګوال په وخت اوبو ته ځان رسوي. اوس په اوبو کې که چيرته دا بچې رااوغورځيږي نو هم نه خرابيږي، ځکه اوبه ددې د پاره د نرم فرش په شان دي.

د مرغو د بچو حفاظت

۱. علامه ابن جوزي رحمه الله ليکلي چې کله د کونترې يا نورو مرغو بچي د هگۍ نه راووځي ، نو ددې بچو تالو نختې وي ، خوراک په کې لاندې معدې ته نه ځي ، نو دا مرغۍ اول خپله مخوکه ددې بچي په مخوکه کې وَرکړي ، او تر هغې وخته پورې ورله په خُله کې پُوکي وهي چې تالو يې کلاوُ شي ، نو بيا دا مرغۍ ځي او دې له نرم او پوست خوراک پيدا کوي ، او ورکوي يې . (۱)

۲. بل دا چې دا مرغۍ ځان له په اُونو کې داسې مضبوطې او محفوظې جالې جوړوي چې يو ماهِر انسان يې د مشينرۍ په زريعه هم نشي جوړولی .

۳. د چَرچنې يا نورو مرغو بچي چې اول آلوتل شروع کړي ، او په يو ځای کې رااُوغورځيږي نو دا چرچنړه فرياد او مدد طلب کول شروع کړي ، خواؤ شا چې څومره چرچنړې وي هغه ټولې راجمع شي ، هغه ټولې ددې وړوکي بچي نه گير چاپيره الوځي ، ده ته حرکت ورکوي ، او دده نه د آلوتلو مطالبه کوي ، تر دې پورې چې دا بچې هم د دوی سره والوځي ، نو بيا ټولې خورې شي .

۴. دغه رنگې که چيرته د کارغه يا د بلې مرغۍ بچې انسان اونيسي ، نو په شريکه باندې دا مرغۍ د انسان د پاسه گرځي ، ددې بچي د خلاصولو کوشش کوي ، او يو قِسم اِحتجاجي جلوس هم کوي .

دا ټول درب العالمين د قدرت عجيبه کرشمې دي .

د بچي د پيداکيدو نه پس د حيواناتو وهل کول

۱. په کورونو کې خلق غوا ، ميښه وغيره ساتي ، دوی هيڅ وهل نه کوي ، خو چې کله ددوی بچي اوشي نو بيا ددې بچو د حفاظت په خاطر وهل شروع کړي ، او اکثر څوک نزدې نشي ورتللی ، دا ددې د پاره چې څوک دې وړو بچو ته نقصان اونه رسوي .

۲. دغه رنگې چې کله د چرگې سره بچي وي نو ديته هم څوک نزدې نشي ورتللی ، که څوک ورشي نو دا چرگه ورباندې حمله وکړي ، دا هم د خپلو بچو د حفاظت په خاطر .

---

(۱) کتاب الاذکياء ، لطائف علميه ص ۳٦٥ .

۳. دغه رنګې چې کله د پیشو بچي پیدا شي نو د پیش یا نورو خطرو نه د حفاظت د پاره پیشو دا بچي په خله کې کرځوي راکرځوي، او ځایونه ورله بدلوي، دا د دې د پاره چې دیته بل څه شی نقصان او نه رسوي.

د غرڅنې چیلۍ د خپلو بچو سره مینه

د ځنګلي چیلۍ د خپلو بچو سره دومره مینه وي چې که چیرته څوک د دې چیلۍ بچې ښکار کړي او ژوندي یې اونیسي او راروان یې کړي نو دا چیلۍ د دې سړي پسې شته راروانه وي، ګویا د ډیر محبت په وجه دا چیلۍ د خپل ځان پرواه هم نه ساتي خو د خپل بچي سره یو ځای او سیدل غواړي نو ځکه ورپسې راروانه وي.

بل دا چې په دې ځنګلي چیلو کې د خپل مور او پلار سره د حُسنِ سلوک ماده هم شته. دغه وجه ده چې د دې چیلو مور او پلار چې کله ډیر کمزوري شي او خوراک نشي میده کولې نو دا چیلۍ یې اول په خپله خُله کې میده کړي او بیا یې د دې مور او پلار له ورکوي.

ښاپیرک

په حیوة الحیوان کې لیکلي چې د ښاپیرک (توتکرکې. چې په عربۍ کې ورته خطّاف وایي، او اکثر په جُماتونو د ختې نه ځان له جاله جوړوي، د دې) بچو ته چې کله د یَرقان (زیړي) بیماري اُولږي، نو دا لاړه شي، او یو خاص قِسم کاڼي دی (چې په هندوستان کې ډیر پیدا کیږي) هغه راوړي، او په دې جاله کې یې کیږدي، چې په دې سره د دې د بچو یَرقان صحیح شي. بعضې خلق د دې مرغو جالې صرف د دې کاڼي د پاره لټوي، ځکه دا کاڼي د یَرقان بیمارۍ د پاره ډیر مفید دی.

بعضې خلق د دې کاڼي حاصلولو د پاره دا حیله کوي چې د ښاپیرک په بچو باندې د زعفرانو زیړ رنګ او سړي، کله چې ښاپیرک دا خپل بچي په زیړ رنګ کې اوګوري نو داګمان وکړي چې ګنې په دوی باندې د ګرمۍ نه یرقان راغلی، نو دا لاړ شي او دغه ورو کې کاڼي راوړي (کوم چې د سنونو په نوم سره مشهور دی، په دې کې سرې تور بخنې کرخې وي)، بیا دا کاڼی په جاله کې کیدي چې دا د یرقان د پاره فایده مند دی، نو دغه حیله کوونکي خلق ورشي او دا کاڼې د جالې نه راواخلي، او په خپل استعمال کې یې راولي.

ارسطو په خپل کتاب " کتاب النعوت " کې ليکلي چې کله دابابيل د سترګو نظر کمزوری شي نودا د عين الشّمس نومې اُونې نه خوراک وکړي چې په دې سره ددې نظر واپس خپل ځای ته راشي ، ځکه په دې اُونه کې د سترګو د قوت اجزاء دي .

په نورو حيواناتو او مخلوقاتو کې د الله ﷻ د قدرت نخې

د کارغه بچي ته خوراک رسول

د کارغه په باره کې راځي چې کله دده بچي اول دهګۍ نه راووځي نو هغه په رنګ کې سره او سپين وي ، ځکه لاتر اوسه پرې بنړې نه وي راختلي . کارغه چې دا اوګوري نو داګمان وکړي چې دا خو زما بچي نه دي ، نو دا ورنه لاړ شي ، اوس دا بچي په ظاهره بې پالنې پاتې شو ، ربّ العالمين د دوی د خوراک د پاره دا ذريعه جوړه کړی چې ددې بچي د مخو کې په غاړو کې يې زير بخَنه غوبنه پيدا کړی ، ده خُله وازه کړې وي ، کله چې ماشې يا بل شی دا غوبنه اوګوري نو دوی دا ګمان کوي چې ګني دا زمونږ د خوراک څه شی دی ، هغه پرې کيني ، د کارغه دا بچي پرې خُله رابنده کړي ، او وې خوري ، په دې طريقې سره ده ته خوراک رسولې شي ، څو ورځې پس چې کارغه راشي نو په دوی باندې بنړې راختلي وي ، نو بيا ورله هغه خوراک راوړي .

د حيواناتو بچو ته فطري تعليم

کله چې په ځنګل يا صحرا کې د يو چيلۍ يا بل حيوان بچې پيدا شي نو دوه (۲) ګنټې پس دا بچې د شودو (پيو) څکلو د پاره ددې چيلۍ لاندې په داسې عجيبه طريقې سره ګنډې اُولړوي چې ډير ماهِر کس هم هغه شان نشي کولی .

بيا د هغې تيونه په خُله کې ونيسي ، او شوده ورنه څکي ، عجيبه داده چې دا بچې ولې ددې چيلۍ لکۍ په خُله کې نه نيسي ؟ ددې غوږ يا بل ځای ولې په خُله کې نه نيسي چې صرف تيونه يې نيسي ؟ دا ټول د رب العالمين د قدرت ننداره دي .

د حضرت عقبه بن نافع ؓ د ځنګل حيواناتو ته خطاب کول

کله چې حضرت عقبه بن نافع ؓ اراده وکړه چې د قيروان ښهر فتح کړي نو خلقو ورته ووېل چې دې ښهر ته لاره په دې ځنګل ورغلې، او په دې کې قِسما قسم خطرناک حيوانات دي، سړې تللو ته نه پرېږدي. ده ورته ووېل: دا حيوانات د الله ﷻ د لښکرو (مخلوقاتو) نه يو لښکر دی، او مونږ د دوی نه بهترين لښکر يو، بيا په يو اوچت ځای باندې اودرېده، او دا آوازيې وکړو:

أَيتها الوحوش. أَيتها الأسود. أيتها الأفاعي. إنا أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم جئنا لإعلاءِ كلمة "لا إله إلّا الله" فأفسحوا لنا الطريق.

اې د ځنګل وحشي ځناورو، اې زمريانو، او اې اَژدهاګانو! مونږ د محمد رّسول الله ﷺ صحابه يو، ددې د پاره راغلي يو چې د "لا إله إلا الله" کلِمه اوچته شي (يعنی اعلاء د کلمة الله اوشي)، تاسو مونږ ته لاره کلاؤ کړئ.

ددې اعلان اورېدو نه روستو د ځنګل وحشي ځناور، زمريان او ماران ټول د ځنګل نه ووت، د ځانونو سره يې خپل بچي هم اخيستي وو، او د الله ﷻ لښکر (صحابه کرامو) ته يې لاره کلاؤ کړه. تر دې چې صحابه کرام دې ښهر ته داخل شو. (۱)

---

(۱) وهذا عقبة بن نافع ؓ الذي لما أراد أنْ يفتح مدينة القيروان. فأخبروه أن بها سباعًا و وحوشًا على مداخل المدينة. ولن تستطيع دخولها. فقال: كلّا إنّ هذه الدّواب جندٌ من جنود الله. ونحن خير جند الله. فقام على صخرةٍ عاليةٍ. ونادى. وقال: أيتها الوحوش. أيتها الأسود. أيتها الأفاعي إنا أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم جئنا لاعلاء كلمة "لا إله إلا الله" فأفسحوا لنا الطريق. فخرجت الوحوش والأسود والحيات تحمل ولدانها وأفسحت الطريق لجند الله. فدخلوا المدينة. الطريق الى الجنة ص ۴۰۰. / همدغه شان يو بله واقعه هم نقل ده: **قصة الاسد مع "سفينة" مولى رسول الله ﷺ**: وخلاصة القصة أنّ "سفينة" مولى رسول الله ﷺ قال: ركبت البحر فانكسرت بي سفينتي التي كنتُ فيها. فركبتُ لوحًا من ألواحها. فطرحني اللوح الى أجمة فيها الأسد. فدخلت. فخرج اليّ الأسدُ. فأقبل اليّ. فقلتُ: يا أبا الحارث! أنا مولى رسول الله ﷺ فطأطأ رأسه. وأقبل اليّ يدفعني بمنكبيه. فأخرجني من الأجمة. ووقفني على الطريق ثم همهم. فظننتُ أنه يودعني فكان هذا آخر عهدي به. الطريق الى الجنة ص ۳۹۸.

یوه عجیبه اُونه

۱. صاحب د "نوادر الکتب" په خپل کتاب کې دا خبره ذکر کړې چې په جنوبِ چین کې یو، نا آشنا اُونه ده چې په عامو حالاتو کې ددې پاڼې د نورو اُونو د پاڼو په شان شنې وي، خو د آسمان نه د باران، یا ګلي وغیره راتلو نه مخکې مخکې ددې اُونې پاڼې تکې سرې شي.

ګویا چې دا اُونه د هغې ځای د خلقو د پاره د فضائي اَحوالو معلومولو د پاره یوه بهترینه آله ده. (۱)

۲. په برما کې یو بوټی دی چې د هغې ځای خلق ورته "پیدانګ" وایي، دا بوټی د سائنسي آلاتو بیرومیټر په ځای کار ورکوي، ځکه چې کله ددې غوټۍ کلاؤ شي نو دا ددې علامه وي چې په دې آینده شوا روز کې به باران کیږي، او دا خلقو په خپلو سترګو لیدلې هم دی.

د انسانانو د ویښتانو په شان پاڼې

په استریلیا کې یوه اُونه ده چې د هغې پاڼې بالکل د انسانانو د ویښتانو په شان دي، چې ورته د ویښتانو واله اُونه وایي. (۲)

ګوشت خُور اُونه

۱. په دې اُونو کې یو قِسم اُونه ده چې هغې ته ګوشت خور یا کوزه ګر اونه وایي (په انګلش کې ورته picher plants وایي)، ددې پاڼې د جَګ یا کوزې په شان دي، په دې پاڼو کې یو قسم مواد پیدا کیږي چې د هغې په وجه دا د زمکې حشرات هغې ته د ورتللو کوشش کوي، خو چې څنګه دا حشرات هغې موادو ته اورسي نو هملته مړه شي، او دا پاڼې دا حشرات د خپلې غذا په طور جذب کوي.

---

(۱) الطریق الی الجنة ص ۳۵۴.

(۲) عجائباتِ عالَم کا انسائکلو پیڈیا ص ۲۵٦، ۴۱۲.

۲. دغه شان یوه بله اُونه ده وینس فلايي تریپ ورته وايي، اَزغي داري پاڼې يې دي. کله چې په دې باندې څه شی کيني نو دا پاڼې پرې د شکنجې غوندې رابندې شي، او دا شی بیا ددې اُونې خوراک جوړ شي. (۱)

زهریله اُونه

د دُنیا د ټولو نه خطرناکه اُونه "کوکومبر" ده چې څوک ددې سره لاس اولږوي نو دا وریاندې خپل تخم او زهریله ماده رااُوشیندي چې په هغې سره انسان فورًا مړ کیږي. (۲)

د پَتري (بلیډ) په شان تیره ګیاه

د براعظم افریقا په یو ملک " یوګنډا " په ځنګلاتو کې یو قسم ګیاه ده چې بالکل د تار په شان نری او د پَتري (بلیډ) په شان تیره ده ، د هغې علاقې خلق دا د بلیډ په ځای استعمالوي ، او ویښتان پرې خرَیي.

عجیبه کاڼې

د سراندیب په جزیرو کې یو قسم نباتسته کاڼې پیدا کیږي چې د هغې ځای خلق ورته "ذربارا" وايي، او په فارسۍ کې ورته" جاذِب موشان" وايي، چونکه په دغه جزیرو کې مَنګکان زیات دي، او پیشوګان نشته، نو خلق په کورونو کې دا کاڼي ساتي، ددې کاڼي خاصیت دادی چې کله منګک ددې سره نزدې تیر شي نو فورًا بې هوشه شي، او یو څو مِنټه پس مړ شي. (۳)

عجیبه ماهي

۱. په دریاب کې یو قِسم ماهي دی چې "جیلي فِش" ورته وايي، ددې ماهي د بدن نهه نوي (۹۹) فیصده حصه اُوبه وي، که چیرته دا ماهي بهر نمر ته واچولې شي، نو څه لږ وخت پس ټول وِیلي کیږي، تر دې چې وجود یې بالکل ختم شي.

---

(۱) عجائباتِ عالَم کا انسائکلو پیڈیا ص ۳۴۶، ۳۶۱.

(۲) عجائباتِ عالَم کا انسائکلو پیڈیا ص ۳۴۷.

(۳) عجائباتِ عالَم کا انسائکلو پیڈیا ص ۳۲۲

ددې ماهي د سختې حصې نه د جړو په شان نري تارونه تللي وي ، په هغې کې زهرِيله ماده وي چې ددې په وجه نور حيوانات دا ماهي نه خوري .

کله چې په سمندر کې غټ ماهي راشي نو د سمندر دا واړه ميان اکثر د خپل ځان د حفاظت د پاره ددې جيل ماهي په تارونو کې پناه اخلي ، او ددې په وجه يې د غټ ماهي نه ځان بچ کړې وي .

۲ . دغه شان په درياب کې يو بل ماهي دی چې "شارک ماهي" ورته وايي ، دې ډير تيز رفتاره او خطرناک ماهي دی ، دې د پنځه سوه او پنځوس (۵۵۰) گزه فاصلې نه آواز په آسانۍ سره اَوري ، د نيم ميل فاصلې نه د ښکار بُوی ورځي .

که چيرته دده ښکار دده نه په شکه کې هم پټ شي نو دده د جسم نه داسې برقي شعاوی اُوځي چې دې د شگو لاندې هم خپل ښکار طلب کولې شي .

۳ . دغه رنگې د جنوبي امريکه په سمندري علاقو کې داسې يو ماهي دی چې هغې ته پرانا (piranha) وايي ، د بليډ (پَتري) غوندې تيره او مضبوط غابښونه يې دي ، او دومره خطرناک دی چې کله انسان يا حيوان مخې ته ورشي نو په څو منټونو کې دننه دننه ورنه ټوله غوښه اُوشلوي او ختم يې کړي .

عجيبه ليوه

په مغربي امريکه کې يو ليوه دی چې هغه د خپلې لکۍ رنگ بدلولې رابدلولې شي ، په گرمۍ کې يې يو شان رنگ وي ، او په يخنۍ کې يې بل شان رنگ وي .

عجيبه مار

۱ . د امريکې په رياست د آرکنساس په يوه علاقه لټل راک کې يو قسم ماران دي چې نور ټول مار وي خو سَر او مخ يې د انسان په شان وي .

۲ . د اندونشيا په يو پارک کې يو غټ مار دی چې د هغه وزن څلور نيم سوه (۴۵۰) کلو دی ، پنځلس (۱۵) فټه اُوږد ، او څلويښت (۴۰) اِنچه پلن دی ، غټ مار دی ، دې د سپُو خوړلو شوقي دی ، په يو وخت کې پنځه (۵) سپي په آسانه خوړلې شي .

عجيبه مرغۍ

۱. مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپله يوه رساله " اَلْاِلْتِبَاهَاتُ الْمُفِيْدَة عَنِ الْاِشْتِبَاهَاتِ الْجَدِيْدَة " کې، او دغه رنګې صاحب د " فيروز اللغات " دواړو د يوې مرغۍ " قُقْنُسْ " متعلق عجيبه خبره ليکلې:

چې " قُقْنُسْ " يوه خوش آوازه مرغۍ ده، ددې په مخوکه کې ډير سُوري دی، کله چې ددې د مرګ وخت رانزدې شي نو دا د اُوچ خشاک (وَښو) د پاسه کيني، او يو قِسم ښائسته آواز د خُولې نه را اُوباسي، دې آواز سره ددې د مخوکې نه اُور رااُوځي چې په دې سره دا اُوچ خشاک اُور واخلي، نو دا مرغۍ د همدې خشاک د پاسه اُوسوزي او اِيره شي. کله چې په دې اِيره باندې باران اُوشي نو د الله ﷻ په قدرت سره په دې اِيره کې اتوميتک هګۍ پيدا شي، او د هغې نه بيا نوربې شماره " قُقْنُسْ " پيدا کيږي. (۱)

۲ . په فلپائن کې يوه مرغۍ ده چې هغې ته "بيا" وايي، ددې په جاله کې د شپې تياره نه وي، بلکه هميشه په کې رڼا وي، ځکه دا هميشه د اُور اُورکي د نيولو کوشش کوي، چې کله دا مرغۍ دا اُور اُورکې اونيسي نو خپلې جالې ته يې راوړي، دې مرغۍ د خپلې جالې پورتنۍ حصه په داسې انداز باندې د نري نري ډکو نه جوړه کړي وي چې دا اُور اُورکې د هغې نه نشي راوتې، په داسې طريقې سره يې ډير اُور اُورکي راوړي وي، هغوی رڼا کوي، او دا ورته لاندې پرته وي. (۲)

(۱) الالتباهات المفيده عن الاشتباهات الجديدة ص ۱۸ اصول موضوعه اصل نمبر ۳، رنګين فيروز اللغات اُردو جامع ص ۱۰۱۸ . مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په همدې رساله کې يوه بله عجيبه خبره هم ليکلې کومه چې د الله ﷻ په عظيمو قدرتونو دلالت کوي، دې وايي چې کله چينډخه مړه شي او دا اُوچه شي، بيا ته هغه داسې اُوټکوی (او ميده يې کړی) چې مکمل اِيره شي، کله چې د پَشه کال باران اوشي او ته د اُوبو يو ډَنډ ته دا اِيره وَر واچوی نو د الله ﷻ په قدرت سره به ددې نه په سوونو چينډخان پيدا شي. الالتباهات المفيده عن الاشتباهات الجديدة ص ۱۸

(۲) عجائبات عالَم کا انسائکلو پيډيا ص ۱۵۷ .

اوږده ورځ، او اوږده شپه

۱. د ناروې په ښهر " هميرفسټ " کې د څوارلسم (۱۴) مئ نه تر د ديرشم (۳۰) جولائي پورې مسلسل ډُهوپ وي يعنی نمر نه ډوبيږي.

يا د اتلسم (۱۸) نومبر نه تر د ديرشم (۳۰) جنوري پورې مسلسل تياره وي، نمر نه راخيجي.

۲. دغه شان د سويډن يو ښار "کرناتوې" هم دی چې په دې کې نمر پنځوس (۵۰) ورځې نه ډوبيږي، او چې کله ډوب شي نو بيا پنځوس (۵۰) ورځې نه راخيجي. (۱)

د مرګ په وخت د ځناورو يو طرف ته کيدل

ځنګلي ځناور چې کله سخت ناروغه شي، او محسوسه کړي چې مرګ نزدې دی، نو يو پټ ځای ته ځان اورسوي، او بيا هم هلته مړ شي، ګويا چې دوی هم د انسانانو غوندې خپل مړه لاشونه څه نا څه پټوي.

که داسې نه وی نو بيا به په ځنګل کې په سوونو ډانچې پرتې وی، حالانکه ځنګل د مختلف قسمه ځناورو نه ډک وي، او د ورځې په کې په سل هاؤ ځناور مري، خو بيا هم په مشکله د دوی ډانچې او هډوکي پيدا کيږي.

خلاصه

خلاصه دا چې الله ﷻ په مخ د زمکه مختلف قِسمه حيوانات پيدا کړي، بعضې په کې داسې دي چې شپه او ورځ محنت کوي، او د رزق پيدا کولو دپاره مختلف حيلې کوي، او بعضې په کې متوکّلين دي چې هيڅ حيله نه کوي.

بعضې په کې داسې دي چې د انسانانو سره مانُوس وي او محبت ورسره کوي، او بعضې داسې دي چې د انسانانو نه سخت نفرت لري او تختي ورنه.

بعضې په کې صرف پاکيزه خوراک کوي، بعضې خالصه مرداره خوري، او بعضې دواړه خوري.

---

(۱) عجائبات عالَم کا انسائکلو پیڈیا ص ۸، ۳.

بعضې په کې په ډيرو کارونو پوهيږي، او بعضې په هيڅ شي نه پوهيږي.

بعضې په کې ډير زر تعليم قبلوي، بعضې يې لږ وخت پس، او بعضې يې د سره تعليم نه قبلوي.

بعضې په کې هغه دي چې تکليف ورنکړې نو ضرر نه دررسوي، او بعضې په هر حالت کې ضرر دررسوي.

بعضې په کې داسې کينه لرونکي دي چې تکليف ورکړې هغه نه هيروي، او بعضو ته د سره تکليف ورکول ياد نه وي.

بعضې په کې د سره غُصه کيږي نه، بعضې چې غصه شي نو بيا يې غصه نه په آرام کيږي، او بعضې د غصې نه پس ډير زر راضي کيږي.

بعضې په کې داسې دي چې اِحسان او ښيګړه پيژني، او بعضې په هيڅ شي نه پوهيږي.

بعضې په کې داسې دي چې د خوراک څه اُومومي نو د خپل ځان په نسبت نورو ته ترجيح ورکوي، او بعضې په کې ځان ته نزدې هيڅوک نه پريږدي.

بعضې په کې شپه او ورځ د خپلو بچو تربيت کوي، بعضې خپل بچي ضائع کړي او د نورو د بچو تربيت کوي، او بعضې د سره خپل بچي پيژني نه.

بعضې په کې نر او ښځه دواړه د بچو تربيت کوي، او بعضې صرف ښځه د بچو تربيت کوي.

بعضې حشرات په کې ځان له د يو کال خوراک ذخيره کوي، او بعضې په کې توکل کوي صرف د يوې ورځې خوراک برابروي.

دا ټولې خبرې د الله ﷻ په خالقيت، د هغه په عظيمو قدرتونو او حکمتونو باندې دلالت کوي.

د غونډ تقرير خلاصه :

د ټول تقرير خلاصه دا شوه چې کله يو انسان د الله ﷻ په مخلوقاتو کې غور او فکر کوي، او په دې کې د الله ﷻ د قدرت نخې ګوري، نو په دې سره دده په زړه کې د الله ﷻ عظمت پيدا کيږي، ايمان يې مضبوطيږي، او زړه يې د الله ﷻ د معرفت نه ډکيږي.

او دا يو لوي عبادت دی ، ځکه په دې سره انسان ته د الله ﷻ صحيح معرفت ورنصيبه کيږي ، او حديث کې راځي :

رَأْسُ الْعِلْمِ مَعْرِفَةُ اللهِ . د ټولو نه لوي علم د الله ﷻ معرفت دی (چې دا دغوندِ علم خلاصه او نچوړ دی) .

دُعا

الله تبارک وتعالی دې مونږ ته په دې مخلوقاتو کې د عبرت د پاره د غور او فکر کولو توفيق رانصيبه کړي ، او زمونږ په زړونو کې دې هم الله ﷻ خپل عظمت او معرفت واچوي ، او د صحيح عبادت کولو توفيق دې راته رانصيبه کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

د شهدو په مچۍ کې د الله د قدرت څه نور عجائب

علامه ابن قیم رحمه الله د شهدو په مچۍ کې د الله ﷻ د قدرتونو او حکمتونو عجیبه نخې نخانې ذکر کړی، :

دې وايي چې د شهدو مچو معامله ډېره عجیبه ده ځکه د دوی یوه ''ملکه'' وي چې هغه ته یعسوب وايي، دا ددې نورو مچو نه د شکل و صورت په اعتبار سره ډېر غټ او ښائسته وي، هګۍ صرف دې اچوي، او اکثره بچي یې ښځې وي، او که نر بچې په کې پیدا شي نو د څه مخصوصې ډلې نه علاوه نور یا اوشړي او یا یې مړه کړي، ځکه دا نارینه بچي څه کار کسب نه کوي، نو ځکه یې نه پرېږدي.

دا مچۍ په څو ډلو تقسیم شوې وي، څه په کې ددې ملکې سره همیشه وي دده نه نه جدا کیږي، څه په کې موم تیاروي، څه په کې کورونه جوړوي، څه په کې د اُوبو راوړلو او څکولو د پاره وي، څه په کې دا کورونه د ګندګۍ نه صفا کوي، او کومه مچۍ چې دځان سره څه ګند راوړي نو هغه قتلوي.

د ټولو نه اول په دې ګبین (ډوب، ګګ) کې د ملکې د پاره کور جوړولې شي، دکټ او تخت په شان مربع (څلورګوټيزه) کور ورله جوړ کړې شي، دا ملکه په هغې ناسته وي، دده ګیر چاپیره د امراؤ، خواصو او خادمانو په شکل همیشه دمچو څه ډله وي، بیا ددې مخې ته د حوض په شکل یو ځای جوړ کړې شي چې په دې کې د امچۍ صفا شهد اچوي، دا صرف ددې ملکې او خواصو مچو خوراک وي.

بیا دا مچۍ د نورو کورونو په جوړولو شروع وکړي، خپل کورونه د مسدّس په شکل داسې محکم، برابر او مضبوط جوړوي چې د یو ویښته په مقدار فرق په کې هم نه وي، هیڅ ځای په کې خالي نه وي، او د دُنیا یو انجینیر هم داسې کور نشي جوړولی.

بیا دا مچۍ بهر د خوراک په تلاش پسې اوځي، لرې لرې سفر کوي، د پاکیزه ګلانو، میوو او پاڼرو نه رَس چوسي، بیا واپس خپل ځای ته راځي، لاره هم ورنه نه ورکیږي، ځکه الله ﷻ ددې لارو اِلهام او هدایت دوی ته کړی.

بیا الله ﷻ د دوی په خُله کې داسې حرارت اچولی چې کومه میوه یا رَس دوی چوسلې وي هغه پوخ کړي، په هغې کې خوږوالې او پوخ والې پیدا کړي.

بیا یې چې کوم کور جوړ کړې وي په هغې کې یې واچوي (دا ددې دپاره چې د ژمي د پاره یې ځانله ذخیره کړي).

کله چې دا کور ډک شي نو په هغې مُهر اولږوي، او سَر یې په صفا مومو (شمع) باندې بند کړي، بیا دوی بل کور جوړ کړي، هغه هم همداسې طریقې سره د شهدو نه ډک کړي، او بره سَر یې په مومو (شمع) باندې بند کړي. بیا همداسې مسلسل نور کوز جوړوي او د شهدو نه یې ډکوي، او سَر یې په مومو بندوي.

کله چې هوا یخه شي او بهر د خوراک څه نه پیدا کیږي، نو بیا ذوی په خپلو کورونو کې ناستې وي او کوم شهد یې چې جوړ کړي وي هغه خوري.

د کار په ورځو کې دا مچۍ سهر وختي اوځي، خوراک جمع کوي، او کومې ډلې ته چې کوم قِسم کار په حواله شوې وي هماغه کوي، او ماښام دوباره خپل کورته راځي.

د دوی ملکه د خپل ځای نه بهر ډیره نه اُوځي، او که چَکر ته یې شوق اوشي نو بیا د څه وخت دپاره بهر راووځي، نورې امیرانې او خادمانې مچۍ ورسره وي، په باغونو، بوټو او ګلانو باندې چکر اووهي، او بیا واپس خپل ځای ته راشي.

ددې ملکې د عجائبو نه یوه دا هم ده چې کله دې ته د یوې مچۍ، یا یوې خادمې، یا ددې ډوب د نِګرانې مچۍ د طرفه څه ضرر اورسي نو دا غصه شي، او ددې ډوب (کور) نه بهر اوځي، او چیرته لرې د اُونې په اُوچته حصه کینې (دا ددې د خفګان علامه ده).

کله چې دا نورې مچۍ دا اوګوري چې زمونږ مشر خو خفه شو او لاړو، نو دوی هم ټولې د هغه پسې روانې شي، دا خپل کور خالي پریږدي، ټولې ددې ملکې نه ګیر چاپیره تاویږي او په ده جمع کیږي چې ددېنه د ګړې او غُنچې شکل جوړ شي.

کله چې ددې مچو مالِک (چا چې دا مچۍ ساتلې وي هغه) دا اوګوري چې پیټۍ خو د مچو نه خالي شوی، یا دا مالِک بل ځای ته دا پیټۍ وړل غواړي نو ددې ملکې د راضي کولو او واپس راوستو دپاره دا حیله جوړه کړي چې: یو اُوږد ډانګ راواخلي، د هغې په سَر پورې خُوشبویه پاکیزه ګلان اوتړي، دا ډانګ دې ملکې ته لږ لږ ورنزدې کوي، او ددې

سرې سره بَاجه يا بل د مستې پيدا کولو څه شی وي هغه هم مسلسل وهي. آخر دا چې دا ملکه راضي شي، غصه يې ختمه شي نو راواګرځي او په دې کلانو کيني. نورې ټولې مچې ددې پسې شاته روانې شي، د مچو مالک دا ملکه واپس هغه خپل ځای (پيټی) ته راوړي، او نورې مچې هم ټولې واپس راشي.

د شاتو مچې هيڅکله په مرداره، په خراب خوراک او څاروي باندې نه کيني. ځکه دوی بَدبُويي او ګند نه خوښوي.

په دوی کې چې کومې ورې مچې وي او شهد جوړوي هغوی هميشه د هغو مچو سره جنګ کوي په کومو کې چې هيڅ نفع نه وي، بلکه يا خوږې شړي، او يا يې د ډوب نه بهر وژني ځکه که دننه يې اووژني نو بيا ګندګي جوړيږي.

دا ورې مچې د غټو په نسبت ډيرې زياتې خواري کښي او بهترين شهد دوی جوړوي.

د بهترين شي دشمنان زيات وي

د شاتو مچې په حيواناتو کې ډيره زياته نفع منده ده، ځکه د دوی د خيټو نه چې کوم شهد راووځي په هغې کې د هر مرض شِفاء ده، خو د خدای شان دی چې اکثر حيوانات ددې مچې دُشمنان دي، دا ځکه چې داد الله ﷻ قانون دی چې کله هم د رښا او د خلقو د هدايت د پاره کوشش شوی نو په مقابله کې يې تيارې او ډير مخالفين پيدا کيږي.

دغه شان دا مچې هم ده چې فائده منده زياته ده خو دشمنان يې په حيواناتو کې ډير دي، او هغه حيوانات ددې دشمنان دي په کوم کې چې اکثر هيڅ فايده نه وي. (۱)

د شاتو مچې نه حکومتي نظم برابرول

د "اخلاق جلالي" په شرح صفحه ۲۲۴ کې ذکر دي چې د جمشيد بادشاه او ده په اولاد کې چې حکومت د زرهاؤ کلونو پورې چليدلې ؤ نو دا ځکه چې دوی د خپل ټول حکومت خاکه د شهدو مچې د نظام نه جوړه کړې وه، يعنی وزيران، مشيران، جرنيلان،

(۱) شفاء العليل ص ۱۰۱، الطريق الی الجنة ص ۳۰۰.

خادمين ، قاضيان وغيره دا ټوله نقشه يې د شهدو مچۍ د نظام په شکل جوړه کړې وه ، نو ځکه دومره اوږده زمانه يې په خاندان کې حکومت چليده . (۱)

د شهدو ددې وړې مچۍ دومره منظّم نظام او دومره د فائدې شي پيدا کول ، دا ټول کارونه صرف ددې وړې مچې د پوهې او هوښيارتيا کار نه دی ، بلکه دا د ربّ العالمين اِلهام او حيرانوونکې کاريګري ده او د الله ﷻ د قدرت عظيم مَظهر دی .

حيرانوونکې او د عبرت خبره

د انسان ظاهري ترقي اکثر په دې درې (۳) شيانو کې ده :

اول : دا چې ده ته بهترين ، خالصه ، صحت مند خوراک ملاؤ شي .

دويم : دا چې د فخر جامې (کپړې) ورته ملاؤ شي .

دريم : دا چې مال و دولت ورته ملاؤ شي او قيمتي شی په ګټو ورشي .

دحيرانتيا خبره داده چې دا درې واړه شيان معمولي غونډې حشرات تياروي ، ځکه د ټولو نه زيات فايده مند خوراک شهد دي چې داد شهدو مچۍ تياروي.

د ټولو نه ښائسته جامې د وريښمو دي چې داد وريښمو چنجې تياروي .

او د ټولو نه قيمتي شی ملغلره ده چې دا د سيپۍ چينجې د سمندر په ويخ کې جوړوي . (۲)

---

(۱) خطبات ومواعظ جُمعه ص ٦١٦ .

(۲) الحكمة في مخلوقات الله تعالى .

د انسان په وجود کې د الله ﷻ قدرتونه او عجائب

که چیرته د انسان په وجود، او په دې کې په مختلفو اندامونو، او بیا د هریو اندام په کار کولو باندې سوچ وکړې شي نو په دې کې به انسان ته د ربّ کائنات بې شماره قدرتونه، حکمتونه او عجائب په نظر راشي، په زړه کې به یې د الله ﷻ عظمت او لویي پیدا شي، الله ﷻ طرف ته به متوجه شي، او ایمان به یې نور هم مضبوط شي.

دغه وجه ده چې الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: او په خپله ستاسو په ځانونو کې هم (ډیرې نخې دي)، نو آیا تاسو دا په غور سره نه ګورئ؟ (او تاسو ته نه ښکاري؟).

نو په همدې خاطر د انسان د بدن د یو څو اندامونو تشریح درته په سائنسي، طِبّي، او ډاکټري انداز کې کوم چې تاسو ته د انسان په دې وړوکي بدن کې د الله ﷻ عظیم قدرتونه په نظر راشي.

﴿ نوټ: که مقررین حضرات د موقع او ځای مناسب ددې آینده موادو نه ځانته انتخاب وکړي، او بیان یې کړي نو یقیني خبره ده چې د اوریدونکو په زړونو کې به د حیرانتیا سره سره د الله ﷻ عظمت او لویي هم پیدا شي، او الله ﷻ ته به متوجه شي، دغه شان په هر اندام کې به ورته د خالقِ کائنات بې شمیره قدرتونه، حکمتونه، عجائب او فوائد هم په نظر راشي ﴾.

خلیات (ژوندي اجسام یا حُجره)

هر ذي روح مخلوق که هغه انسان وي، یا نور حیوانات وي هغه د خلیاتو (cells) نه جوړ وي، ګویا خلیه د ژوندي آجسامو دپاره اکایي (unit) ده، خلیه (یا: حُجره) ډیره وړه

(۱) الذاریات آیت ۲۰، ۲۱.

وي، صرف په خُورد بين (مائکروسکوپ) باندې ليدې شي، او ددې د مجموعې نه جسم جوړيږي.

د يو درميانه قد و قامت انسان جسم د يو کروړ اَرب خلياتو نه جوړ وي، په دې کې په کروړاوُ خليې روزانه ختميږي، او ددې په ځاى نورې پيدا کيږي.

په دې خليو کې د مختلف شکل او مختلفو خصوصياتو والا خليې وي، بيا که هره خليه په خُوردبين اوکتې شي نو په هغې کې ځانله پوره دُنيا آباده ده، په هره خليه کې پوره نظام حيات په پوره نظم و ضبط سره قائم وي، بلکه په هره خليه کې د خوراک او قوت حاصلولو، او د غير ضروري موادو خارجولو د پاره پوره مشينري نصَب وي، هره خليه چې قوي شي نو ددې نه دوه جوړې شي، او ټول عمر داد خلياتو د زياتيدو دا سلسله تر دځوانۍ پورې زياتيږي.

عجيبه خبره داده چې دا ټول خليات او د انسان د جسم ټول اندامونه صرف د يوې خل ،ـه جوړ شوي.

سترګې

د انسان د وجود هر اندام عجيبه او حيرانوونکې دى، بيا خاصکر غوږونه، سترګې او زړه نور هم په حيرانوونکو قدرتونو مشتمل دي، الله رب العزت هم ددې خصوصي ذکر کړى

﴿ وَاللهُ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُوْنِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾. (١)

ترجمه: او الله تعالى تاسو ستاسو د مورانو دخيټو نه راويستلى، په داسې حال کې چې تاسو په هيڅ شي نه پوهيدى، او ستاسو د پاره يې غوږونه، سترګې او زړونه جوړ کړه، ددې د پاره چې تاسو شکر اداء کړئ.

لهذا سترګې د الله ﷻ په نعمتونو کې يو عظيم نعمت دى، که چيرته انسان ددې په پيدا وښت او ددې په حکمتونو سوچ وکړي نو حيران پاتې شي.

---

(١) النحل آيت ٧٨.

د سترګې وزن عام طور باندې اووه (۷) ګرامه وي، سترګه د اووه (۷) پَردو نه جوړه شوی، د هرې پردې ځانله خاصيت او صفت دی، که چيرته په دې کې يوه پرده هم خرابه شي نو سترګه بيا کار نه کوي.

بيا د سترګو نه ګير چاپيره د بڼو عجيبه چارديوالي جوړه کړې شوی، او هغوی ته تيز حرکت ورکړې شوی، ددې د پاره چې سترګه په آسانۍ سره د ضررې شي نه بچ کړي، ګويا بانړه د سترګو د حفاظت دروازې دي، چې د ضرورت په وخت کلاوېږي او بنديږي، او ورسره ورسره د سترګو او مخ ښائست هم په کې دی.

بيا ددې بڼو د ويښتانو غټيدو مقدار هم په ځای اوساتلې شو، د سَر د ويښتانو غوندې ډير نه غټيږي، ورنه بيا به انسان ته تکليف وُ.

بيا په سترګو کې داسې مالګينَه ماده پيدا کړې شوه چې دسترګو د وينځلو او صفايي کار ورکوي.

بيا د سترګې دواړه طرفونه د مينځ په نسبت ښکته اوساتلې شو، ددې د پاره چې که چيرته په دې کې څه خطرناک شی او غورځيږي نو په آسانۍ سره لاندې او خوييږي.

بيا د سترګونه څلور واړه طرفه دسختو هډوکو غلاف جوړ کړې شوی، ددې د پاره چې سترګه دګوزار او نورو خطرو نه محفوظه اوساتي.

په سترګو کې کيمرې: په هره يوه سترګه کې ديارلس کروړه (۱۳۰۰۰۰۰۰) کيمرې لږيدلې وي، په دې کې شپيته لکه (۶۰۰۰۰۰۰) کيمرې صرف د رنګ پيژندلو دي، دولس کروړه (۱۲۰۰۰۰۰۰) کيمرې صرف د تور او سپين رنګونو خودلو دپاره دي.

او د شپې په تياره کې د کار کولو واله کيمرې ځانله دي، چې هغې ته راډز (Rods) وايي، (دغه وجه ده چې د بعضې خلقو نظر د ماښام نه روستو کار نه کوي، يعنی د شمکورتيا بيماري يې وي، داځکه چې دشپې کار کولو واله کيمرې يې خرابې وي).

د انسان په سترګه کې د رڼا قبلولو د پاره د يو کرَب نه زياتې ريشې وي، چې هغه رڼا قبلوي.

بيا که انسان د سترګو په اينزونو باندې نظر واچوي چې څومره صفا او شفاف دي، او په کومې طريقې سره ليدل کوي نو انسان حيران پاتې شي چې د سترګو دومره ناآشنا باريک

نظام ، او په دې وړه سترګه کې د هغې راوستل صرف او صرف د هغه ذات کار دی چې دقدرتونو او حکمتونو خاوند دی .

چې کله په سترګه کې څه فرق راشي نو هغه ډاکټر چې پنځه ويشت (۲۵) کاله يې تعليم کړې وي ، د سترګو سپيشلست وي ، اوږده تجربه يې وي ، هغه صرف په دې پوهه شي چې په دې سترګه کې دا فرق دی او علاج يې کوي ، او دده دا علاج هم د ګارنټۍ واله نه وي .

نو چې کله صرف د فرق معلومولو د پاره دومره ډير تعليم او تجربه ضروري ده نو نوې سترګه پيدا کول خو صرف د خالقِ کائنات نه علاوه د بل هيچا کار نه دی .

دغه وجه ده چې که د چا سترګې ختمې شي هغه په کروړنو او اربونو روپو ورکولو ته تيار وي ، خو د دُنيا يو ډاکټر هم ده ته سترګې نشي اچولی .

سبحان الله . معلومه شوه چې سترګه د الله ﷻ د طرفه لوي نعمت دی .

د انسان هر اندام ډير قيمتي دی

حضرت يونس بن عبيد رحمه الله ته يو چا د غريبۍ ډير شکايت وکړو چې هيڅ سرمايه راسره نشته ، او ډير خفه وُ ، ده ورته ووېل : آيا ته په ما باندې دا خپله سترګه په يو لک درهم راخرڅوی ؟ هغه ورته ووېل : نه . ده بيا ورته بل اندام ياد کړو ، چې دا خپل خي لاس راباندې په يو لک درهم راخرڅوی ؟ هغه ووېل : نه . دغه شان يې هغه ته يو يو اندام يادول ، هغه به ويل چې نه يې خرڅوم . ده ورته ووېل : ته خو هسې شکايت کوی چې د ماسره هيڅ سرمايه نشته ، د تاسره خو د لکونو او کروړونو روپو سرمايه ده .

زړه :

د ربِّ کائنات د قدرت په عجائبو کې زړه هم عجيبه مشينري ده ، دا يو قدرتي پمپ دی چې ټول وجود ته وينه خوَروي ، اګر چې په سائز کې د نيم پونډ برابر دی خو د الله ﷻ په عظيمو قدرتونو مشتمل دی .

په زړه کې دوه پَمپه وي : يو پَرپوس (پيړو) ته د وينې د ترسيل د پاره وي چې د هغه ځای نه اکسيجن جذب کړي ، او دويم صفا وينه ټول وجود ته د خورولو د پاره وي .

د هر انسان زړه په ټول عمر کې اوسطًا درې لکه (۳۰۰۰۰۰) ټنه وينه پمپ کوي ، او دده زړه په اويا (۷۰) کاله ژوند کې څلور کربه پيرې ټوپ وهي .

ګويا په بل تعبير د اخبره مونږ په داسې ترتيب هم کولې شو چې د يو صحت مند انسان زړه په يو منټ کې اويا (۷۰) پيرې درزيږي (يعنی ټوپونه وهي) ، نو په شواروز کې څه د پاسه يو لک پيرې درزيدل شو .

او په يو منټ کې پنځه ليټره وينه پمپ کوي ، ګويا په پنځه څلويښت (۴۵) کال ژوند کې د انسان زړه درې لکه (۳۰۰۰۰۰) ټنه وينه پمپ کوي .

د انسان د وجود ټوله وينه په درې (۳) مِنټه کې د زړه د لارې پمپ کيږي او تيريږي ، او دا سلسله همداسې جاري وي .

بيا ددې مشکل کار سَر ته د رسولو دپاره چونکه د بِجلي هم ضرورت دی نو ځکه همدا زړه د وينې پمپ کولو سره سره بِجلي هم پيدا کوي .

کله چې يو ماشوم د مور په رحِم کې د څلورنيمو مياشتو شي نو دده زړه حرکت کول شروع کړي ، او تر د مرګه پورې بيا دا حرکت کوي ، ځکه که چيرته زړه د څه وخت دپاره حرکت کول بند کړي نو انسان په هماغه ځای مړ کيږي .

بيا الله ﷻ د زړه عضلات په داسې طريقې سره جوړ کړي چې دا نه ستړي کيږي او نه آرام کولو ته ضرورت لري .

بيا عجيبه دا چې د زړه کوم باريکه سُوري او مَسامات دي هغه د پَرپوس (پيږو) سورو ته مخامخ دي ، دا ددې دپاره چې تازه هوا زړه ته اُورسي ، او د زړه ګرمايش او بخارات ختم کړي . ګويا دا د زړه د پاره د پَکي کار کوي .

که چيرته د پَرپوس سوري د زړه سورو ته مخامخ نه وی ، او تازه هوا زړه ته نه رسيدی ، نو بيا انسان ژوندې نه پاتې کيدو .

غوږونه

غوَږ چونکه د ډيرو نازکو حصو نه جوړ شوی ، نو ځکه ددې د حفاظت په خاطر د کوپړۍ په هډوکي کې دننه ورته ځای جوړ شوی .

په هر غوږ کې يولک، (۱۰۰۰۰۰) سماعتي (ټيلفوني) خانې وي چې مختلف قسمه آوازونه اَوري ، او د دِماغو په مدد سره يې پيژني ، چې : دا د هلک آواز دی ، د ښځې آواز دی يا د حيوان ، يا د بل شي آواز دی .

دا د پيژندلو کار يولک (۱۰۰۰۰۰) باريک رګونه کوي کوم چې د غوږونو دننه نه دماغو ته تللي وي .

. د غوږونو دننه طرف ديوالونه يو قِسم تريخ مواد (لوندوالې او خيرې) پيدا کوي ، ددې د پاره چې که چيرته څه ماشی ، ميږې ، يا بل خطرناک شی د انسان غوږ ته ننوځي نو ددې خيرې په وجه هلاک شي ، او مخکې يې نه پرېږدي .

بيا ددې لوندوالي نه مخکې يوه پَرده ده ، د هغې نه مخکې د زنځير په شان درې (۳) هډوکي دي چې د يو بل سره پيوست دي .

لکه څرنګ چې د موټر سپرنګان د موټر جَمپونه برداشت کوي نو دغه شان دا درې هډوکي هم اُوچت او سخت آوازونه نَرموي ، او بيا يې دننه غوږ ته ليږي .

ځکه که دوی دا آواز په قلاره او نرم نه کړي ، او همداسې تيز دننه لاړ شي نو دا غوږونو او دماغو ته نقصان ورکوي .

بيا ددې درې (۳) هډوکو نه مخکې يو طبل (د ډول په شان څيز) دی چې د هغې شاته اُوبه دي ، په دې اُوبو کې د درې زره (۳۰۰۰) نه زيات واړه واړه تارونه يا وېښتان دي ، کله چې آواز ددې طبل سره ولږي ، نو دا تارونه اوخوزوي ، هر تار يو خاص آواز په خاصې طريقې سره دماغو ته په يوه نوې لاره رسوي .

دغه وجه ده چې انسان په يو وخت کې درې زره (۳۰۰۰) آوازونه اوريدې شي .

بيا دغوږونو جوړښت د سيپۍ په شکل شوی ، دا ددې د پاره چې آواز اول ددې په دائره کې جمع شي ، او بيا ددې ځای نه اُوځي د غوږونو پَردو سره اولږي .

بيا دې غوږونو ته څه موږونه ورکړې شوي ، ددې د پاره چې يو خو آواز ځان ته اوچت او صفا کړي ، او دويم دا چې دننه غوږ ته کوم ضررناک شی ننوځي هغه ته لاره اُوږده شي ، ځکه هر ضرري شی په موږونو نه ورځيجي ، بلکه د غوږونو په دې لارو کې روان وي ، نو تر

ځو پورې چې دا ضرري شی په دې موړونو کې تاویږي او دننه ننوځي نو ترد هغې وخته پورې به دا سړی د غفلت نه راپیدار شوی وي، او د خپل غوږ حفاظت به وکړي.

بیا الله ﷻ د غوږونو په دې پَرده کې دومره تیزه د احساس ماده ایخې ده چې که دده غوږونو سره نزدې یو وړوکې ماشې یا بل ضررناک شی اُوبنګیږي نو ده ته پته لږي.

سړی حیران شي چې د غوږونو دومره پیچیده او غټ نظام الله ﷻ په دې دومره وړوکي ځای کې محفوظ کړی. دا هم د الله ﷻ په لویو قدرتونو او حکمتونو باندې دلالت کوي.

دِماغ :

دِماغ د الله ﷻ په قدرتونو کې یو عجیبه تخلیق دی چې ددې په وجه د انسان ټول ژوند برابر وي، ددې په وجه انسان د ښه او خراب تمییز کوي، او د همدې د اشارو او حُکم په وجه انسان نقل وحرکت، خبرې او نور کارونه کوي، دغه رنګې استدلال، غور و فکر کول هم د دماغو صلاحیت دی، دارنګې قوتِ حافِظه هم ده چې بې شماره شکلونه، آوازونه او نور شیان په کې محفوظ وي.

دِماغ چونکه د جسم اهمه حصه ده، دغه وجه ده چې الله ﷻ ددې حفاظت په سختو هډوکو (کوپړی) کې دننه کړی، او هډوکي ددې دپاره دمضبوطې قلعې په شکل دي.

د دِماغو مثال په شان د کمپیوټر دی، د انسان په دماغو کې دومره کنِکشَن دي چې که چیرته دا په زمکه باندې خوَاره کړې شي نو ټوله زمکه به پټه کړي، خو الله ﷻ دا د انسان په وړه کوپړی کې راجمع کړي.

د هر انسان دماغ د یو ملین نه زیات مخصوصو خلیو (cells) نه جوړ شوي چې هغې ته نیوران (Neuran) وایي، دا خلیې خپل خاص کار د یو کرَب نه زیاتو حساسو نرې تارونو او رګونو په ذریعه کوي، چې د دماغو نه نیولې په ټول بدن کې خواره شوي.

بعضې ماهرین وایي چې په هر انسان کې زرمیلیونه عصبي خانې دي چې ددېنه نرې تارونه اُوتي دي، او په ټول بدن کې خواره شوي دي.

د ملا تير د دماغو نه شروع شوي تر د ملا پورې راغلي ، د دينه په سوونو رګونه په جسم کې خواره شوي وي ، لکه څرنګ چې په ټيلفون کې دوه تارونه وي : يو د پيغام وړلو ، او بل د پيغام راوړلو د پاره ، دغه شان په جسم کې هم د پيغام ليږلو او پيغام اخيستلو ځانله ځانله نري نري تارونه دي .

مثلاً د انسان په خپه باندې څه خطرناک شی کيني نو فورًا د يو تار په ذريعه دماغو ته خبر ملاؤ شي (چې په خپه باندې خطرناک شی ناست دی) . په دې دويم تار کې د دماغو نه لاس ته حکم اوشي چې دا خطرناک شی لرې کړه .

کله چې انسان د دې شي د لرې کولو اِراده وکړي نو د بدن اووه سوه (۷۰۰) پټې په حرکت کې راشي ، او د لاس په ذريعه دا شی لرې کړي .

دغه رنګې همدا دماغ د انسان د بدن مختلفو حصو ته د وينې د ليږلو او بَندولو حکم کوي . مثلاً څوک په مونږ حمله کول اوغواړي نو زمونږ دماغ د بدن هرې حصې ته ځانله ځانله حکم کوي : د دې سړي سترګې سرې شي ، اَننګي يې اوپړسيږي ، زړه يې زر زر حرکت کول شروع کړي ، د دې د پاره چې د بدن هرې حصې ته وينه په مناسب مقدار اورسي .

يا : کله چې يو سړې زخمي شي ، او د وجود نه يې وينه روانه شي نو دماغ د دې وينې د بندلو او د بدن د حفاظت حکم وکړي ، نو د وينې هغه سخت مواد کوم چې په سپينو ذرّاتو مشتمل وي ، دغه ذرّات د دې روانې وينې په ذريعه د دې زخم خُلې ته ځان اورسوي ، او په هغه ځای کې جَم شي ، تر دې پورې چې وينه راتلل بند شي .

نو دا سپين ذرّات د دې وينې د بندلو کار هم کوي ، او د قوّتِ مُدافعت کار هم کوي ، اوس که چيرته کوم جراثيم په دې زخم د بهر نه لږي هغه هم ختموي او د بدن ته يې د ننه تلو ته نه پريږدي .

ګُردې :

ګُردې د انسان د معدې او غټو کولمو شاته د ملا د تير خي طرف او چپ (ګس) طرفته دي ، د يوې ګُردې وزن تقريبًا پنځه اُونسه وي ، ګردې د جسم د پاره ډير اَهم کارونه کوي .

په يوه ګرده کې تقريبًا لس لکه (۱۰۰۰۰۰) ځورد بيني يونټه (حصې) دي چې شپه او ورځ وينه صفا کوي ، او زهريله اجزا د جسم نه د تشو متيازو په شکل خارجوي ، يعنې ګرده د فلټر پلانټ کار ورکوي (يعنې د صفايي کولو يوه کارخانه ده) .

دغه رنګې ګرده په جسم کې دوينې مقدار ، د اوبو مقدار ، د معدني او غذايي اجزاؤ تناسب هم بر قرار ساتي .

کله چې انسان خوراک وکړي نو اکثر په دې کې بې کاره او زهريله جراثيم هم معدې ته لاړ شي ، بيا په وينه کې شامل شي ، کوم چې ډير خطرناک دي . د الله ﷻ شان ګوره چې د زړه نه يو غټ رګ د وينې راغلی ، او ددې ګردې د لارې تير شوی ، ګرده په شوا روز کې اته څلويښت (۴۸) ليټره وينه ددې ضرري مادو او جراثيمو نه صفا کوي ، او دا فاسده ماده د تشو متيازو په شکل خارجوي .

دغه رنګې د انسان د وجود د پاره په يو خاص مقدار کې سوډيم ، پوټاشيم ، کيلشيم ، ميګنيشم ، فولاد ، شکر او نمک وغيره هم ضروري دي ، خو چې کله دغه اجزا د ضرورت نه زيات شي نو ګرده بيا دغه زياتي اجزا هم د تشو متيازو په شکل د بدن نه خارجه وي .

وينه :

وينه د انسان د پاره داسې ده لکه د موټر د پاره چې پټرول او ډيزل وي ، وينه د انسان د جسم د پاره غذا ده ، ددې سره سره وينه جسم ته آکسيجن ګيس هم رسوي ، او زهريله ګيس " کاربن ډائي آکسائيډ " د جسم نه خارجوي .

د وينې دا سُور رنګ ددې د سرو ذرّاتو په وجه قائم دی ، دا سره ذرات د هډوکو نه پيدا کيږي ، او په وينه کې شامليږي .

الله ﷻ ددې د پيدايش يو خاص تعداد مقرر کړی ، په هر سيکنډ کې تقريبًا يو ملين سره ذرّات ختميږي ، او ددې په ځای يو ملين نور سره ذرّات پيدا کيږي ، او په وينه کې شامليږي ، او ټول عمر دغه سلسله روانه وي .

ددينه علاوه په وينه کې سپين ذرات هم شته ، چې دا سپين ذرات د نورو اجزاؤ سره د يوځای کيدو په وجه د قوّتِ مدافعت کار کوي ، يعنې جسم د جراثيمو او نورو خطرناکو شيانو نه ساتي ، او جراثيم وژني .

بيا د وينې د جاري او روان ساتلو د پاره څه نور ذرات هم شته چې هغې ته پليټ ليټ (platelet) وايي ، دا ذرات وينه مايع او جاري ساتي .

د انسان په وجود کې تقريبًا دوه چمچې شکر هم شته ، په زر (۱۰۰۰) څاڅکي وينه کې يو قطره شکر وي . دا شکر د انسان د وجود د پاره ډير ضروري دي ، ځکه که چيرته شکر په وجود کې کم شي نو بيا په جسم باندې مختلف قِسمه بيماريانې حملې کوي لکه : کمزوري ، رپيدل ، د زړه ډوبيدل ، او ددينه علاوه نورې ډيرې بيماريانې .

د هر انسان په جسم کې دده د وزن په مقدار اووه (۷) فيصده وينه وي . بيا په وجود کې چې د وينې کوم غټ او واړه ټول رګونه ناپ کړې شي نو هغه د شپيتو زرو نه نيولی تر د يو لک (۱۰۰۰۰۰) ميله لرې پورې خورَيدې شي .

هډوکي

د هر انسان په وجود کې دوه سوه او اته څلويښت (۲۴۸) هډوکي وي (دا د وړو وړو هډوکو نه علاوه دي) .

صرف سَر د پنځه پنځوس (۵۵) هډوکو نه جوړ شوی په کوم کې چې غابښونه هم شامل دي ، بيا د هر هډوکي شکل و صورت د بل نه جدا دی . (۱) په لاس او خپو کې يو سل او شپږ (۱۰۶) هډوکي دي .

بيا انسان په خپل ژوند کې د مختلفو ضروریاتو په وجه جسم ته د حرکت ورکولو ته هم محتاج دی ، چې دې جسم ته مختلف حرکتونه ورکړي : کله کيني ، کله پاځي ، کله د څه شي رانيول ، کله زور کول وغيره . نو الله ﷻ ددې په خاطر د انسان په وجود کې پنځه سوه او

(۱) بيا د سر د مختلفو هډوکو د رايو ځای کيدو نه ګول (کروي) شکل جوړ شوی ، چې د شپږو (٦) هډوکو نه کوپړی جوړه شوی ، د څلورويشتو (۲۴) نه پورته ژامبه جوړه شوی ، د دوه ؤ (۲) نه لاندې ژامبه جوړه شوی ، او دا باقي غابښونه دي .

نهه ويشت (۵۲۹) عضلات (برخې) پيدا کړه. ځکه که چيرته ټول جسم د يو هډوکي نه جوړ وي نو بيا به د انسان د پاره تلل، نيول، ښکته کيدل او پورته کيدل مشکل وو.

بيا چې د هر هډوکي نه څومره حرکت مطلوب ؤ، د هغې مطابق هغې ته شکل ورکړې شو، دغه وجه ده چې څه هډوکي غټ دي، څه واړه دي، څه نري دي، څه پلن دي. څه نيغ دي. څه کاږه دي، څه مستطيل دي، څه ګول دي، څه ډک دي، او څه ډډ دي.

که کوم هډوکې ګول او پړسيدلې وي نو ورسره په مخامخ هډوکي کې ددې مطابق کنده جوړه شوي وي، ددې د پاره چې دا په صحيح طريقې سره په يو بل کې ورشي.

اوس که انسان کيناستل، پاڅيدل، تلل وغيره اوغواړي نو بغير د څه تکليف نه يې په آسانۍ سره کولې شي.

بيا په هر جسم کې الله ﷻ درې سوه او شپيته (۳۶۰) جُوړونه پيدا کړي چې دا انساني جسم ته په حرکت ورکولو کې مدد کوي، که په دې کې يو جُوړ هم خراب شي نو انسان ته ډير مشکلات جوړيږي. مثلا که د خپو جوړونه خراب شي نو بيا تلل مشکل شي.

بيا دا جوړونه او هډوکي په مضبوطو تارونو او پټو سره تړلې شوي، او د دوی په مينځ کې د اعصابو رِشته قائم کړې شوی.

الله رب العزت فرمايي:

﴿ نَّحْنُ خَلَقْنَاهُمْ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ ﴾. (۱)

ترجمه: مونږ دوی پيدا کړل او د دوی جوړونه (بَندونه) مو مضبوط کړل.

فايده: که انسان سوچ وکړو نو دده دا پټې او جوړونه (بَندونه) اګر چې په ظاهره نرم او نازک معلوميږي خو الله ﷻ دا داسې مضبوط پيدا کړي چې شپه او ورځ د حرکت کولو او سخت کارونو کولو باوجود بيا هم آتيا يا سل کاله پورې دده په بَندونو او پلو کې هيڅ فرق نه راځي، نه ماتيږي، او نه سُوليږي. که چيرته انسان د اُوسپنې او فولاد نه څه شی جوړ

(۱) الدهر آيت ۲۸.

کړي نو هغه هم د يو څو کالو د استعمال نه روستو سوليږي او ماتيږي ، خو د انسان دا بَندونه او پټې د ډير استعمال باوجود بيا هم نه سوليږي او نه ماتيږي . فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .

بيا د هر هډوکي د قوت د پاره ددې په نَلو کې مغز هم پيدا شوي چې د قوت سره سره د هډوکو په حرکت کې هم مدد کوي .

بيا غاښونه په داسې انداز باندې جوړ کړې شوي چې بعضې غاښونه پلن دي چې د خوراک ميده کولو کار ورکوي ، او بعضې په کې د تيرو سرونو واله دي چې د خوراک د کټ کولو کار ورکوي .

بيا دا غاښونه په دوه ديرش (۳۲) ټکړو کې تقسيم شوي ، ددې د پاره چې که چيرته يو خراب شي نو د نورو نه کار واخيستې شي ، ځکه که چيرته ټول يو هډوکې وی او فرق په کې راغلې وی نو بيا به خبره ډيره مشکله وه .

بيا ددې غاښونو جرړې مضبوطې جوړې کړې شوي ددې د پاره چې غاښونه د خوزيدو او غورځيدو نه محفوظ شي .

کله چې ماشوم وړوکې وي نو الله ﷻ ده ته عارضي غاښونه ورکړي وي ، خو چې غټ شي نو بيا يې دا عارضي غاښونه اوغورځيږي ، او مستقل داسې پاخه غاښونه يې رااوخيجي چې که انسان ددې حفاظت وکړي نو ټول عمر نه خرابيږي .

بيا دا غاښونه د سرو اُورو په مينځ کې په داسې انداز لړولې شوي چې د ملغلرو غوندې ښائسته معلوميږي ، او د انسان د مخ او خُلې د ښائست سبب گرځي .

بيا که چيرته په دې غاښونو باندې شونډې نه وی نو انسان به څومره بَدرنگ معلوميده ، نو شونډې د غاښونو د ښائست ، د خُلې د پاره پَرده ، او په خوراک کې د مدد کولو ذريعه ده .

خلاصه دا چې هډوکي د انسان د وجود د مضبوطتيا ، او بدن ته په آسانئ سره د حرکت ورکولو کار ورکوي ، چې دا ټول د ربّ العالمين په عظيمه کاريگرئ باندې دلالت کوي .

پوستکې (څَرمن)

پُوستکې هم د الله ﷻ د قدرتونو نه يوه عجيبه حيرانوونکې نښه ده ، پوستکې د ټول جسم د پاره د غِلاف په شان دی چې جسم يې پټ کړې وي ، او د بهرني خطرناکو جراثيمو نه

يې ساتي ، ځکه که کوم ځای کې پوستکې غوڅ شي نو په زرهاؤ جراثيم په دې لاره وجود ته د ننوتلو کوشش کوي .

بيا د پوستکې اوسطًا وزن څلور (۴) کلو گرامه دی ، چې په دې کې مختلف خليې ، غدود او د وينې تلو راتلو لارې دي ، زړه چې کومه وينه نور وجود ته پمپ کوي نو په هغې کې څه حصه پوستکي ته هم راځي .

بيا په دې پوستکي کې دوه نيم لکه (۲۵۰۰۰۰) خانې داسې دي چې کله څه يخ شی (مثلا واوره وغيره) محسوس کړي چې د پوستکي سره اولږيده ، نو فورًا دماغو ته خبر ورکړي ، جسم اُولړزيږي ، او د پوستکي رگونه کلاؤ شي ، فورًا ډيره وينه په تيزئ سره په دې رگونو کې دې پوستکي ته راشي ، ددې د پاره چې پوستکي ته گرمايش ورکړي ، او دا يخ والې جسم ته نقصان او نه رسوي .

او که يو انسان په گرمئ کې اُوځي ، او پوستکې يې گرمي محسوسه کړي نو د گرمئ خبر ورکوونکې خليې دماغو ته اطلاع ورکړي (چې په دې پوستکي باندې گرمائش لږي ، هسې نه چې گرمايش ورته نقصان اورسوي) نو درې مليونه د خولې غدود (Glands) يَخه خوَله خارجول شروع کړي ،ددې دپاره چې جسم ته راحت اورسي ، او د گرمئ نقصان ختم شي . گويا د خولې دا غدود د ائيرکنديشن کار ورکوي .

که چيرته د خولې دا غدود خپل کار پريږدي ، او د گرمئ په وخت کې کلاؤ نه شي نو انسان بيا د معمولي گرمئ برداشت کولو قوت نه لري .

بيا جسم داسې حساس پيدا کړې شوی چې دبهرني ماحول نه ډير زر متأثره کيږي ، او دماغو ته فورًا خبر ورکوي ، دماغ هم بيا د هغې موافق احکامات جاري کوي

ژبه :

ژبه هم د الله ﷻ په نعمتونو کې يو لوي نعمت دی ، او د الله ﷻ د قدرتونو عظيم مَظهر دی ، ددې په ذريعې سره انسان اِظهارِ ما فی الضمير کولې شي ، او د زړه پټه خبره د ژبې په ذريعه بيانولې شي .

بل دا چې په ژبه باندې د خوندونو معلومولو د پاره درې زره (۳۰۰۰) خانې جوړې کړې شوي چې په دې بسره انسان د هر قسمه خوند تمييز کولې شي، که چيرته دا خانې نه وی نو بيا به انسان د خوږ، تريخ، پيکه او ترُش په مينځ کې هيڅ فرق نه شو کولی.

بل دا چې د خوراک کولو په وخت ژبه دا نوړۍ اړوي راړوي او د ژامبو غاښونو ته يې ورمخې ته کوي ددې د پاره چې دا ښه ميده شي، او تيرول يې آسان شي.

بيا په حلق کې دوه (۲) سوري دي:

يو د ساه اخيستو د پاره دی، په دې باندې يوه پَرده ده چې د ساه اخيستو په وخت دا کلاويږي او د خوراک کولو په وخت په خپله بنديږي. ځکه که د ساه په نالۍ کې خوراک لاړ شي نو په انسان باندې سخت تکليف اولږي او اکثر انسان ددې د لاسه مړ شي.

او دويم سورې د خوراک د پاره دی، چې په دې لاره باندې معدې ته خوراک ځي.

پوزه

د مخ په مينځ کې الله ﷻ پوزه په داسې ښائسته طريقې سره او چته پيدا کړې چې په دې سره د مخ ښائست هم دی، او ورسره په دې کې يې دوه سوري هم پيدا کړي چې په هغې کې په پورته حصه کې الله ﷻ د بُويَولو داسې حِس او ماده ايښې چې په دې سره انسان د خُوشبويي او ښو خوراکونو بُوی معلوم کړي، او فايده ورنه واخلي، او د بدبُويي او خرابو خوراکونو نه ځان اوساتي.

همدارنګې په دې سره انسان تازه هوا راکاږي کومه چې د زړه او نورو وجود غذا ده، او د زړه د ګرمايش ختميدو او بدن ته د راحت رسولو سبب دی.

بيا د الله ﷻ دې عظيم قدرت ته ګوره چې په دې پوزه کې يې ويښتان پيدا کړه، ددې د پاره چې که چيرته په دې هوا کې څه ګرد و غبار، يا جراثيم وي نو د ساه اخيستلو په وخت به هغه په دې ويښتانو کې بهر پاتې شي، او دننه پَرپوس (پيپړو) ته به داخل نه شي.

بيا که چيرته څه جراثيم يا ګرد دننه لاړ شي نو الله ﷻ د ساه په نالۍ کې څه رطوبت او نري ويښتان پيدا کړي چې هغه دا جراثيم راحصار کړي، او دننه يې نه پريږدي.

خو که بیا هم جراثیم ښکته لاړ شي نو انسان پرنجې (اَنکریشې) وکړي چې په دې سره هغه جراثیم واپس بهر راووځي ، ګویا پرنجې هم د جسم حفاظت کوي ، دغه وجه ده چې په شریعت کې د پرنجي کولو نه پس د الله ﷻ د تعریف یعنی " الحمد لله " ویلو حکم دی .

اوس که چیرته دا جراثیم یا ګرد د پرنجي په وجه هم رابهر نه شي نو په انسان باندې ټوخې اولږي چې په دې سره دا جراثیم واپس راووځي . سبحان الله .

بیا د پوزې دننه هډوکې باریکه جوړ کړې شوی ددې د پاره چې دا د آواز په پیدا کولو کې مدد وکړي .

جِګر (اینه)

جِیګر داسې یوه لویه کارخانه ده ، او دومره ډیر کارونه کوي چې ددې مثال دُنیا نشي پیش کولی ، په یوه جِګر کې په اَربونو خلیې وي چې هره خلیه د بلې نه مختلفه وي ، جِګر په یو وخت کې پنځه سوه (۵۰۰) جدا جدا کارونه کوي ، لکه : جسم د زهریله اثراتو نه محفوظ ساتي ، په وینه کې د شکر مقدار معتدل ساتي ، زیاتي اجزاء د جسم نه خارجوي ، خوراک هضم کوونکي مواد (انزائم) هم پیدا کوي، صفراء او کولیسټر برابروي ، او ورسره په یو منټ کې د یو لیټر نه زیاته وینه صفا کوي ، ګویا په یوه ګِهنټه کې شپته (۶۰) لیټره وینه صفا کوي .

د جِګر چې کوم خلیات دي په هغې کې ځنې شکر جوړوي ، ځنې لحمیات جوړوي ، ځنې نمکیات جوړوي او ځنې وِټامن جوړوي . ددینه علاوه جِګر بې شماره کارونه کوي . حالانکه د جګر ټول وزن یو نیم یا دوه (۲) کلو ګرامه دی .

سائنس دانان حیران دي چې یو اندام دومره ډیر کارونه څنګه کوي ؟ دوی د ډیرو کوششونو باوجود داسې یو مشین جوړ نه کړو چې د جګر غوندې پنځه سوه (۵۰۰) کارونه په یو ځل وکړي . سبحان الله .

تریخې

د جِګر په لاندې حصه کې تریخې دی ، دا د یوې تیلۍ غوندې شی دی ، د جِګر نه چې کومه صفراء (Bile) پیدا کیږي هغه په دې تیلۍ کې جمع کیږي ، بیا چې کله د خوراک

هضمولو کار شروع شي نو ددې تريخې نه يو يو څاڅکې صفراء لاندې څڅيږي ، او غوړ خوراک هضموي . ددينه علاوه تريخې په کولمو کې موجوده خوراک خراييدو ته هم نه پريږدي ، او د اَودس ماتي خارجولو تحريک هم پيدا کوي .

معده او د هاضمې نظام

د انسان په معده کښې څه درې نيم کروړه داسې غدود دي چې هغه د خوراک هضمولو يوه خاصه کيميائي ماده راخارجوي . کله چې انسان خوراک کوي نو د خُلې نه د هضمولو کار شروع شي ، ځکه په لاړو کې د هضمولو ماده شته ، بيا چې خوراک معدې ته اورسي نو د تولو نه اول ددې معدې د ديوالونو نه چې کومه تيزابي مالګه (هائيډروکلورک ايسډ) راووځي هغه ددې خوراک جراثيم ختم کړي ، او د خوراک هضمولو کار هم ورکوي ، ددې تيزابي مادې سره څه نور مواد هم يو ځای شي هغه دا خوراک هضم کړي .

بيا دا هضم شوې خوراک ديوې اُوږدې نالۍ په ذريعه کولمو ته داخليږي ، خو په دې لاره کې ددينه شکر ، نشاسته ، چونا ، چربي ، لحميات او نور غذائي اجزاء پاتې کيږي .

بيا دا غذايي اجزاء د همدې اُوږدې نالۍ په ديوالونو کې جذب کيږي او په وينه کې شامليږي چې د بدن اَهم ضروريات پوره کوي . او د خوراک هغه حصه چې هغه د جسم د پاره فايده منه نه وي هغه د اَودس ماتي په شکل راخارجولې شي .

حيرانوونکې خبره : ډيره حيرانوونکې خبره داده چې د معدې د ديوالونو نه کومه تيزابي مالګه راووځي هغه دومره قوي ده چې که هر څومره مضبوط او سخت خوراک وي (که هغه غوښه وي ، وازګه وي يا بل سخت خوراک وي) نو دا تيزابي مالګه په هغې باندې خپل اَثر کوي او هضموي يې ، خو ليکن د معدې خپل پوستکې اګر چې نرې دی خو په دې باندې هيڅ اَثر نه کوي ، او ديته نقصان نه ورکوي ، دا ځکه چې د معدې په پوستکي باندې يو قِسم غوړ والې او ليس داره ماده پرته ده چې د هغې په وجه دا تيزابي مالګه په هغې باندې هيڅ اثر نه کوي .

انسان چې د معدې او هاضمې دې پيچيده نظام ته اوګوري نو حيران پاتې شي . يقيني خبره ده چې دا د ربّ العالمين هغه عظيمه کاريګري او قدرتونه دي چې د الله ﷻ په وحدانيت او عَظمت باندې دلالت کوي .

خلاصه

خلاصه دا چې د انساني بدن د جوړښت ، او د هر اندام په مختلفو کارونو کولو کې د الله ﷻ د قدرت بې شماره نخې دي .

دا خو مې درته د بدن د يو څو مشهورو اندامونو په باره کې سَر سَري د الله ﷻ قدرتونه بيان کړه ، که د بدن په هره هره پُرزه کې د الله رب العزت قدرتونه ، حکمتونه او فوائد بيان کړې شي نو د دينه به په څو څو جلدونو کې کتاب جوړ شي .

او څومره چې د يو اندام متعلق سائنسي انکشافات کولې شي ، او د دې کارونه او حکمتونه بيانولې شي نو هماغومره په انسان باندې د الله ﷻ قدرتونه نور هم ښکاره کيږي ، او په زړه کې يې د الله ﷻ عظمت نور هم پيدا کيږي .

بيا عجيبه دا ده چې دا ټول وجود او دا ټولې پُرزې صرف د معمولي نطفې د منې نه پيدا شوي .

معلومه شوه چې د انسان دا وړوکې بدن ، او په دې کې دا مختلف باريکې او قوي پُرزې د ربِّ کائنات د قدرتونو او حکمتونو ښکاره دليل دی .

د انساني جسم متعلق ډير حيرانوونكي معلومات

* د هر انسان په جسم كې درې لكه رګونه وي چې په ټول وجود كې خواره شوي دي.

* د دې رګونو پيغام دومره تيز دى چې په هر سيكنډ كې د څلور ميله په رفتار دى، نو دا په يوه ګهنټه كې د څوارلس زره او څلور سوه (١۴۴٠٠) ميله په رفتار شو، اوس كه يو سړى ګرمې سكروټې له ګوتې ور وړي نو د يو سيكنډ په سلمه (١٠٠) حصه كې دا خبر دماغو ته اورسي، دماغ ورته د ګوتې راديخوا كولو حكم وكړي، نو انسان خپلې ګوتې د سكروټې نه را لرې كړي.

* انسان په يو منټ كې دشپاړس (١٦) نه نيولى تر د اتلس (١٨) پيرو پورې ساه اخلي، ګويا په شواروز شپږ ويشت زره (٢٦٠٠٠) پيرې ساه اخلي.

* بيا په هره ساه اخيستو كې د پنځه ويشت (٢٥) نه نيولى تر د ديرش (٣٠) اِنچه پورې هوا دننه ځي، دا هوا د پېپوس (پيپړو) په پنځلس (١٥) مربع فُټه ځاى كې چكر لږوي.

* دانسان په پېپوس كې څه شپږ لكه (٦٠٠٠٠٠) واړه واړه د هوا سوري دي يعنى يو قِسم بَټې دي، او هوا ددې دپاره خشاک دى.

* د انسان پېپوس (پيپړې) په ټول عمر كې اوسطا پنځوس كروړه پيرې كلاويږي او بنديږي. د دُنيا د ټولو نه مضبوط مشين هم دومره د مشقت واله كار نشي برداشت كولى، او نه بغير د څه مرمت نه دومره اُوږده زمانه كار كولې شي.

* د پېپوس د معمولي كلاويدو په وخت په دې كې يو ګيلن هوا ځائيږي، ګويا په يوه ورځ كې انسان د ساه اخيستو په ذريعه باندې څوارلس زره او څلور سوه (١۴۴٠٠) ګيلنه هوا راكاږي.

* د انساني جسم د پاره روزانه د پېپوس په ذريعه پنځلس سوه (١٥٠٠) معكب اِنچه، او د پوستكي په ذريعه درې سوه (٣٠٠) معكبه صفا هوا ضروري ده، چې الله ﷻ يې په خپلو قدرتونو سره هر چاته پوره كوي.

* د هر انسان په يو اِنچ پوستكي كې درې نيم (٣٥٠٠) مسامات وي، او په ټوله څرمن كې د هوا تلو راتلو د پاره دوه لكه (٢٠٠٠٠٠) واړه واړه سوري وي.

* د انسان په جسم کې چې روزانه څومره بجلي پيدا کيږي په هغې سره دوه ويشت (۲۲) سيره واوره وِيلې کيدې شي .

* هر انسان روزانه د تشو متيازو او خَوَلو په شکل د سلو (۱۰۰) نه نيولی تر دوه سوه (۲۰۰) تولو پورې اوبه د جسم نه بهر اوباسي .

* د انسان زړه په يو کال کې درې کروړه (۳۰۰۰۰۰۰۰) پيرې درزيږي (يعنی ټوپونه وهي) ، او وجود ته صفا وينه پمپ کوي .

* د تللو په وخت چې کله انسان قدم اوچتوي نو په يو سيکنډ کې د انسان پنځه څلويښت (۴۵) پټې استعماليږي .

* د ځوان او صحت مند انسان د دِماغو وزن او سطًا پنځه څلويښت (۴۵) اُونسه وي ، په دِماغو کې بې شماره رګونه وي ، دا رګونه سره د نورو ټولو شاخونو تقريبًا د يو کروړ نه زيات دي ، دا ټول رګونه د جاسوسۍ او اِطلاع ورکولو کار ورکوي ، چې د جسم په هر قسمه حرکت کولو سره فورًا دماغو ته خبر رسي .

* د انسان سترګې په يو کال کې کم از کم څلويښت لکه (۴۰۰۰۰۰۰) پيرې کلاويږي او بنديږي .

* د انسان زړه عام طور باندې شپږ (۶) اِنچه اُوږد وي ، دا په يو منټ کې اويا (۷۰) پيرې حرکت کوي (يعنی ټوپونه وهي) ، او په هره پيره ټوپ وهلو کې دوه نيم اُونسه وينه وجود ته خوَروي ، ګويا په درې (۳) مِنټه کې د انسان د وجود ټوله وينه د زړه د لارې يو پيرې تيريږي .

* پرپوس (پيپړې) د سينې په خَلاء کې دواړه طرف واقع دی ، دا د اَسپنج په شکل وي. د خي طرف پرپوس وزن شپږ سوه او پنځه ويشت (۶۲۵) ګرامه وي ، او د چپ طرف پرپوس وزن پنځه سوه او اووه شپيته (۵۶۷) ګرامه ، او د سړي د پرپوس وزن اکثر د ښځې د پرپوس نه درُوند وي .

* پرپوس چې کله کلاوُ شي نو په دې کې درې زره او اووه سوه (۳۷۰۰) سي سي خَلا پيدا کيږي . نو په يو ځل ساه اخيستو سره پنځلس سوه (۱۵۰۰) سي سي هوا دننه ځي او واپس راووځي .

* د ګردو خاص کار دادی چې په وينه کې کومې ګنده اُوبه او ضرري اَشياء دي هغه د وينې نه راجدا کړي ، او د تشو متيازو په شکل يې د بدن نه خارجوي ، ځکه که ګرده دا ضرري اشياء د وينې نه راجدا نه کړي نو خطرناکې بيمارياني د دينه پيدا کيږي .

* په هر انسان کې د آس اوومه (۷) حصه طاقت موجود وي .

* د انسان جسم په ديرش کروړه (۳۰۰۰۰۰۰۰) کيمياوي اجزاؤ مشتمل دی ، که د دغه اجزاؤ بيان په الفاظو سره وليکلې شي نو د دينه به لس زره (۱۰۰۰۰) کتابونه جوړ شي .

* د هر انسان وينه په سلو (۱۰۰) ورځو کې دننه مکمل بدليږي .

* د ناست سړي زړه په يو منټ کې يو اويا (۷۱) پيرې درزيږي ، د ولاړه کس يو اتيا (۸۱) پيرې درزيږي ، او د ملاست کس شپږ شپيته (٦٦) پيرې درزيږي .

* د صحت مند انسان زړه په يو پيره ساه اخيستلو دوران کې څلور (۴) پيرې درزيږي .

* د انسان د زړه اوسطا وزن تقريبا دولس (۱۲) اونسه دی .

* په يو عام انسان کې شپږ (٦) پونډه وينه وي ،

* په وينه کې يو شپيته فيصده (٦۱ %) اُوبه وي ، او په ټول جسم کې پنځه شپيه فيصده (٦۵ %) اُوبه وي .

* د روغ سړي په سَر باندې تقريبا پنځه زره (۵۰۰۰) ويښتان وي ، او په ټول وجود کې پنځه لکه (۵۰۰۰۰۰) ويښتان وي ، ويښتان په ګرمۍ کې زيات او په يخنۍ کې کم غځيږي .

* د سړي د دماغو وزن اوسطا ۱۵.۲۱ اونسه وي ، او د ښځې ۱۴.۵۲ اونسه وي .

* کله چې انسان خبرې کوي نو دده د بدن يو سل اويا (۱۷۰) عضلات حرکت کوي .

* د انسان اندامونه د پنځه ويشت (۲۵) کالو نه روستو بيا نه غځيږي .

* د انساني جسم نيمه حصه په عضلاتو مشتمله ده .

* د هر انسان په وجود کې دوه سوه او اته څلويښت (۲۴۸) هډوکي وي ، پنځه سوه او اويا (۵۷۰) پټې وي ، درې سوه او شپيته (۳٦۰) رګونه وي ، او درې سوه او نوي (۳۹۰) وريده وي .

* دانسان په وجود کې بعضې اندامونه مختلف کارونه کوي لکه بعضې خوراک پخوي ، بعضې ورنه جوهر اوباسي او د بدن حصه يې جوړوي ، بعضې وينه په غوښه

بدلوي، بعضې په خوراک کې تيزاب يو ځاى کوي ، بعضې هډوکي مضبوطوي ، بعضې اعصاب او پټې جوړوي ، بعضې په کې د جسم نه ګنده اجزاء بهر راأوباسي ، بعضې په کې زخمونه جوړوي ، بعضې په کې په جسم باندې ويښتان راخيجوي ، بعضې په کې غاښونو ته سپين والې او وينې ته سُور والې ورکوي .

* بيا د انسان په جسم کې څلور اَرکان دي چې هغه اُور ، هوا ، خاوره او اُوبه دي .
څلور په کې اجزاء دي چې هغه صفراء ، خون ، بلغم او سَودا دي .

* د يو عام انسان په وجود کې دومره اُوبه وي چې لس (۱۰) ګيلنه ورنه ډکيږي .
دومره اُوسپنه په کې وي چې يو وړوکې ميخ ورنه جوړيږي .
دومره چَربي په کې وي چې د هغې نه د صابون اووه (۷) ډنډې جوړيدې شي .
دومره چونه په کې وي چې په دې سره د يوې مرغۍ جاله چونه کيدې شي .
دومره فاسفورس په کې وي چې د دينه د دوه زره او دوه سوه (۲۲۰۰) ډَبو تيلي تياريدې شي .

دومره کاربن په کې وي چې د دينه نهه زره (۹۰۰۰) د رَنجو پنسلونه (سلايان) تياريدې شي . او څه اندازه په کې ګندهک او ميګنشيا هم شته .

* د انسان په پرپوس کې چې د هوا کومې نالۍ تللي راغلي ، په سعودي عرب کې د هغې تصوير په کمپيوټر باندې اخيستل شوى نو هغه د کلمه طيبه " لااله الا الله محمد رسول الله " په شکل باندې جوړې شوي ، چې دا د الله ﷻ د وحدانيت او د رسول الله ﷺ د رسالت ښکاره ثبوت دى .

فايده : سبحان الله . داد انسان په جسم کې د الله ﷻ د قدرت عجيبه نخې دې چې په اوريدو يې انسان حيرا ن پاتې شي ، په زړه کې يې د الله ﷻ عظمت پيدا کيږي ، او انسان په دې نتيجه رسي چې دا انسان الله رب العزت عبث نه دې پيدا کړى بلکه د يو مقصد د پاره يې پيدا کړى چې هغه د الله ﷻ عبادت دى .

رېښتيا ده چې الله تبارک وتعالى فرمايي :

﴿ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : او په خپله ستاسو په ځانونو کې هم (ډيرې نخې دي)، نو آيا تاسو دا په غور سره نه ګورئ ؟ (او تاسو ته نه ښکاري ؟) .

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ... ﴾ .(۲)

ترجمه : ډير زر به مونږ دوی ته د خپل قدرت نخې په خواوُ شا دُنيا ، او د دوی په نفسونو کې هم اوښايو ، تر دې پورې چې دوی ته دا واضحه شي چې دا (کتاب) حق دی .

دعا

الله ربّ العزت دې مونږ او تاسو ته هم په مخلوقاتو د تفکر او تدبّر کولو توفيق راکړي ، او الله ﷻ دې زمونږ د بصيرت سترګې هم کلاؤ کړي چې په هر شي کې راته د پروردګار دا عظيم قدرتونه او حِکمتونه په نظر راځي ، او زمونږ زړونه دې الله ﷻ د خپل عظمت او معرفت نه ډک کړي ، او د هغه د عبادت کولو توفيق دې رانصيبه کړي .

آمِيۡن يَارَبَّ الۡعَالَمِيۡن .

وَاٰخِرُ دَعۡوَانَا أَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِيۡن

---

(۱) الذاريات آيت ۲۰، ۲۱ .

(۲) حم السجده آيت ۵۳ .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خوشخبري

ډيرو ملګرو او علماؤ راته دا مشوره راکړې که په همدې آنداز باندې د تقريرونو دا سلسله جاري اوساتلې شي ، او په اَهمو موضوع ګانو باندې دغه شان ليکل اُوشي نو فايده به يې ډيره زياته وي .

لهذا زه يو ځل بيا اَهلِ عِلمو ، خطيبانو او ددې کتاب مينه والو ته دا خوشخبري اَوروم چې اِن شاء الله په همدغه انداز باندې به بل جلد هم ليکم چې هغه به هم په نزدې وخت کې چاپ شي .

خو هغه به په دې نوم باندې نه وي ، بلکه آينده راتلونکي جلدونه به په بل نوم وي، شائقين حضرات بيا د ټيليفون په ذريعه معلومات ترلاسه کولې شي .

ابوالشمس نورالهدٰی عفی عنه

نوټ : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

نوټ: دا خُطبه د تقریرونو نده بلکه دا صرف شوقا لیکل شوی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د بَرَاعَةُ الإستِهلَال واله خُطبه

۱. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ الْأَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى
وَشَرَّفَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالنُّوْرِ الَّذِيْ هُوَ نُوْرُ الْهُدٰى

۲. وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مُحَمَّدٍ هُوَ حَبِيْبُ اللّٰهِ وَ شَمْسُ الْهُدٰى
وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ فَازُوْا بِالدَّرَجَاتِ الْعُلٰى

۳. ثُمَّ اَحْمَدُ اللّٰهَ بِاَنْ وَفَّقَ الْعُلَمَاءَ لِخِدْمَةِ الشَّرِيْعَةِ الْغَرَّاءِ
اَلَّذِيْنَ يَعِظُوْنَ لِإِصْلَاحِ النَّاسِ بِالْوَعْظِ الْمُدَلَّلِ وَالْخُطَبِ الْفُصْحٰى

۴. وَيُبَيِّنُوْنَ مَسَائِلَ الدِّيْنِ بِطَرِيْقِ الْاَسْئِلَةِ وَالْاَجْوِبَةِ الْفَاضِلَةِ الْحُسْنٰى
وَيَجْتَهِدُوْنَ لِتَشْحِيْذِ الْاَذْهَانِ الْكَامِلَةِ فِيْ فَهْمِ الْكَلَامِ الْمُغْلَقِ وَالْمُعَمّٰى

د خُطبې ترجمه : ۱. ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي چاچې زمکه او اُوچت اسمانونه پیدا کړي، او مشرّف کړي يې دي مؤمنان په هغه رڼا سره کومه چې رڼا د هدايت ده (يعنی الله ﷻ مؤمنان د هدايت په رڼا سره مشرف کړي) .

۲. او درود و سلام دې وي په محمد ﷺ باندې کوم چې د الله ﷻ محبوب او نمر د هدايت دی، او درود وسلام دې وي په اولاد او صحابهؤ د نبي عليه السلام باندې کوم چې په اوچتو مرتبو کامياب شوي.

۳. بيا زه د الله ﷻ حمد بيانوم په دې باندې چې الله رب العزت علماؤ ته د روښانه شريعت د خدمت توفيق ورکړې، کوم علماء چې د خلقو د اِصلاح د پاره د مُدَلَّل وعظ او فصيحه تقريرونو په ذريعه نصيحت کوي.

۴. او دغه علماء بيانوي خلقو ته د دين مسائل په طريقه د بهترين سوال او جواب سره، او دوی د کامل ذهنونو تيزولو د پاره د پيچيده او مُعمّی کلام په معلومولو کې پوره کوشش کوي

نُورالهدی ، محمد ، حبيبُ الله ، شمسُ الهدی ، احمد .
اِصلاحي مُدَلَّل تقريرونه ، اَلاسئلة والاجوبة الفاضلة لِتشحيذِ الاذهان الکاملة .

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797